قال رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم ان من البیان لسحرا

# خطبات عارفی

من افادات
شیخ القرآن والحدیث شہید مظلوم حضرت مولانا
**سلطان غنی عارف طاہری شہیدؒ**

ترتیب وتخریج
**محمد طاہر توحید یار**
ابن شیخ عارف طاہری (شہیدؒ)

۴

WhatsApp Group
مکتبہ
اشاعت التوحید والسنہ
زیر انتظام
ابو معاذ خٹک
ابو عثمان عابد

المکتبۃ الطاہریۃ
کھونی برمول مردان 0345-9367242

جماعت اشاعت التوحید والسنہ کے علماء کی تصانیف کو سکین کر کے PDF فارمیٹ میں علماء، طلباء اور عوام کو پیش کرنا ہمارا مشن اور محنت ہے لہٰذا کتاب کا مطالعہ کرتے وقت ہمیں دعاؤں میں یاد رکھیں شکریہ

WhatsApp Group
مکتبہ
اشاعت التوحید والسنہ
زیر اہتمام
ابو معاذ خٹک

منتظم اعلیٰ: ابو معاذ خٹک

معاونین:
مولانا عبدالکریم
مولانا اکرام گل
مفتی ابوعتبان فداء الرحمان عابد

رابطہ نمبر: 03149958550

قال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ان من البيان لسحرا

قال رسول الله ان من البيان لسحرا

# خطبات عارفي

﴿٤﴾

من افادات

**شيخ القران والحديث حضرت مولانا**

**سلطان غني عارف طاهرى**

ترتيب وتخريج

**محمد طاهر توحيد يار**


**الناشر**

**المكتبة الطاهرية**

كهوني برمول مردان

٠٣٤٥٩٣٦٧٢٤٢

ټول حقوق محفوظ دي

د کتاب نوم: **خطبات عارفي**

من افادات: شیخ القران والحدیث شهید مظلوم حضرت مولانا
**سلطان غني عارف طاهری** (شهید)

ترتیب وتخریج: محمد طاهر توحید یار
ابن شیخ عارف طاهري ( شهید )

مطبعه: **مكتبة الاشاعة**
محله جنکي پشاور

الناشر: **المكتبة الطاهرية**
کهوني برموال مردان
٠٣٤٥-٩٣٦٧٢٤٢

فهرس الکتاب


غرض مرتب ............ ۱۳

کسب حلال ............ ۲۳

تمهید ............ ۲۳

د حضرت جنید بغدادی رحمه الله وینا ............ ۲۵

د الله ذکر د اطمینان سبب دي ............ ۲۵

اسلام څه ته وائی؟ ............ ۲۶

ایمان یو پټه خزانه ده ............ ۲۶

انسان په حقیقت کي د دوو څیزونو مجموعه ده ............ ۲۷

حلال او حرام رزق ............ ۲۸

د دعا دقبلیدو اوقات ............ ۲۹

ددعادقبلیدو دپاره شروط ............ ۳۲

د صحابي سوال کول او د نبي صلی الله علیه وسلم طریقه کار ............ ۳۲

داؤدعلیه السلام او خپل کسب کول ............ ۳۳

د ایت تشریح ............ ۳٤

آدم علیه السلام او خپل کسب کول ............ ۳۵

د کسب او نسب فرق ............ ۳۶

کوم کسبونه ناجائز دی ............ ۳۷

خلال او حرام تجارت منځ کی فرق ............ ۳۸

عرب او خپل بچی باندو ته لیکل ............ ٤۲

نسب د معرفت سبب دي ............ ٤۳

د کسب او د نسب فرق ............ ٤۵

انبیاء علیهم السلام ته د قران اعلان ........................ ٤٦
عذاب القبر حق (١) ........................ ٤٨
تمهید ........................ ٤٨
د أدم علیه السلام وفات او د هغه تدفین ........................ ٤٩
دارالعمل او دار الجزاء ........................ ٤٩
قبر او برزخ ........................ ٥٠
قبر او د قبر نه پس ژوند ........................ ٥١
د ایت تشریح ........................ ٥٢
جنازه زر کول پکارده ........................ ٥٣
د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه روایت ........................ ٥٥
د نبی صلی الله علیه وسلم اواز اوریدل او د حضرت انس رضي الله عنه روایت ........ ٥٧
د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه دوئم روایت ........................ ٦٥
اک یواځی د الله په عبادت کار کیږی ........................ ٦٨
د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه درئم روایت ........................ ٦٩
عذاب القبر حق (٢) ........................ ٧٥
د ایت تشریح ........................ ٧٥
اول قسم خلق چه د مرګ په وخت کې هغوئ ته خوشحالي ملاویږی. ٧٨
دوئم قسم خلق چه د مرګ په وخت کې هغوئ ته تکلیف ملاویږی ٧٨
د حضرت ابو هریره رضي الله عنه روایت ........................ ٧٩
د حضرت ابو هریره رضي الله نه دوئم روایت ........................ ٨٢
د ام المؤمنین حضرت عائشه رضي الله عنهاروایت ........................ ٨٤

د حضرت ابو هريره رضي الله نه درئم روايت.......................... ۸٤
قبر څه ته وائی؟.................................................. ۸۷
د حضرت ابو هريره رضي الله نه څلورم روايت.......................... ۸۷
څوک چه د الله ملاقات بدګڼړی الله د هغه ملاقات بد ګڼړی.............. ۹۱
مختصرا اثبات عذاب القبر من القران والسنة............................ ۹۷
د قران ایتونه په اثبات د عذاب قبر..................................... ۹۹
تاريخ علم حديث.................................................. ۱۰۶
د روايتونو اقسام................................................... ۱۰۷
د احاديثو د ليكلو اجازت............................................ ۱۰۸
د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم د حديثو د زده کړی ترغيب ورکول...... ۱۱۰
په احاديثو کی د صحابو رضي الله عنهم احتياط کول........................ ۱۱۱
د صحابو رضي الله عنهم د احاديثو د زده کړي د پاره سفر کول.............. ۱۱۳
د حضرت عمر رضي الله عنه احتياط..................................... ۱۱٤
د امت علماء او د احاديثو حفاظت....................................... ۱۱۶
د ابن ابي العوجاء واقعه.............................................. ۱۱۸
د علماو د حديثو کتابونه ليکل......................................... ۱۱۹
د امام طبراني رحمه الله دري قسمه معاجم................................ ۱۲۰
د علماو نور کتابونه ليکل............................................ ۱۲۰
استخراج څه ته وائي ؟.............................................. ۱۲۱
په يوه يوه مسئله باندی کتابونه ليکل.................................... ۱۲۱
د يو کلي روايتونه جمع کول........................................... ۱۲۱

د صحابو رضی الله عنهم په حیاة کتابونه لیکل ........... ۱۲۲
کتب الاصول ........................................... ۱۲۳
حدیث به مونږ څنګه بج ساتو ............................ ۱۲٤
اسماء الرجال باندی کتابونه لیکل ........................ ۱۲۵
په موضوعاتو باندی کتابونه لیکل ....................... ۱۲٦
د احنافو رحمهم الله سعادت ............................ ۱۲٦
د سندنه بغیر د پیغمبر صل الله علیه وسلم روایات ذکر کول ........ ۱۲۷
تخریج الاحادیث ....................................... ۱۲۷
د مشکواة طرز ......................................... ۱۲۸
د مشکواة په اول کې حدیث جبریل پیش کول او د نبی صل الله علیه وسلم صحیح تاریخ وفات. ۱۲۹
د معاویة بن قرة رضی الله عنهم واقعه ................. ۱۳٦
د معاویه بن قرة رضی الله عنه نه روایت ............... ۱٤۰
فضیلت الشام ......................................... ۱٤۰
دلائل په عدم د قراة خلف الامام ........................ ۱٤۸
د ابن عباس رضی الله عنهما روایت ..................... ۱۵۳
دبهز بن حکیم عن أبیه عن جده روایت .................. ۱۵۵
بحث المبهمات ........................................ ۱۵۵
تزکیة النفس کول ..................................... ۱۵٦
د غیرمقلدینو سوال ................................... ۱۵۷
د بدعتیانو سوال ..................................... ۱۵۸
ذکر د یو او مراد ترینه جنس وی ......................... ۱۵۹

تشريح الحديث ...................... ۱۶۱
موضوع ...................... ۱٦٤
د تنګ ټکور نقصانات ...................... ۱٦٤
څوك د شيطان خكار دي ؟ ...................... ۱٦٤
اشعار في ذم الغناء ...................... ۱٦٥
دامام مالك رحمه الله وينا د ډمتوب په باره کې ...................... ۱٦٦
امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله وينا ...................... ۱٦۷
د ډمتوب اوريدو حکم ...................... ۱٦۸
تنګ ټکور باندي اجرت اغستل حرام دي ...................... ۱٦۹
ډمتوب د شرابيانو نخه ده ...................... ۱٦۹
امام احمد بن حنبل رحمه الله وينا ...................... ۱۷۰
د پردو ښځو آوازونه اوريدل ...................... ۱۷۱
د ديوث باره کې د امام شافعي رحمه الله قول ...................... ۱۷۱
د ډمتوب باره کې وعيد ...................... ۱۷٦
د لا يشهدون الزور وضاحت ...................... ۱۷۸
د حضرت عبدالله بن مسعور رضي الله عنه واقعه ...................... ۱۷۹
د تنګ ټکور نه خوند اغستل كفر دي ...................... ۱۷۹
وضاحت د باطل او د باطل اقسام ...................... ۱۸۰
د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما رائې ...................... ۱۸۱
د کافر نخه څه ده ؟ ...................... ۱۸۲
ډمتوب د زنا لاري کولاوئي ...................... ۱۸۲

د امام حطیا رحمه الله عجیبه واقعه ........................ ۱۸۳
د سلیمان بن عبدالملک رحمه الله واقعه ........................ ۱۸٤
واقعه د شیخ مرحوم شهید ........................ ۱۸۵
د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وینا ........................ ۱۸۵
د قران او د تنګ تکور په منځ کې تضاد دي ........................ ۱۸۶
د الله او د شیطان ( لعین ) مکالمه ........................ ۱۸۷
د ابن ابي الدنیا وینا ........................ ۱۸۸
د عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه واقعه ........................ ۱۹۰
د مسلمانی دعوه ........................ ۱۹۱
د بائیکاټ دوه طریقي ........................ ۱۹۲
د الله سره پیشي ........................ ۱۹۳
د مسلمان قتل ........................ ۱۹۳
په لوئي اختر کي ده ابراهیم علیه السلام بیان ........................ ۱۹۶
د وړوکي اختر او لوئي اختر حیثیت ........................ ۱۹۶
د الله رب الغزت په خپلو بندیانو باندي فخر کول ........................ ۱۹۷
تکلیف او خوشحالی کي الله ته متوجه کیدل ........................ ۱۹۸
دا دنیا الله د چا پاره اباده کړي ده ؟ ........................ ۲۰۰
د تولونه اول عقیده ده ........................ ۲۰۰
د نبي صلي الله علیه وسلم دعوت ده صفا په غر باندې ........................ ۲۰۲
د ابراهیم علیه السلام دعوت ........................ ۲۰۲
د ابراهیم علیه السلام دعوت خپل پلار ته ........................ ۲۰٤

د وفات په وخت کې د نبي صلي الله عليه وسلم دري خبرې.......... ۲۰٤
د جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم ده ابراهيم عليه السلام په اتباع
کې خپل قوم ته وصيت.............................................. ۲۰۶
زمونږ د ذلت اسباب.............................................. ۲۰۶
زمونږ د کاميابۍ لار.............................................. ۲۰۷
د ملك نقصان.............................................. ۲۰۸
د محمد بن قاسم رحمه الله ديبل (کراچۍ) ته راتګ او د ايماندارۍ واقعه
.............................................. ۲۰۹
د طالبۍ واقعه او د مداري بيان.............................................. ۲۱۲
په زړه کې د الله يره اوساتئ او ايمان زړه ته کوز کئ.............. ۲۱۲
قرباني او خوشحالي.............................................. ۲۱۳
د حضرت عمر رضي الله عنه واقعات.............................................. ۲۱٤
امريکه او د اسلام خلاف او د مسلمانانون ملکونه ورانول .......... ۲۱۶
د وفات په وخت کې د جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم وصيت کول
.............................................. ۲۱۶
د محمد عربي صلي الله عليه وسلم د جانثارانو واقعات.............. ۲۱۸
د جناب محمد عربي صلي الله عليه وسلم او د صحابو رضي الله عنهم غربي او
واقعات.............................................. ۲۲۰
د اختر ورځ او د رسمونو رواجونو نه ځان ساتل.............. ۲۲۲
قربانۍ کې اخلاص پکار دي.............................................. ۲۲۲
د ټيکس نه ځان ساتل.............................................. ۲۲۳
لاټرۍ حرام دي.............................................. ۲۲۵

د اختر مونځ او د هغې طريقه ........................ ۲۲۶
د جماعة المسلمين علمي محاسبه ((۲))........................ ۲۵۵
تمهيد ........................ ۲۵۵
ايمان او اسلام دوانړه ئي ذکر کړي دي........................ ۲۵۷
اصحاب ده رسول الله صلي الله عليه وسلم کره ايمان والا وو........................ ۲۵۷
د ايمان دعوت منافقانو ته ........................ ۲۵۸
فرقه او عمل څه ته وائي ؟........................ ۲۵۸
قرآن عظيم الشان ده ايمان صفت........................ ۲۵۹
د جماعت المسلمين د مولیانو نه تپوسونه کول ........................ ۲۶۲
د جماعت المسلمين شبهات........................ ۲۶۳
ده جنت د پاره په اسباب........................ ۲۶۷
د طالب کاکا قصه ........................ ۲۶۸
د نيت الفاظ وئيل ضروری نه دی ........................ ۲۶۹
مونځ څه ته وائي؟........................ ۲۶۹
يوسړي مونځ کوي اوهغه مونځ په هغه باندې لعنت وائي........................ ۲۷۰
دويم حديث په دې باب کې........................ ۲۷۱
نيت د زړه ارادي ته وائي ........................ ۲۷۲
مونځ شروع به په الله اکبر باندي کوي........................ ۲۷۳
دوي وائي د ښځو او ده سړو په مونځ کې فرق نشته ........................ ۲۷۶
د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روايت........................ ۲۷۹
د نبي صلي الله عليه وسلم دعوت د ټولي دنيا دپاره وو........................ ۲۸۶

بطن نخله کې د پیریانو قران اوریدل..........................۲۸۹
د مشهور محدث سفیان بن عیینه رحمه الله وینا..........................۲۹۰
امام ولي الله دهلوي رحمه الله وینا..........................۲۹۱
د انسانیت معیار څه دي ؟..........................۲۹۲
د ابوطالب اشعار..........................۲۹۳
نبي صلی الله علیه وسلم متصرف نه دي..........................۲۹۵
د فرعون خپل قوم ته تقریر کول..........................۲۹۸
د حضرت عمر رضي الله عنه واقعه..........................۲۹۹
د غسیل الملائکة حضرت حنظله رضي الله عنه واقعه..........................۳۰۱
د ام المؤمنین حضرت عائشي رضي الله عنها خوب لیدل..........................۳۰۵
د نبي صلی الله علیه وسلم دین څه وو ؟..........................۳۰۶
کامل انسان څوک دي ؟..........................۳۰۷
د دي امت فرعون..........................۳۰۹
د جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم سره د ټولي دنیا نه زیاته مینه کول۳۱۱
د سهل بن عبدالله تستري رحمه الله وینا د بدعتي باره کي..........................۳۱۲
د سهل بن عبدالله تستري رحمه الله او د هارون الرشید بادشاه واقعه ۳۱۳
د سعدي بابا رحمه الله اشعار..........................۳۱۶
صرف د یو الله عبادت به کوي..........................۳۱۷
د مشرکینو د الله سره پیریان حصه دار جوړول..........................۳۱۸
د مشرکینو الله له ځامن ثابتول..........................۳۱۸
د محمد بن کریم شهرستاني رحمه الله قول..........................۳۱۹

ده دې دنيا مالک يوازې الله ده.......................۳۲۰

د فَاذْكُرُوا اللهَ كَذِكْرِكُمْ آبَاءَكُمْ تشريح .......................۳۲۲

د شيخ الاسلام ابن تيمية رحمه الله د جيل نه خط .......................۳۲۵

د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما واقعه .......................۳۲۶

د الله نه چه غوارې نو خوشحاليږي.......................۳۲۷

د نوح عليه السلام واقعه.......................۳۲۸

د ايوب عليه السلام واقعه .......................۳۲۹

د يونس عليه السلام واقعه.......................۳۲۹

په دنيا کې بهترين عمل.......................۳۳۱

د زکريا عليه السلام واقعه .......................۳۳۲

اختتام.......................۳۳۴

د پنج کتاب وينا .......................۳۳۴

Muaaz Khattak
خادم اشاعت التوحيد والسنه العالميه

## بسم الله الرحمن الرحيم

### غرض مرتب

الحمد لله حمد الشاکرین والصلاة والسلام علی سید الاولیاء وامام المرسلین و علی آله واصحابه الطیبین الطاهرین خصوصاً علی ائمة المهتدین و خطباء الامة العارفین من جماعة اشاعة التوحید والسنة المتمسکین بالکتاب والسنة المتین اما بعد:

فاعوذ بالله من الشیطن الرجیم * بسم الله الرحمن الرحیم

مِنَ الْمُؤْمِنِينَ رِجَالٌ صَدَقُوا مَا عَاهَدُوا اللَّهَ عَلَيْهِ فَمِنْهُمْ مَنْ قَضَى نَحْبَهُ وَمِنْهُمْ مَنْ يَنْتَظِرُ وَمَا بَدَّلُوا تَبْدِيلًا* لِيَجْزِيَ اللَّهُ الصَّادِقِينَ بِصِدْقِهِمْ وَيُعَذِّبَ الْمُنَافِقِينَ إِنْ شَاءَ أَوْ يَتُوبَ عَلَيْهِمْ إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَحِيمًا

الله جل شانه په دې ځمکه باندې دوه سلسلې جاري ساتلې دي چې یوه سلسله د نور رڼا هدایت رشد والاده او بله سلسله د ظلمت تیارې ګمراهۍ او تباهۍ ده.

د ورومبۍ سلسلې علمبرداران او داعیان خو یا د آدم علیه السلام په شکل کې راغلي وو نو د شیطان مقابله ئې کړې وه یا د نوح علیه السلام په شکل کې وو نو ود سواع یغوث یعوق او نصر او دغه رنګه د نورو شرکي معبودانو خلاف ئې نعره لګولې وه یا د ابراهیم علیه السلام په شکل کې چې د نمرود مقابله ئې کړې وه یا د موسی علیه السلام په شکل کې چې د فرعون مقابله ئې کړې وه یا د حضرت عیسی علیه السلام په شکل کې چې تردید د تثلیث ئې کړي وو.

په آخر کې بیا حضرت محمد صلی الله علیه وسلم چې مشهور په

خطیب الانبیاء او خطیب الرسل وو د داسې خلقو استاذ چې دنیا کې د هغوئي کارنامې قربانیانې همدردی اخلاق او معاشره بطور مثال پیش کولی شي.
خصوصاً داسې خطیبان چې سمندر ئې کوزه کې بنده وو یا د جوامع الکلم زرخیزه ځمکه حسابیدله او مقابله ئې د وخت د فصحاؤ او بلغاؤ سره وه چې هغوئي خپل کمال او هنر د توحید په مقابله کې خرچ کولو او صحابه کرامو ئې مقابله کوله نو یوه ډله د اولیاء الرحمن وه او دویمه ډله د اولیاء الشیطان وه.
اوله ډله د توحید علمبرداران او داعیان وو او دویمه ډله د شرک بدعت د تیارو ټیکهداران وو.
کوم کاروان چې د انبیاء علیهم السلام او د صحابه کرامو رضي الله عنهم وو نو د دغه کاروان ملګري او د دغه کشتۍ سواره د صحابه ؤ نه پس تابعین بیا تبع تابعین او بیا محدثین ائمه مجتهدین وو.
په آخر کې د دې ګلستان مالیاران علماء دیوبند رحمهم الله وو چې د وخت په هر ضرورت ئې خپل صلاحیتونه استعمال کړل. د قلم په څوکه د تورې په تیره طرف د مال په قربانۍ د بچو او خاندان سره په مقابله کولو او وطن نه علاوه خارجي استعمار بهرپور مقابله ئې خپله شیوه او عادت ئې جوړ کړی وو او بیا په تیره تیره خصوصاً د یوسفزو په خاندان د یوې زمینداری کورنۍ په منځ کې یو داسې نمر راوخیژولو چې رڼا ته ئې ټول مشالونه او ډیوې بې نوره لګیدلې چې نامه ئې شیخ القران والحدیث جامع

المعقول والمنقول قدوة الخلف بقية السلف حضرت العلامه محمد طاهر پنج پيري رحمه الله وو.

چا چې د قران کريم مشن او د قران کريم اواز پاکستان کې خصوصاً او دنيا کې عموماً اوچت کړې دی او د هغه د مجلس تمام شاګردان د يو ولي الله په حيث د قران کريم خادمان او علمبرداران ياديږي.

د دغه باغ يو ګل د مردان په غيرتي خاوره کوهي برمول تحصيل کاټلنګ کې هم راټوکيدلی وو چا چې خپل ژوند او زندګې اشاعت لره وقف کړې وه او بيا د وفادارۍ سره د دغه خدمت آخري سلګۍ پورې داعي او خادم پاتې وو.

څوک چې په حالاتو باندې درديدلی خو تبنتيدلی نه دي. مشکلات ئې زغملي خو بدل شوی نه دی. اکثره حصه ئې د توحيد په خدمت او د قران کريم په اشاعت او د حق په محبت باندې صرف کړې ده د چا قرباني او شهادت چه نن هم د جماعة اشاعة التوحيدد پاره د فخر او عظمت يو لويه وسيله ده.

په خپل ژوند ئې مختلف حصو د دين لره وخت ورکړی وو چې يو حصه ئې په دعوت کې هم صرف کړې ده او د عوام الناس اصلاح د پاره په ساده پښتو کې بيانات او خطبې په مختلفو مجلسونو کې په مختلفو موضوعاتو باندې موجود دي

زما مراد زما والد محترم زما مربي زما استاد شيخ القران والحديث شهيد مظلوم حضرت مولانا سلطان غني عارف طاهري دي.

چې د علم يو نمرا ود فکر سمندر د الفاظو ذخيره چې دنيا ئې د

مثل پیش کولو نه عاجز ده چې نوم ئې د افتاب په شان خلیدونکی او د مهتاب په شان بلیدونکی دی.

داسې انسان چې د هر عالم د زړه محور ئې نیولی وو او د طالبانو د زړه تسکین وو د مسائلو عام فهم حل وو او د عوامو پښتنو په ساده پښتو کې پوهوونکی خطیب چې د وخت کشمیري او اشرف علي تهانوي یا محمود الحسن دیوبندي او ترجمان د دیوبند وو.

شیخ القران والحدیث شهید مظلوم حضرت مولانا سلطان غني عارف طاهري په سنه ۱۹۵۰ کې په کهوئي برمول ضلع مردان صوبه خیبر پختونخواه د جناب عبدالعلي صاحب په یوه غریبه کورنۍ کې پیدا شو. د لسم پورې عصري تعلیم او لږ غوندې دیني تعلیم ئې په خپل کلي کهوئي برمول کې حاصل کړو.

په عصري علومو کي په اوچتو نمبرو کامیاب شو او په خپله علاقه کي اول نمبر راغي او د هغه وخت د حکومت د طرف نه ورته ماهانه وظیفه هم مقرر شوه.

چونکه زمانه د جاهلیت وه نو مور او پلار ورته دا ووئیل چې چرته سرکاري نوکري شروع کړه خو د شهید مظلوم حضرت مولانا سلطان غني عارف طاهري د علم دین حاصلولو سره مینه وه نو دخپلې دیني تندې دختمولو د پاره لائل پور (فیصل اباد) ته لاړو اکثریه فنون ئي په سوات چکیسر او مارتونګ کې اووې.

دوره حدیث ئې په پنج پیر کې د شیخ العرب والعجم شیخ القران مولانا محمد طاهر پنجپیري رحمة الله علیه نه وکړه. او د بخاري شریف او د مسلم شریف قاري هم دوي مقرر شو.

د شیخ العرب والعجم شیخ القران مولانا محمد طاهر رحمة الله علیه په شهید مظلوم باندي ډیر لوئي اعتماد هم وو.

د فراغت نه پس مدرس مقرر شو او د دیني علومو خدمت ئي شروع کړو د دوو کالو د تدریس نه پس ئي دوباره دوره حدیث د استاذ العلما محدث دیوبند قاضي شمس الدین رحمة الله علیه نه په جامعه صدیقیه ګجرانواله کي وکړه.

هر کله چه قاضي شمس الدین رحمة الله علیه شهید مظلوم له داحادیثو سند ورکوو نو په هغي ئي ورته دا الفاظ ولیکل.

جامع المعقول والمنقول شیخ القران والحدیث حضرت مولانا سلطان غني عارف طاهري. او دا د شهید مظلوم په قابلیت دلالت کوي.

د دي نه پس په دارالعلوم تعلیم القران رستم کي مدرس شو اوتقریبا لس کاله ئي هلته دیني خدمت وکړو. او بي شمیره شاګردانو تري نه د قران او حدیث ملغلري زده کړي.

هر کله چه مولوي عبد السلام صاحب د جماعت نه بیل شو نوشهید مظلوم هم د هغه سره خپل هرقسم تعلقات ختم کړه.

هلته نه ئي خپله بستره وتړله اوخپل ابائي کلي کهوئي برمول ته راغي اوخپل کلي کي ئي ددین خدمت شروع کړو.

د یو څو کالو دتدریس نه پس مالي پریشانو دوجي نه سعودي عرب ته سفروکړو او هلته په یوه مذرعه (پټي) کي نوکرشو.

چونکه شهید مظلوم الله جل جلاله دخپل دین دخدمت دپاره پیدا کړي وو دزمیداری د پاره نه نو په سعودي کي په یو دار التحقیق

کي مقرر شو او هلته ئي په حديثو باندي تحقيق شروع کړو او تقريبا لس کاله ئي دغه مشغله وه ددغي مشغلي سره سره ئي د قران خدمت هم کولو اوپه رياض کي ئي دقران دوره شروع کړو.

چونکه داهل حق کار د هرقسم باطل ردکول دي او د هر قسم باطل خلاف کول دي نو په دي زمانه کي هغه باطل چه جامه ئي د دين اغوستي ده اوددين مخالفين دي او دجناب رسول الله صلي الله عليه وسلم ددي قول مطابق دي چه په آخري زمانه کي به خلق راشي ژبي به ئي دګبين نه خوږي وي ظاهرلبا س به ئي ډير ښکلي وي خو زړونه به ئي د شرمخانو وي. زما مراد نام نهاد اهل حديث غيرمقلدين دي.

د هغوئي ترديد ئي په ډيرزورشورسره شروع کړو نو د رياض غير مقلدينو په شهيد مظلوم باندې د هغه وخت ګورنر ملک سلمان ته شکايت وکړو او ملک سلمان ولګيده او شهيد مظلوم ئې ګرفتار کړو او ويزه ئې ورله ختمه کړه ۵ اکتوبر ۲۰۰۵ م کې په خروج نهائي سره پاکستان ته په سفر کړو.

خو فعل الحكيم لا يخلو عن الحكمة دا سفر د شيخ عارف طاهري شهيد د پاره ډېر ښه وو ځکه چې خپله علاقه کې ئې ددين خدمت شروع کړو او تقريبا ۴ کاله ئې د دين ښه پوره خدمت وکړو او د ملک مختلفو علاقو ته ئې ددين د بيان د پاره سفرې هم وکړې.

هر کله چې په ۲۰۰۷ م کال کې د سوات انقلاب شروع شو نو شهيد مظلوم د بعضي کارونو په ډېرې سختۍ سره مخالفت وکړو او د خلاف شرع کارونو نه ئې زان وساتلو.

خو فاذا جاء اجلهم لا يستآخرون ساعة ولا يستقدمون د دربار لايزال نه ئي نيتيه پوره شوی وه او د دوه زره نهم ميلادي کال د لسمې مياشتې په ۱۳ نيټه پاکستاني فوج شيخ عارف طاهري ګرفتار کړو او د يوي مياشت د قيد و بند د تکليفونو برداشت کولو نه پس ئي په ۲۰۰۹ م کال د ۱۱ مياشتې په ۱۲ نيټه ئې شهيد مظلوم د بونير علاقې کړاکړ کې شهيد کړو او په څلورمه ورځ د شهيد مظلوم جسد مبارک بغير د غسل او کفن نه په خپل ابائي کلي کهوئي برمول کې دفن کړی شو.

تر ننه پورې دامعلومه نه شوه چې شهيد مظلوم په څه بندي شو او بيا کوم داسې غټ جرم وو چې د شهادت په لويه مرتبه فائز کړی شو انما اشکوا بثي وحزني الي الله الى الله المشتكي انا لله وانا اليه راجعون . والله عزيز ذو انتقام

لکه څنګه چې ما مخکې ووئيل شهيد مظلوم به د ملک پاکستان اکثرو علاقو ته سفرونه کول او ددين خدمت د پاره به ئې په مختلفو پروګرامونو کې بيانات کول.

د هغوئي اکثره بيانات بنده عاجز ريکارډ کړي وو د هغوئي د شهادت نه پس چونکه مشکلاتو زمونږ په کور کې يو مستقل ځائي جوړ کړو او دمختلفو وجوهاتو په بنا باندي بنده عاجز تقريبا پنځه کاله راهيسې د کور نه بهر وو.

(اوس د الله په فضل واحسان بنده عاجز په خپل کور کي دي او تکليفونه او مصيبتونه د الله په فضل واحسان سره ختم شو)

ذالک فضل الله علينا وعلي الناس ولکن اکثر الناس لا يشکرون

د الله رب العزت لاک لاک شکر دی چې دا د هجرت زندګۍ اګر چې یو طرف ته د تکلیفونو او مصیبتونو نه ډکه ده خو بل طرف ته د الله اربها کربها احسانات هم وو چې د دې دومره تکالیفو باوجود الله رب العزت بنده عاجز له توفیق ورکړو او د شهید مظلوم هغه علم نکات چه اهل علم هغې ته تږي ناست وو د الله رب العزت په فضل د چهاپ میدان ته شول او تقریبا یولس (۱۱) کتابونه د ملګرو لاسونو ته ورسیدل.

(۱) نظم المرجان من مشکلات القران (۲) الجواهر العارفیة في المسائل الاختلافیة (۳) التحفة العارفیة في المسائل الاختلافیة (۴) البرهان الجلي في حیاة النبي صلي الله علیه وسلم (۵) ذم الغناء دډمتوب نقصانات (۶) خطبات عارفي جلد اول (۷) خطبات عارفي جلد دوم (۸) خطبات عارفي جلد سوم (۹) مناهل العرفان في اصول القران (۱۰) ادراك الرکعة بادراك الرکوع (۱۱) د جهنډې شرعي حیثیت او د نبي صلي الله علیه وسلم دجهنډي رنګ

**این سعادت به زور بازو نیست**

**تا نه بخشد خدائی بخشنده**

ددې خنځیر یوه کړۍ د شهید مظلوم د خطباتو مجموعه خطبات عارفي چې د شهید مظلوم د بیاناتو نه لیکل شوې ده د تحقیق او تخریج سره څلورم جلد انشا الله ستاسو په لاسونو کې دي.

چه دا زما ګران او محترم رور لکه هر یو ضیاء الله شاه عارفی او سلیمان مخلص راجمع کړي دي او دا نهه خطبات دي.

چونکه د شهید مظلوم اکثره بیانات هغه په علمي نکاتو باندې

مشتمل وو او اکثریه بیانات دهغوئي دعلماو او طلباو دپاره قابل قدرتحفه وه.

نود ملګرو په اسرار باندي اودالله رب العزت په توفیق باندي بنده عاجزپه دي کارشروع کړو اودوئم جلد هم مرتب شو سره د عنواناتو، ترتیب او تخریج نه بفضله المنان.

په دي خطباتو کي تخریج داحادیثو اودایتونو دالمکتبة الشاملي نه شوي دي اګرچه اکثرو ځایونو کي باب جلد نمبر صفحه نمبر هم ذکر شوي دي خوکه بیا هم څه مشکل وي نو المکتبة الشاملي ته رجوع کولي شي.

چونکه دبیان او دتحریرنهج جداجداوي اوبنده عاجزدخپلي کم علمۍ او کم عقلۍ اعتراف هم کوي خوبعضي ځایونوکي رد و بدل مونږ کړي دي ددي دپاره چه ترتیب برابر شي او نهج تحریر هم څه برابر شي اګرچه دا زمونږدبس کارهم نه وو.

بعضي حوالي چه شهید مظلوم ذکرکړي دي دډیرکوشش باوجود بنده عاجز میلاونه کړي خو بیا هم د هغي د تائید دپاره نور روایات ذکرکړي شوي دي.

دانساني استعداد موافق مونږکوشش کړي دي چه څه قسم غلطي نه وي خوبیا هم دانسان کتاب د غلطیانونه نه خالي کیږي.

په دي کتاب کي که څه علمي جواهرات تاسو ته په نظر ښکاري نودا د بنده عاجزکمال نه دي بلکه دا کمال دشهید مظلوم مربي ووالدي شیخ القران والحدیث شهید مظلوم حضرت مولانا سلطان غني طاهري دي او که څه غلطي وي نودابه د بنده

عاجزکم علمي وي
لکه څنګه چه شهید مظلوم په خپل کتاب العرفان في اصول القران کي ذکرکړي دي.

فان اطلعت خطاء فيه فلاتنسبه الى شيخنافان هذامني وانااعجبك حسن التوضيح وبيان المقصدفعليك بمدح الشيخ والدعاء له.

نود غلطئ نسبت بنده عاجز ته کوئي اوکه کومه ملګروته غلطي معلومه شي نوبنده عاجزته اطلاع ورکړي، چه په راتلونکي ایډیشن کي د غلطئ اصلاح اوشي.

درخواست: ټولوملګروته دا درخواست دي چه شیخ القران والحدیث شهید مظلوم مولانا سلطان غني عارف طاهري په خپلو خصوصي دعاګانو کې مه هیروئي.

او د بنده عاجز د پاره هم دعاګانې کوئ چې الله رب العزت زما نه تر مرګه پوري ددين خدمت واخلي او دا سلسله الله رب العزت جاري وساتي... امين.

**محمدطاهر توحيديار بن شيخ القران والحديث شهيد مظلوم حضرت مولا ناسلطان غني عارف طاهري شهيد رحمة الله عليه**

# کسب حلال

الحمدلله رب العلمین والصلواة والسلام علی سیّد الاولین والاخرین نبیّنامحمدوعلی اله واصحابه اجمعین،

اما بعد

فاعوذ بالله من الشیطان الرجیم بسم الله الرحمن الرحیم

يَا أَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ وَإِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ : (۱)

## تمهید

عزتمندو مسلمانانو: قران عظیم شان کي الله رب العزت د انسان د کامیابۍ دپاره څه اصول خودلی دی. څه روحانی اصول دی او څه مادی اصول دی.

روحانی اصول په هغی کي لوئي اصل ایمان دی ایمان چی نه وی نوهیس قسمه عمل دی الله نه منظوروی اوقبولیت دعمل دپاره ایمان شرط دي.

سورة نحل کي الله پاك د خوشحالۍ د ژوند د دنیا اود اخرت چی چاله ورکوی د هغی دپاره شرطونه لګولی دی.

مَنْ عَمِلَ صَالِحًامِنْ ذَكَرٍأَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ : (۲)

چاچی نیك عمل اوکړو نارینه ووکه زنانه خو د نیك عمل د قبولتیا د پاره شرط دادی چی دي ایمان والاوو نو الله فرمائی ده له به زه خائسته

---

۱- سورة المؤمنون : (۵۱-۵۲)

۲- سورة نحل: (۹۷)

ژوند ورکړم په دنیا کې.
خائسته ژوند دا نه دی چې د سړی سره جهازونه وی ګاډی دی وی په دنیا کې خائسته ژوند هغه اطمینان دی که دسړی سره ډیره دنیا وی خو چې اطمینان ورته حاصل نه وی هغه دنیا دپیسی نه ده او که ده یو سړی ډیره دنیاوی او په هغه ډیره دنیا کې دهغه ژوند تنګ وی هرشي په هغه باندی بندوی نو دا ژوند څه ژوند نه دی ترڅو چې سړی ته اطمینان حاصل نه وی.
**واقعه:** پخوا په دی شیرشاه کې یو سیټ وو دهغه یوه کارخانه وه اود هغې په هغه زمانه کې د ورځوامدنی په لکونو وه خو د هغه د بیمارو د وجی نه هغه ته د خاص قسم خوراك نه مثلا کیك یا څه شی ددی نه علاوه هغه ته دډاکټردطرف نه دهغی دخوړلو اجازت نه ووهغه یو ورځی د غرمې تایم وو دخپلی کارخانې د مزدورانو معائنې له راغی دغرمې چهوټی چې اوشوه هغه ډوډئی چې کومو خلقو دځان سره وړی وه چاساګ راویستوچا مهیان مختلف څیزونه اوهغې ته کیناستل او لګیا ووخواړه ئې هغه سړی ځان ته تماچه اونیوله او ځان ئې ویشتو اودایشتو نه مخکې ئی دا خبره اوکړه چې په داسی مال او په داسی دولت او په داسی ژوند به زه څه کومه چې مال زما ډیر وی او ماته پکې د هیڅ شی د خوړلو اجازت نه ئی.
نو الله رب العزت فرمائی چې چا نیك عمل اوکړو خو ایمان دا د نیك عمل د قبلیدو دپاره شرط دی نو هغه له به زه خائسته ژوند ورکړمه په دنیا کې خائسته ژوند هغه د اطمینان دي.

## د حضرت جنید بغدادی رحمه الله وینا

حضرت جنید بغدادی رحمه الله فرمائی.

لو علم الملوك وأبناء الملوك ما نحن فيه من النعيم والسرور لجالدونا بالسيوف أيام الحياة على ما نحن فيه من لذيذ العيش وقلة التعب.

زما دی قسم وی که چری بادشاهان خبر شو چی زمونږ په زړونو کي څومره سکون دي څومره اطمینان دی نو دوی به زمونږ سره جنګ او کړی لښکری به راپسی راولیږی په دی سکون او په اطمینان باندی.

## د الله ذکر د اطمینان سبب دي

تاسو ته به پته نه وی یا به وی په مغربی ملکونو کي بعضی خلق دی چی هغه دسکون متلاشی دی دسکون تلاش کوی کله غټ غټ ویخته پریدی لوئی لوئی ګیری پریدی وائی په دی کي به سکون وی کله پیتی په سر کړی یو ځائي ته منډه بل ځائي ته منډه کله په سائکلو ګرځی خو د سکون لار هغوی ته نه ده معلومه.

خو قرا ن عظیم الشان وائی.

أَلَا بِذِكْرِ اللَّهِ تَطْمَئِنُّ الْقُلُوبُ:([1])

دزړونو اطمینان دادالله په ذکر باندی راځی.

یو دانسان دپاره روحانی غذا ده هغه روحانی غذا اول په هغی کي ایمان دي او دایمان نه علاوه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت په هغی باندی عمل کول دا د عمل د قبلیدو دپاره شرط دي او په دی باندی سړی ته سکون راځی.

---

[1]- سورة رعد(۲۸)

## اسلام څه ته وائی؟

دارنګی اسلام ظاهری غاړه کیخودو ته وائی دا اسلام دا هم یو روحانی رزق دي په حدیث د جبرئیل علیه السلام کي راځی

ثم قال يا محمد أخبرني عن الإسلام ما الإسلام فقال الإسلام ان تشهد ان لا إله الا الله وان محمدا رسول الله وتقيم الصلاة وتؤتي الزكاة وتصوم رمضان وتحج البيت ان استطعت إليه سبيلا : (۱)

چی جبرئیل علیه السلام راغي د نبی صلی الله علیه وسلم نه ئي تپوس اوکړو چی اسلام څه ته وائی؟

نبی صلی الله علیه وسلم ورته وائی چی د پنځو خبرو اقرار اوکړی او ظاهری ني اوکړی یو کلمهٔ شهادت اووائی دویم مونځ اوکړی دریم حج اوکړی روژه اونیسی او زکوة ورکی حج هله چی په تا باندی فرض ئی دا پنځه څیزونه چی چا اوکړل دي مسلمان شو دی ته اسلام وائی اسلام ظاهری تابعداری ته وائی.

## ایمان یو پټه خزانه ده

ایمان دا یو پټه خزانه ده او اسلام د ایمان دلیل دی.

ددی وجی نه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم یو پیره اوفرمائیل.

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم أمرت أن أقاتل الناس حتى يقولوا لاإله إلا الله فإذا قالوها عصموا مني دماءهم وأموالهم الا بحقها وحسابهم على الله :

تعليق شعيب الأرنؤوط : صحيح وهذا إسناد حسن :(۲)

---

۱- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۱ صفحه ۵۱ مسند عمر بن الخطاب رضي الله عنه

۲- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۲ صفحه ۵۰۲ مسند أبي هريرة رضي الله عنه

ماته حکم شوي دي زه به خلق وژنم تردی پوری چی هغوی لا اله الا الله اوائی نوکله چی هغوی دا خبره اوکړی او د شهادت کلمه اوائی نو هغوی زمانه خپل مال اوخپل عزت بچ کړوددوی فیصله الله ته ده د سرانرو د هغوئ د پټو زړونو.

دارنګی روحانی غذا دانسان دپاره ایمان دي او د ایمان بیا شعبي دی ایمان بالله دالله په اسماء د الله په صفاتو باندی ایمان په ملائکو باندی ایمان په کتابونو باندی ایمان په رسولانو باندی ایمان د قیامت په ورځ باندی ایمان د مرګ نه پس په ژوندی کیدوباندی ایمان او په دی باندی ایمان چی ماته هرڅه چی رارسی داد الله د طرفه دا د انسان د روحانی تسکین دپاره الله رب العزت پیدا کړی.

بیا الله د انسان د جسمانی قوت د پاره هم څه څیزونه پیدا کړی دی لکه څنګ چی د روحانی غذا د هغی متقابلات شته د ایمان مقابل شرک دي دتوحید مقابل شرك دي دسنت مقابل بدعت دي د سنت مقابل رسم دي رواج دي دستورونه دی.

**انسان په حقیقت کي د دوو څیزونومجموعه ده**

دارنګی داکائنات چی الله پیدا کړی دی نو په دی کي الله رب العزت دي انسان له درزق اسباب هم پیدا کړی دی ځکه انسان دا په حقیقت کي ددوو څیزونومجموعه ده انسان یود روح او بل دبدن ددي دوانړو چی د یو بل سره تعلق پیدا شی نو دی ته انسان وائی.

الله رب العزت د انسان دروح د پرورش دپاره انتظامات کړی دی او دارنګی الله رب العزت دانسان دبدن د پرورش دپاره هم انتظامات کړی دی وقتافوقتا الله رب العزت څه خلق پیدا کړی ووچی د هغوئ

د الله سره ډیر تعلق وو او د الله رب العزت د هغوئ سره تعلق وو او د هغوئ په واسطه باندی الله پاك د نورو بندیانوسره خبری کړی دی او نورو بندیانوته الله رب العزت هغه خپل احکام هغه خبری چی الله پی خوشحالیږی هغه ئي رالیږلی دی نو په هغی کي الله پاك بندیانو ته دا هم خودلي دی چی ما ستاسو دپاره رزق پیدا کړی دي

## حلال او حرام رزق

په دی رزق کي بعضی حلال دی او بعضی حرام دی حلال چی خوری نو ستا اعمال به قبلیږی او چه کله حلال نه خوری حرام خوری نوستا په اعمالو کي به قبولیت نه وی.

نبي صلى الله عليه وسلم فرمائی.

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم أيها الناس ان الله طيب لا يقبل الا طيبا وان الله أمر المؤمنين بما أمر به المرسلين فقال يا أيها الرسل كلوا من الطيبات واعملوا صالحا إني بما تعملون عليم وقال يا أيها الذين آمنوا كلوا من طيبات ما رزقناكم ثم ذكر الرجل يطيل السفر أشعث أغبر ثم يمد يديه إلى السماء يا رب يا رب ومطعمه حرام ومشربه حرام وملبسه حرام وغذي بالحرام فأنى يستجاب لذلك : تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده حسن :(1)

چی الله رب العزت نه غواړی، خو ډیر خلی یو سړي د هغه حال قابل رحم وی هغه د الله نه غواړی نو الله د هغه دُعا نه قبلوی.

نبی صلی الله علیه وسلم دهغه یو تصویرپیش کړي دي نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی ډیر خله یو سړي وی چی ببر سر وی خړپړ

1- مسند امام احمد بن حنبل: جلد ۲ صفحه ۵۰۲ مسند أبي هريرة رضي الله عنه

وی ببرسراو خړوالي دا د هغه د کموالی د مال او د کموالی د اسبابو نښه ده. دشپې وخت دا نهايت د قبليدو وخت وی په دی وخت کي هم يو سړي دي پاسيدلي دی دعا کوی الله ته نوګوره د هغه حال هغه د دعاقبليدو دی وخت د دعا د قبليدو دی او دي اواز هم کوی الله ته يارب يارب اي خدايه اي خدايه دا کار راله اوکی اي خدايه دا کار راله اوکړی نبی صلی الله عليه وسلم فرمائی دغه وخت د دعا د قبليدو ددی سړی حالت هم قابل رحم دي بيزسر خړی پړی جامې پاڅيدلی هم په داسی وخت کي دی چی هغه وخت د دعادقبليدو دی.اواز هم رب ته کوی چی د هغه د دربار نه څوك خالي نه راځی خو نبی صلی الله عليه وسلم فرمائی د داسی سړی دعابه خدائي څنګه قبوله کړی؟ ولي ؟دده پلار چی دده تربيت کړي دي په حرامو ئی کړي دي پلار ئي سود کړي دي او دده تربيت ئي په کړيدي بيا چی دی خپل کسب کوی نوکار ئي حرام دی. ده چی کومی جامی اغستی دی دا ئي په حرامو اغستی دی چی کومه ډوډئی ئي خوړلی ده هغه ئي دحرامو خوړلی ده.ده چی کومې اوبه څکلی دی هغه ئي د حرامو څکلی دی الله به دده دُعا څنګه قبوله کړی؟ دده دُعا الله نه قبلوی

## د دعا دقبليدو اوقات

داسړي د شپې پاڅی او وخت دشپې دا د قبوليت وخت دی.څکه په يو حديث کی دی چه:

عن أبي هريرة قال سئل رسول الله صلى الله عليه و سلم أي الصلاة أفضل بعدالمكتوبة قال الصلاة في جوف الليل قيل أي الصيام أفضل

بعد رمضان قال شهر الله الذي تدعونه المحرم
تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين :([1])

دابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي هغه فرمائي چه د نبی صلی الله علیه وسلم نه یو صحابی تپوس اوکړو اي دالله پيغمبره کومه دُعا ده چې الله ئې خه قبلوی؟ نو ډير مقامات دی خو نبی صلی الله علیه وسلم هغه ته دوه وخته اوخودل یو ئی ورته اوخودو د شپی دا روستي پهر چې دی د دی په دی نیمه کي چې ته پاځې اود الله نه غواړی اوچې کله فرض مونځ اوکی اود الله نه اوغواړی د نیمی شپی په باره کي هم نبی صلی الله علیه وسلم بیا تفصیل کړي دي د فرضو په باره کي ئي هم تفصیل کړي دي.

د نیمی شپی باره کي جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائلی دي.

عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال لولا أن أشق على أمتي لأمرتهم بالسواك مع الوضوء ولأخرت العشاء إلى ثلث الليل أو نصف الليل فإذا مضى ثلث الليل أو نصف الليل نزل إلى السماء الدنيا جل وعز فقال هل من سائل فأعطيه هل من مستغفر فاغفر له هل من تائب فأتوب عليه هل من داع فأجيبه .
تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين :([2])

چې الله رب العزت خنګ چې د هغه د شان سره مناسب ده د شپی په دی اخری وخت کي دی نزدی اسمان ته راکوز شی او په دغه

[1]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۲ صفحه ۳۰۳ مسند أبي هريرة رضي الله عنه
[2]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۲ صفحه ٤۳۳ مسند أبي هريرة رضي الله عنه

وخت کي الله رب العزت ا واز کوی او هغه ا واز مونږ نه اورو خو چا چې اوریدو یا څوك چې دغه ا واز باندی پوهه وو هغه مونږ ته وئیلی دی جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم چې په دغه شپه کي الله یو اواز کوی اي زما بندیانو څوك بخنه غوختنکی شته چې زما نه بخنه اوغواړی چه زه ئي اوبخم.

د مولا بانګ نه ګهنته نیمه مخکي په دی تیم کي الله رب العزت دی نزدي اسمان ته راکوز شوي وی او اواز کوی چې څوك شته چې څه اوغواړی او ورکړم ورله څوك غوختنکي شته چې زما نه څه اوغواړی او زه ورله ورکړمه نودا وخت نهایت د قبلیدو وخت په دی وخت کي هم یو سړي دي پاسیدلي دی دعا کوی الله ته نوګوره د هغه حال هغه د دعاقبلیدو دی وخت د دعا د قبلیدو دی او دي اواز هم کوی الله ته یارب یارب اي خدایه اي خدایه دا کار راله اوکی اي خدایه دا کار راله اوکړی نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی دغه وخت د دعا د قبلیدو ددی سړی حالت هم قابل رحم دي ببرسر خړی پړی جامې پاڅیدلی هم په داسی وخت کي دی چې هغه وخت د دعادقبلیدو دی.اواز هم رب ته کوی چې د هغه د دربار نه څوك خالی نه راځی خونبی صلی الله علیه وسلم فرمائی ددا سی سړی دعا به خدائي څنګه قبوله کړی؟ ولي ؟دده پلار چې دده تربیت کړي دي په حرامو ئی کړي دي پلار ئي سود کړي دي او دده تربیت ئي په کړیدي بیا چې دی خپل کسب کوی نوکار ئي حرام دی.ده چې کومی جامی اغستی دی دا ئي په حراموا غستی دی چې کومه ډوډئی ئي خوړلی ده هغه ئي دحراموخوړلی ده.ده چې کومې اوبه څکلی دی هغه ئي د

حرامو څکلی دی الله به دده دُعا څنګه قبوله کړی؟ دده دُعا الله نه قبلوی.

## ددعادقبلیدو دپاره شروط

ددعادقبلیدو دپاره څه شروط دی په هغی کې یوشرط دادی چی حرام به ګیډی ته نه بوځی او چی په ګیډه کې دی حرام پراته وو نو ستاعبادت الله نه قبلوی ستادعاالله رب العزت نه قبلوی ستاد عبادت هغه روح هغه الله تاله نه درکوی ستا په عبادت کې به روح نه وی ستا دعا به الله نه قبلوی.

بل طرف ته یو سړي دي هغه پاڅیدلي دی د هغه خوراك حلال دي د هغه څکاك حلال دی اوهغه دُعا کوی نو الله رب العزت د هغه حال ته ګوری کله چی هغه دعا کوی نو کله سمدستی الله د هغه دعا قبوله کړی کله چی هغه د دعا دپاره لاس پورته کړی الله د انسان په فائده باندی ښه پوهه دی په ده باندی یولوئي مصیبت راروان وی دا دی چی څه غواړی هغه ورله ورنه کی خو هغه مصیبت تری نه لری کړی کله کله الله رب العزت داسی اوکړی چی ده ددعا لاس پورته کړي وی د ده خوراك حلال څکاك حلال جامی حلالی او الله ئي هغه سوال قبول نه کړی خو په اخرت کي یولوئي مقام په دی دُعا باندی ورکړی د مسلمان دُعا هغه بي ځایه نه ځی خو شرط پکي دادی چی خوراك ئي حلال وی څکاك ئي حلال وی.

## د صحابی سوال کول او د نبی صلی الله علیه وسلم طریقه کار

نبی صلی الله علیه وسلم له یو پیره یو سړي راغی سوال ئي کوو نبي علیه السلام هغه ته وي ستا په کور کي څه دی ؟ هغه وی زما

په کور کي پيالۍ دی او فلاني شي دی نبی صلی الله علیه وسلم هغه پيالۍ او هغه څيزونه رااوغختل او هغه ئی خرڅ کړل په هغی باندی ئی هغه له پړي او تبر واغستو او وي غره ته زه لرګی راوړه او خرڅوه اونبی صلی الله علیه وسلم خلقوته اوفرمائيل.

عن المقدام رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال ما أكل أحد طعاما قط خيرا من أن يأكل من عمل يده وإن نبي الله داود عليه السلام كان يأكل من عمل يده : (۱)

نه دی خوړلی هیچا یو بهترین قسم خوراك د دی نه اوخوری د خپلی ګټی نه او بیا نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائيل چی اي خلقو د الله پیغمبر داؤدعلیه السلام به په خپل لاس باندی کارکوو مزدوری به ئي کوله او د هغی نه به ئي خوراك کوو.

## داؤدعلیه السلام او خپل کسب کول

داؤدعلیه السلام د لوهارۍ کارکوو او زغری به ئي جوړولي د هغه معجزه دا وه چی الله پاك فرمائي وَأَلَنَّا لَهُ الْحَدِيدَ: (۲) ما هغه له وسپنه نرمه کړی وه په ګوتو کي به ئي اړوله راړوله خو خوراك څکاك به ئي د حلال مال نه کوو او هغه داؤد علیه السلام له الله د حلال مال په وجه پیغمبری ورکړی وه او بیا ئي ورته وئیلی وو:

يَا دَاوُودُ إِنَّا جَعَلْنَاكَ خَلِيفَةً فِي الْأَرْضِ فَاحْكُمْ بَيْنَ النَّاسِ بِالْحَقِّ : (۳)

داؤده ته ما په زمکه باندی د الله د احکامو جاری کونکي کړی

---

۱- صحیح البخاری علي تحقيق البغاء : جلد ۲ صفحه ۷۳۰ باب کسب الرجل وعمله بيده

۲- سورة سبا:(۱۰)

۳- سورة ص (۲۲)

ځکه چې حلال رزق دچا په ګيډه کي پروت وی د الله په دنيا باندی د الله په مخلوق باندی د الله احکام هغه جاری کولي شی.

بيا نبی صلی الله عليه وسلم اوفرمائيل.

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم كان زكريا عليه السلام نجارا قال أبو جعفر ولما كان نجارا صلى الله عليه وسلم ليس من ذوي الأموال عقلنا بذلك أن الذي سأل ربه عز وجل أن يرثه عنه من يهب له غير الأموال وهي النبوة كمثل الذي سأله أن يرثه من آل يعقوب صلى الله عليه وسلم وكذلك سائر أنبياء الله عز وجل صلوات الله عليهم فلم يورثوا دينارا ولا درهما وإنما ورثوا العلم : ([1])

د الله نبی حضرت ذکرياعليه السلام ترکاڼ وو هغه به ترکاڼی کوله.

## دايت تشريح

قران موږ ته دا خائی چې تاسو خوراك کوی، نو خوراك به د خپل کسب نه کوی، او پاك خوراك به کوی، او هغه کسب به ستاسو هم پاك وی نو قربان شم د قران نه دوه ځايه ئی دا مسئله دعمل د قبليدو ذکر کړی ده يوداکوم ايت چې مالوستی دی داد ۱۸ سيپاری د سورة مومنون ايت دي انبياء ته الله فرمائی.

يَاأَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ وَإِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ : ([2])

اي پيغمبرانوپاك رزق خوری د هغی نه روستوبيانيك عمل کوی

[1]- شرح مشكل الاثار :جلد ۲ صفحه ۱۰ باب بيان مشكل حديث النبي صلى الله عليه وسلم في تركه أخذ ميراث مولاه الذي سقط من نخلة

[2]- سورة المؤمنون : (۵۱-۵۲)

ځکه کوم نیك عمل چی په حرام رزق باندی اوشی دهغی څه مقام نشته الله ئي نه قبلوی.

دارنگی سورة بقره کي الله رب العزت عامومسلمانانو ته فرمائی.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُلُوا مِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُمْ وَاشْكُرُوا لِلَّهِ إِنْ كُنْتُمْ إِيَّاهُ تَعْبُدُونَ : (۱)

اي ايمان والو خوری دپاکو هغه نه چه درکړی دی ما تاسو ته او شکر اوباسی د هغه که تاسو د هغه عبادت کونکی ئي یعنی ما چه تاسو له څه درکړی دی پاك هغه پاك خوری او که د الله بندگی کوی نو د الله شکر اوباسی.

## آدم علیه السلام او خپل کسب کول

عزتمندو : آدم علی نبینا وعلیه الصلوة والسلام چی الله دنیا ته اول راولیگو هسی په مونږ کي یو تن داسی شته چی هغه وائی چی زه د آدم ځوی نه یمه؟ مونږ ټول د آدم علیه السلام بچی یو.

تفسیر ابن کثیر لیکلی.

آدم علیه السلام چی کله اول دنیا ته راغی نوالله هغه ته د جولاگری کسب اوخودو. جولاگری یعنی جامې کپړی وخودل او بیا ئي پری احسان اوکړو.

يَابَنِي آدم قَدْأَنزَلْنَا عَلَيْكُمْ لِبَاسًا يُوَارِي سَوْآتِكُمْ وَرِيشًا وَلِبَاسُ التَّقْوَى ذَلِكَ خَيْرٌ ذَلِكَ مِنْ آيَاتِ اللَّهِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ : (۲)

اي آدم اولاده تاسو له ما جامه پیدا کړه چی په هغی باندی ستاسو

---

۱- سورة بقره : (۱۷۲)

۲- سورة اعراف : (۲٦)

عورت پتیږی او د خائست شئ دی. احسان ئي پری هم اوکړو.
اول کسب آدم علیه السلام ته الله څه خودلي وو؟ جولاګری.

## د کسب او نسب فرق

زمونږ خلق عجیبه خلق دی یو دی نسب یو دي کسب په دی دوانړو کي فرق دی. کسبګر تړوله دنیا ده څوك زمیداره کوی زمیداره دا هم یوکسب دي. دا کسب ګردي څوك لوهاری کوی څوك ترکانړی کوی څوك څه کوی څوك څه کوی خو په دی کي برکتي کسب هغه کسب دی چی په هغی کي سړي د حرامو مرتکب نه شی.

ددی وجی نه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د داؤد علیه السلام صفت کوی حدیث کی دی.

عن المقدام رضي الله عنه عن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال ما أكل أحد طعاما قط خيرا من أن يأكل من عمل يده وإن نبي الله داود عليه السلام كان يأكل من عمل يده : ([1])

نه دی خوړلی هیچا یو بهترین قسم خوراك د دی نه چه اوخوری د خپلی ګټی نه او بیا نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل چی ای خلقو د الله پیغمبر داؤدعلیه السلام به په خپل لاس باندی کارکوو مزدوری به ئي کوله او د هغی نه به ئي خوراك کوو.

عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم كان زكريا عليه السلام نجارا : ([2])

---

[1]- صحيح البخاري علي تحقيق البغاء : جلد ۲ صفحه ۷۳۰ باب كسب الرجل وعمله بيده

[2]- شرح مشكل الاثار :جلد ۳ صفحه ۱۰ باب بيان مشكل حديث النبي صل الله عليه وسلم في تركه أخذ ميراث مولاه الذي سقط من نخلة

او د الله پيغمبر زکريا عليه السلام ترکاڼ وو ترکاڼي به ئي کوله او د هغی نه به ئي خوراك کوو.
حضرت نوح عليه السلام هغه هم ترکاڼي کړی وه خپله کشتی هغه په خپله جوړه کړی وه.

## کوم کسبونه ناجائز دی

په کسبونو کي بعضی کسبونه داسی دی چی هغه کسبونه ناجائز دی او جناب رسول الله صلی الله عليه وسلم د هغی نه منع کړی ده .يو کسب دادی چی ښځه ولګی خپل عزت ورکوی او پيسی په اخلی نود دی نه نبی صلی الله عليه وسلم منع فرمائيلی ده.

عن ابن عباس قال نهى رسول الله صلى الله عليه و سلم عن مهر البغي وثمن الكلب وثمن الخمر: تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح . ([1])

ابن عباس رضي الله عنهما فرمائي چه نبی صلی الله عليه وسلم منع فرمائيلی ده د زنا د پيسو اغستو نه او د سپی قيمت اغستو نه او د شرابو د قيمت اغستو نه.يعنی د زنا پيسی حرامی دی. بعضي خلق دی سپی خرڅوی نو نبی صلی الله عليه وسلم فرمائی دا کسب حرام دي. بعضي خلق دی جواری کوی او په دی باندی مال ګټی نبی صلی الله عليه وسلم هغی ته حرام اوي.

بعضي خلق داسی کسبونه کوی چی په هغه کسبونو باندی معاشره بربادیږی روڼږو دي ته سوچ اوکی.هر هغه معامله هر کسب الله رب العزت روا کړی دی چی په هغی باندی معاشره خه کیږی اوچه په کومه معاشره بدیګی نوهغه کسب الله حرام کړی دی. د هغی زه

---

[1]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۲ صفحه ۱۳۳ مسند أبي هريرة رضي الله عنه

تاسو ته مثالونه خایم.

## حلال او حرام تجارت منځ کی فرق

تجارت دایوکسب دي اوحلال کسب دي خو د تجارت بعضی شکلونه د الله پیغمبر حرام کړی مثلا د باندی نه سړي راروان دي بنار ته ئي دخرڅ دپاره څه څیزونه راوړی دی کچالان ئی راغستی الوګان ئی راغستی شوتل ئي راغستي پاندونه ئي راغستی اوس نبی صلی الله علیه وسلم په دی معامله کي دهغه دا راوړل او خرڅول داجائز شي دی خو په دی کي یوناجائز کاردادی چی د کلی خلق د هغه مخی له وروځی او دکلی د خلقو هغه حاجت هغه ته په دماغو کي داسی محسوس شی چی په دی خلقو باندی په دی معامله کي زه څه کومه دوی ئي قبلوی لکه پاندونه راروان دي اوخلق ورله هغه لری خائي ته ږتي دی هغه سړي په قلاره ناست دي اوخلق ورله ګیډي پرانزی اوتقسیموی ئي اوهغه چه څه پیسی وائی هغه ورله ورکړی.

راروانه ورځ باندی چی هغه راځی نوهغه وائی دا خلق هسی هم ماله لاړ ته رااوځی کلی ته زه نه شم رسیدي نوکومه ګیډۍ ئی چی دومره ترلی ده او په لس روپۍ ئی ورکوله هغه په مینځ نیمه کړی او په لس روپۍ هغه نیمه ورکوی نو نبی صلی الله علیه وسلم منع اوکړه لکه حدیث کښې دی .

عن ابن عمرعن النبي صلى الله عليه وسلم أنه نهى عن تلقي الركبان وأن يبيع حاضر لباد: (١)

١- مسندالبزار : جلد ١٢ صفحه ٦٨

قافلي چې د بهرنه راځي د بهرنه چې کسان څه شئ راوړي نو نبي صلی الله علیه وسلم دهغوئ د مخې د تلونه منع کړی ده.
سبب ئي څه دی؟ کسب خو حلال دی خو سبب ئي دادی چې په دی باندی معاشره بربادیږي.
کله کله د باندې يو سړي راشي د ښار د نرخ نه هغه ناخبره وي په خارکي يوشي په لس روپۍ خرڅيږي او هغه له چه پنځه روپۍ ورکوی نو هغه ته ډيرلوئي شی ښکاری دهغه په دی خار کي څوك دوستان وی هغوئ ورته وائی ته نه پوهيږی زه به ئي درله خرڅ کړم هغه د خار د نرخ نه واقف وی نو هغه ئی ورله په لس روپۍ باندی خرڅ کړی نبی صلی الله علیه وسلم ددی نه هم منع کړی ده لکه حديث کښي دی.

حدثناعبدالله حدثني أبي ثناسفيان بن عيينة ثنا أبوالزبير قال سمعت جابر بن عبد الله يقول قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لا يبيع حاضر لباد دعوا الناس يرزق الله بعضهم من بعض
تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط مسلم :[1]

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی چه دخار سړي دکلی سړي دي ده باندې د سړی مال نه خرڅوی او پريدئی دا خلق چې يو د بل نه څه اوګټي.
د کسب دپاره نبی صلی الله علیه وسلم څه اصول مقرر کړی دی خو کسب دذلت او دعزت شي نه دی کوم شی چې ته ګټې که حرام وو نو ذا د بی عزتۍ دی او که حلال وو نودا د عزت مند ئی دي.

[1]- مسند امام احمد بن حنبل: جلد ۳ صفحه ۳۰۷ مسند جابر بن عبد الله رضي الله عنه

البته کسب چې سړي کوی زمیدارچی زمیداره کوی اودی په زمیداره کي داسی څیزونه کری چی هغه معاشری ته نقصان ورکوی نو د ده دا کسب حرام دی. که دی په زمیداره کي څه داسی کارونه کوی چی د الله د اصولو خلاف وی لکه مثلامزدوری کول په هغه شی کي بیااجرت اغستل شرعا ناروا دی لکه جرنده ګړي دي او هغه وړه کوی او د وړو نه هغه مذ اخلی دي ته مونږ په فقه کي د قفیض الطحان مسئله وائی طحان وئیلي کیږی جرنده ګړي ته او قفیض د هغه هغه مذو ته وئیلي کیږی.

دارنګی تریشر واله راشی او هغه مونږ له تریشر کوی د غنمو په برخه باندی نودا دوانړه طرفونو ته داشی په حرامیږی. څکه کارحرام دي خلق لو کوی او هغه لو کوی په ګیډو باندی په کوم شی کي چی دي مزدوری کوی د هغی نه اجرت اخلی نودا ناروا دي.څکه په دی باندی معاشره ورانیږی.

یوسړي دي ښکاری دي ښکار کوی مرغی، ئي ونیوله د مرغۍ قیمت دوه ذره روپی. دي په دوه زره روپی. ئي خرڅه کړه حلال کار ئي اوکړو خوکه دغه سړي په خپل ښکار کي یو سړی ته وائی چی هلکه زه جال بږدم که څه په کي راغلل که رانه غلل خوستا د پاره جال بږدمه ماله به زرروپی. راکي دا کسب حرام دي نبی صلی الله علیه وسلم ددي نه منع کړي ده څکه په دی معاشره بربادیږی.

کله به داسی وشی چی په هغه یوجال کي به لس مرغی، راشی هغه به دلس زرو روپو وی نو بیا به دا ښکاري خفه وی او کله به داسی اوشی چی جال به بالکل تش راشی بیا به دا سړي خفه وی.

دارنګی زمونږ په فقه کي يو مسئله ده هغی ته ضربة قانس وائی. قناس ښکاری ته وئيلي کيږی هغه يوسړي دي جال غورزوی اوبو ته اوبل ته وائی چی څه په کي راغلل ستا په لس روپۍ شو او که څه پکي رانه غلل بيا به هم ته ماله لس روپۍ راکي چونکه په دی باندي معاشره بربادیږی نو نبی صلی الله علیه وسلم ددی نه منع کړی ده.

بعضي کسبونه هغه ډيربد دی هغه خلق بد نه دی چی کسب کوی خو د هغی خلقو بدوآلي د دي کسب د وجي نه دي لکه مثلا ږيره خریل شرعا ناروا دی او قاعده داده چی ناروا شي ستا د کسب ذريعه شونوستا داکسب ناروا شو حرام شو.

اوس سرخریل ناروا کسب نه دي.ابوطيبه په اخري حج کي د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم سر خرئيلي وو او د هغی ويخته ابوطيبه نبی صلی الله علیه وسلم به ورته سړي خودل چه دوئی له ئي ورکړه دوی له ئی ورکړه تقسيم کړی وو نو سرخرئيل داد ګناه کار نه وو.

ګيره خرئيل دګناه کار دي.

وروی ابن جرير عن زيد بن حبيب قصة رسولي كسرى قال: « ودخلا على رسول الله صلى الله عليه وسلم وقدحلقا لحاهما وأعفيا شواربهما فكره النظر إليهما وقال: ويلكما من أمركما بهذا؟ قالا أمرنا ربنا يعنيان كسرى فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: ولكن ربي أمرني بإعفاء لحيتي وقص شاربي : ([1])

[1]- تحريم حلق اللحى :جلد١ صفحه ٧

نبی صلی الله علیه وسلم یودوه کسان لیدلی ووهغوئ ګیری خرئیلی وي نبی صلی الله علیه وسلم چی کله رومبي هغوئ ولیدل ورته ئي وي خدائي موغرق که خدائي موتباه کړه دا درته چا وئیلی دی. نو هغوئ ورته اوي دا زمونږ خدائي کسری مونږ ته وئیلي دي نو نبی صلی الله علیه وسلم ورته وي زما رب ماته حکم کړي چی ګیره اوګده او بریتان واړه که.

## عرب او خپل بچی با ندوته لیکل

عربوکي دا یوقاعده وه چی د هغوئ به بچي اوشو نو داسی خلق چی په هغوئ کي به غیرت وو داسی خلق چی د هغوئ ژبه به صحیح وه داسی خلق چی د هغوئ معاشره به صحیح وه د هغوئ عروبت به صحیح ووهلته ورته هغوئ عروبت وائی یعنی عربوالي مونږ ورته پختو وایو چی پختو به ئی صحیح وه عروبت به ئي صحیح وو پختو ددی ژبي نوم نه دی یواځی. پختو د ګفتار او د کردارنوم دي عروبت هم دعربي ژبي نوم نه دی عروبت معنی د هغوئ توري دهغوئ غشی ویشتل په هغوئ کي بهادری او شجاعت میدان ته تلل ځان بچ کول دا څیزونه نو ددی دپاره به عربو خپل بچی بهرته لیګل.

د نبی صلی الله علیه وسلم ځوئ ابراهیم هغه ځوئ چی نبی صلی الله علیه وسلم د هغه د قبر په غاړه باندی ناست وو او ژړل ئي اوونیل ئي.

قال قال رسول الله صلی الله علیه و سلم تدمع العین ویحزن القلب ولا

نقول الا ما يرضی ربنا عز و جل والله انا بك يا إبراهيم لمحزونون :([1])

ابراهيمه زه ستا په جدائي باندی ډير خفه يم.

په مدينه منوره كي يو اينګر وو لوهاروو او د براهيم رضاعی مورد هغه ښځه وه او نبی صلی الله عليه وسلم به كله كله د هغه كورته لاړو دخپل ځوی د ليدو دپاره او دهغه د دكان هغه لوړي او هغه دوړی دا به په نبی صلی الله عليه وسلم باندی پرتی وی هغه سړی چی به كاربس كوو نبی صلی الله عليه وسلم به ورته وی كار مه بس كوه هغه خپل ځوي به ئی راوړو ښكل به ئي كړو اوبه ئي ليدو بيا به ئي وركړو هغوئ به كورته ووړو بيا به تري نبی صلی الله عليه وسلم راتلو نو د كسب او د نسب ډير فرق دي. كسبګر ټوله دنيا ده نسب دا د پيژدنګلو او د معرفت شي دی.

## نسب د معرفت سبب دي

الله رب العزت فرمائی.

يَاأَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُمْ مِنْ ذَكَرٍ وَأُنْثَى وَجَعَلْنَاكُمْ شُعُوبًا وَقَبَائِلَ لِتَعَارَفُوا إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِنْدَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ خَبِيرٌ: ([2])

اي خلقو تاسو مې د يو نراو د ښځی نه پيدا كړی ئي ستاسونيكه آدم عليه السلام وو او ستاسو مور حوا وه اوس كه آدم عليه السلام عزت مندووحوا عزت منده وه نو تاسو ټول عزت مند ئي خو كه د عزت په لارو باندی لاړي.او كه تاسو چاته ذليله وائي نو ذلت خودموراوپلار نه راځی نوځه معنی تاسو به بره هم د ذلت نسبت كوی دا لكه د يو سوچ

---

[1]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۳ صفحه ۱۹٤ مسند أنس بن مالك رضي الله عنه

[2]- سورة الحجرات : (۱۳)

خبره ده.

نبی صلی الله علیه وسلم چی کله اخری حج کوو نو په حج کي ئي اعلان اوکړو.

والناس كلهم بنو آدم وخلق الله آدم من تراب : (¹)

تاسو ټول د آدم علیه السلام بچی ئي او آدم علیه السلام د هغه Material ماده چی وه هغه خاوره وه.

بل حدیث کي نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی.

عن جابر بن عبد الله قال: خطبنا رسول الله صلى الله عليه وسلم في وسط أيام التشريق خطبة الوداع فقال يا أيها الناس إن ربكم واحد وإن أباكم واحد ألا لا فضل لعربي على عجمي ولا لعجمي على عربي ولا لأحمر على أسود ولا أسود على أحمر إلا بالتقوى إن أكرمكم عند الله أتقاكم ألا هل بلغت ؟ قالوا: بلى يا رسول الله قال فليبلغ الشاهد الغائب ثم ذكر الحديث في تحريم الدماء والأموال والأعراض في هذا الإسناد بعض من يجهل : (²)

نبی صلی الله علیه وسلم چی کله اخری حج کوو نو په حج کي ئي اعلان اوکړو.

ستاسورب یو دي ستاسو نیکه یو دي عربی سړي په عجمی باندی هیس غوره والي نه لری او سپین په تور او تور په سپین څه غوره والي نه لری رنګ اونسل دا دفوقیت او دعزت څیزونه نه دی په تاسو کي د الله په نزد عزت مند سړي هغه دی چی هغه ډیر متقی ئی.

---

¹- شعب الايمان : جلد ٧ صفحه ١٢٧

²- شعب الايمان : جلد ٧ صفحه ١٣٢

مونږ. ټول دیونیکه آدم علیه السلام او د یوی ابي حوا اولاد یو په دی کي یو بل ته سپك کتل دا ناروا دی.

## د کسب او د نسب فرق

ماتاسو ته عرض اوکړو چی دا کسب چی دي کسب دا نسب نه دي کسب جدا شي دی.

زمونږ ټول خلق چی بهر وه په میلونو کي وو نو څه کوی؟ جولاګیری کپړی ودی کنه او دغه کپړی وودلو ته حیاکت وائی په عربی کي پختو کي ورته جولاګری وائی.

زمونږ ټول هلکان نایان دی. کورکي ناست وی غسلخانی ته چه تتوزی هلته د هغوئ سره برش هم شته صابون هم شته او هغه شی ورسره هم شته اوهلته ناست وی اوخان لکه د ګانړی د غوئی پوس راپوس کړی اوبیا ئي په هغی باندی راکاږی.نو دا کسب ناروادي دا کسب که هرڅوك کوی که نائی دي او په نائی توب کي دا کسب ناروا دي. هسی په ځان باندی دغه کوو چی دا فلاني نائی دي نائی خو ته هم ئي نائی څه ته وائی چی ګیره ځان له خرئی.

نوقران عظیم الشان مونږ ته دا خائی چی کسب چی کي نو هر هغه کسب کوه چه جائز وی.

بعضي کسبونه داسی دی چی هغی کي خلقو شك کوولکه حجامت یوخو زمونږ حجامت ګیری خریلو ته وایو.یو حجامت علاج دي.

زمونږ پخوانو مشرانو به ورته کتوی لړول وي او ښکر لګول به ئي ورته وي اودا په میاشت کي یوڅو ورځی دی دا فاسده وینه بهر ته را اوځی او ډاکټرانو ته ددی پته وی. څو ورځی دی چی دا فاسده وینه

بهر رااوخی او پاکه وینه دنته وی بیا څه زمانه هغه پاکه وینه بهر رااوخی او فاسده وینه دنته وی نو په کومو ورځو کي چی فاسده وینه بهر رااوځی نو نبی صلی الله علیه وسلم به ښکر لګوواو نبی صلی الله علیه وسلم په خپله لړولي په دی ولی باندی ئي لړولي په سرباندی ئی لړولي خو د بعضي خلقو دا خیال وو چی حجامت کول دا ناروا دی. نبی صلی الله علیه وسلم له چی کله یو سړی حجامت اوکړو او ښکر ئي ورله ولړو نبی صلی الله علیه وسلم هغی سړی له پیسی ورکړی.

## انبیاء علیهم السلام ته د قران اعلان

قران عظیم الشان انبیاؤ ته وائی.

يَاأَيُّهَا الرُّسُلُ كُلُوا مِنَ الطَّيِّبَاتِ وَاعْمَلُوا صَالِحًا إِنِّي بِمَا تَعْمَلُونَ عَلِيمٌ وَإِنَّ هَذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ : (۱)

خه عمل کوه نیك عمل کوه او چی نیك عمل کوی نو حلال کسب کوه نیك عمل به ستا منظوریږی او که کسب حلال نه وو نیك عمل نه منظوریږی.

کوم کسان چی داسی کسب کوی چی هغه کسب حرام دی مثلا ږیری خریل حرام دی اوداسی نور ډیرځیزونه دی داڅه نمونی چی ماتاسو ته اوخودلی دا ناجائز دی هغوئ له پکار دا دی چی هغوئ دغه عمل پریدی او که څوك وائی چی مونږ له به ږیری څوك خرئی نو اوس خو هر سړي نائی دي په کور کي ځان له شئ جوړ کړي نو ږیره خریل دا څه خه کار نه دی نه دی خرئی کنه او که څوك ئي ځان

---

۱- سورة المؤمنون : (۵۱-۵۲)

له خرئی جو هغه پوهه شه او خدائي پوهه شه.

نو قرا ن عظیم الشان وائی.

اي پيغمبرانو حلال رزق خوری او د هغی نه پس نيك عمل کوی.

سود چی خوری دا طريقه حلاله نه ده دده عمل الله نه قبلوی که غلا کوی دا طريقه حلاله نه ده که جواری کوی دا طريقه حلاله نه ده الله وائی زه ستاسو په عمل باندی پوهه يمه او وريسي وائی.

وَإِنَّ هَٰذِهِ أُمَّتُكُمْ أُمَّةً وَاحِدَةً وَأَنَا رَبُّكُمْ فَاتَّقُونِ : (١)

داستاسو د ټولو يو دين دي څه؟ چی حلال شی خوره او نيك عمل کوه او الله وائي زه ستاسو رب يمه زما نه اويريږی.

الله تبارك و تعالى دی مونږ له توفيق راکړی چی مونږ خه عمل اوکړو صالح عمل اوکړو نيك عمل اوکړو او لله تبارك و تعالى دی مونږه د بد عمل نه اوساتی.

(امين)

---

١- سورة مومنون : (٥٢)

## عذاب القبر حق (۱)

الحمدُ لله الحمدُ لله الذي تنزهَ عن الاضداد و الانداد و تقدس عن
الصاحبة و الوالدة و الوالد و الاولاد
و الفرد بالملک و القضاء فلا معقب لحکمه و لا راد لما اراد
الذي قسم الجبابرة و کسر الاکاسرة و جعل الموت حقًا و لا بد منه
لجميع العباد
عالمهم و جاهلهم کبيرهم و صغيرهم ثم يصير کل امرئٍ منهم الى ما
قدمت في حياته من عمل
و اشهدُ ان لا اله الا الله وحده لا شريک له له الحمد و له الملک و هو
على کل شئٍ قدير
و نشهدُ ان سيدنا و مولانا محمدًا عبده و رسوله اللهم صل وسلم و
بارک على سيدنا محمد و على آله الطيبين الطاهرين
و اصحابه الغر الميامين و من تبعهم باحسانٍ الى يوم الدين صلاة و
سلامًا و برکةً لا تنقطع مادامت الدنيا و الى قيام الساعة
و بعد: فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم
يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَيُضِلُّ
اللَّهُ الظَّالِمِينَ وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ : (۱)

## تمهيد

عزتمندو مسلمانانو: الله رب العزت انسان په دی دنیا کې پیدا کړي دي خود دنیا د پاره ئي نه دي پیدا کړي بلکه د خپل عبادت د پاره ئي پیدا کړي دي.

---

۱- سورة ابراهيم (۲۷)

## د آدم علیه السلام وفات او د هغه تدفین

اول انسان زمونږ پلار حضرت آدم علی نبینا وعلیه الصلاة والسلام هغه ئي د یو خلیفه په حیثیت باندی دی دنیا ته رالیږلي وو او الله رب العزت الله د هغه عمر مقرر کړي وو کله چه د هغه طبعي عمر پوره شو نو الله رب العزت هغه د دی دنیا نه بلی دنیا ته بوتلو او دغه بوتلو ته مرګ وئیلي کیږی په هغه باندی ئي مرګ راوستو د هغي نه پس چه کله هغه مړ شو نو الله رب العزت د هغه دغسل طریقه د هغه د دفن طریقه د فرشتو په ذریعه باندی د آدم علیه السلام اولاد ته وښوده د هغه دپاره حنوط کومه مساله چه د سجدي په ځایونو باندی لګی هغه ئي د جنت نه راوړه او آدم علیه السلام ئي په هغي طریقه باندی په کومه طریقه چه هغه دفن کول پکار وو او د هغه د اولاد طریقه وه په هغه طریقه ئي دفن کړو او الله پاک د آدم علیه السلام د هغه بچو په زړه کي چه هغوئ په دین کي د هغه په لار باندی روان وو دا طبعي طریقه کیخوده.

### دار العمل او دار الجزاء

چه کله یو سړي مړشی د مرګ نه پس هغه بیا دی خاورو ته واپس شی کله چه دی خاورو ته لاړ شی نو دا مړي د چه څومره زمانه په دی دنیا کي تیره کړی وی په هغي کي بعضي وختونه د ده د زده کړي نه وو هغه پسی الله نه حسابوی او کله چه دي د زد کړي مقام ته ورسیدو نو د هغه وخت نه الله رب العزت دده د اعمالو مراقبه شروع کړی نو د ده د هر هر عمل الله لیکل کوی او د هغي به الله ده له بدله ورکوی.

د انسان دپاره یو څو ځایونه دي یو ته دار العمل وائي دارالعمل هغه دا دنیا ده.
دویم هغه ځائي دی چه په هغي کي ده ته څه نري بیري اجر ملاویږي هغي ته برزخ وائي او جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د هغي نوم ایخي دي قبر

## قبراوبرزخ

قبر او برزخ دا یو شي دي یعني د یوشي دوه نومونه دي یو نوم ئي برزخ دي او بل نوم ئي قبر دي.
د هندوستان مشهور عالم د دویم قرن مجدد امام الهند شاه ولي الله دهلوی د هغه یو کتاب دي (الخیر الکثیر) په هغي کي هغه د بابونو په ځائي باندی دخزانی عنوان ورکړیدي په ۹ خزانه کي هغه لیکلی دی چه دویم مقام چه د دی سړی د امانت ځائي دی هغي ته برزخ وائي. وسماه رسول الله صلی الله علیه وسلم بالقبر.
او جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم هغي ته قبر وئیلي دی.
په دی قبر باندی د هر چا ورتله شته دی برزخ ته که سیکان دي نو هم ورځي او که هندو دي نو هم به ورځي که مسلمان دي هم به ورځي.
نبی صلی الله علیه وسلم چه په اسلامی ژبه کي د برزخ نه د قبر تعبیر کړي دي د هغی مطلب دادی چه د مسلمانانو په نزد باندی مسنون او بهتره طریقه د مړی د سنبهالولو داده چه هغه له قبر وکنی او هغه خپل خپلوان چه هغوئ د ده جدائي د یو سیکنډ دپاره نه ګواره کوله هغه ئي په خپل لاس باندی واخلی او د ده په

قبر ته په ورو کي او اوګه ورکولو کي دی اجر ګنړی او دي یوسی او په هغه قبر کي ئي کیدی.

## قبر او د قبر نه پس ژوند

دي قبر ته چه دي ورسیدو نو دا سړي به یا بد وی یا به ښه وی چه کله دی بد وی او د ده مرګ وخت راشی دي د دی دنیا نه ځی او دی برزخ طرف ته روان شی قبر طرف ته روان شی نو ملائک راځی.

وَلَوْ تَرَىٰ إِذْ يَتَوَفَّى الَّذِينَ كَفَرُوا الْمَلَائِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ وَذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ : (۱)

ملائک د دوی مخونه او کوناتی وهی او ورته وائي دا روح دي رااوباسه هغه روح په دی بدن کي کله یو ځائي له ځی او کله بل ځائي له ځی هغه روح د ده نه په بده انداز بانډی راویستي شی او چه کله په بره روان وی د دغه روح نه ښخا بوني خیژی بره فرشتی تپوس وکړی دا څوک دي ؟ دا دچا روح دي؟ هغه وائي دا خو فلانی دي د فلانی خوئي دی هغوئ وائي رُدوهٔ دا پمن لری کړي د هغي ځائي نه ئي راخکته کړی او سجین ته ئي وغورځوی.

او پاک سړي چه کله د هغه روح اوځی نو ملائک هغه له غونچه راوړی او دي چه ئي بویوی نو هغه روح د هغی سره را اوځی او قرآن عظیم الشان کي الله فرمائي.

إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا

---

۱- سورة انفال : (۵۰)

تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ : (۱)

فرشتې ورله زيري ورکوي د مرګ په وخت کې فرشتې راځي امام بخاري رحمه الله په خپل صحيح کې د تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ لاندې ليکي تتنزل عليهم الملائکة عند الموت کله چه ئې د مرګ وخت وي دا فرشتې راځي او دې سړي ته وائي دکوم جنت چه تاسره لوظ کيدو د هغې خوشالي واخله.

## د ايت تشريح

ما يو ايت لوستلي دي په دې ايت کې الله پاک د دوو کسانو حالت بنائي.

يو د هغه خلقو چه هغوئ د دنيا ژندګۍ د هغه مقصد لاندې تيره کړې ده د کوم مقصد دپاره چه دوی دې دنيا ته راليږلي شوي وو.

دوئم د هغه خلقو ژندګۍ خائي چه هغه خپل ژوند د هغه مقصد لاندې نه دی تير کړي.

چه کله ئې ژوند د مقصد لاندې تير کړي دي په دې دنيا کې دوته سکون دي او د هغه سکون اسباب هغه مالداري ډير خوراکونه ښکلي پوشاک دا نه دي د انسان په زړه کې د الله د طرف نه يو ورکړي شوي عطيه خوشالي ده چه دا خوشالي هغه د دنيا په خوشحالي باندې نه ورکوي.

يو مشهور صوفي اويو مشهور ولي د الله يو دوست د حنبلي مسلک يو لوئي عالم شيخ عبد القادر هغه يو ځائي کې وائي.

---

۱- سورة فصلت : (۲۰)

زانگه که یافتم خبر از ملک نیم شب

من ملک نیم روز بیک جونه می خرم

وائي چه زه د نیمی شپی پاڅمه او د الله په ذکرو اذکار کي مشغول شم د الله سره هغه تعلق چه ماله څومره خوند زاکوی نو د هغه تعلق په لذت او په خوند باندی زه د ټولی دنیا د بادشاهی په نیمه وربه شه باندی هم نه اخلم.

دغه لذت ده ته د مرګ په وخت کي هم ملاوېږي لکه حدیث کي دی.

حدثنا قتيبة حدثنا الليث عن سعيد بن أبي سعيد عن أبيه أنه سمع أبا سعيد الخدري رضي الله عنه يقول قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا وضعت الجنازة فاحتملها الرجال على أعناقهم فإن كانت صالحة قالت قدموني قدموني وإن كانت غير صالحة قالت يا ويلها أين يذهبون بها يسمع صوتها كل شيء إلا الإنسان ولو سمعها الإنسان لصعق : (١)

چه کله دی مړشی او دی په دی دنیا کي ئي د ده جنازه اخستي شوی وی دی هغي خپل مستقر ته روان وی نو دي اواز کوی.ما زر زر اوسئ ما زر زر اوسئ.

## جنازه زر کول پکارده

جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم هم فرمائیلی وو.

عن سعيد بن المسيب عن أبي هريرة رضي الله عنه عن النبي صلى الله عليه وسلم قال أسرعوا بالجنازة فإن تك صالحة فخير تقدمونها وإن يك

---

١- صحیح البخاری علي تحقيق البغاء : جلد ١ صفحه ٤٦٤ باب كلام الميت على الجنازة

سوی ذلك فشر تضعونه عن رقابكم : (١)

د مړی جنازه زر کوي د مړی دفن هم زر کوي.ځکه کچری دي نیك وی نو بهتره داده چه دي هغه خپل مقام ته زر اورسی.او که بد وی نو د خپلو ستونو نه لری کوئ.

یوه پیره جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی وو.

عن الحصين بن وحوح أن طلحة بن البراء مرض فأتاه النبي صلى الله عليه وسلم يعوده فقال إني لا أرى طلحة إلا قد حدث فيه الموت فآذنوني به وعجلوا فإنه لا ينبغي لجيفة مسلم أن تحبس بين ظهراني أهله : (٢)

د مسلمان د مړی دپاره دا نه دی مناسب چه هغه دی د خپل اهل په مینځ کي قید شوی وی او خلق دی تری چاپیره ناست وی بس چه کله مړ شو قبر تیار شو کفن برابرشو غسل ورکړي شوجنازه دی وشی او فوراً دی یوسی.

زمونږ علماء الله دی پری رحم وکړی هغوئ په خپلو خپلو کتابونو کي لیکلی دی بعضي ځیزونه دی چه هغه روستی کول نه دی پکار په هغي کي یوه جنازه ده چه جنازه کله حاضره شوه نو د هغي روستی کول نه دی پکار دا نبی صلی الله علیه وسلم د هغي حال تعبیر کړي دي قدموني قدموني.

کوم سړی چه هغه د مقصد خلاف ژوند تیر کړی وی هغه چه د دی دنیا نه وړی نو هغه ځان ته خیری کوی سواد پیریانواو

---

١- صحيح البخاري علي تحقيق البغاء : جلد ١ صفحه ٤٤٢ باب السرعة بالجنازة

٢- سنن ابي دارد : جلد ٣ صفحه ٢٠٠ باب التعجيل بالجنازة وكراهية حبسها

بندیانو نه هرڅوک ئي اوري هغه اواز کوي.

وإن كانت غير صالحة قالت يا ويلها أين يذهبون بها يسمع صوتها كل شيء إلا الإنسان ولو سمعها الإنسان لصعق : (۱)

خدائي دې ما غرق کړي تاسو ما چرته وړئ. د ده دا اواز سواد بندیانو نه هرڅوک اوري او کچرې انسان ئي واوري نو دي به بې هوشه شي.

## د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه روایت

دې ایت کې دا د سورة ابراهیم ۲۷ ایت دي. امام بخاری د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه په روایت باندې دا ایت د انسان د دوه قسمه ژوند دپاره دلیل ګرځولي دي په قبر کي.

عن البراء بن عازب رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال إذا أقعد المؤمن في قبره أتي ثم شهد أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله فذلك قوله يثبت الله الذين آمنوا بالقول الثابت

حدثنا محمدبن بشار حدثناغندر حدثنا شعبة بهذا وزاد يثبت الله الذين آمنوا نزلت في عذاب القبر: (۲)

یو د ښه ژوند دپاره یو د بد ژوند دپاره انشاء الله العزیز یو څو جمعې زه تاسو ته په دې باندې بحث کومه چه په دې قبر کي د مسلمان نه څنګه تپوس کیږي ؟ د کافر نه څنګه تپوس کیږي ؟ د دوی انجام او عاقبت څه وي ؟دوی ته څه خودلي کیږي ؟ او مرګ دا څه شي دي ؟

---

۱- صحیح البخاری علي تحقیق البغاء : جلد ۱ صفحه ٤٦٤ باب كلام الميت على الجنازة

۲- صحیح البخاری علي تحقیق البغاء : جلد ۱ صفحه ٤٦١ باب ما جاء في عذاب القبر

الله رب العزت فرمائي مخکي ئې د يو دوو عقيدو خلق ذکر کړي دي فرمائي.

أَلَمْ تَرَ كَيْفَ ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلًا كَلِمَةً طَيِّبَةً كَشَجَرَةٍ طَيِّبَةٍ أَصْلُهَا ثَابِتٌ وَفَرْعُهَا فِي السَّمَاءِ :(١)

ته دی ته سوچ نه کوی الله څنګه تمثيل بيانوی څنګه حال بيانوی هغه عقيده چه پاکه عقيده وی د هغې مثال د هغه ونې دي چه هغه مضبوطه ونه وی د هغې جرړی په ځمکه کې وی او څانګې ئې اسمان ته رسيدلی وی دا ونه مؤمن دي دا مؤمن دی دنيا کې دي خو د ده اعمال بره عرش ته رسی.

تُؤْتِي أُكُلَهَا كُلَّ حِينٍ بِإِذْنِ رَبِّهَا وَيَضْرِبُ اللَّهُ الْأَمْثَالَ لِلنَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَتَذَكَّرُونَ :(٢)

د الله د ارادي مطابق څکه الله چه نه غواړی نو هيڅ نه کيږي د الله د حکم مطابق دي هر وختی خپله ميوه ورکوی د مؤمن هر قدم د خير وی چه مؤمن وی هله د مؤمن هره ژبه چه دی خوزوی دا ده خير وی الله وائي زه خلقو ته داسي مثالونه بيانومه دی دپاره چه دوی پند واخلی.

وَمَثَلُ كَلِمَةٍ خَبِيثَةٍ كَشَجَرَةٍ خَبِيثَةٍ اجْتُثَّتْ مِنْ فَوْقِ الْأَرْضِ مَا لَهَا مِنْ قَرَارٍ :(٣)

د هغه ګنده عقيدی د هغې مثال دا د هغه بي کاره ونی دی چه د

---

١- سورة ابراهيم :(٢٤)

٢- سورة ابراهيم :(٢٥)

٣- سورة ابراهيم :(٢٦)

ځمکی دپاڅه هسی اندول وی چه ګوتي ورله وروړی نو رااوځی د
هغي تینګوالي نه وی په ځمکه کي په ځمکه کي ثابته نه وی.
بیا الله فرمائي.
يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَيُضِلُّ اللَّهُ الظَّالِمِينَ وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ :[1]
مؤمن الله په قبر کي په مضبوطه وینا باندی مضبوط ساتی او په
آخرت کي هم نو اصل کی دری ژوندونونه دی.
(۱) دنیا ژوند دا د سبب او د ذریعی ژوند دي (۲) د قبر ژوند (۳)
د آخرت ژوند اودا د ثمری او د میوي ژوند دي د نتیجی ژوند
دي.
دوه ژونده خائي الله مومن په قبرکي او په آخرت کي مضبوط
ساتی خو په څه باندی په هغه وینا باندی چه هغه وینا مضبوطه
ده.

## د نبی صلی الله علیه وسلم اوازاوریدل او د حضرت انس رضي الله عنه روایت

حدیث کي راځی.
عن قتادة عن أنس بن مالك : أن النبي صلى الله عليه وسلم دخل نخلا لبني النجار فسمع صوتا ففزع فقال من أصحاب هذه القبور قالوا يا نبي الله ناس ماتوا في الجاهلية قال تعوذوا بالله من عذاب القبر وعذاب النار وفتنة الدجال قالوا وما ذاك يا رسول الله قال إن هذه الأمة تبتلي في قبورها فان المؤمن إذا وضع في قبره أتاه ملك فسأله ما كنت تعبد فإن

---

[1]- سورة ابراهيم :(۲۷)

الله هداه قال كنت أعبد الله قال فيقال له ما كنت تقول في هذا الرجل قال فيقول هو عبد الله ورسوله قال فما يسأل عن شيء بعدها قال فينطلق به إلى بيت كان له في النار فيقال هذا بيتك كان في النار ولكن الله عصمك ورحمك فأبدلك به بيتا في الجنة فيقول دعوني حتى أذهب فأبشر أهلي فيقال له اسكن وإن الكافر إذا وضع في قبره أتاه ملك فيقول له ما كنت تقول في هذا الرجل فيقول كنت أقول ما يقول الناس فيضربه بمطراق من حديد بين أذنيه فيصيح صيحة يسمعه الخلق غير الثقلين :
تعليق شعيب الأرنؤوط : حديث صحيح وهذا إسناد قوي : (١)

د حضرت انس رضي الله عنه روايت دي دا روايت امام احمد بن حنبل د خپل استاذ عبد الوهاب بن عطاء نه ذکر کوی امام بیهقي د خپلو دوو استاذانو نه ذکر کوی محمد بن عبد الله محمد بن موسی بن فضل.

د حديث بنيادی راوی هغه حضرت انس بن مالک رضي الله عنه دي انس بن مالک فرمائي.

چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د مدیني منوری د یوي قبيلی چه هغی ته بنو نجار وائی د هغوئ یو باغ ته ننوتو نو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم یو اواز واوریدو هغه اواز د هغه په زړه کي ویره پیدا کړه دغه باغ چه کوم د بني النجار باغ وو په دی کي قبرونه وو نبی صلی الله علیه وسلم تپوس وکړو دا قبرونو والاکوم خلق دي؟ هغوئ اووي اي د الله پیغمبره دا څه خلق دی چه د جاهليت په زمانه کي مړه وو نو نبی صلی الله علیه

(١)- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٣ صفحه ٢٣٣ مسند أنس بن مالك رضي الله عنه

وسلم اوفرمائیل مونږ په الله سره پناه غواړو چه الله دی مونږ د قبر د عذاب نه وساتی الله دی مونږ د اور د عذاب نه اوساتی الله دی مونږ د دجال د فتنی نه وساتی نو صحابو تپوس وکړو دا د قبر دا عذاب څه شي دی اي د الله پیغمبره ؟ نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل دا امت دا خلق دا بندیان په دوی باندی په قبر کي ابتلاء او امتحان راځی دا دوه قسمه خلق دي یو مؤمن دي یو کافر دي مومن چه کله په قبر کي کیخودي شی نو ده له یو فرشته راشی تپوس تری کوی تا د چا بندګی کوله خدائي دی څوک وو ؟ چاته به دی اواز کوو چه راورسیږي رامددشی د چا نوم به دی اخستو عزت ورکونکي دی څوک ګنړو د ذلت ورکونکي دی څوک ګنړو د دنیا د بادشاهئ مختار دی څوک ګنړو اولاد ورکونکي دي څوک ګنړو رحمتونه ورکونکي دی څوک ګڼه نو نبی صلی الله علیه وسلم فرمائي فانِ اللهُ هداه په یو روایت کي راځی فاِن هداهُ الله عز وجل که چری الله ده ته لار اوخودله ده له ئی توفیق ورکړو د ده په زړه کي ئي خیر واچوه نو دي به وائي ما په دنیا کي د الله بندګی کوله دا دی هغه القول الثابت يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ نو دا دغه توحید په وجي الله دا مؤمن کلک ساتی.

چه کله د ده نه تپوس وشی ما کنت تعبد او الله ده له توفیق ورکړی نو دي نو دي به په جواب کی وائي ما دنیا کي د الله بندګی کوله زما یره د الله نه وه زما طمع د الله نه وه زما مینه د الله سره وه زما د خیر دربار د الله دربار وو ما چه شر ګنړو نو هم د الله د دربار نه

مي ګڼړوو القدر خيره و شره من الله تعالى که د خير تقدير وو او که د شر تقدير وو دا ما د الله نه ګڼړو زما عقيده داده چه ماله ځامن الله راکوی لونړه الله راکوی يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ الذُّكُورَ زما طريقه دا وه چه خپه به مې وخويده نو ما به وی الله رامدد شی کله چه به خلقو د پير بابا اواز کوو د لوئي ځوان او د کاکا صاحب اواز به ئي کوو نو مابه وي الله رامدد شی نو الله ده ته هدايت وکړو ده له ئي توفيق ورکړو نو دي وائي ما د الله بندګی کوله دويم تپوس به تری نه دا کوی تاسو کي يوسړي راغلي وومحمد صلى الله عليه وسلم ئي نوم وو هغه الله راليږلې وو د هغه په باره کي دی څه خيال دي؟ نو چه الله ده له توفيق ورکړي وی نو دي به وائي دي د الله بنده وو او د الله پيغمبر وو.

حضرت انس رضي الله عنه فرمائي: نبی صلى الله عليه وسلم اوفرمائيل:

قال فما يسأل عن شيء بعدما قال فينطلق به إلى بيت كان له في النار فيقال هذا بيتك كان في النارولكن الله عصمك ورحمك فأبدلك به بيتا في الجنة

چه کله د ده نه تپوس وشی چه ستا د محمد عربی صلى الله عليه وسلم په باره کي څه خيال وو؟ نودي به په جواب کی وائي چه هغه د خدائي بنده وو د الله رسول وو د دي دوو نه چه په حقيقت کي دا د دري دی يو د قانون سوال دي يو د رب سوال دي يو د قانون د بيانونکی سوال دي د دی نه علاوه نور تپوس به تری نه کوی روان به ئي کړی بوبه ئی ځي د ده يو کور چه هغه ده له په جهنم

کې تیار شوي وو ورته به وائي چه دا ستا په جهنم کې کور وو الله په تا باندې رحم وکړو ته ئې بچ کړې نو تاله ئې په جنت کې بل کور درکړو دا جهنم ستا ځائي وو که چرې تا د الله رب العزت نه علاوه د بل نه نفع نقصان ګڼلي وي د بل نه عزت او ذلت ګڼلي وي بل ته دې اوازونه کړي وي د بل درله تلي وي بل دې د تبې او د بادو ذمه وار ګڼلي وي ستا دا جهنم ځائي وو خو الله په خپل فضل او احسان ته بچ کړې دا سړي به ورته وائي ما پریدئ زه واپس دنیا ته لړ لاړ شمه لږ یو ساعت له مي پریږدي چه لاړ شمه او خپل بال بچ ته خپلو ځامنو ته خپلو لونړو ته خپل خاندان ته خبر ورکړمه چه ماله الله جهنم مقرر کړي وو د هغې نه ئې خلاص کړمه جنت ته ئې بوتلمه هغوئ به ورته وائي لږ صبر وکړه لږ په ارام شه دا سوال به کیږي د مسلمان نه.

وإن الكافر إذا وضع في قبره أتاه ملك فيقول له ما كنت تقول في هذا الرجل فيقول كنت أقول ما يقول الناس فيضربه بمطراق من حديد بين أذنيه فيصيح صيحة يسمعه الخلق غير الثقلين

او یو بل روایت کې رازي

ثم رجع إلى حديث أنس بن مالك قال وأما الكافر والمنافق فيقال له ما كنت تقول في هذا الرجل فيقول لا أدري كنت أقول ما يقول الناس فيقال له لا دريت ولا تليت ثم يضرب بمطراق من حديد ضربة بين أذنيه فيصيح صيحة فيسمعها من يليه غير الثقلين وقال بعضهم يضيق عليه قبره حتى تختلف أضلاعه : (١)

---

١- مسند امام احمد بن حنبل: جلد ٣ صفحه ١٢٦ مسند أنس بن مالك رضي الله عنه

او کله چه کافر په قبر کي کیخودي شی نویو فرشته به راشی دي
به ورتی او ورته به وائي پاخه خنزیره سپیه پاخه کافره مشرکه
خنزیره پاخه نو فرشته به د ده نه تپوس وکړی د چا بندګی دی
کوله ؟ کوم قبر له به تلی؟ د چانه دی د خیر او د شر طمع
کوله؟دي به ورته وائي ماته خو هیڅ پته نشته هغه فرشته به ئي
اووهی او ورته به وائي خنزیره نه په خپله پوهیدی اونه د چا پسی
تلی نه دی سوچ وو د بي سوچه بچیه او نه د چا پسی تلي او نه
دی د چا خبره منله.

دویم تپوس به ته کوی هغه کوم سړي چه ما تاسو ته رالیږلي وو د
هغه باره کي دي څه خیال دي ؟ نو دي به وائي ما خو به هغه ته
هغه کنځل کول کوم چه به ورته خلقو کول خلقو به وي جادوګر
دي ما به وي جادوګر دي خلقو به وی لیوني دي ما به وی لیوني
دی خلقو به وي ده له یهود نصاری تنخواه ورکوی ما به هم وي ده
له یهود نصاری تنخواه ورکوی نبی صلی الله علیه وسلم
اوفرمائیل د فرشتی سره به یو فلک(ماتوږ) وی د وسپنی د
غوږونو دا ډیده به ورله ووهی دی به یو چغه اوباسی دا چغه سوا
د پیریانو او د بندیانو نه نوره ټوله دنیائي اوری دا د قبر سوال او
د.قبر جواب.

د مومن په دی کي ښه مقام دی الله دی مونږ مؤمنان کړی خو په
تش امین باندی هیڅ نه کیږي ترڅو چه ورسره عمل نه وی زه
تاسو ته دا خبره ډیره په صفائي او وضاحت سره کومه او کړی می
ده چه دا یاد ساتئ په تش نوم سړي نه مسلمانیږی چه ستا عمل د

مومن نه وو نو که ته په خولي ځان ته مؤمن وی نو وایه کنه لکه د فرعون اوږدي اوږدي کلمی اووائی فرعون دوه نیم ګزه کلمه ویلی وه.

قَالَ آمَنتُ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ : (١)

خو دي دوه نیم ګزه کلمی هغه له هیڅ فائده نه وه ورکړی که ته اوږدي اوږدې کلمی وائی خو ستا عمل د مؤمن نه وی ستا عقیده د مؤمن نه وی نو ګوزي په ژبه باندی او په نوم باندی سړي نه مسلمانیږی مسلمانیږی سړي په څه؟ چه کم از کم ابتداء شکل خو د سړی د مسلمان وی کنه نو چه شکل ئی د مؤمن نه وی د یهودو او نصاری په باره کي د دنیا د ټولو نه د خو اخلاقو خاوند جناب محمد عربي صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی چه.

اولاد القردة و الخنازبرد شادوګانو او د خنزیرانو بچو د خنزیر ګیره نه وی د شادو هم ګیره نه وی او د هغویٔ هم ګیری نه وی د شادو هم ګیره نه وی او د هغویٔ هم نښته په ګیره باندی پیسی نه خرچ کیږي په خریلو باندی ئی پیسی لګی په پریخودو باندی ئی یوه پیسه هم نه لګی چه کله ستا شکل شباهت د خنزیر دي او د یو یهودی دي اودیو نصرانی دي نو که ته ډیر ځان ته مسلمان وائی. خو مسلمان نه ئي.

یو صحیح حدیث کي راځی نبی صلی الله علیه وسلم وائي دری اویا ډلی خلق به وی یوه ډله به هغه وی چه په کومه زه او زما صحابه روان وو او د دي نه علاوه دوه اویا ډلی نوری دی نو

---

١- سورة یونس : (٩١)

مرکریه چه چا د چا بیج لګولي وی هغه د هغه د ډلی سړي وی تا چه د چا بیج لګولي دی د هغه په صف کي به پاڅی که ستا خوښه وی او که نه وی خوښه.

زمونږ یو عالم تیر شوي دي محي الدین محمد بن البرکلی هغه فرمائي.

وقال الإمام محمد البركلي : فالمعرض عن التوحيد مشرك وكافر شاء أم أبى والمعرض عن السنة مبتدع ضال شاء أم أبى

چه د توحید نه مخ اړوی نو دا مشرک او کافر دي که د ده خوښه وی او که ئی نه ئی خوښه او چه دسنت نه ئی مخ اړوي دي بدعتی دي دی ګمراه دی که دده خوښه وی او که نه ئی وی خوښه دا خبري د خوښی نه دی خوښه داده چه د محمد عربی څه خوښ وی هغه به کوی چه د الله څه خوښ وی هغه به کوی هله به مسلمانیږی اوکه نه خوښه خپله کوی او نوم د مسلمان اخلی دا کوري ګرانه ده بدمعاشی هلته نه چلیږی چه ستا سره تړیک وی دکاندار ته لاړ شی د فلاني فلاني شي راکړه زما په خوښه ئی راکړه پیسی نه درکوم هلته خدائي شته برابر به دی کړی د الله سره قوت دي ایمان پکار دي او داسی ایمان چه هغه عملی او قولی وی هم وینا کوی او هم هغسی عمل کوی او چه وینا دی یو شان وی او عمل دی بل شان دي ته منافقت وائی.

اذا كان التوحيد بباب الدار و الشرک داخل الدار فذلک عين النفاق

شیخ عبد القادر جیلانی وائی چه د کور دروازه کي دی توحید وی د کور دروازه څه شي دي ؟ خوله او د کور په مینځ کي شرک

پروت وی نو دا نفاق دي په دی باندی خو ته خانله نوره سزا زیاتوی إِنَّ الْمُنَافِقِينَ فِي الدَّرْكِ الْأَسْفَلِ مِنَ النَّارِ د اور هغه لاندی طبقی ته به خي.

دا د الله په خان باندی احسان وگنړی چه تاسو له ئې داسی علماء درکړی دی چه تاسو ته نیغی نیغی پاکی پاکی خبره کوی او د دی ثمره به تاسو ته په قبر کی ملاویږی چه چا اقرار وکړو هغه ته به هم ثمره ملاویږی. او چه چا انکار وکړو هغه ته به هم ثمره ملاویږی.

## د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه دونم روایت

حضرت براء بن عازب یو صحابي دي د هغه روایت امام بیهقی رحمه الله ذکر کړي دي امام بخاری رحمه الله په خپل صحیح کي هم ذکر کړي دي وائی:

عن البراء بن عازب رضي الله عنهما عن النبي صلى الله عليه وسلم قال إذا أقعد المؤمن في قبره أتي ثم شهد أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله فذلك قوله يثبت الله الذين آمنوا بالقول الثابت

حدثنا محمدبن بشار حدثناغندر حدثنا شعبة بهذا وزاد يثبت الله الذين آمنوا نزلت في عذاب القبر: (١)

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی مؤمن چه کله دا گواهی وکړه چه د الله نه علاوه بل حاجت روا بل مشکل کشا نشته.

وہی مالک وہی داتا وہی مشکل کشا سب کا وہی اک غوث اعظم ہے یہی للکار رہتا جا

چه کله مؤمن دا عقیده وساتله چه مالک هغه دي ورکونکي هغه

---

١- صحيح البخاری علی تحقيق البغاء: جلد ١ صفحه ٦١١ باب ما جاء في عذاب القبر

دي د ټولو خلقو مشکلات الله اسانوی او داده هغه عقیده وی چه غوث اعظم يو الله دي بل څوک نشته.
چه ستا د بونیر ځانله غوث دي د سیدو دی ځانله غوث دي او د فلانی ځائي دی ځانله غوث دي نوبښتانه خو سړیه سور کافر بنه دي ستا په سوونو غوثان دی ستا غوث يو پکار دي هغه څوک دي؟ الله رب العزت: ستا د عزت او د ذلت ځائي څوک دي؟ يو الله:
قسم په خدائي چه دا ټول کائنات راجمع شي او تاله عزت درکوی نو چه الله ئي نه درکوی نو څوک ئي نه شی درکولي او قسم په خدائي چه دا ټول کائنات راجمع شي تاله ذلت درکوی چه الله ذلت نه درکوی نو تاسو نشی ذلیله کولي وی به پروپیګنډی به کوی خلق مختلف قسم پروپیګنډی کله يو قسم کله بل قسم کله بل قسم خو قاعده داده چه اسمان ته څوک لاړي توکی نو هغه ئی په مخ راغورځیږی دا د اسمان لاړی دی ستا په مخ راغورځیږی بره مه توکه لاړي د ځان اصلاح وکړه.
نبی صلی الله علیه وسلم فرمائي: مؤمن چه کله ګواهی وکړه چه د الله نه علاوه بل حاجت روا نشته او ده وپيژندو چه محمد صلی الله علیه وسلم څوک دي ؟ قبر کی ئی دا خبره معلومه کړه قبر کي به ستا نه تپوس کوی ما تقول في هذا الرجل الذي بُعث فيكم تاسو کي يو پيغمبر راليږلي شوي وو څه دی خيال دي د هغه باره کي ؟ دي چه ناست وی وائي: تورني زلفان دی سری ئی شونډی دی هلکه د پیغمبر تور زلفان او سری شونډی نه وي تور زلفان او سری شونډی خو د جینکو سره خوند کوی.

د پیغمبر ځانله ډېر شمائل وو د هغه غټ غټ هډوکي وو مضبوط مضبوط د هغه څنګلې غټ سر وو د هغه چه کوم دا بندونه وو دا غټ غټ وو دي ځائي نه واخله تر دې ځائي پوري د ويښتو يو کرښه وه.

نبي عليه السلام چه به کله تلو نو دا قدم چه به ئې اخستو نو داسې به ئې اخستو تا به وې چه دا ځمکه ئې د ځان پسې راونړوله په هغه کې خو د ځوانۍ صفتونه وو.

دي په جمات کې ناست دي او سر خوزوي تور دې زلفان دي او سرې دې شونډې دي دا د بې ایمانه خلقو طريقې دي د الله پيغمبر تر اوسه پوري دوي نه دې پيژندلي چه د الله پيغمبر څه وو؟ هغه ډېر صفت کوي هغه وائي انا نبي الرحمة زه د رحمت پيغمبر يم.

دي وائي نه دزلفو پيغمبر دې هغه چه د احد په جنګ کې دوه زغرې واغوستې خلقو ورته وي: يارسول الله مونږ زياتې وکړو وي نه د الله پيغمبر چه زغره واغوندي توره راواخلي واپس کيږي نه هغه داسې نر پيغمبر وو او دي څه وائي سرې شونډې به ئې وي او تور زلفان وايه خدائي دي ورک کړه دا د ښځو صفتونه دي دا د پيغمبر صفت نه دي.

دې کې شک نشته چه محمد رسول الله صلى الله عليه وسلم د ټولې دنيا نه زيات حسين وو خو دښځو حسن جدا دې د سړو حسن جدا دي د خالد رضي الله عنه حسن څه وو؟ د هغه حسن بهادري د عمر رضي الله عنه حسن څه وو؟ بهادري د صديق رضي الله عنه

حسن څه وو؟ صداقت د عثمان رضي الله عنه حسن څه وو؟ سخاوت د علی رضي الله عنه حسن څه وو؟ جراءت نو ته څه وائي چه سري شونډی ئي وي خو قاعده داده چه په کوم لوخی کي متیازی پرتی وی نو چه التپه ئي کړی نو متیازی تری څاڅی او چه ګبین پکي پروت وی نو د هغی نه ګبین څاڅی.

و عرف محمدًا في قبره او ده وپیژندو چه محمد صلی الله علیه وسلم څوک وو ستانه به تپوس کوی؟ ما تقول في هذا الرجل الذي بُعث فيكم يو پیغمبر په تاسو کي رالیږلي شوي وو د هغه په باره کي دي څه خیال دي ؟ نو چه کله دی دا وپیژنی چه رب می څوک دي ؟ پیدا کړي چایم ؟ عبادت مي د چا کوو؟

نو نبی صلی الله علیه وسلم وائي :د حضرت براء بن عازب روایت دي فذلك قوله يثبت الله الذين آمنوا بالقول الثابت.

## اکیواځی د الله په عبادت کار کیږی

اي ورونو! دی ته سوچ وکړي یواځی د الله په عبادت کار نه کیږی اک یواځی د الله عبادت چه وکړی.لکه حدیث کی رازی.

عن عمران بن حصين قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم لأبي كم تعبد اليوم إلها؟ قال سبعة فست في الأرض و واحد في السماء قال فأيهم تعد لرغبتك ورهبتك؟ قال الذي في السماء قال يا أبا حصين أما إنك لو أسلمت علمتك كلمتين تنفعانك فلما أسلم حصين أتى النبي صلى الله عليه وسلم فقال يا رسول الله علمني الكلمتين التي وعدتني قال قل اللهم ألهمني رشدي وأعذني رشد نفسي : (١)

---

١- المعجم الکبیر للطبرانی : جلد ١٣ صفحه ٦٥

عمران بن حصین یو صحابی دي د هغه پلار حصین چه مسلمان شو نو نبی صلی الله علیه وسلم تری نه تپوس وکوچه د څو خدایانو عبادت به دی کوو؟ هغه ورته وی د اوو(۷) خدایانو عبادت می کوو نبی صلی الله علیه وسلم تری نه تپوس وکو کوم کوم خائي کی وو؟ هغه ورته وی شپږ خدایان په ځمکه کي وو لات منات عزی هبل وغیره وغیره او یو خدائي می په اسمان کي وو نبی صلی الله علیه وسلم تری تپوس وکو غم خادئ کي به دی کوم یو ته اواز کوو؟ هغه ورته وي هغه د اسمان خدائي ته به می اواز کوو هغویٔ د خدائي عبادتونه کول خو ورسره ئی د نور چا هم کول اک یواځی د الله عبادت ئي نه کوو.

## د حضرت براء بن عازب رضی الله عنه درئم روایت

د دی براء ابن عازب روایت دي.په یو بل انداز هم پیش کوی بخاری د خپل استاذ ابو الولید هشام بن عبد الملک نه هم دغه روایت کړي براء بن عازب وائي.

حدثنا شعبة قال أخبرني علقمة بن مرثد قال سمعت سعد بن عبيدة عن البراء بن عازب أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال المسلم إذا سئل في القبر يشهد أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله فذلك قوله يثبت الله الذين آمنوا بالقول الثابت في الحياة الدنيا وفي الآخرة : (۱)

مؤمن چه کله په قبر کي کیخودي شی او د ده نه تپوس وشی څو کوم مؤمن ؟ چه ده په دنیا کي هم ګواهی کوله چه د الله نه علاوه بل څوک حاجت او مشکل کشا نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د

---

۱- صحیح البخاری علی تحقیق البغاء : جلد ٤ صفحه ۱۷۳۵

الله پیغمبر دي نو په قبر کي به هم د ده نه تپوس وشی نو دي به هلته هم وائي اشهد أن لا إله إلا الله وأن محمدا رسول الله دادبخاری روایت دي داالله رب العزت د دی قول مصداق هم دادي چه الله فرمائی یثبت الله إلذين آمنوا بالقول الثابت في الحياة الدنيا وفي الآخرة الله رب العزت د ایمان خاوندان په قبر کي هم او په آخرت کي هم په دی مضبوطه وینا باندی مضبوط ساتی.

دارنگی سعد بن عبید د براء بن عازب نه روایت کوی د دی ایت تشریح کوی يُثبت الله الذين آمنوا بالقول الثابت کوم چه د سورة ابراهیم ۲۷ ایت دی فرمائی.

عن البراء بن عازب قال في قوله يثبت الله الذين آمنوا بالقول الثابت في الحياة الدنيا قال التثبيت في الحياة الدنيا إذا جاء الملكان إلى الرجل في القبر فقالا له من ربك ؟ فقال ربي الله وقالا ما دينك ؟ قال ديني الإسلام قالا ومن نبيك قال محمد قال فذلك التثبيت في الحياة الدنيا : (۱)

په کوم وخت کي چه مړي په قبر کي کیخودلي کيږی ده له یوه فرشته راشی بعضي روایتونو کي راځی دوه فرشتی راځی منکر او نکیر ګنړی فرشتی هم راځی فیقال له دده نه تپوس کوی من ربک چا پاللي وی؟ چا عزت درکړي وو؟ چا ذلت درکړي وو؟ رزق دی د چا خوړو؟رحم کرم دربانډی چا کوو؟ اولاد چا درکړي وو؟ مال چا درکړي وو؟ سترګی چا درکړی وی؟ پوزه چا درکړی وه؟ دی به په جواب کي وائي ربي الله دا ټول څیزونه زما رب ماله راکړی وو.

---

۱- مصنف ابن ابي شيبة : جلد ۱۳ صفحة ۳٦۷

دویم تپوس به تری نه کوی په کوم قانون دی وخت تیر کړي وو؟ د پښتو په قانون که د اسلام په قانون؟ جواب ورله د اوس نه تیار کړه زه کله کله په دی حجرو کي وایم قاعده داده چه کله سړي امتحان اخلی نو د امتحان پرچه پته ساتی الله رب العزت امتحان اخلی خو د پرچی دری سوالونه دی دری واړه ئی درته خودلی دی.دی د پاره چه ته ورله تیاری وکړی.

دویم سوال تری دا کوی د کوم قانون مطابق دی ژوند تیر کړي وو؟ فرنګي وي یهودی وی مسلمان وي که هندو وي نو وروره خپل شکل ته دی ګوره نو.

عبدالله شاه مولوی صاحب دی الله وبخي یو پیره ئی تقریر کوو ما ورته وی د دی سودخورو پسی څه ووایه نو هغه په دی لوډ سپیکر باندی لاس وی په ما باندی ئي ورته وائي.

په خپله ځان ته اوګوره په چا وایه مه ځان ته په خپله ځان ته اوګوره چه ته څه ئی ؟ که ته مسلمان ئی نو ستا به شکل د مسلمان وی که ته هندوئي نو ستا به شکل د هندو وی که ته یهودی ئي نو ستا به شکل د یهودی وی او که ته نصرانی فرنګي ئي نو ستا به شکل د فرنګیانو وی بس ځانته سوچ وکړه چه ته څه ئي اوګورئ دي ته سوچ وکړي چه زه ځان نه پیژنم دا لوډسپیکر ما پیژنی چه ماته څوک ناست دی ؟ دا ولي څکه دي ځان هم نه پیژنی دي دیوال ته پته نشته چه د مولا څوک دي او دا هم ورته پته نشته چه دا مخامخ څوک ناست دی څکه دوي د ځان نه نه دی خبر.

بل سړي هله پیژنی چه اول ځان وپیژنی او صوفیاء کرام وائی.

من عرف نفسه فقد عرف ربه چا چه ځان وپیژندو خدائي به وپیژنی اول ځان وپیژنه چه ته څهٔ ئی؟ ستا قانون څه دي؟ نو که ستا قانون اسلام وی کور کی دی اسلام وی نو ته به ورته جواب وکړی ديني الاسلام زما قانون اسلام دي.

دریم تپوس تری هغه کوی نبي دي څوک دي؟

**لطیفه:** سکول کي استاذ دهلکانو نه تپوس کوو وائي ستا د پیغمبر څه نوم دي نو هغه ورته وی محمد علي جناح هغي غریب ته پته نه وه پلار ورته دا خودلی دی چه سندری به څنګه وي پلار ورته دا خودلی دی مورته دی کنځل وکړه غیر کي ئي راغستي وو او زنګوئی وی مورته دی کنځل وکړه هغی تری واخستو وی پلار ته دی کنځل وکړه دی خنزیرانو خو ورته دا نه وو خودلی چه ستا پیغمبر څوک دي؟

**واقعه:** زمونږ د دی کوز کلي یو سړی وو الله دی وبخی الله دی ورته معافی وکړی یو هوټل کي ناست وو ماته ئي وی مولوی صاحب ماله د باچا خان د لونړو د باچا خان د خامنو د ښځو د تیولو نومونه راځی ما ورته‌وی د پیغمبر څو لونړه دی ؟ وي دا خو ماله نه راځی ما ورته وي خدائي دی ورک کړه ستا نه به په قبر کی د باچا خان تپوس کیږی که د محمد عربي صلی الله علیه وسلم تپوس به درنه کیږی تاله هر څه درځی خو چه نه درځی نو دین درله نه درځی تپوس به تری کوی نبي دی څوک وو؟

چه کله یو سړی دا پیژندلي وی چه آو زما یو نبی دي هغه ماته دین رارسولي دي د هغه په طریقه به زما ناسته وی زما پاسته به وی د

هغه په طریقهٔ به زما غم وی د هغه په طریقه به زما ښادی وی ته
گوره ورته یو سړي به وی غریب به الف ته موکي وائي او ب ته به
اخور وائی چه مولا ورته مسئله وکړی نو دي به راپاڅی ته به وائی
چه دا د دیوبند فارغ دي دي به وائې دا کار ښه دي.
زه کله کله دي خلقو ته هم وایم مړي د کفن نه پس کتل نه دي پکار
نو یو تن راپاڅی چه که د هغي غریب نه تپوس وکړی نو سُبحانَ ته
جمعه خانه وائي او که تپوس تری نه وکړی هغه ته د مونځ فرض نه
دی معلوم هغه به شور شروع کړی وی ولي دا نور مولیان غلط وو؟
د خدائي ظالمه ته په غلطه او په صحیح څه پوهیگی چه څوک درته
څه وائی هغه منه چه صباله ته په قبر کی دا ونه وي لا دریت ولا تلیت
نه پوهیدی او نه په چا پسی تلی.
فذلکَ تثبیت في الحیاة الدنیا دا په دنیا کي تثبیت دي حیاة الدنیا
معنی د قبر په ژوند کي.
انشاء الله العزیز دا یو موضوع ده او دا زه تاسو ته تفصیلی بیانومه
او دی دپاره ئي تاسو ته بیانومه چه تاسو ته دا پته ولگی چه قبر دي
له مونږ څو مونږ له څه تیاري پکار دی او څه نه دی پکار اي سوچ
کوئ مونږ مرگ منو خو گوري لاخپل مرگ مو نه دی منلي که چا
خپل مرگ ومنو هغه به سم شی او مونږ مرگ منو خو پردي مرگ
منوخو پردي مرگ منو چه سړي مړ شی مونږ وایو مرگ حق دي گور
کفن کی شک دي خو دا مونږ پردي یادوو که ما خپل مرگ منلي ما
به د مرگ دپاره تیاري کوو.
یو سړي مردان ته څئ نو د ماښام نه خاتله په بیگ کی جامی کیدی

اسلام آباد ته مزدورئ له څی ځانله د مزدورئ جامی جدا کیدي د
شوشا هغه ځان له جدا کیدی نو چه د اسلام اباد د تلو ده ته یقین
دي چه زه صبا روان یم د هغي دپاره دي تیاري کوی نو که تاته دا
پته وی چه صبا به زه په څلورو کسانو باندی سور یم یو دکټ خپه به
د یو په اوږه پرته وی او بله په بله او بل په بله او بي ارادي بـه روان یم
او قبر ته به ځم هلته زما سره به حساب کیږی نو تا به د نن نه تیاري
کړي وو الله دی مونږ له د تیاري توفیق راکړی.

**وماعلینا الاالبلاغ**

## عذاب القبر حق (۲)

الحمدُ لله وحده و الصلاة و السلام على من لا نبي بعده و بعد:

فاعوذ بالله من الشيطان الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم.

إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ : (۱)

### تمهيد

خوږو عزتمندو : د تیری جمعی نه مخکی یو مضمون مونږ شروع کړي وو د قبر د عذاب په باره کي.

او هغه مضمون دا وو چه په قبر کي په سړی باندی کوم کوم حالت راځی دی باره کي تقریبًا ۴۱ پوری احادیث اجمالا تفصیلا ستاسو مخکی بیان شوی وو.

دا قاعده ده چه کله یو انسان مری نو د مرګ په وخت کي څه فرشتی راځی د انسان دوه قسمه حال وی یو دا انسان یا مؤمن وی یا کافر وی که دي مؤمن وی نو الله رب العزت ده له فرشتی رالیږی او هغه وخت کي ده له زیري ورکوی او که دي کافر وی نو په هغه وخت کي فرشتی راځی او ده له یره ورکوی.

### دايت تشريح

کوم ايت چه ما ولوستو د سورة حم سجده ي يو ايت دي په دی کي الله رب العزت فرمائي.

إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ ثُمَّ اسْتَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا

---

۱- سورة حم سجده : (۳۰)

تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ : (١)
يقينًا هغه كسان چه د هغوئ دا عقيده وه چه يقينًا الله زمونږ رب دي په دي ايت کي د قالوا نه مراد عقيده ده.
په حديث کي راځي.
من قال لا إله إلا الله دخل الجنة فقال إنما كان هذا في أول الإسلام قبل نزول الفرائض والأمر والنهي : (٢)
د هغي نه مراد صرف وينا نه ده ځکه په صرف وينا باندی سړي جنت ته نه ځي.
د قال نه مراد عقيده ده د چا چه عقيده وه چه د الله نه سوا بل مددګار نشته نو دي به جنت ته ځي.
دارنګی بل حديث کي راځي.
عن أنس بن مالك قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم أمرت أن أقاتل الناس حتى يقولوا لا إله إلا الله فإذا قالوها وصلوا صلاتنا واستقبلوا قبلتنا وذبحوا ذبيحتنا فقدحرمت علينا دماؤهم وأموالهم إلا بحقها وحسابهم على الله : (٣)
ماته حکم شوي دي چه زه دا خلق تر هغه پوری وژنم ترڅو پوری چه هغوئ د لااله الاالله عقيده نه وی ساتلي.
نو قرآن هم وائي. إِنَّ الَّذِينَ قَالُوا رَبُّنَا اللَّهُ
هغه کسان چه د هغوئ عقيده هم دا وی چه رب زمونږ الله دی او بيا دی په دی عقيده باندی مستقيم شي.

---

١- سورة حم سجده : (٣٠)

٢- سنن الترمذي : جلد ٥ صفحه ٢٣ باب ما جاء فيمن يموت وهو يشهد أن لا إله إلا الله

٣- صحيح البخاری علي تحقيق البغاء : جلد ١ صفحه ١٥٣ باب فضل استقبال القبلة

حضرت عمر رضي الله عنه د استقامُوا معنی کوی.

عن الزهري قال تلاعمر رضي الله عنه على المنبر إن الذين قالوا ربنا الله ثم استقاموا قال استقاموا ولله لله بطاعته ولم يروغوا روغان الثعالب : (١)

چه د ګیدړ په شان ته کله یو دین ته او کله بل دین ته دي نه ځی بس په اسلام او په دی عقیده باندي کلک ولاړ وی.

هسي نه چه په خولی باندی وائي رب می الله دي تبي له یو در ته روان ئی او بادو له بل در ته روان ئی او زیړی له بل در ته روان ئی او غوړونو له بل در ته روان ئی نو د ده دی وینا دي کي استقامت نشته عقیده د ده بیکاره ده.

نو الله فرمائي کوم کسان چه د هغوئ دا عقیده وه چه رب زمونږ الله دي او په دی عقیده باندی دي ثابت پاتی شو د ګیدړ په شان اخوا دیخوا نه شو نو ده له به فرشتی راځی.

امام بخاری په خپل صحیح کي د الْمَلاَئِكَةُ سره لیکي.

تتنزل عليهم الملائكة عندالموت د مرګ په وخت کي دوی له فرشتی راځی او هغه فرشتی ورته وائي.

أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ

مه ویریږئ مه غمژن کیږئ او د هغه جنت خوشحالی قبوله کړئ د کوم چه تاسو سره لوظ کیدو نو د قرآن د قطعي نص مطابق چه کله د یو سړی عقیده د توحید وه او په دغه عقیده باندی دي مړ شود استقامت معنی دا چه تر مرګه پوری دي به هغه عقیده باندی کلک وو نو د مرګ په وخت کي ده له فرشتی راځی او

---

١- تفسیرطبری : جلد ١٢ صفحه ٤٢٥

دوی ته هغه فرشتې وائي مه ویره کوی او مه غمژن کیږئ یعني د مستقبل نه اود راتلونکی زمانی ویره مه کوي په دنیا باندی غمژن مه شي اود هغه جنت زیر واخلئ چه تاسو سره ئی لوظ کیدي شو.

**اول قسم خلق چه د مرګ په وخت کي هغوئ ته خوشحالی ملاویږی**

قرآن کریم کي یو بل ایت کي الله فرمائی.

يَاأَيَّتُهَا النَّفْسُ الْمُطْمَئِنَّةُ * ارْجِعِي إِلَى رَبِّكِ رَاضِيَةً مَرْضِيَّةً * فَادْخُلِي فِي عِبَادِي * وَادْخُلِي جَنَّتِي : (1)

اي هغه نفسه چه په توحید باندی ته مطمئن وی ستا د زړه سکون او اطمینان وو په توحید باندی د کوم رب توحید چه تا منلی هغي خپل رب ته واپس لاړ شه ته به هم رضائي خوشحاله به ئي او خوشحالی به درله درکړی شي.

فَادْخُلِي فِي عِبَادِي الله رب العزت دي نفس ته په دنیا کي وائي زما په بندګانو کي داخل شه نو چه کله ته زما بنده شوی د الله د بنده توب نښه څه ده ؟ چه سړي په توحید کلک وی نو زما جنت ته به لاړ شی دا خو هغه اول قسم خلق کوم چه مؤمنین دی د مرګ په وخت کي هغوئ ته خوشالی ملاویږی.

**دونم قسم خلق چه د مرګ په وخت کي هغوئ ته تکلیف ملاویږی**

دویم قسم خلق چه کوم کافر دی د هغی باره کي الله فرمائي.

وَلَوْ تَرَى إِذِ الظَّالِمُونَ فِي غَمَرَاتِ الْمَوْتِ وَالْمَلَائِكَةُ بَاسِطُو أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوا أَنْفُسَكُمُ الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَا كُنْتُمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ غَيْرَ

---

1- سورة فجر : (۲۷- ۲۸- ۲۹- ۳۰)

الْحَقِّ وَكُنتُمْ عَنْ آيَاتِهِ تَسْتَكْبِرُونَ : (۱)

کاش که تا هغه وخت لیدلي وي کله چه ظالمان کافر دا د مرګ په هغه سلګو کي وي او ملائکو هغوئ ته خپل لاسونه اوږده کړي وي او ده ته ئي دنته تیستلی وي او اواز ورته کوی خنزیره دا روح دي رااوباسه نن به تاسو له د ذلت سزا درکولي کیږي ز که تا په خدائي دروغ وي او د الله د ایتونو نه به دی مخ اړوه.

دا ایت سورة الانعام کي دي په دی نمونه یو ایت په سورة الانفال کي دی .بل په سورة الاحقاف کیٓ هم دي.

وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَنْ نُؤْمِنَ بِهَذَا الْقُرْآنِ وَلَا بِالَّذِي بَيْنَ يَدَيْهِ وَلَوْ تَرَى إِذِ الظَّالِمُونَ مَوْقُوفُونَ عِنْدَ رَبِّهِمْ يَرْجِعُ بَعْضُهُمْ إِلَى بَعْضٍ الْقَوْلَ يَقُولُ الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا لِلَّذِينَ اسْتَكْبَرُوا لَوْلَا أَنْتُمْ لَكُنَّا مُؤْمِنِينَ : (۲)

دوانړو ایتونو نه دا ثابته شوه چه مؤمن له د مرګ په وخت کي خوشحالي وی او مؤمن له د مرګ په وخت کي اطمینان وی.

او چه کافر وی نو د هغه دپاره تکلیفونه او مصیبتونه وی.

## د حضرت ابو هریره رضي الله عنه روایت

دي باره کي یو روایت دي چه امام مسلم رحمه الله په خپل صحیح کي ذکر کړي دي دغه روایت د حضرت ابو هریره رضي الله عنه دي.

عن أبى هريرة قال إذا خرجت روح المؤمن تلقاها ملكان يصعدانها قال حماد فذكر من طيب ريحها وذكر المسك قال ويقول أهل السماء روح

[1] - سورة الانعام : (۹۳)

[2] - سورة الاحقاف : (۳۱)

طيبة جاءت من قبل الأرض صلى الله عليك وعلى جسد كنت تعمرينه فينطلق به إلى ربه عز وجل ثم يقول انطلقوا به إلى آخر الأجل قال وإن الكافر إذا خرجت روحه قال حماد وذكر من نتنها وذكر لعنا ويقول أهل السماء روح خبيثة جاءت من قبل الأرض. قال فيقال انطلقوا به إلى آخر الأجل قال أبو هريرة فرد رسول الله صلى الله عليه وسلم ريطة كانت عليه على أنفه هكذا : ([1])

حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمائي کله چه د مؤمن روح رااوځی نو ده د راوتو په وخت کي دوه فرشتی هغه دا راواخلی او بره باندی ئي بيائي.

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه د شاګرد شاګرد د حديث راوی ابو هريره دي او د هغه شاګرد دي عبد الله بن شقيق او د هغه شاګرد دي بديل او د هغه‌شاګرد دي حماد بن زيد حماد بن زيد وائي ابو هريره رضي الله عنه د دغه روح هغه خوشبوئي ذکر کړه او ورسره د مشکو ذکر وکړو يعني د دي سړی خوشبوئي به داسي وی لکه څنګه چه د مشکو او د عنبرو خوشبوئي ده کله چه دا روح د دغه خوشبوئي سره اوځي نو د اسمان فرشتی وائي يو پاک توحيد والا روح دي چه دا د ځمکی نه راروان دي دا خو يو بل ته خبر ورکړی نو بيا ټول دی روح ته متوجه شی او هغه روح ته وائي الله دی په تا باندی رحمتونه وليږی او په هغه جسد باندی دی الله رحمتونه وليږی کوم جسد چه ستا په وجه باندی تروتازه او اباد وو.

---

[1]- صحيح مسلم : جلد۸ صفحه ۱۶۲ باب عرض مقعد الميت من الجنة أو النار عليه واثبات عذاب القبر

دوه خبرې ترې معلومې شوې: يوه خبره دا چه د مرګ په وخت کې د روح او د جسد د روح او د بدن د يو بل نه جدائي راشي.
دويمه خبره دا معلومه شوه چه دا بدن قالب دي او د قالب ابادي په روح باندې وي کله چه روح ئي ووتلو دا قالب بيکاره شو.
او د فرشتو د اواز چه هغه جوته په هغې دي د الله رحمتونه وې چه کومه جوته تا اباده کړې وه او ستا په وجه باندې هغه اباده وه دا روح دا د الله مخې له بوتلي شي او الله وائي دا روح بوځې او دده حفاظت وکړي تر قيامته پورې.
حضرت ابو هريره رضي الله عنه وائي.
و ان الكافر اذا خرجت روحه دا کافر روح چه کله اوځي نو دغه د حديث راوی حماد بن زيد هغه دا ذکر کړه چه دا نهايت بدبويه وې نهايت مرداره يو بدبوئي ترې نه خيژي او په ده باندې لعنتونه وريږي او د اسمان فرشتې وائي يو پليت روح دي دا د ځمکې د طرف نه راغي او الله رب العزت د فرشتو په ذريعه باندې اواز وکړې دي خدائي ته نه مخامخ کيږي.
کله چه دا حديث نبي صلی الله عليه وسلم بيانوونو نبي صلی الله عليه وسلم پوزه ئي بنده کړه د دې آخرې سرې ذکر چه ئي کوو دا د کوم د روح نه چه بدبوئي خيژي نبی صلی الله عليه وسلم پوزه بنده کړه ځکه نبی صلی الله عليه وسلم ته به د برزخ حالات کله متشکل کيده نو هغه ته داسې شو لکه متشکل او هغه بوئي په نبی صلی الله عليه وسلم باندې راغي هغه دا پوزه بنده کړه حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمائي.

فرد رسول الله صلى الله عليه وسلم ريطة كانت عليه على أنفه هكذا
نبی صلی الله علیه وسلم باندی چه کومه کپړه وه په اوږه باندی
هغي داسي بنده کړه دا حدیث امام مسلم ذکر کړی دی او د
مسلم استاذ دي په دی کي عبد الله بن عمر القواريری.

## د حضرت ابوهريره رضي الله نه دونم روايت

حضرت ابو هريره رضي الله نه يو بل روايت دي دغه روايت د
روح په کیفیت کي وو چه دا روح ښه وی او که بد وی نو د مؤمن
روح خوشبو به وی فرشتی په هغه باندی رحمتونه لیږی او د کافر
روح هغه بدبویه وی نبی صلی الله علیه وسلم په پوزه باندی هغه
خپله کپړه وغوړوله پوزه ئي بنده کړه او د هغي باره کي د اسمان
فرشتی وائي چه دا نهایت بدبویه نهایت مرداره دي.
دا روح وړئ په څه کي نودغه عبد الله بن شقیق د ابو هریره نه
روایت کوی.

عن أبي هريرة قال إن المؤمن إذا احتضر حضره ملكان يقبضان روحه في حريرة فيصعدان به إلى السماء فتقول الملائكة روح طيبة جاءت من الأرض فيصعدان به فيقال أبشر بروح وريحان ورب غير غضبان ثم يقال ردوه إلى آخر الأجلين وإن كان كافرا يقبضان روحه في مسح ثم يصعدان به إلى السماء فتأخذ الملائكة على أنفها ويقولون : ريح خبيثة جاءت من الأرض فيصعدان به فيقال أبشر بعذاب الله وهوانه ثم يقال : ردوه إلى آخر الأجل أو الأجلين : (۱)

مؤمن دی چه کله مرګ ته نږدي شی د ده زنکدن شروع شی سلګئ

۱- إثبات عذاب القبر للبيهقي : جلد ۱ صفحه ۲٦

د زنکدن په راشي نوده له دوه فرشتي راشي او دا دوانړه فرشتي د
ده روح دا د ريښمو يوه کپړه وي ورسره په هغي کي ئي واخلي اودا
فرشتي دا روح اسمان ته وخيژوي په دغه د ريښمو په کپړه کي ئي
نيولي وي دا د برزخ د هغه ريښمو تعبير دي.
دا فرشتي دا روح اسمان ته وخيژوي ملائک وائي يو خوشبويه
روح دي د ځمکي د طرف نه راروانه دي دا فرشتي لګيا دي په
بره ئي خيژوي په خوشالي؛ او په خوشبوئي باندي زيري قبول کړه
او زيري قبول کړه ستا يو رب دي چه تاته به بلکل غصه نه وي او
بيا الله رب العزت فرمائي دده دوه نيتي دي يوه په دنيا کي يوه
دوباره پاڅيدو هغه دوباره پاڅيدو چه کومه نيته ده د هغي آخر
ته دا ورسوي معنى دا د قيامته پوري د ده حفاظت وکړي.
او که چري دا سړي چه ده له مرګ راغلي دي دا کافر وي نوهغه
چه په کومه کپړه کي وړي هغي کپړي ته مسخه وئيلي کيږي چه
هغه د وړيځ نه يا د ويختو نه جوړه وي او سخته وي نو په هغي
کړه کپړه کي د ده دا روح راوباسي او بيا دده دا روح اسمان ته
خيژي نو ملائک خپلو پوزو ته داسي ټوکي ونيسي ملائک وائي
يو پليت بوئي راروان دي يو روايت کي راځي رُوح او رَوح دوانړه
صحيح دي ځکه دا بدبوئي د دغه روح نه خيژي دا دوه فرشتي دا
روح په بره خيژوي هغه مخکني ته خو وئيلي شوي وو زيري مي
درباندي تاته خوشالي ده خوشبوئي ده او د داسي رب زيري
درکوو چه هغه به تاته غصه نه وي او دلته دي سړي ته وائي د الله
د عذاب او د الله د ذلت ورکولو خبر واخله خبر قبول کړه او بيا

اوئيلي شي دي د قيامته پوري واپس کړي لاړ شي هغه سجين ته.

## د ام المؤمنين حضرت عائشه رضي الله عنها روايت

کله کله دا روح چه اخلی د دي د دنیا تعبیر هم اوشی امام بخاری په کتاب الجهاد کي يو روايت ذکر کوی.

عن أبي بردة قال أخرجت إلينا عائشة رضي الله عنها كساءه ملبدا وقالت في هذا نزع روح النبي صلى الله عليه و سلم وزاد سليمان عن حميد عن أبي بردة قال أخرجت إلينا عائشة إزارا غليظا مما يصنع باليمن وكساء من هذه التي يدعونها الملبدة : (١)

ابو برده فرمائي ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها يوه کپړه مونږ ته راویسته او وي فرمائيل په دی کپړه کي د نبی صلی الله علیه وسلم روح ویستلي شوي وو.

## د حضرت ابو هریره رضي الله نه درنم روايت

مړی چه دي ده له ګنړی فرشتی راځی خو دا دوه فرشتی د ده روح اخلی او دا نوری د دي سره تابعداری وی. لکه يو حدیث کی رازی.

عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه و سلم انه قال ان الميت تحضره الملائكة فإذا كان الرجل الصالح قالوا اخرجي أيتها النفس الطيبة كانت في الجسد الطيب اخرجي حميدة وأبشري بروح وريحان ورب غير غضبان قال فلا يزال يقال ذلك حتى تخرج ثم يعرج بها إلى السماء فيستفتح لها فيقال من هذا فيقال فلان فيقولون مرحبا بالنفس الطيبة كانت في

---

١- صحيح البخاري علي تحقيق البغاء : جلد ٣ صفحه ١١٣١ باب ما ذكر من درع النبي صلى الله عليه و سلم وعصاه وسيفه

الجسد الطيب ادخلي حميدة وأبشري بروح وريحان ورب غير غضبان قال فلا يزال يقال لها حتى ينتهي بها إلى السماء التي فيها الله عز و جل وإذا كان الرجل السوء قالوا اخرجي أيتهاالنفس الخبيثة كانت في الجسد الخبيث اخرجي ذميمة وأبشري بحميم وغساق وآخر من شكله أزواج فلا يزال حتى يخرج ثم يعرج بها إلى السماء فيستفتح لها فيقال من هذا فيقال فلان فيقال لا مرحبا بالنفس الخبيثة كانت في الجسد الخبيث ارجعي ذميمة فإنه لا يفتح لك أبواب السماء فترسل من السماء ثم تصير إلى القبر فيجلس الرجل الصالح فيقال له مثل ما قيل له في الحديث الأول ويجلس الرجل السوء فيقال له مثل ما قيل في الحديث الأول

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين : ([1])

د حضرت ابو هريره رضي الله عنه يو دويم شاگرد دي سعيد بن يسار د هغه نوم دي هغه وائي چه مړی ته ډيری فرشتی رازی. نو کله چه نيک سړي وو الله دی مونږ نيک کړی نو دا فرشتی ورته وائي رااوځه اي هغه روحه چه ستا سکون او اطمينان د زړه راغلي وو په توحيد باندی او ته په هغه بدن کي پروت وی چه هغه بدن پاک وو رااوځه ستا صفتونه به خلق کوی او خوشحالئ واخله ستا دپاره خوشحالئ دی ستا دپاره خوشبوئي دي او ستا رب دي چه هغه به تاته غصه نه وی همیشه دی روح ته دغسی خبری کيږي دا روح راوځی نو دا روح په بره باندی خيژولي کيږی چه کله اسمان ته ورسی نو د هغي دپاره تپوس وکړي شی اجازت واخستي شی چه مونږ دپاره دروازه کولاو کړي کله چه د اسمان

---

[1]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۲ صفحه ۳٦٤ مسند أبي هريرة رضي الله عنه

دروازه کولاویږي نو تپوس وشي دا سړي څوک دي ؟ نو فرشتي ورته په جواب کي وائي دا فلاني د فلاني څوي دي او د هغه هغه ښه نوم واخلي په کوم نوم چه په دنیا کي دي خوشحالیدو ده ته به وئیلي شي په خیر دی راشی هغه ښکلي ښائسته خوشبویه روح چه دا په ښکلي ښائسته خوشبویه بدن کي پروت وو راځه بره ستا صفتونه به کیږي او د الله رب العزت د طرف نه خوشحالی خوشبوئي زیري واخله او د هغه رب زیري چه هغه تاته به غصه نه کوی همیشه به ده ته دا اوازونه کیږی تر دي پوری چه دي اسمان ته ورسی او د حدیث راوی وی اووم اسمان ته به دي ورسوی.

ابو هریره رضي الله عنه وئي: نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی وو.

کله چه دا سړي ناکاره سړي وو دا فرشتي دي روح ته وائي اي پلیت روحه اوزه ته په پلیت وجود کي وي او چه رااوځی نو په بدشکل رااوځه او ته خبر شه په هغه وینو څوو باندی په هغه ګرمو اوبو باندی او د دي په شان نور او نور او نور او دا ورته وئیلي کیږی تر دی پوری چه دا روح رااوځي او دا روح اسمان ته ورسی نو بره فرشتي تپوس کوی دا څوک دي؟ نو هغه لاندی فرشتي ورته وائي هغه ناکاره نوم ورله یاد کړی هغه کافر د کافر څوي هغه مشرک د مشرک څوئي هغه بدعتی د هغه بدعتی بچي هغه د قبرونو پجاری هغه په قبرونو چه به ګرځیدو هغه د فلانی څوی بره نه به اواز وشی چه پلیت نفس چه دا په دی پلیت وجود کي پروت وو الله دی ده له خیر ورنه کړی واپس شه او ستا

بد به وئيلي کيږي د اسمان دروازې تا ته نه کولاويږي دا ځمکې ته راوليږلي شي بيا سجين ته لاړ شي.

## قبر څه ته وائي؟

امام ولي الله دهلوی په خپل کتاب کي ليکلي دي چه د روح د اوسيدو چه کوم ځائي دي په برزخ کي نو سماها رسول الله صلى الله عليه وسلم بالقبر نو نبی صلى الله عليه وسلم د هغي نوم قبر ايخي دي.

## د حضرت ابوهريره رضي الله نه څلورم روايت

دارنګی د حضرت ابو هريره رضي الله عنه دريم شاګرد دي قسامه بن ظهير هغه روايت کوي وائي:

عن أبي هريرة عن النبي صلى الله عليه وسلم قال إن المؤمن إذا حضر أتته ملائكة الرحمة بحريرة بيضاء فيقولون اخرجي راضية مرضية عنك إلى روح الله وريحان ورب غير غضبان فتخرج كأطيب ريح مسك حتى إنه ليناوله بعضهم بعضا يشمونه حتى يأتوا به باب السماء فيقولون ما أطيب هذه الريح جاءتكم من قبل الأرض فكلما أتوا سماء قالوا ذلك حتى يأتوا به أرواح المؤمنين فلهم أفرح به من أحدكم بغائبه إذا قدم عليه ويسألونه : ما فعل فلان فيقولون دعه حتى يستريح فإنه كان في غم الدنيا فإذا قال لهم أما أتاكم فإنه قد مات يقولون ذهب إلى أمه الهاوية وأما الكافر فإن ملائكة العذاب تأتيه بمسح فيقولون اخرجي ساخطة مسخوطة عليك إلى عذاب الله وسخطه فتخرج كأنتن ريح جيفة فينطلقون به إلى باب الأرض فيقولون ما أنتن هذه الريح كلما أتوا على

أرض قالوا ذلك حتى ينتهوا به إلى أرواح الكفار : ([1])

ابو قسامه د ابوهریره رضی الله عنه روایت کوی او هغه د نبی صلی الله علیه وسلم نه چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی یقینا چه مسلمان چه کله د ده د مرګ نخی راشي نو ده له ملائک د رحمت راشی او د سپینو ریښمو یو ټوکي ئي راوړي وی او هغه روح ته وائي. راوځه ته به خوشاله ئي او ته به خوشحاله کړي شي او راووځه د الله خوشحالئ ته او الله چه تاله کومي خوشبوئي مقرر کړی دی هغی ته او راووځه ستا پیشی به د هغه رب سره وی چه هغه به ستا نه رضا وی او تاته به غصه نه کوی دا به راووځی او داسی به راووځی لکه په مشکو کي چه ښائسته مشک د هغي چه ځنګه بوئی وی داروح به یوه فرشته یو له ورکوی او بله ئي بل له ورکوی او هغوئ به ئي بویوی لکه مشک چه سړی بویوی یوه ئ بل له ورکړی په لاره باندی هغه ئي بوئي کړی بل له ئي ورکړی هغه ئي بویوی او دي د اسمان دروازو ته راوستي شی نو اسمان والاخلق وائي ځنګه ښه خوشبوئي ده چه دا د ځمکی د طرف نه راغله هسی تاسو دي ته سوچ وکړی، چه یوسړي دي ډمو او ډماموته ناست دي او بیا موټر سائکل ته اوخوت او په لاره ئي ایکسیډنټ وکړو او مړ شو نو د ده باره کي به فرشتی څه وائي؟ یا یو بي ایمان دي چه د خوی ئي واده دی یائي د ورور واده دي واده کي که ستاسو خیال کیږی نو هله ډولي خلق راوړی چه مخکي مولا بوځی خطبه پکي ووائي او

---

[1]- إثبات عذاب القبر للبيهقي : جلد ١ صفحه ٢٨

نکاح پکي وتړي او خلق وائي واده کول سنت طریقه ده نو که د یو سړی عقل دومره خراب شی یو سړي د ایمان نه دومره خلاص شی چه دغه سنت طریقه چه کومه ده کړی ده چه ښځه کورته راولی نو ډزی پکي وکړیَ او دوکړي باجی پکی ووهی پخوا چه خلقو کي پښتو وه غیرت وو چه پښتون ته به چا اوي ستا ښځي ته ګډ شم نو ټوپک به ئي راغستي وو چه ده ماته کنځل کړی دی اوس دومره بي غیرته شو خلقو ته وائي راځئ زما ښځي ته ډولکی ووهي او بیا ټوله شپه لوډ سپیکر زه خو همیشه دا دعا کومه چه الله کومو خلقو په واده کي د قرآن او د سنت خلاف وکړو الله د خیر او د برکت نه ئي محروم کړی الله دخیر نوم ورته ونه خائي چه دعوی کوی د اسلام او کار کوی د بي ایمانئ نو دا بي ایمانه چه صبا مړ شی دده روح ته به صبا الله څه وائي؟ ښه کارونه پکار دی د الله او د پیغمبر تابعداری پکار ده چه کله ستا روح ستا د بدن نه بهره ځی او د بهره نه اوازونه خیژی څومره ښائسته خوشبوئی ده چه د ځمکی د طرف نه راروانه ده هر اسمان له چه ځی نو ورته دا خبره کوی هغه علیین ته د مسلمانانو روحونو له ئي ورسوی.

نبی صلی الله علیه وسلم دتاکید دپاره قسم کوی قسم دي هغه روحونه کوم چه په علیین کي دی هغه د دی نه زیات خوشحاله وی لکه د یو سړی ځوی یا ورور چه ورک شوی وی او ناڅاپه راپیدا شی څومره خوشحالی چه په ده باندی وی نو دا دغه روح په راتلو باندی اسمان والاد دغه نه زیاته خوشحاله وی او د هغه

نه تپوسونه کوی فلانی څه کار کړی وو؟

زمونږ د هندوستان یو لوئي عالم تیر شوي دي شاه عبد القادر رحمه الله د سورة النمل په تفسیر کي هغه لیکلی دی.

مردے کی روح سنتی ہے البتہ قبر میں پڑا ہوا دھڑ وہ نہیں سنتا.

د مړی روح په علیین کي هغوئ د یو بل خبري اوری او دا کوم چه دی په قبر کي ایخی دی دي نه اوری او دا نور یاران وائي قبر له چه راځی نو د خپود طرفه راځه څکه دي بیا څټ داسی اړوی د هغه نه څټ شته او نه ئي اوړولي شی اوریدل او خبري کول دا د روح کار دي.

د ده نه تپوس کوی فلانی څه چل کوو؟ هغه نور ورته وائي دي پریدوي چه لږ ارام وکړی څکه دي د دنیا په غمونو کي وو دنیا خو د غم ځائي دی کله چه هغي خلقو ته دي ووائي هغه نه دي راغلي؟ هغه خو مړ شوي دي هغوئ وائي هغه خپل اصل کور ته وړے شوي دي اُم معنی اصل کور چه هغه جهنم دي.

او کافر چه کله هغه له فرشتی راشی نو هغه زیګ شډل ټوکي ئي راخستی وی او هغه روح ته وائي رااوځه ته به هم خفه یي الله به هم ستا نه ټول عمر خفه وی رااوځه د الله عذاب لره او د الله غصی له لکه یو مرداره چه ډیری ورځی شوی وی او ناکاره بوئی ئي کړی وی د هغي په شان به رااوځی د هغه ځائي نه ئی دوی راروان کړی اود ځمکی دروازی لـه ئي راوړی او ورتـه وائي هغه خکته فرشتی چه سجین له دي وړی هغوئ وائي څومره بدبوئی دي چه کله دوی بلی ځمکی تـه تنباسی پـه خکتـه سجین تـه نو هری

ځمکې والاوانی چه دا څه بدبوئی ده.

**څوک چه د الله ملاقات بد ګڼړی الله د هغه ملاقات بد ګڼړی**

د عبادة بن الصامت يو روايت ذي هغه فرمائي.

حدثنا قتادة عن أنس عن عبادة بن الصامت عن النبي صلى الله عليه و سلم قال من أحب لقاء الله أحب الله لقاءه ومن كره لقاء الله كره الله لقاءه

قالت عائشة أو بعض أزواجه إنا لنكره الموت قال ليس ذاك ولكن المؤمن إذا حضرة الموت بشر برضوان الله وكرامته فليس شيء أحب إليه مما أمامه فأحب لقاء الله وأحب الله لقاءه وإن الكافر إذا حضر بشر بعذاب الله وعقوبته. فليس شيء أكره إليه مما أمامه فكره لقاء الله وكره الله لقاءه : ([1])

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی څوک چه د الله سره ملاقات بد ګڼړی نو الله د هغه ملاقات بد ګڼړی او څوک چه د الله سره ملاقات ښه ګڼړی الله د هغه ملاقات ښه ګڼړی.

ام المؤمنين وائي چه ما اووي يا بعضو بيبيانو اووي مونږ ته خو مرګ ښه نه ښکاری مونږ خو مرګ ښه نه ګڼړو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل دا اوس نه دا چه کله مؤمن ته د مرګ حالت راشی نو ده له الله د رضامنتيا زيري ورکړی او ده ته د ده کرامت زيري ورکړی د خپلی سخا زيري ورله ورکړی نو نو د ده وړاندي چه کوم حال راځی ده ته د هغي نه زيات ښه ښه شئ بل نه ښکاری نو د ده د الله د پيشئ سره مينه پيدا شی او د الله دده سره

---

[1]- صحيح البخاري علي تحقيق البغاء : جلد ٥ صفحه ٢٣٨٦ باب من أحب لقاء الله أحب الله لقاءه

مینه پیدا شي.

او کافر کله چه هغه له مرګ راشي نو هغه له خبر ورکړي شي د الله دعذاب دالله د سزاګانو نودالله سره پيشي ده ته ډيره بده ښکاري نو الله د ده پيشي هم ډيره بده ګڼړي.

ام المؤمنين حضرت عائشه فرمائي:

عن عائشة قالت قال النبي صلى الله عليه و سلم لا تسبوا الأموات فإنهم قد أفضوا إلى ما قدموا : ([1])

يو سړي چه مړ شو نو ګوري په دنيا کي به د هغه پسی بد رد نه وائي هغوئ چه ځان له کوم عمل مخکي کړئ دي د هغه عمل جزاء ته دي رسيدلی که ښه عمل وی جو ښه بدله او که بد وی جو بده خو مونږ او تاسو له هغي ته بد نه دی ويل پکار د هغي دپاره يوه خبره خو داده چه د مړی مثلا څه علامی سړی معلومی کړی نو هغه بدي وی نو دي دی نه وائي.

بعضي خلق چه کله سړي بيمار وی تپوس له ملاقات له ئي نه ځی خو چه مړ شي راروان وی لاس به د نامه نه په خکته راکاړی بره په مخ ئي نه راکاړی د نامه نه ئی خکته راکاړی او چه ځی او ته ورته اووائي چه څه کئ؟ وائی زه ملاقات کوم د خدائي بنده دغه وخت د ملاقات نه دي د ملاقات وخت ستا نه تير شوي ذي او چه کله د هغه غريب چرته د مرګ د وجی نه يا د تنه د مرض د وجی نه ياد ګناه د وجی نه په بدن کي څه تغييرراغلي وی بيا په حجرو کی ناست وی په پيپل کی يو سړي مړ وو په لاري خلق راتلو

---

[1]- صحيح البخاری علي تحقيق البغاء : جلد ٥ صفحه ٢٣٨٨ باب سكرات الموت

وی جی دا مخ ئی تور شوي وو هلکه چه سړي شپږ میاشتي اوو میاشتي مرض وکړی په هغه به څه اثر نه کیږی؟ دا د الله دشمنان بیا لګیا وی او قطارئي ترلي وی او په خولي به څه نه وائی هغه ته به ګوری الله مو وشرموه د پیغمبر طریقه دا نه وه ولي ئی کوي؟څوک دا نه شی خودلے چه نبی صلی الله علیه وسلم په خپله زمانه کي مړی چه ئي په کفن کړي هغه ئی کتلي دي او دا دی خلقو ته او دی مولیانو ته ښه پته ده الله ګواه دي خو ضد او عناد اخستی دی.ځکه دا کار کوی.حالانکه حدیث کی رازی.

عن أنس بن مالك قال لما قبض إبراهيم ابن النبي صلى الله عليه وسلم قال لهم النبي صلى الله عليه وسلم لا تدرجوه في أكفانه حتى أنظر إليه فأتاه فانكب عليه وبكى : (١)

د نبی صلی الله علیه وسلم ځوي ابراهیم چه وفات شوي وو.نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل.هغی پوری ئی په کفن کي مه ږدي ترڅو پوری چه ورته ما نه وی کتلی یعنی چه په کفن کي کیخودي شی بیا ورته کتل نشته.او دوی نیمه ګهنته مخکی د ملاقات دپاره اوباسی ملاقات دی ته وائي؟ چه بیا پسی روسته خبری کوه.

حضرت عثمان رضي الله عنه فرمائی.

عن هانئ مولى عثمان بن عفان رضي الله عنه قال كان عثمان رضي الله عنه إذا وقف على قبر بكى حتى يبل لحيته فقيل له تذكر الجنة والنار فلا تبكي وتبكي من هذا ؟ قال إن رسول الله قال إن القبر أول منازل الآخرة

---

١- سنن ابن ماجة جلد ٢ صفحه ١٥٤ باب ما جاء في النظر إلى الميت إذا أدرج في أكفانه

فإن نجا منه فما بعده أيسر منه وإن لم ينج منه فما بعده شر منه قال وقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما رأيت منظرا قط إلا ومنظر القبر أفظع منه : (١)

چه کله به عثمان رضی الله عنه په یو قبر باندې ودریدونو په ژړا به شو تردې چه ګیره مبارکه به ئي لمده شوه نو هغه ته اووئیلي شو چه ده جنت او جهنم تذکره کیګې نو ته نه ژاړې او دې ته ژاړې دا ولې؟ نو هغه اوفرمائیل چه نبی صلی الله علیه وسلم فرمائیلي دي چه قبر د آخرت په منازلو کې اول منزل دي دا آخرت دې ګوري دا دنیا نه ده که دي خلاص شو نو د دي نه وروستو چه کوم حال راروان دې هغه ډیر بنه دي که خلاص نه شو په دې قبر کې نو د دې نه وروستو ډیر بدحال دي.

اوحضرت عثمان رضي الله عنه فرمائي: ما د آقا محمد صلى الله عليه نه اوريدلي دي .ما د ليدلو ځائي نه دې ليدلي مګر قبر د ټولو نه سخت ځائي دې د دې وجې نه د نبي صلى الله عليه وسلم طريقه او عمل د دفن نه روستو دا وو لکه حديث کې رازې.

عن عثمان رضي الله عنه قال كان النبي صلى الله عليه وسلم إذا فرغ من دفن الميت قال استغفروا لميتكم واسألوا له التثبيت فإنه الآن يسأل وأخبرنا علي أنا أحمد ثنا يعقوب بن إسحاق المروزي ثنا أبي ثنا هشام فذكره بإسناده إلا أنه قال كان إذا فرغ من دفن الميت وقف عليه فقال استغفروا لأخيكم واسألوا له التثبيت فإنه الآن يسأل : (٢)

---

١- إثبات عذاب القبر للبيهقي : جلد ١ صفحه ٣١

٢- إثبات عذاب القبر للبيهقي : جلد ١ صفحه ٢١٣

چه کله به ئی مړی په قبر کي کیخودو نو نبی صلی الله علیه وسلم. به وی د دی خپل ورور دپاره بخنه اوغواړی د دی خپل ملګری دپاره بخنه وغواړئ او د ده دپاره دا دعا وغواړئ چه الله ده له په سوال جواب کي ثابت قدمی ورکړی اوس به د ده نه تپوس کیږی. انشاء الله څه نور د دی قبر باره کي خبري روسته راروانی دی دا نن نه تاسو کوشش شروع کړي دوه حالـه دی یو خوشبوئی ده یو بدبوئی ده دا خوشبوئی به هم د دی ځائي نه وړی او بدبوئی به هم د دې ځائې نه وړی ستاسو خوښه ده که خوشبوئی دی خوښـه وی د الله او د پیغمبر احکام ومنـه او څـوک چـه د الله او د پیغمبـر خلاف کوی کم از کم بائیکاټ خو ورسره وکړه کنه ستا د ایمان خو دا نښه ده چه ماسخوتن مونځ خو اکثر کوی هم نه څکه دوه مونځونه په منافقانو باندی ډیر سخت وی یو د سحر مونځ او بـل د ماسخوتن مونځ په منافق باندی دا دوانړه مونځونه ډیر سخت وی ماسخوتن چه مونځ کوی نو په اخری رکعت کي ته دا لاس چه اوچت کړی د مانځه په مینځ کي نو د دی مقصد دا چه الله دنیا او دنیا والامي شاته وغورځول او بیا چه په نامه لاس کیدی او د الله سره خبری کوي اللهم انا نستعینک الله ستا نه مدد غواړم وائي دروغ څکه د الله نه تا کله مدد غوختی تـه خو ټول عمر د بل نه غواړی په هغی کي یوه خبره دا هم کوی و نخلع و نترک من یفجرک الله څوک چه ستا خلاف کوی زما د هغه نه بائیکاټ دي هغه مـی پریخودي دي بي ایمانه دروغ وائي د الله دشمنه دروغ وائي کله دی پریخودي دي واده وی او پکی ډنګ ډونګ وکړی او تـه تلي

ئی مخکي ناست ئی چه هلکه ماله راړه او شپږ ځله تاته وریجی اچوی او دغه حرام ته خوری تا چه بیګا د الله سره لوظ کړی وو ونخلع و نترک من یفجرک دا لوظ دی څه شو؟ خو په لوظ باندی تینګیدل دا د مؤمن سړی کار دي. لکه یو حدیث کی رازی.

عن عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم أربع خلال من كن فيه كان منافقا خالصا من إذا حدث كذب وإذا وعد أخلف وإذا عاهد غدر وإذا خاصم فجرّ ومن كانت فيه خصلة منهن كانت فيه خصلة من النفاق حتى يدعها: (۱)

نبی صلی الله علیه وسلم فرمائي: د منافق څلور نخی دی یوه نخه ئی داده کله دی لوظ کوی دروغ وائی د الله سره دی لوظ کړی دی په هغي کي دی دروغ وئیلی دی د الله نه لګ ویریږئ وخت راروان دي دا یاد سا تئ.

تیر کال چه داختر تیر شو ګنړ خلق زمونږ سره په دی جمات کي ناست وو نن نشته او دا یاد ساته مرګ د دی یو وخت مقرر دی د ملک الموت سره یو لست دی چه چاته کرخه راخکلي شوی وی هغه ته کرخه راخکلی شوی وی او صبا دی د الله سره پیښی ده د هغی دپاره تیاري وکړی.

ابو حازم نه چا تپوس وکړو مونږ د مرګ نه ولي ویریږو؟ هغه وی تاسو آخرت خراب کړي دی سړي چه د ودانی نه ورانی ته ځی نو ویریږی نه د ورانئ نه ودانئ ته ځان بوزی هسی نه چه د ودانی نه ځان ورانی ته بوزی تا دنیا اباده کړی ده او اخرت دی وران کړی

۱- صحيح البخاری علي تحقيق البغاء: جلد ۳ صفحه ۱۱٦۰باب إثم من عاهد ثم غدر

دی آخرت اباد کړه آخرت اباد یږي په ښه عقیده باندی په ښه عمل باندی او د الله د دشمن سره په بائیکاټ باندی که دی پلار وو که دی ورور وو که دی تره وو که دی ماما وو که د الله مخالفت ئی کوو بائیکاټ ورسره وکړه.

**الله دی مونږ له توفیق راکړی**

## مختصرا اثبات عذاب القبر من القران والسنة

الله رب العزت کله کله عذاب دقبر ښائي عذاب القبر باندي ځان پوهه کړی قبردا ده یو مقام نوم دي چه هغه په برزخ کې دي او قبر د اخرت د منازلونه اولنی منزل دي.

عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دي:

عن هانئ مولى عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قال:كان عثمان رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ إذا وقف على قبر بكى حتى يبل لحيته فقيل له تذكر الجنة والنار فلا تبكي وتبكي من هذا فقال ان رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال القبر أول منازل الآخرة فإن ينج منه فما بعده أيسر منه وإن لم ينج منه فما بعده أشد منه قال وقال رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ والله ما رأيت منظرا قط إلا والقبر أفظع منه :تعليق شعيب الأرنؤوط:إسناده صحيح:([1])

قبر اول منزل دي د منازلو د آخرت نه نو په دي د نیا کې نه شو نواوس دا قبر خو په دي دنیا کې دي خو چه په کوم ځائي کې سزاء او جزاء میلاو یږی نو هغه د اخرت د منازلونه اولنی منزل دي د دي وجی نه مونږ دا وایو که چری یو هندو په اور باندي وسوزی نو د هغه دپاره هم یو قبر شته دي هغه ته به هلته سزاء میلاو یږی او

[1] مسندامام احمدبن حنبل:جلد۱ صفحه ٦٣ ( مسند عثمان بن عفان رضي الله عنه )

که یو سړی په اوبو کې ډوب شو نو هغه دپاره هم یو مقام شته.
بخاری کې حدیث دي:

عن أبي هريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عن النبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال كان رجل يسرف على نفسه فلما حضره الموت قال لبنيه إذ أنا مت فأحرقوني ثم اطحنوني ثم ذروني في الريح فوالله لئن قدر علي ربي ليعذبني عذابا ما عذبه أحد فلما مات فعل به ذلك فأمر الله الأرض فقال اجمعي ما فيك منه ففعلت فإذا هو قائم فقال ما حملك على ما صنعت ؟ قال يا رب خشيتك فغفر له.
وقال غيره ( مخافتك يا رب )

ابوهریرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روایت دي هغه د نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه روایت کوي چه نبي صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمائیلي دي چه یو سړي وو زیاتي ئي کړي وو په خپل ځان باندي نو هر کله چه حاضر شو هغه ته علامات د مرګ نو هغه ووي خپلو بچو ته یعني هغه وصیت وکړو چه کله زه مړشم نو ما به اوسوزه وي او زما ایره به سمندر ته او غرزوي شاهد چه زه د الله تعالی نه ورک شم زما دي په خدائې قسم وي که زه الله تعالی راجمع کړم دا معنی ده دا نه چه الله تعالی په ماقادر نه دي بیاخو دي کافر وو نو ما له به داسی سزاء راکړي چه مخلوق کې به چاله داسی نه وي ورکړی هغه چه کله مړ شو نو خامنو ئي د وصیت مطابق هغه او سیزلو او ایره ئې سمندر ته وغرځوله.
د هغی نه پس الله تعالی راجمع کړو او الله تعالی ورته وي بنده دا کار دي ولی کړی دي ؟

دا ئي په کوم ځاني کې راجمع کړی وو په اخرة کې په برزخ کې بالفرض که یو سړی په دي قبر کې دعذاب قائل شو نو د دي مطلب داشو چه د

دي مسلمان او هغه چا دپاره چه په قبرونو کې خخيګی نو د دي عذاب قائل دي او چه څوک سوزی وي نو دهغه دپاره د عذاب قبر قائل نه دي عذاب قبر حق دي انکار کول تري نه کفر دي.

## د قران ایتونه په اثبات د عذاب قبر

(۱) سورة نحل:

مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِنْ ذَكَرٍ أَوْ أُنْثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُمْ بِأَحْسَنِ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ:(۱)

چا چه عمل وکړو نيک نارينه وي او که زنانه وَهُوَ مُؤْمِنٌ جمله اسميه حال او شرط دي يعنی ایمان د عمل صالح دپاره شرط دي يعنی په دي شرط چه مومن وي خامخواه زه به ده له ژوند ورکړم ژوند خا ئسته دا ژوند د قبر ژوند دي او بدله به ورکړم دوي له بدله خائسته د هغه نه چه دوي کوله دا ده اخرت ژوند شو.

(۲) سورة طه:

وَمَنْ أَعْرَضَ عَنْ ذِكْرِي فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا وَنَحْشُرُهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَعْمَى:(۲)

چاچه مخ واړولو زما دکتاب نه نو فَإِنَّ لَهُ مَعِيشَةً ضَنْكًا يقينا د هغه دپاره به وي ژوند تنګ داده قبر ژوند دي په مسند دابی يعلی کې د ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ روايت دي هغه وائی چه د دي نه مراد د قبر عذاب دي او راپورته به کړو مونږ هغه لره په ورځ د قيامت ړوند دا ژوند د اخرت دي.

---

۱. سورة نحل:(۹۸)

۲. سورة طه:(۱۲٤)

(۳) سورة انفال:

وَلَوْ تَرَى إِذْ يَتَوَفَّى الَّذِينَ كَفَرُوا الْمَلَائِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ وَذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ:(۱)

که چرې تاليدلی وي چه کله ساه اخلی ملائک دکافرانو نه يا کله چه مری کافران نو ملائک وهی د هغوئې مخونه او کوناتې او ورته وائی وڅکه عذاب سوزه ونکی داعذاب د قبر نه دي نو داڅه شی دي ؟ څکه داسې چه مری نو تا چرته ئې شرق اوريدلی دي ده دبر لته دي ورله اوريدلی ده چه هله څه خبره وکړئي نو شرق شی نو دامخ ورله او وهی او په کوناتو کې ورله لته ورکړی او ورته وائی او څکه عذاب سوزه ونکی.

(۴) سورة محمد:

فَكَيْفَ إِذَا تَوَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ يَضْرِبُونَ وُجُوهَهُمْ وَأَدْبَارَهُمْ*ذَلِكَ بِأَنَّهُمُ اتَّبَعُوا مَا أَسْخَطَ اللَّهَ وَكَرِهُوا رِضْوَانَهُ فَأَحْبَطَ أَعْمَالَهُمْ:(۲)

څنگه به حال وي د دوي چه کله ملائک اخلی د دوي نه روحونه وهی به ذ دوي مخونه او کوناتې. دا په سبب د دي چه يقيناً دوي روان وو په هغه څه پسی چه په هغی الله غصه کيدو.

(۵) سورة انعام:

وَلَوْ تَرَى إِذِ الظَّالِمُونَ فِي غَمَرَاتِ الْمَوْتِ وَالْمَلَائِكَةُ بَاسِطُو أَيْدِيهِمْ أَخْرِجُوا أَنْفُسَكُمُ الْيَوْمَ تُجْزَوْنَ عَذَابَ الْهُونِ بِمَاكُنْتُمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ غَيْرَ الْحَقِّ وَكُنْتُمْ عَنْ آيَاتِهِ تَسْتَكْبِرُونَ:(۳)

---

۱- سورة انفال:(۵۰)

۲- سورة محمد:(۲۷-۲۸)

۳- سورة انعام:(۹۳)

که چري تاليدلی وي حال چه کله ظالمان په سلګو د مرګ کې وي ملائک اوګده کوونکي وي خپلو لاسونو لره او ورته وائی او باسی خپل روحونه نن به تاته عذاب د ذلت درکولی کیږی په دي وجه چه تا په الله تعالی باندي دروغ وي او ده الله تعالی دایاتونو نه دي انکارکووای ده قران دشمنه اوپه الله تعالی باندي دروغ جوړونکيا نن به تاله سزاء درکولی کیږی.

(۶) سورة ابراهيم:

يُثَبِّتُ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ وَيُضِلُّ اللَّهُ الظَّالِمِينَ وَيَفْعَلُ اللَّهُ مَا يَشَاءُ :[1]

مضبوطوي الله تعالی مؤمنان په وينا مضبوطه په دي ژوند د دنيا کې فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا

امام بخاري رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمائي چه مراد د دي نه عذاب قبر دي.

حدثنا شعبة بهذا وزاد يثبت الله الذين آمنوا نزلت في عذاب القبر:[2]

وَفِي الْآخِرَةِ او په اخرة کې دا شو اثبات د عذاب القبر او ګمراه کوي الله تعالی ظالمان او کوي الله تعالی هغه څه چه خو ښه ئې شی دا ايت ټولو محدثين د اثبات د عذاب قبر دپاره پیش کړی دي.

(۷) سورة مومن:

النَّارُ يُعْرَضُونَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَعَشِيًّا وَيَوْمَ تَقُومُ السَّاعَةُ أَدْخِلُوا آلَ فِرْعَوْنَ أَشَدَّ الْعَذَابِ :[3]

---

[1] - سورة ابراهيم:(۲۷)

[2] - صحيح البخاري على تحقيق البغاء:جلد ۱ صفحه ٤٦۱ باب ما جاء في عذاب القبر

[3] - سورة مومن:(٤٦)

او پیش کیږی به دوي اور ته صبا او بیګا او کله چی ورځ د قیامت شي نوحکم به اوشی چه دغه کړی فرعونیان سخت عذاب ته نو داعذاب داخرت شو.

(۸) سورة حج:

وَالَّذِينَ هَاجَرُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ ثُمَّ قُتِلُوا أَوْ مَاتُوا لَيَرْزُقَنَّهُمُ اللَّهُ رِزْقًا حَسَنًا وَإِنَّ اللَّهَ لَهُوَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ : (۱)

او هغه کسان چه هجرت ئې وکړو ده الله تعالی په لاره کي او بيا او وژلی شوه یا مړه شو الله تعالی به دوي له رزق ورکړی په قبر کې رزق خائسته.

(۹) سورة مؤمنون:

حَتَّىٰ إِذَا جَاءَ أَحَدَهُمُ الْمَوْتُ قَالَ رَبِّ ارْجِعُونِ*لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا فِيمَا تَرَكْتُ كَلَّا إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا وَمِنْ وَرَائِهِمْ بَرْزَخٌ إِلَىٰ يَوْمِ يُبْعَثُونَ*فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ فَلَا أَنْسَابَ بَيْنَهُمْ يَوْمَئِذٍ وَلَا يَتَسَاءَلُونَ :(۲)

کله چه راشی یوکس د دوي ته علامات د مرګ قَالَ دي به وائی رَبِّ ارْجِعُونِ ای الله واپس می کړي واپس می کړي واپس می کړي ارْجِعُونِ داجمع ده او فعل نه جمع کیږی نو داده تکرار دپاره دي ارجعون معنی ارجعنی ارجعنی لکه خلق چه وائی.

قفا نبكِ من ذكرى حبيبٍ ومنزِلِ معنی قف قف نو کله په صورت د جمع کې اوکله په صورت د تثنیه کې په معنی د جمع سره رازی. لَعَلِّي أَعْمَلُ صَالِحًا لګ مهلت راکړئی او واپس می کړی چه نیک عمل

---

۱- سورة حج:(۵۸)

۲- سورة مؤمنون: (۹۹-۱۰۰)

وکړم په دنیا کې کَلَّا هیڅرې نه کوي دوي نیک عمل ؟ إِنَّهَا كَلِمَةٌ هُوَ قَائِلُهَا داته چه کوي داده خولی خبرې دي د دي نه اخوا پرده برزخ دي په هغې کې سزاء او جزاء ملاویږي ترقیامت پورې دا ده قبر عذاب شو اوس د اخرت عذاب. فَإِذَا نُفِخَ فِي الصُّورِ کله چه پوک اووهلي شي په شیپلۍ کې پس هلته به بیاد نسب تپوس نه وي

(۱۰) سورة یس:

قِيلَ ادْخُلِ الْجَنَّةَ قَالَ يَا لَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ*بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُكْرَمِينَ:(۱)

ده ته او وئیلی شو چه زه جنت ته يَا لَيْتَ قَوْمِي يَعْلَمُونَ بِمَا غَفَرَ لِي رَبِّي دا جنت د اخرت د جنت نه مخکې دي نوداده برزخ د جنت ثواب شو.

(۱۱) سورة طور:

وَإِنَّ لِلَّذِينَ ظَلَمُوا عَذَابًا دُونَ ذَلِكَ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لَا يَعْلَمُونَ :(۲)

ده ظالمانو دپاره عذاب دي د قیامت نه مخکې او هغه عذاب دي ده قبرلکن اکثر د دوي نه نه پوهیږي.

(۱۲) سورة الم سجده :

وَلَنُذِيقَنَّهُمْ مِنَ الْعَذَابِ الْأَدْنَى دُونَ الْعَذَابِ الْأَكْبَرِ لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ:(۳)

او خامخا به زه وڅکوم روسته نژدې عذاب ده لوئی عذاب نه مخکې لږ عذاب به ورته څکوم د هغه لوئی عذاب نه مخکې دا

---

[1] سورة یس: (۲۶-۲۷)

[2] سورة طور:(۴۷)

[3] سورة الم سجده:(۲۱)

ددي دپاره وائم چه دوي حق ته راوګرځی بعض مفسرين وائی چه ددي نه مراد عذاب د قبر دي.

وقاله مجاهدوعنه أيضاالعذاب الأدنى عذاب القبروقاله البراء ابن عازب. قالوا والأكبر عذاب يوم القيامة قال القشيري وقيل عذاب القبر. وفية نظر:([1])

وقال البراء بن عازب ومجاهد وأبو عبيدة : يعني به عذاب القبر:([2])

( ١٣ ) سورة رعد:

لَهُمْ عَذَابٌ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَلَعَذَابُ الْآخِرَةِ أَشَقُّ وَمَا لَهُمْ مِنَ اللَّهِ مِنْ وَاقٍ:([3])

دوي دپاره عذاب دي په هغه تر دي ژوند کې چه په دنيا پسی تر دي را روان دي او عذاب د اخرت هغه شلونکی دي أشقُ اسم تفضيل دي يعنی اخرت کې به دي وشلوي داسی عذاب دي او څنګه په دي شلوي په منځ به ئي نيم کړی او ښکته به ئې وغرزوي.

( ١۴ ) سورة جاثيه:

وَإِذَا عَلِمَ مِنْ آيَاتِنَا شَيْئًا اتَّخَذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ* مِنْ وَرَائِهِمْ جَهَنَّمُ وَلَا يُغْنِي عَنْهُمْ مَا كَسَبُوا شَيْئًا وَلَا مَا اتَّخَذُوا مِنْ دُونِ اللَّهِ أَوْلِيَاءَ وَلَهُمْ عَذَابٌ عَظِيمٌ:([4])

او کله چه دي وپيژنی زما د اياتونو څه شی نو دي پورې تو قی کوي د دوي دپاره دي عذاب ذليله کوونکی دا روسته تری دي

[1]- تفسير قرطبي: جلد١٤ صفحه١٠٣

[2]- تفسيرابن كثير(دارطيبة): جلد٦ صفحه ٣٦٩

[3]- سورة رعد:(٣٤)

[4]- سورة جاثيه:(٩-١٠)

جهنم نو د اولنی عذاب د قبر عذاب دي یاره.

(۱۵) سورة ال عمران:

لَقَدْ سَمِعَ اللَّهُ قَوْلَ الَّذِينَ قَالُوا إِنَّ اللَّهَ فَقِيرٌ وَنَحْنُ أَغْنِيَاءُ سَنَكْتُبُ مَا قَالُوا وَقَتْلَهُمُ الْأَنْبِيَاءَ بِغَيْرِ حَقٍّ وَنَقُولُ ذُوقُوا عَذَابَ الْحَرِيقِ:[1]

او مونږ به او وایو چه وڅکی عذاب سوزه ونکی

ګوره داتقریبا پنځلس ایاتونه شو نور ایاتونه هم شته تقریباً دا دوه ویشت ایاتونه جوړیږي

د مور سره نکاح کول دا تقریبا دوو ایاتونو کې منع دي.

(۱) وَلَا تَنْكِحُوا مَا نَكَحَ آبَاؤُكُمْ مِنَ النِّسَاءِ إِلَّا مَا قَدْ سَلَفَ:[1]

(۲) حُرِّمَتْ عَلَيْكُمْ أُمَّهَاتُكُمْ وَبَنَاتُكُمْ :[2]

نوچه د دوو ایاتونو نه منکر شي نو کافر شي او چه د پنځلس ایاتونو نه منکر شي نو هغه خو لوئی کافر دي وائی عذاب قبر نه شته ولی نه شته.

---

[1]- سورة ال عمران:(۱۸۱)

[1]- سورة نساء:(۲۲)

[2]- سورة نساء:(۲۳)

# تاریخ علم حدیث

الحمد لله الحمد لله الذي ارسل رسوله بالهدى و دين الحق ليظهره على الدين كله و لو كره المشركون

و الحمدُ لله الذي ارسل رسوله بالهدَى و دين الحق ليظهره على الدين كله و كفى بالله شهيدًا

و اشهدُ ان لا اله الا الله وحده لا شريکَ له اقرارًا به و توحيدًا

و اشهدُ ان سيدنا وسندناو مولانا محمدًا عبده و رسوله صلى الله تعالى عليه و على آله و اصحابه وسلم تسليمًا مزيدًا.

و بعد :

بسم الله الرحمن الرحيم

وعن معاوية بن قرة عن أبيه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا فسد أهل الشام فلا خير فيكم ولا يزال طائفة من أمتي منصورين لا يضرهم من خذلهم حتى تقوم الساعة قال ابن المديني هم أصحاب الحديث : رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح : (۱)

وعن ابن عباس أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إن الله تجاوز عن أمتي الخطأ والنسيان وما استكرهوا عليه رواه ابن ماجه والبيهقي: (۲)

وعن بهز بن حكيم عن أبيه عن جده أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول في قوله تعالى كنتم خير أمة أخرجت للناس قال : أنتم تتمون سبعين أمة أنتم خيرها وأكرمها على الله تعالى رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي وقال الترمذي : هذا حديث حسن : (۳)

---

۱- مشکواة المصابیح : جلد ۳ صفحه ۳۷۲

۲- مشکواة المصابیح : جلد ۳ صفحه ۳۷۲

۳- مشکواة المصابیح : جلد ۳ صفحه ۳۷۲

## د روایتونو اقسام

عزتمندو! په اول قرن کي اصحابو د رسول الله صلی الله علیه وسلم د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دوه قسمه روایتونه ذکر کړی وو په هغه دوو قسمو روایتونو کي بعضي روایتونه هغوئ یو قسم په امت کي خواره کړی وو او دویم قسم روایتونه هغوئ خاصو خلقو ته بیان کړی وو او په عمومي سطح باندی ئي نه وو بیان کړی.

بیا بعضی خبری بعضي صحابو د بعضي خلقو په مخکي کړی دی لکه د حضرت حذیفة بن یمان رضي الله عنه باره کي راځي چه د فتن په روایتونو کي هغه متخصص وو او ډیر روایتونه ورته یاد وو لکه.

عن عمر بن الخطاب أنه قال أيكم يحدثنا بحديث سمعه من رسول الله في الفتنة فقال حذيفة أنا أحدثك كما قال فقال إنك عليه لجريء فحدث قال فتنة الرجل في أهله وماله وولده وجاره تكفرها الصلاة والصوم والأمر بالمعروف والنهي عن المنكر فقال عمر لست أسألك عن هذا أسألك عن التي تموج كموج البحر فقال ليس عليك منها بأس يا أمير المؤمنين بينك وبينها باب مغلق فقال أيفتح أم يكسر قال بل يكسر قال إذن لا يغلق إلى يوم القيامة لم يرو هذا الحديث عن عيسى إلا علي بن أبي بكر: (۱)

یوه پیره حضرت عمر رضي الله عنه د فتنو ذکر شروع کړو نو حضرت حذیفه رضي الله عنه ورته وی ستا او د فتنو په مینځ کي

---

۱- المعجم الاوسط للطبراني : جلد ۲ صفحه ۲۱۵

یو دروازه ده حضرت عمر رضي الله عنه نهایت زیرک وو بلکه د نبي صلي الله علیه وسلم ټول صحابه هغه نهایت زیرک خلق وو هغوئ په اشارو باندی پوهیدل حضرت عمر رضي الله عنه د حضرت حذیفه رضي الله عنه نه تپوس کوی چه کله چه ورته هغه اووي ستا او د فتنو په مینځ کي دروازه ده نو هغه ورته وي دا دروازه به ماتیږي او که نه کولاویږي به؟ نو حضرت حذیفه رضي الله عنه ورته اووي دا به ماتیږی حضرت عمر رضي الله عنه استرجاع وکړه انا لله و انا الیه راجعون روسته یو صحابی د حضرت عمر رضي الله عنه د شهادت نه پس د حضرت حذیفه نه تپوس کوی تا چه دا خبره حضرت عمر رضي الله عنه ته وکړه هغه پری پوهه شوي وو نو هغه وي والله چه هغه پری پوهه شوی وو.

دا دوه قسمه روایتونه اصحابو رضی الله عنهم د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم نه زده کړی وو په هغه زمانه کي د حدیث د جمع دپاره صرف او صرف د هغوئ حافظه وه.

## د احادیثو د لیکلو اجازت

د حدیثو د جمع دپاره په اول قرن کي صحابو چه د جناب رسول اله صلی الله علیه وسلم د خولی نه څه اوریدلی دی نو په هغه انداز باندی هغه یاد کړی دی که د چا یاداشت قوی وو خو د هغي سره سره د هغه سره نور څه اسباب وو. هغه ئي هم استعمال کړی دی لکه د حضرت عبدالله بن عمرو رضي الله عنه باره کي راځي چه هغه ته نبي صلي الله علیه وسلم د احادیثو د لیکلو اجازت کړي وو.

بعضي صحابه چه هغوئ ليكل نه شو كولي او د حديث په جمع كي هغوئ حريصين وو لكه حضرت ابو هريره رضي الله عنه هغه يو پيره وائي ما نبي صلي الله عليه وسلم ته شكايت وكړو چه زه روايتونه واورم نو زما په ذهن كي نه كيني نو نبي صلي الله عليه وسلم هغه ته وى خپل څادر وغوړوه نو هغه چه كله خپل څادر وغوړوه حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمائي نبي صلي الله عليه وسلم په هغي باندى څه ولوستل او چه كله ئي څه ولوسته نو ما ليده چه زما په هغي څادر باندى دا خزنده روان وو او ماته نبي صلي الله عليه وسلم وي دا راغونډ كړه نو ما هغه څادر راغونډ كړو او د هغي نه پس زمانه څه شي هير شوي نه دى.

حضرت ابو هريره رضي الله عنه فرمائي.

عن أبي هريرة قال حفظت من رسول الله صلى الله عليه وسلم وعاءين فأما أحدهما فبثثته وأما الآخر فلو بثثته قطع هذا البلعوم

( وعاءين ) نوعين من العلم والوعاء في الأصل الظرف الذي يحفظ فيه الشيء والمراد بالوعاء الذي نشره ما فيه أحكام الدين وفي الوعاء الثاني أقوال منها أنه أخبارالفتن والأحاديث التي تبين أسماءأمراء السوء وأحوالهم وزمنهم وقيل غير ذلك ( بثثته ) نشرته وأذعته ( قطع هذا البلعوم ) هو مجرى الطعام وكنى بذلك عن القتل : (۱)

چه ما د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دوه لوخى ډک كړى دى يو لوخي چه ما ډک كړي وو نو هغه ما په امت كي خور كړى دى او دويم لوخي نو هغه نبي صلي الله عليه وسلم ماته د

---

۱- صحيح البخاري علي تحقيق البغاء : جلد۱ صفحه ۵٦ باب حفظ العلم

وحي مطابق څه د خاصو واقعاتو او د څه خاصو حالاتو بيان کړي وو نو هغه مانه دی خور کړي او که چری زه ئي خور کړم نو دا مریٔ به رانه څوک پریکړی.
جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه د احادیثو د لیکلو نه په عامه سطح منع کړی وه بعضي خلقو ته ئي اجازت کړي وو او هغه حکیم وو په دی باندی پوهیدو چه فلانی ته اجازت ورکړم او فلاني منع کړم د دی فائده څه ده نقصان ئي څه دی؟

## د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیثو د زده کړی ترغیب ورکول

بیا جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د حدیثو د زده کړی ترغیب هم ورکړی وو او فرمائیلی ئي وو.
عن عبد الله بن عمرو أن النبي صلى الله عليه وسلم قال بلغوا عني ولو آية وحدثوا عن بني إسرائيل ولا حرج ومن كذب علي متعمدا فليتبوأ مقعده من النار: ([1])
چه زما یو حدیث که تاسو ته یاد شوي وی هغه خلقو ته ورسوئ. نبي صلي الله علیه وسلم هغه خلقو ته دعا کړی وه کومو خلقو چه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم احادیث د قرآن د تفسیر په باره کي د احکامو په باره کي د هغه فتنو په باره کي چه د هغي بیان ضروری وو چه کومو خلقو دا زده کړی وو او خلقو ته ئي خودل نو نبي صلي الله علیه وسلم هغوئ ته دعا کړی وه.لکه حدیث کی رازی.

[1]- صحيح البخاری علي تحقيق البغاء : جلد ۳ صفحه ۱۲۷۵باب ما ذکر عن بني إسرائيل

عن سماك بن حرب قال سمعت عبد الرحمن بن عبد الله بن مسعود يحدث عن أبيه قال : قال سمعت النبي صلى الله عليه وسلم يقول نضر الله امرأ سمع منا شيئا فبلغه كما سمع فرب مبلغ أوعى من سامع قال أبو عيسى هذا حديث حسن صحيح وقد رواه عبد الملك بن عمير عن عبد الرحمن بن عبد الله : ([1])

هغه سړي دی الله همیشه تازه ا و خوشحاله ساتی چه زما روایت یي واوریدو او څنګه چه ئي اوریدلي دي بلا کم وکاس بغیر د کمي او زیاتی نه ئي هغه ورسوو او بیا نبي صلي الله علیه وسلم وفرمائیل:ډیر خله یو سړي دي چه هغه بل ته حدیث ورسوی نو دا کوم چه زمانه اوریدلي دي هغه د دغه حدیث په مطلب باندی چه چاته حدیث رسولي شوي دي هغه دده نه زیات پوهیږي او په دې کي نبي صلي الله علیه وسلم دی ته هم اشاره وکړه چه روسته به خلق راځي او هغه به د احادیثو مختلف قسم خدمت کوی.

## په احادیثوکی د صحابو رضي الله عنهم احتیاط کول

کله چه د صحابو رضي الله عنهم د هغوئ ظنون ګمانونه پیدا شو چه خلق د خپل مقصد دپاره په پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندی څه دروغ هم جوړوی نو د دي د سد باب دپاره اصحابو د رسول الله صلی الله علیه وسلم څهٔ طریقي اختیار کړی.لکه حدیث کی رازی.

وحدثني مالك عن ربيعة بن أبي عبد الرحمن عن غير واحد من علمائهم

[1]- سنن الترمذي : جلد ١٠ صفحه ١٦٣باب ما جاء فی الحث علی تبليغ السماع

أن أبا موسى الأشعري جاء يستأذن على عمر بن الخطاب فاستأذن ثلاثا ثم رجع فأرسل عمر بن الخطاب في أثره فقال مالك لم تدخل فقال أبو موسى سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول الاستئذان ثلاث فإن أذن لك فادخل وإلا فارجع فقال عمر ومن يعلم هذا لئن لم تأتني بمن يعلم ذلك لأفعلن بك كذا وكذا فخرج أبو موسى حتى جاء مجلسا في المسجد يقال له مجلس الأنصار فقال اني أخبرت عمر بن الخطاب اني سمعت رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول الاستئذان ثلاث فإن أذن لك فادخل وإلا فارجع فقال لئن لم تأتني بمن يعلم هذا لأفعلن بك كذا وكذا فإن كان سمع ذلك أحد منكم فليقم معي فقالوا لأبي سعيد الخدري قم معه وكان أبو سعيد اصغرهم فقام معه فأخبر بذلك عمر بن الخطاب فقال عمر بن الخطاب لأبي موسى أما اني لم اتهمك ولكن خشيت ان يتقول الناس على رسول الله صلى الله عليه وسلم : (١)

په يو موقع کې حضرت عمر رضي الله عنه يو صحابي وليږلو وی لاړ شه ماله ابو موسى اشعري رضي الله عنه راوله.ابوموسی اشعري رضي الله عنه چه راغي بهر ولاړ وو درې ځله ئي اجازت واخستو چه کله په دریم ځل هغه ته اجازت ملاو نه شو واپس لاړو حضرت عمر رضي الله عنه چه کله د خپلې ګفتګو نه د خپلو کارونو نه فارغ شو دهغه سړی نه ئي تپوس وکړوخوک چه ئي ليږلی ووچه ابوموسی رانغي وي جی راغلي دي بهر ولاړ دي بهر چه وکتـه نو هغه نه وو واپس تلي وو حضرت عمر رضي الله عنه هغه راوغوښتو تپوس ئي ترینه وکړو ولې تلي وی؟ هغه ورته اووی چه د نبي صلي الله عليه وسلم نه مې اوريدلی دی دري ځله

١- موطأ الإمام مالك رواية يحيي الليثي : جلد : ٢ صفحه ٩٦٤ باب الاستئذان

به اجازت اخلی که په دریم ځل تاته اجازت ملاو شو دننه به ځي کني واپس به ځي.
حضرت عمر رضي الله عنه ورته وي په دی خبره به ګواهان پیش کوی کنی داسی داسی چل به درسره وکړم حضرت ابو موسی رضي الله عنه لاړو یو ځائي ته چه په هغی کي اصحاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم ناست وو تپوس ئي ترینه وکړو چه دا روایت چه الاستئذان ثلاث دا چا چا اوریدلی دي زما سره؟ نو یو دوه کسان راپاڅیدل او هغوئ راغلل د حضرت عمر رضي الله عنه په مخکي ئي ګواهی وکړه حضرت عمر رضي الله عنه حضرت ابو موسی رضي الله عنه ته وائي چه ماته دا پته وه چه ته په پیغمبر باندی دروغ نه وائي خو دا خبره ما دی دپاره وکړه چه هسی نه صباله څوک دا جراءت ونه کړی چه په پیغمبر باندی دروغ اووائي.

**د صحابو رضي الله عنهم د احادیثو د زده کړي د پاره سفر کول**

اصحابو د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغوئ د نیم حدیث دپاره په سوونو میله سفر کړي دي او چه کله ورغلئ دی نو ډوډئ ته نه دی ناست بالبنت ته ئي تکیه نه ده لګولي په ولاړه ولاړه ئي د هغه صحابي نه تپوس کړي دي او چه کله هغه ورته هغه روایت خودلي دي نو د خپل اوښ یا د خپل اس د هغي مخ ئي خپل ښار طرف ته کړي دي او واپس راغلي دي.
حضرت ابو الدرداء رضي الله عنه په جامع د دمشق کي وو یو صحابي راغلي دي او صرف د دی دپاره چه ما او تا د پیغمبر نه

یو روایت اوریدلي وو د هغه روایت په الفاظو کي زمانه څه مخکي وروستو شوی دی دا هغه الفاظو د تصحیح دپاره هغوئ راغلی دی او هغه الفاظ ئي صحیح کړی دی.

## د حضرت عمر رضي الله عنه احتیاط

حضرت عمر رضي الله عنه په خپله زمانه کي دوه حکمونه کړی وو یو دا چه په خپل مینځ کي چه کومو کسانو جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم لیدلي دي او د هغه نه ئي بالذات فیض اخستي دي هغوئ یو بل ته د تشریح دپاره د پیغمبر صلی الله علیه وسلم اقوال پیش کولي شي البته کومي علاقی چه نوی فتح کیږي نو په هغی کي حضرت عمر رضي الله عنه منع کړی وه چه صرف قرآن به وائي او حدیث به نه وائي ځکه حدیث دا تشریح وه او تشریح فرع وی چه فرع او اصل دا دوانړه یو نه شي.
چه کله اسلام خور شو د حدیثو درسونه شروع شو په دی درسونو کي مختلف قسم فنون د حدیثو دپاره ایجاد شو او دا صرف ددی دپاره چه د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم اقوال د گردو غبار نه پاک شي او پکي د ځان نه څوک لمني ونه گنډی ځکه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د دی پیشن گوئی کړي وه چه خلق به راځی او په ما باندی به دروغ وائي.
یو روایت دی چه زما د معلوماتو مطابق تقریبًا د سلو نه زیاتو صحابو دا روایت کړي دي او گڼړو کتابونو راخستی دي او دا روایتونه زمونږ نه لږ مخکي زمانه کي مولانا عبدالحئ لکهنوی یو کتاب لیکلي دی او ۹۸ دوه کم سل صحابو نه هغه

روایت ذکر کړی دی هغه روایت دادي نبي صلي الله علیه وسلم فرمائي.

حدثناعبدالله حدثني أبي ثنا وهب بن جرير ثناأبي قال سمعت عاصما يحدث عن زر عن ابن مسعود أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال من كذب على متعمدا فليتبوأ مقعده من النار

تعليق شعيب الأرنؤوط : صحيح وهذا إسناد حسن : ([1])

چا چه په ما باندی عمداً قصداً د ځان نه روایتونه جوړ کړی دئ دي دی ځانله جهنم کي ځائي تیار کی.

بیا جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دا هم اووی.

عن حبيب بن أبي ثابت قال بن جعفر قال سمعت ميمون بن أبي شبيب يحدث عن المغيرة بن شعبة عن النبي صلى الله عليه وسلم أنه قال من روى عني حديثا وهو يرى أنه كذب فهو أحد الكذابين

تعليق شعيب الأرنؤوط : حديث صحيح : ([2])

چه که یو بل سړی روایت جوړ کړي وی او ته هغه روایت ماته منسوب کړي او بیان یي کړی نو د هغه سره د هغه په دی صنع کي ته هم شریک ئي.

چا چه زمانه روایت پیش کړو او ده ته دا پته وه چه دا روایت دروغ دي چا جوړ کړي دي خو ده د هغي هغه دروغو ته اشاره ونه کړه او دا روایت ئي دغسی بیان کړو نو دي هم په دوو دروغجنو کي یو دروغجن دي.

---

[1]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۱ صفحه ۴۰۲ مسند عبد الله بن مسعود رضي الله عنه

[2]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۴ صفحه ۲۵۰ حديث المغيرة بن شعبة رضي الله عنه

## د امت علماء او د احادیثو حفاظت

کله چه په احادیثو کې دا نمونه غلطۍ خلقو شروع کړې او د ځان نه ئې خبرې شروع کړې نو د امت علماء د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د احادیثو ذخیرې ته وکاته چه د دې دپاره د احادیثو په ذخیره کې داسې څه شته چه مونږ په هغې باندې د احادیثو بچاو وکړو او احادیث ترې صفا پاتې شي نو دا قسم روایتونه لکه (من كذب على متعمدا فليتبوأ مقعده من النار) یا (من روى عني حديثا وهو يرى أنه كذب فهو أحد الكذابين) او دې سره نور روایتونه لکه.

حدثنا عبدالله حدثني أبي ثنا سفيان انا بن المنكدر قال أخبرني عروة بن الزبير ان عائشة أخبرته ان رجلا استأذن على النبي صلى الله عليه وسلم فقال ائذنوا له فبئس بن العشيرة أو بئس أخو العشيرة وقال مرة رجل فلما دخل عليه ألان له القول فلما خرج قالت عائشة قلت له الذي قلت ثم ألنت له القول فقال أي عائشة شر الناس منزلة عند الله يوم القيامة من ودعه الناس أو تركه الناس اتقاء فحشه

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين : [1]

یو سړي راروان دې او نبي صلي الله علیه وسلم چه هغه ته وکاته نو خلقو ته وائي دا د خپل تبر ډیر ناکاره سړي دې چه کله راغي نو نبي صلي الله علیه وسلم ورته خپل څادر وغوړو چه هغه لاړو زمونږ میندو ترینه تپوس وکړو تا خو وې چه دا ناکاره سړي دې؟ نبي صلي الله علیه وسلم ورته وې هغه ناکاره سړي دې زه خو

[1]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٦ صفحه ٣٨ حديث السيدة عائشة رضي الله عنها

ناکاره نه یم.
دا قسم روایتونه چه کله علماو د امت ولیدل نو هغوئ یو فن ایجاد کړو چه هغي فن ته د اسماء الرجال فن وائي او بیا په دویمه دریمه صدئ کي هغي فن ترقي وکړه او په هغي فن باندی د احادیثو دارو مدار شروع شو.
مشهور محدث د دنیا محمد بن سیرین هغه وائي.
وقال محمد بن عبد الله حدثنى العباس بن أبى رزمة قال سمعت عبد الله يقول بيننا وبين القوم القوائم يعنى الإسناد:([1])
زمونږ او د نورو خلقو د دین زمونږ او د نورو خلقو د پیغمبر د فرامینو یو فرق دي.
زمونږ او د نورو خلقو فرق دادی چه زمونږ خپی شته مونږ په خپلو خپو ولاړ یو او د نوروخلقو خپی نشته.
بیا د دی تشریح یي وکړه ابن سیرین او فرمائیلی دی.
وحدثنى محمد بن عبد الله بن قهزاذ من أهل مرو قال سمعت عبدان بن عثمان يقول سمعت عبد الله بن المبارك يقول الإسناد من الدين ولولا الإسناد لقال من شاء ما شاء : :([2])
دیو حدیث سَنَدْ رَسَوْلْ دا دین دي سند هغه ذریعی ته وئیلي کیږی چه په کومی ذریعه باندی تاته د پیغمبر صلی الله علیه وسلم حدیث رارسی نو دا سند بیانول دا دین دي که دا سند نه وي نو چا چه څه وئیلي هغه به ئی وئیلي.

---

[1]- الصحيح المسلم : جلد ۱ صفحه ۱۲ باب فى أن الإسناد من الدين
[2]- الصحيح المسلم : جلد ۱ صفحه ۱۲ باب فى أن الإسناد من الدين

## د ابن ابي العوجاء واقعه

بیا څه خلق پیدا شول او هغوئ په پیغمبر صلی الله علیه وسلم باندی دروغ جوړول شروع کړل.

د مهدی زمانه وه مشهور حنفي عالم یحیی بن معین چه په فروعو کي د امام صاحب تابع وو هغه ژوندي دي یو سړي دي ابن ابي العوجاء مشهور کذاب کله چه هغه گرفتار شو نو علماء د حدیث وائي.

قال حماد بن زید وضعت الزنادقة أربعة آلاف حديث ولما أخذ ابن أبي العوجاء لضرب عنقه قال وضعت فيكم أربعة آلاف حديث أحرم فيها الحلال وأحلل فيها الحرام : (۱)

وقد كان ابن أبي العوجاء هذا زنديقا يقال إنه لما أمر بضرب عنقه اعترف على نفسه بوضع أربعة آلاف حديث يحل فيها الحرام ويحرم فيها الحلال : (۲)

کله چه ابن ابي العوجاء د پهانسئ د پاره ونیولي شو او مهدی بادشاه د هغه نه اپتېروي واخسته تپوسونه ئي ترینه کول تا څه څه چل کړی دي ؟ نو هغه ورته وی څلور زره احادیث مي د ځان نه جوړ کړی دی او په دی څلورو زرو احادیثو کي ما حلالو ته حرام وئیلی وو او حراموته می حلال وئیلی دی علماء وائي مهدی ډیر غمژن شو چه دا خو دین ختم شو څلور زره احادیث د ځان نه جوړ شوی دی په هغي کي ئي حلالو ته حرام وئیلی دی اوحرامو ته

---

۱- تذکرة الموضوعات لمحمد طاهر الفتنی : جلد ۱ صفحه ۷

۲- البدایه والنهایه : جلد ۱۰ صفحه ۱۲۱ بناء الرافقة

حلال وئيلی دين خو ختم شو نويحيي بن معين راغي او مهدی ته ئي وي ماښام زمانه دا ټول روايتونه غواړه ماښام هغه د مهدی په مخکي فهرست کيخودو او هغه څلور زره احاديث چه ابن ابي العوجاء د ځان نه جوړ کړی وو هغه ئي ورته وخودل.

## د علماو د حديثو کتابونه ليکل

علماو د حديثو کتابونه ليکل شروع کړل او هغوئ يو يو حديث چانړ کړو او دا کتابونه چه ليکلي کيده نو په ګنړو اقسامو باندی وليکلي شو چا خپل کتابونه د ايمان نه شروع کړل او د ايمان نه پس د علم طريقي بيا عبادت او معاملات اخلاق او معاشره او په دي مينځ مينځ کي د احاديثو د حفاظت طريقي دغه کتابونو ته صحاح وئيلي کيده.

څوک ولګيده هغوئ د طهارت نه شروع وکړه او بيا طهارت عبادات شبه عبادات معاملات ئي ذکر کړل هغي ته سنن وائي.

بعضي علماء ولګيدل هغوئ د يو يو صحابي روايتونه راجمع کړل او د هغه يو صحابي روايتونه بغير د فقهي ترتيب نه په يو ځائي کي وليکل نو چا چه د ګنړو صحابونه ليکلی دی هغی ته مسند او جامع وائي او چا چه د يو يو صحابي نه ليکلی دي نو هغی ته به ئی مسند د هغه صحابی وي.

بيا علماء ولګيدل د حديثو د حفاظت دپاره د خپلو استاذانو نه روايتونه ئي شروع کړل او د يو استاذ چه څومره روايتونه ورته ياد وو نو يائي د هغی نماذج وليکل يائي هغه ټول وليکل خو د استاذ په ترتيب ئي ذکر کړل دی ته معاجم وائي.

## د امام طبراني رحمه الله دري قسمه معاجم

په دی کي امام طبراني رحمه الله دري قسمه معاجم ليکلی دی. اسماعيلي يو معجم ليکلی د امام طبرانی رحمه الله د معاجمو طريقه داده چه په معجم الصغير کي هغه دِ خپل هر استاذ نه يو يو روايت او احيانًا دوه روايتونه ئي ذکر کړی دی دوه جلده کتاب ئي په دی ليکلي دي.

بيا هغه يو بل معجم وليکو چه هغي ته معجم الشيوخ هم وائي او معجم اوسط ورته هم وائي بعضي خلق کله کله خطا شي هغوئ وائي چه د امام طبراني رحمه الله څلور معاجم دی حالانکه د هغوئ د غلطئ منشاء داده چه هغوئ ته دا پته نشته چه معجم الاوسط او معجم الشيوخ دا يو شي دی هغه د خپلو استاذانو روايتونه ذکر کړل لس جلده کي هغه دا کتاب وليکو.

دريم امام طبراني رحمه الله د صحابو په ترتيب باندی او د خپلو استاذانو په ترتيب باندی يو کتاب وليکو په ۲۵ جلده کي چه د هغي ۲۰ جلده موجود دی او ۵ جلده مفقود دی هغي ته معجم کبير د طبراني وائي نو معاجم وليکلی شو.

## د علماو نور کتابونه ليکل

بيا نور علماء راغلل او هغوئ وکاته چه مثلًا بخاری په خپلو شروطو باندی يو کتاب ليکلي دی او په هغه شروطو باندی بعضي روايتونه د بخاری نه يا د مسلم نه پاتی شوی دی نو هغوئ په دغه انداز باندی کتابونه وليکل او هغی ته مستدرکات وائي خو هر يو مخکي د وروستو د پاره څه مجال پريخودي وو.

## استخراج څه ته وائي ؟

بیا روسته څه خلق پیدا شو لکه اسماعیلي ولګیدو په بخاري باندې ئي استخراج وکړو.

استخراج دی ته وائي چه یو سړي د خپلو استاذانو نه هغه روایتونه په خپل سند باندی نقل کړی مثلاً بخاري نقل کړی یا مسلم نقل کړی او د بخاری په شیخ یا شیخ الشیخ کي دا سند یو ځائی کړی دي خواته د هغه استاذان جدا وی په خپل سند باندی هغه ذکر کړی وی.

مسلم باندی د ابو نعیم دي د ابو عوانه دی په دی فن باندی کتابونه ولیکلي شو.

## په یوه یوه مسئله باندی کتابونه لیکل

بیا د دي نه روسته علماء راغلل هغوئ په یوه یوه مسئله باندی کتابونه ولیکل لکه ابو عبیده قاسم بن سلام هغه په طهارت باندی یو کتاب ولیکو اجزاء ورته وائي جزء د طهارت.

امام بیهقي په قراءت باندی جزء ولیکو امام بخاری په قراءت او رفع الیدین باندی اجزاء ولیکل او دا اجزاء ډیر ګنړ دی او دا په احادیثو کي خانله یو مستقل فن دی.

## د یو کلی روایتونه جمع کول

بیا د دي نه روسته روسته کسان راغلل هغوئ د تاریخ په نوم باندی د یو کلی روایتونه راجمع کړل.

خطیب بغدادی په تاریخ بغداد کي هغه روایتونه راجمع کړی دی کوم علماء چه بغداد ته راغلی دی او هغوئ هلته روایتونه کړی

دی ۱۴ ضخیم جلدونه دا د تاریخ بغداد دی.
ابن عساکر دمشقي هغه د مدینه دمشق تاریخ ولیکو په ۸۰ جلده کي نن صبا چهاپ دي تاریخ ابن عساکر په هغي کي څوک چه په دمشق باندی تیر شوی دی د هغوئ روایتونه ئي را جمع کړه.
ابو الشیخ اصفهاني یو کتاب ولیکو طبقات المحدثین باصبهان په ۲ جلده کي او په هغي کي هغه د هغه علماو روایتونه ذکر کړل کوم چه په اصبهان کي پاتی شوی وو.
عمرنسفي هغه یو کتاب ولیکو د کتاب نوم دي القند في ذکر علماء سمرقند او په هغي کي د سمرقند د علماء چه کوم روایتونه وو هغه هغوئ راجمع کړل.

## د صحابو رضی الله عنهم په حیاة کتابونه لیکل

بیا نورو علماو نور سوچونه وکړل د احادیثو د جمع دپاره دا زه تاسو ته خایم چه د احادیثو د جمع څومره اهتمام شوي دي.
ابو نعیم اصفهاني د صحابو د حیاة جمع کړو او هغه یو کتاب ولیکو په دوه دزیو طبعو کي دي ماسره چه کومه طبع ده ۵ جلده کی دی معرفة الصحابة.
معرفة الصحابة کي هغه د احادیثو اول استاذان اصحاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه ئي راواخسته او د هغوئ تاریخونه ئي ذکر کړل او بیا چه هغوئ کوم روایتونه کړی وو هغه روایتونه ئي وخودل.
د هغي نه روسته ابن اثیر راغي ابن اثیر د اسد الغابة په نوم باندی ۸ جلده کتاب ولیکو اسد الغابة یعني د ځنګل زمری او د

هغه زمرو ذکر ئي وکړو چه هغوئ د پيغمبر صلی الله عليه وسلم افعال اقوال بلا کم و کاس دنيا ته قولا او عملا پيش کړی دی او په هغی باندی هغوئ نرئ نرئ تبصری وکړي.
بيا حافظ ابن حجر هغه ټول کتابونه راجمع کړل او د الاصابة په نوم باندی د صحابو څلور طبقات ئي جوړ کړل او د هري طبقي مضايا ئي وخودل او هغي ته ئي اشاری هم وکړي.

## كتب الاصول

امام بخاری امام مسلم امام احمدبن حنبل هغوئ چه خپل کتابونه وليکل يا هغه علماء چه هغوئ په خپل سند باندی د پيغمبر صلی الله عليه وسلم نه نقل وکړو دغه کتابونو ته د اصولو کتابونه وائي په احاديثو کي (کتب الاصول).
بيا روسته څه خلق راغلي او هغوئ دا سوچ وکو چه په روايت کي وضع معلومول په روايت کي ضعف معلومول د هغي دپاره دا اصول پوره دی نو هغوئ ولګيدل د دغی اصولو نه ئي انتقاء وکړه د احاديثو چا صرف په معاشره باندی کتابونه وليکل لکه امام بخاری هغه يو کتاب ليکلي دي (الادب المفرد) صرف په معاشره دی.
چا په معاشره او عقيده دوانړو باندی کتابونه وليکل لکه امام نووی رياض الصالحين ليکلي وو او تيرو کلونو کي بادشاه صاحب له دی الله عمر ورکړی او الله دی ورله توفيق ورکړی د رياض الصالحين ختم وو هغه سعادت هم الله زما په قسمت کي ليکلي وو د هغي ختم هم ما کړي وو.

## حدیث به مونږ څنګه بچ ساتو

دارنګی محدثینو مختلف اندازونه اختیار کړل په دی مینځ مینځ کي د دی ضرورت پیخ شو چه حدیث دا به مونږ څنګه بچ ساتو.

امام بخاري ولګیدو هغه یو کتاب ولیکو په ۸ جلده کي او بادشاه ته چه ئي کله پیش کړو نو بادشاه وي دا خو جادو دي په هغي کي بخاری د هر چا حال لیکلي وو د هغه د کتاب نوم دي التاریخ الکبیر.

بخاری هم انسان وو د هغه نه چه کومی غلطئ شوی وی په تاریخ کبیر کي نو عبدالرحمن بن ابي حاتم راغي په هغي ئي هم یو جزء ولیکو (خطأ الامام البخاري في تاریخه) او هغه بنیاد شو.

بخاری دری تاریخه ولیکل یو تاریخ اوسط یو تاریخ کبیر یو تاریخ صغیر تر اوسه پوری د عامو خلقو دا سوچ وو چه تاریخ اوسط د امام بخاری نشته نسخه ئي نشته اوس د علماء سوچ لږ بدل شوي دي او علماء وائي تاریخ کبیر هغه خو دغه کوم ۸ جلده چه دی هغه دی تاریخ صغیر دا د امام بخاری یو نري غوندته جزء دي او تاریخ اوسط کوم چه تر ننه پوری په تاریخ صغیر باندی مشهور وو نو هغوئ وائي دا تاریخ اوسط دي او د هغوئ سره په دی باندی څه دلائل هم شته او کوم کسان چه ورته تاریخ صغیر وائي د هغوئ سره هم دلائل شته.

## اسماء الرجال باندې کتابونه ليکل

ابوالحجاج مزی ولګيده او هغه د بخاري او د مسلم بلکه د کتب ستو چه کوم روات وو د هغوئ تاريخ ئي ذکر کړو په ۳۵ جلده کي د تهذيب الکمال په نوم باندې او نن تقريبًا د هر محدث په کور کي د هغي يو زينت دي او د محدث په ژبه باندې د هغي يو ښائست دی چه هغه په احاديثو کي ښه او بد معلومئ په هغي باندې خلقو کارونه وکړل تذهيب التهذيب وليکلي شواو تهذيب الکمال له يي د سرو اوبه ورکړي تذهيب چه وو چا د تهذيب الکمال تهذيب وکو.

حافظ ابن حجر په ۱۲ يا ۱۴ جلده کي کتاب وليکو د تهذيب التهذيب په نوم باندې او حافظ د هغي نور اختصار وکړو مونږ کم همته خلقو دپاره د تقريب التهذيب په نوم باندې دی طرف ته حافظ نور کتابونه هم وليکل او په احاديثو کي چه کله په راوی کي هر يو عيب چه وو که هغه د تدليس وو نو د طبقات المدلسين په نوم باندې حافظ ابن حجر کتابونه وليکل نورو علماو وليکل.

کله چه د ټولو طرفونو نه په احاديثو کي د دخيل د ځان نه د حديث د ننويستو مخ نوی وشو او د هغي دپاره کتابونه وليکلي شو او روستنو خلقويو قاعده جوړه کړه چه.

وقال عمرو بن قيس ينبغي لصاحب الحديث أن يكون مثل الصيرفي الذي ينقد الدرهم الزائف والبهرج وكذا الحديث وقال الأوزاعي كنا نسمع الحديث فنعرضه على أصحابنا كما نعرض الدرهم الزائف على

الصيارفة فما عرفوا أخذنا وما أنكروا تركنا : (۱)

يو محدث چه هغه د قال رسول الله صلى الله عليه وسلم بيان کوی نو هغه له پکار دادی چه د هغه مثال د صراف وی هغه صراف چه هغه په روپو کي کره او کوټه معلوموی لکه څنګه چه په روپو کي کره کوټه وی په زرو کي کوټ بنګار (بيکار) وی نو دارنګي په دی احاديثو کي سره هم شته او کوټ بنګار (بيکار) هم پکي شته.

## په موضوعاتو باندی کتابونه ليکل

علماو د موضوعاتو يوفن ايجاد کړو او په دی فن کي ښه کتاب دعلامه جوزقاني وو المناكير و الاباطيل و الصحاح و المشاهير او هغه متضاد روايتونه راواخستل او دائي اوخودل چه په دی کي صحيح او غلط کوم يو دي.

## داحنافو رحمهم الله سعادت

يوه زمانه داسي هم راغله چه په يو مسئله کي د جناب رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دوه قسمه صحيح روايتونه نقل دی ضرورت ددی پيښ شو چه دا روايتونه په دی کي معمول روايت دا به موږ څنګ معلوموو دا سعادت الله پاک د حنفيانو په قسمت کي کړو.

امام ابو جعفر طحاوي په ۱۲ جلده کي يو کتاب وليکو د هغي نوم دي شرح مشکل الاثار ۱۲ جلده کتاب دي پخوا څه ناقصه غوندی نسخه په هندوستان کي ملاو شوی وه په ۴ جلده کي

۱- جامع العلوم والحكم : جلد ۱ صفحه ۲۵٦

چهاپ شوی وو اوس مکمله نسخه په ۱۲ جلده کي چهاپ شوی ده تقريبًا يو څو ورځي کيږي پيښور کي ما په يولس نيم زره روپۍ باندی اخستی ده.
نورو علماوهم په دی کي کارکړی دي لکه ابن قتيبه تاويل مشکل الحديث ليکلي دي خوهغه هغه کارنه دی کړي کوم چه امام طحاوی کړي دي.

**د سند نه بغير د پيغمبر صلی الله عليه وسلم روايات ذکر کول**

کله چه د هرطرف نه دا بندونه ووهلي شونو بعضي علماء ولګيدل هغوئ بغير د سند نه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم روايتونه د قوم او د عوامو د اصلاح دپاره راواخستل.
په هغي کي امام بغوی د هغه کتاب وو مصابيح او دا په دری جلده کي کتاب ليکلي شوی وو په هغي کي صرف د پيغمبر صلی الله عليه وسلم اقوال وو د صحابي پکی نوم هم نه وو.

**تخريج الاحاديث**

کله چه دا وليکلي شو نو بعضي خلقو ته څه موقع ملاو شوه چه زه يره يو فن داسی هم جوړ شو چه نه پکي د صحابي نوم شته او پيغمبرته خبره منسوب کوه نو هغه طرف ته الله نور خادمان پيدا کړل ابراهيم بن حسن مناوي هغه راپاڅيدو او د هغه مصابيح د احاديثو تخريج ئي وکړو په ۵ جلده کي کشف المناهج و التناقيح په نوم باندی او علامه ولي الدين صاحب د مشکواة هغه راپاڅيدواو هغه هم د هغي يو يو کتاب اوخودو بغيرد دي نه چه د هغي په احاديثو باندی په سند باندی جرح وشي په هغي کي

منسوخ او معمول اوښائي نو هغه مشکواة ولیکو او په مشکواة
کي هغه یو فصل سوا کړو په مصابیح باندی.
حافظ ابن حجر چه هغه د حسن بن ابراهیم مناوی شاګرد دي هغه
ولګیدو په شپږ جلده کي د هداية الرواة په نوم باندی د مشکواة
د احادیثو تخریج وکړو او بیا په هندوستان کي یو مولا ولګیدو
هغه د مشکواة په دی دریو فصلونو باندی یو څلورم فصل سوا
کړو او د هغي نوم وو الرحمة المهداة لمن يريد الزيادة على احاديث
المشكواة د هغي زما سره یو پوښتیښ شته.
دا یو تاریخ وو ستاسو په مخکي ما پیش کړو چه د مشکواة
غوندی کتابونو ته اصول نه وئیلي کیږي لکه د مخرجينو اصحاب
التخريج د هغوئ طریقه داده چه کله هغوئ په یو حدیث باندی حواله
ورکوي نو هغه به په اصولو باندی ورکوي مثلا یو روایت دي ستا
نه څوک تپوس وکړی دا روایت چا ذکر کړي ته دا نشي وئیلي چه دا
مشکواة ذکر کړي ځکه دا اصول نه دي ته دا نه شی وئیلي چه دا
نووی ذکر کړي دي په رياض الصالحين کي بلکه ددی مصدر به په
اصولو کي خائي او اصول دغه شل قسمه چه ما تاسو ته بیان کړ
صحاح مسانید سنن امالي و غیره و غیره.

## د مشکواة طرز

صاحب د مشکواة چه دا خپل کتاب لیکلي دي ده یو عجیبه
طرز په دی کي اختیار کړي دي هغه عجیبه طرز څه دي ؟ اول خو
ده د دی خبري ضرورت خودلي دي چه داسي کتاب ماله ولي
لیکل پکار دی

## د مشکواة په اول کي حدیث جبریل پیش کول او د نبی صلی الله علیه وسلم صحیح تاریخ وفات

بیا د الله رحمتونه دی وی په ولي الدین باندی صاحب د مشکواة باندی د مشکواة په اول کي بغیر د ترتیب نه هغه یو حدیث پیش کړو چه هغي ته حدیث جبریل وائي دا حدیث جبریل تقریباً د لسو صحابو نه نقل دی او صاحب د مشکواة د حضرت عمر رضي الله عنه په روایت باندی ذکر کړي دي دا روایت يي په اول کي ددی دپاره راوړو چه دا روایت د نبي صلي الله علیه وسلم د آخیري حج نه روستئ جبریل علیه السلام راغلي وو نبي صلي الله علیه وسلم چه آخری حج وکړو نو محرم . صفر کی نبي صلي الله علیه وسلم ژوندئ وو او د صحیح روایت مطابق په ۲ ربیع الاول باندی نبي صلي الله علیه وسلم وفات شو او دا ځکه زه صحیح روایت ورته وایم چه په دی باندی د امت اتفاق دي.

او دا خبره زما عندی خبره نه ده علامه سهیلی د هغه کتاب دي الروض الأنف په سیرت کي دا خبره هغه لیکلي ده دا زنګی حافظ ابن رجب لیکلي ذه او حافظ ابن رجب د سهیلی په قول تصریح کړي ده.

د ګل ورځ باندی اتفاق دي چه نبي ضلي الله علیـه وسلم د ګل ورځ وفات شوي دي بخاری کي روایت دي په دي باندی.

عن عائشة رضي الله عنها قالت دخلت على أبي بكر رضي الله عنه فقال في كم كفنتم النبي صلى الله عليه و سلم ؟ قالت في ثلاثة أثواب سحولية ليس فيها قميص ولا عمامة وقال لها في أي يوم توفي رسول الله صلى الله عليه و

سلم ؟ قالت يوم الاثنين قال فأي يوم هذا ؟ قالت يوم الإثنين قال أرجو فيما بيني وبين الليل فنظر إلى ثوب عليه كان يمرض فيه به ردع من زعفران فقال اغسلوا ثوبي هذا وزيدوا عليه ثوبين فكفنوني فيها قلت إن هذا خلق ؟ قال إن الحي أحق بالجديد من الميت إنما للمهلة فلم يتوف حتى أمسى من ليلة الثلاثاء ودفن قبل أن يصبح : (۱)

ام المؤمنين وائي چې څه دابوبکررضی الله عنه خواله لاړم .هغه خما نه تپوس کوه تاسو نبی علیه السلام په څوجامو کې خخ کړی وو هغی وئیل په دری جامو کې: هغه ترینه تپوس اوکړو جی نبی علیه السلام په کومه ورځ باندې مړوو هغه وئیل هغه د ګل په ورځ باندې هغه وئیل نن دڅه ورځ ده نو ام المؤمنین ورته اووئیل نن د ګل ورځ ده هغه وئیل کیدي شی چې څه نن مړشم.

واتفقوا أنه توفي صلى الله عليه وسلم يوم الاثنين إلا شيئا ذكره ابن قتيبة في المعارف الأربعاء قالوا كلهم وفي ربيع الأول غير أنهم قالوا أو قال أكثرهم في الثاني عشر من ربيع ولا يصح أن يكون توفي صلى الله عليه وسلم إلا في الثاني من الشهر أو الثالث عشر أو الرابع عشر أو الخامس عشر لإجماع المسلمين على أن وقفة عرفة في حجة الوداع كانت يوم الجمعة وهو التاسع من ذي الحجة فدخل ذو الحجة يوم الخميس فكان المحرم إما الجمعة وإما السبت فإن [ ص ٤٤٠ ] كان الجمعة فقد كان صفر إما السبت وإما الأحد فإن كان السبت فقد كان ربيع الأحد أو الاثنين وكيفما دارت الحال على هذا الحساب فلم يكن الثاني عشر من ربيع يوم الاثنين بوجه ولا الأربعاء أيضا كما قال القتبي وذكر الطبري عن ابن الكلبي وأبي مخنف أنه توفي في الثاني من ربيع

---

۱- صحيح البخاري علي تحقيق البغاء : جلد ۱صفحه ٤٦٧باب موت يوم الإثنين

الأول وهذا القول وإن كان خلاف أهل الجمهور فإنه لا يبعد أن كانت الثلاثة الأشهر التي قبله كلها من تسعة وعشرين فتدبره فإنه صحيح ولم أر أحدا تفطن له وقد رأيت للخوارزمي أنه توفي عليه السلام في أول يوم من ربيع الأول وهذا أقرب في القياس بما ذكر الطبري عن ابن الكلبي وأبي مخنف : (۱)

وكأن سبب غلط غيره أنهم قالوا مات في ثاني شهر ربيع الأول فتغيرت فصارت ثاني عشر واستمر الوهم بذلك يتبع بعضهم بعضا من غير تأمل والله أعلم : (۲)

چه نبي صلي الله عليه وسلم کوم حج کړي وو په هغي کي عرفه د جمعي په ورځ وه د عرفی ورځ دا نهمه ورځ وی نهمه ورځ په هغه میاشت کي د جمعی وه ذی الحجة ختمه شوه محرم ختمه شوه صفر ختمه شوه په ربیع الاول کي نبي صلي الله علیه وسلم وفات شوي دي اوس که دا میاشتي درېنواړه د دیرشتو کړی نو ۱۲ ربیع الاول باندی د ګل ورځ نه راځی او که دا دري واړه میاشتي د ۲۹ کړی نو بیا هم د ګل په ورځ ۱۲ ربیع الاول نه راځي که په دي کي دوه د ۳۰ او یوه د ۲۹ کړی یا یوه د ۳۰ او دوه د ۲۹ کړی نو بیا هم د ګل ورځ نه راځی لکه د ګل ورځ په ۱۲ ربیع الاول باندی نه راځي .

نو په دغه زمانه کي جبريل عليه السلام راغلي وو.

حدثني عمر بن الخطاب رضي الله عنه قال بينما نحن ذات يوم عند نبي الله صلى الله عليه و سلم إذ طلع علينا رجل شديد بياض الثياب

۱- الروض الانف للسهيلي :جلد ٤ صفحه ٤٢٩ اليوم الذي قبض الله فيه نبيه

۲- فتح الباري : جلد ۸ صفحه ۱۳۰

شديدسواد الشعر لا يرى قال يزيد لا نرى عليه أثر السفر ولا يعرفه منا أحد حتى جلس إلى نبي الله صلى الله عليه و سلم فأسند ركبتيه إلى ركبتيه ووضع كفيه على فخذيه ثم قال يا محمد أخبرني عن الاسلام ما الإسلام فقال الإسلام ان تشهد ان لا إله الا الله وان محمدا رسول الله وتقيم الصلاة وتؤتي الزكاة وتصوم رمضان وتحج البيت ان استطعت إليه سبيلا قال صدقت قال فعجبنا له يسأله ويصدقه قال ثم قال أخبرني عن الايمان قال الإيمان ان تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله واليوم الآخر والقدر كله خيره وشره قال صدقت قال فأخبرني عن الإحسان ما الإحسان قال يزيد إن تعبد الله كأنك تراه فإن لم تكن تراه فإنه يراك قال فأخبرني عن الساعة قال ما المسئول عنها بأعلم بها من السائل قال فأخبرني عن أماراتها قال أن تلد الأمة ربتها وأن ترى الحفاة العراة رعاء الشاء يتطاولون في البناء قال ثم انطلق قال فلبث مليا قال يزيد ثلاثا فقال لي رسول الله صلى الله عليه و سلم يا عمر أتدري من السائل قال قلت الله ورسوله أعلم قال فإنه جبريل أتاكم يعلمكم دينكم

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين : (۱)

او نبي صلي الله عليه وسلم چه کله د جبریل د راتلو سر پیش کوو نو حضرت عمر رضي الله عنه ته ئي هم فرمائیلی وو او حضرت ابو ذر رضي الله عنه ته ئي هم ویلی وو حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه ته ئي هم وئیلي وو حضرت ابن عباس رضي الله عنهما هم دا روایت کوی د لسو صحابو نه نقل دی دا کوم سړي چه راغلي وو نو دا جبریل علیه السلام وو دا دی له راغلي وو چه کوم دین په ۲۳ کاله کي هغه ما تفصيلي خور کړي وو چه د هغې

---

۱- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۱ صفحه ۱۵۱ مسند عمر بن الخطاب رضي الله عنه

اصول او ضوابط تاسو ته بیان کړي.
دويمه داده چه جبريل عليه السلام چه راغي صاحب د مشكواة د حضرت عمر رضي الله عنه په روايت باندی هغه فرمائي چه مونږ په جمات كي ناست ووسړي راغي سړي د متضادو صفتونو حامل وو تکي سپینی جامی ئي اغوستی وي شدیدسواد الشعر اوتک تور ويخته ئي وو كوم چه دا مشكوة روايت دي د ابن حبان روايت كي رازي. شديد سواد اللحية

بينا رسول الله صلى الله عليه وسلم ذات يوم جالسا إذ جاء شديد سواد اللحية شديد بياض الثياب فوضع ركبته على ركبة النبي صلى الله عليه وسلم فقال يا محمدما الإسلام قال شهادة أن لا إله إلا الله وإقام الصلاة وإيتاء الزكاة وصوم رمضان وحج البيت قالصدقت فعجبنا من سؤاله إياه وتصديقه إياه قال فأخبرني ما الإيمان؟ قال أن تؤمن بالله وملائكته وكتبه ورسله والبعث بعد الموت والقدر خيره وشره حلوه ومره" قال: صدقت الخ : (۱)

ګيري ويخته ئي ښكاريده نو سرئي ئي پټ وو د ګيري ويخته ئي تک تور وو ګيره ئي ښكاريده سرئي پټ وو.
او حضرت عمر رضي الله عنه وائي په هغه باندی مونږ د سفر څه آثار نه ليدل خو ورسره دا هم وائي وَلاَ يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ علماء په دی پوهيږي أَحَدٌ نكره ده په سياق د نفي كي راغلي ده عموم پيدا كوی نه نبي صلي الله عليه وسلم پيژندو او نه بل چا پيژندو حضرت عمر رضي الله عنه عام لفظ وائي وَلاَ يَعْرِفُهُ مِنَّا أَحَدٌ هيچا

۱- صحيح ابن حبان : جلد ۱ صفحه ۳۹۰ ذكر الإخبار عن وصف الإسلام

نه پيژندو.

د نسائي په روايت کي راځي کوم چه د ابوالدرداء رضي الله عنه روايت دي وائي نبي صلي الله عليه وسلم وفرمائيل چه دا سړي څوک وو؟ او دری ورځی پس چه ورته کله په وحي باندی پته ولګيده نو نبي صلي الله عليه وسلم وي دي زما نه چری نه دی خطا شوي نبي صلي الله عليه وسلم وفرمائيل چه دا اول ځل وو چه دا سړي زما نه خطا شو.

او دا دی دپاره الله رب العزت کوو چه يو خو د دين اصول خلقو ته بيان شي هم قولا هم عملا د دين په اصولو کي يو اصل دا وو چه په غيبو پوهه څوک دي؟ الله.

الله عملي طورسره دنيا ته خودله چه جبريل عليه السلام چه هغه دنبي صلي الله عليه وسلم خاص ملګري وو. وجبريل رسول الله فينا هروختی به د نبي صلي الله عليه وسلم په مجلس کي ناست وواو نبي صلي الله عليه وسلم په غيبو نه پوهيدو. يو زمانه داسي راغله چه جبريل په بل شکل کي راغلي وو او نبي صلي الله عليه وسلم نه وو پيژندلي.

صاحب د مشکواة اول هغه اجمالی روايت پيش کړو او د هغه اجمالی روايت ئي بيا تفصيل شروع کړو په تفصيل کي ئي د ايمان خبری مخکي وکړی ځکه په اجمال کي د ايمان خبري مخکي تيری شوی وی د اسلام او د ايمان وروسته د قبر د عذاب د قيامت ددی بحث هغه اجمال کي تير شوي وو نو تفصيلی ئي وکړو او په آخر کي په هغي کي د فتنو بحث تير شوي وو اخبرني

عن الساعة او بيا د قيامت معلومات چه کله نبي صلي الله عليه وسلم هغه ته ورکول نود هغي نه مخکي چه کومي فتنني راغلي وي أن تلد الأمة ربها وأن ترى الحفاة العراة رعاء الشاء يتطاولون في البناء نوصاحب دمشکواة د مشکواة په آخرکي هم هغه قسم روايات پيش کړه.

چونکه جبرئيل عليه السلام دی دپاره راغلي وو چه دی خلقو ته د دين هغه اصول وبنائي او دا اصول زده کول او په دی باندی عمل کول دا د دي امت د اجر ذريعه ده نو صاحب د مشکواة آخری باب د مشکواة په آخر کي راوړي في باب ثواب هذه الأمة ددی امت اجر څه دي؟ او دی باره کي صاحب مشکواة د خپل عادت مطابق دري فصله ذکر کړی دی دوه د مصابيح يو د ده خپل او په هغي کي دا دري روايتونه دی چه باچا صاحب له دی الله ډير عمر ورکړی او الله دی ورله سره زمونږه توفيق ورکړی چه د پيغمبر صلی الله عليه وسلم د احاديثو خدمت وکړی د الله د کتاب خدمت وکړی ځکه په دنيا کي د دی نه لوئی سعادت بل نشته او يو سړي هله کاميابيدي شي چه هغه د محمد عربي صلی الله عليه وسلم په قدم باندی قدم کيږدی.

يو سالک خبره کړی ده هغه وائي:

پس احمد برو اندر زهی دين

که گم شد هر که دنبالی پدر رفت

په محمد عربي صلي الله عليه وسلم پسی زه دا دين په لار کي خکه هغه خلق ورک ذي ځوک چه د پلار په طريقه باندی تلي دي

حدیث پاک شینک راهبر تواست

زدنیا گر چه آن خیر البشر رفت

نن احادیث د رسول صلي الله علیه وسلم ستا رهبر دی اګر چه رسول الله صلی الله علیه وسلم د دنیا نه تلي دي او الله رب العزت چه مونږ ته وائی د الله او د پیغمبر تابعداری کوئ ستاسو په مینځ کي چه کومه مسئله پیخه شي نو هغه الله او د الله پیغمبر ته وړاندی کوئ نو ټولِ علماء لیکي چه د پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ژوند کي د نبي صلي الله علیه وسلم حضور ته تله وو او د هغه د مرګ نه پس رد الی الرسول فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ رد الی الرسول څه دي ؟ رد دي سنتود پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته او دا یو داسي عجیبه خبره ده چه ټولو مفسرینو دا لیکلي ده چه رد الی الرسول پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته یو خبره واپس کول د هغه په حیات کي دا د هغه شخص ته وه او د هغه د مماتِ نه پس د هغه احادیثو ته ده.

کوم روایتونه چه پریخودلي شوی هغي کي اولني روایت دي د حضرت مُعاویه ابن قرة رضي الله عنه معاویه دا تابعي دي قرة او د ده پلار ایاس دا د مزینی قبیلی وو ذوانړه صحابه وو دا دوی مشهوره واقعه ده یو پیره ما دلته بیان کړي ده شاید چه تاسو ته یاده وی.

### د معاویة بن قرة رضی الله عنهم واقعه

قرة بن ایاس وائي نبي صلي الله علیه وسلم چه کله اول اول په مکه کي ذکر شروع شو نو مونږ لاړو.

عن معاوية بن قرة عن أبيه رضي الله عنه قال:كنت مع أبي نريد رسول

الله صلى الله عليه وسلم فلما كنا ببعض الطريق مررنا بحي فبتنا فيه فإذا الراعي قد جاء إلى أهل الحي يسعى يقول:لست أرعى لكم فإن الذئب يجيء في كل ليلة فيأخذ شاة من الغنم والصنم ينظر لا يغير ولا ينكر فقالوا:أقم علينا أحسبه قال:حتى نأتيه فأتوه فتكلموا حوله وقال للراعي:أقم الليلة فقال أبي:أقيم الليلة حتى ننظر فبتنا ليلتنا فلما كان صلاة الغداة إذا الراعي يشتد إلى أهل القرية يقول لهم:البشرى ألا ترون أن الذئب مربوط بين يدي الصنم بغير وثاق فجاءوا وجئنا معهم قال:فقال:نعم هكذا فاصنع فقدمنا على رسول الله فحدثه أبي الحديث فقال:يلعب بهم الشيطان.

وهذا الحديث لا نعلمه يروى بهذا اللفظ إلا عن قرة بن إياس ولا نعلم له طريقا غير هذا الطريق والأزهر بن سنان حدث عنه يزيد بن هارون ومحمد بن جهضم وغيرهما:([1])

معاويه بن قرة بن إياس وائي زه د خپل پلار سره روان شومه او د ازې ورځې وي چه د جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم ذکرکيده چه خلقو وي چه مکه کې يوسړي پيدا شوي دي او هغه زمونږ د دې اله رد کوي مونږ په لارې تلو سورلی نه وي پياده روان وه نو په يوقبيله کې زمونږ شپه راغله عرب خو ميلمه دوست خلق وو څه چه به ورسره وو ميلمه ته ئي کيخودل مابنام مونږ ناست وو ډوډۍ موخوره په دې کې دهغې قبيلې يو شپونکې راغي اوهغه قبيلې والا ته وائي اي قبيلې والو ستاسو دا بيزې زه نه څرومه هغوئې ورته وي ولې ؟ هغه ورته په جواب کې وائي ستاسودا خدائي ماته بټ بټ ګوري اوشرمخ راشي او مانه بيزه وتختوي نو

[1] - مسند البزار :جلد۱صفحه ٤٩٣

چه ستاسو خدائي ستاسو خيال نه ساتي زه څه کومه چه زه دداسې خلقو بيزي ځروم.

هغه ورته وائي ستاسو د خدائي بټ بټ ما ته ګوري او شرمخ راشي ما نه چيلی. بيزه وتختوي.هغه خلقو ورته وي يوه شپه صبر وکه دي وائي ما ته هم زما پلار وي چه مونږه هم يو شپه صبر کوو چه سحر شو د ټول کلي جرګه راغونډه شوه لاړه هغه خپل بوت له ورته وائي ستا په نوم مونږ نذرونه ورکوو ستا په نوم منختي ورکوو ستا په نوم باندي قسمونه کوو او ته زمونږ دومره کار نه شي کولی. چه زمونږ بيزي وساتي خلق واپس راغله دويمه شپه چه شوه داسې چرپانګ ته نژدې تيم دي هغه شپونکي چغي وهي اي قبيلي والا زيري مي درياندې خوشحاله شئ هغوئې ورته وائي څه چل شوي دي نو هغه ورته وائي په جواب کې هغه شرمخ دهغه رمي مخکي ته دغسې ولاړه دي پري نشته دي ترلي شوي دي.

معاويه بن قرة بن إياس وائي زه او زما پلار دوانړه لاړو مونږ چه وکتو شرمخ دغسې ولاړ وو خپه ئي نه شوه خوزولي سره ئي نه شوخوزولي ژوندي ولاړوو. خلق چه راغي اوپه هغه خپل خدائي باندې لاسونه راخکل وي دغسې کارونه راله کوه هسې په ايمان ئي وائي که چرې زمونږ په دې زمانه داکار وشو په خدائي قسم که يو مسلمان پاتې شي. هسې دا واقعه چه سرې واورې سوچونه سرې ته راځي زمونږ شيخ د پنډئ الله دی په کروړها رحمتونه وکړی هغه به کله کله وی کـه چرې اوس دادي ځمکـه نـه اواز راغـي چـه اوانديا کې کړی او روندو څه کئ؟ نو وي خدائي شته زمونږ دا ټول حرکات زمونږ دا

ټول خدمات په دی باندی به اوبه راشی دا به اوسی ښه داده چه
په دی زمانه کي څوک داسی اواز نه کوی او بیا ورورہ چه شرمخ
دغسی ولاړ وی پړي مړي نشته خوزیدي نه شی او بیګاله خلق
تلي وو او بت ته ئي وئیلي وو چه دا کار وکړه او هغه دغه لاتجه
وشوه او بیا هغوئ راغلل او لاس په راکاړی بچیه دغسی کارونه
کوه مونږ تاته خدائي وایو قرة بن ایاس وائي مونږ چه نبي صلي
الله علیه وسلم له لاړو مونږ ډیر پریشانه وو او د پریشانتیا خبره
هم ده مونږ نبي صلي الله علیه وسلم ته اووی چه مونږ په دی خپلو
سترګو باندی ولیدو شرمخ دغسي ولاړ وو نبي صلي الله علیه
وسلم وخاندل وي دا شیطان دی په دی دله ګانو پوری لبی کوی
او د پیغمبر د خولی نه خیره وخته او د قرة او د ایاس د زړونو نه
شک ووتو.

هسي تاسو سوچ وکړئ که زمونږ په زمانه کي دغسي واقعه اوشی
نو باچا صاحب وینا نه که دی ورته شل قرآنونه وکړی خدائي شته
که ئي ومنی خو د هغی خلقو صفائی د جناب رسول الله په مجلس
کي داسی شوی وه

خوقربان شم د هغه خلقونه د چا تربیت چه دجناب رسول الله صلي
الله علیه وسلم د سورې لاندي شوي ووهغوئې وائي مونږ چه راغلو
نبي صلي الله علیه وسلم ته مو ټوله قصه وکړه نبي صلي الله علیه
وسلم داسې جواب وکواو مونږ ته ئي وفرمائیل وي دا شیطان وو او
دوي پسي ټوقې کئ او دا شیطان دوي پورې لوبي کوي.نودا هغه
قرة ابن ایاس مزني دی.

### د معاویه بن قرة رضی الله عنه نه روایت

معاویه بن قرة د خپل پلار قرة نه روایت کوی قرة صحابی دی د معاویه بن قرة نیکه چه دی ایاس د مزیني قبیلی دي هغه هم صحابی دي هغه وائي نبي صلي الله علیه وسلم فرمائیلی دی.

وعن معاوية بن قرة عن أبيه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا فسد أهل الشام فلا خير فيكم ولا يزال طائفة من أمتي منصورين لا يضرهم من خذلهم حتى تقوم الساعة قال ابن المديني هم أصحاب الحديث : رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح : [1]

چه کله د شام خلق خراب شو نو په تاسو کي بیا خیر نشته دا باب صاحب د مشکواة په آخر کي راوړي دي او د شام خلق چه بنه کیږي دا به د دي امت په آخره زمانه کي خه کېږي او دی باره کي نبي صلي الله علیه وسلم پیشنګوئۍ هم کړی ده.

### فضیلت الشام

باب لُد کوم ته چه عیسی علیه السلام به راځی شام کي دی نو دغه سوالونه د خلقو چه شام په هغه زمانه کي کافر وو خلق کافر وو دا سوالونه بي ځایه دی د محدث د صنیع نه معلومیږي چه هغه دا حدیث د کتاب په آخر کي راوړي دي او دا نبی صلی الله علیه وسلم د آخری زمانی خبره کوی او په شام باندی یوه زمانه تیره شوی هم ده او راروانه هم ده چه د علم مرکز به شام وی نو نبي صلي الله علیه وسلم فرمائي چه د شام خلق خراب شو نو تاسو کي خیر نشته دی.

[1]- مشکواة المصابیح : جلد ۳ صفحه ۳۷۲

یوه خبره دلته لنډه غوښته بله کوم شام او مصر دا د حجاز او تهامي نه ډیر بره دی او کوم ځائي چه بره وی هغي ته نجد وائي.

په مسند د عبدالله بن عمررضي الله عنه کي یو روایت راځی.

عن نافع عن ابن عمر عن رسول الله صلى الله عليه وسلم أنه قال اللهم بارك لنا في مكتنا وبارك لنا في مدينتنا وبارك لنا في شامنا وبارك لنا في يمننا وبارك لنا في صاعنا وبارك لنا في مدنا فقال رجل يا رسول الله العراق ومصر؟ فقال هناك ينبت قرن الشيطان وثم الزلازل والفتن :([1])

د ابن عمر روایت دي په مسند د عبدالله ابن عمر کي مسند د عبد الله بن عمر رضي الله عنه دا نري غوښته جزء دي د طرسوسی په روایت باندی دی.

فرمائي نبي صلي الله عليه وسلم یو پیره دعاء وکړه الله په مدینه کي برکت واچوي په مکه کي برکت واچوي زمونږ په صاع او په مُد کي برکت واچوي زمونږ په یمن او شام کي برکت واچوي نو صحابی تپوس وکړو العراق ومصر نو نبي صلي الله علیه وسلم وفرمائیل په دغه عراق او مصر کي به زلزلې او فتنی راځی او د شیطان خکر به هلته راخیژی یعنی د فتنو او د فساد جړ دا به عراق او مصر وی او نجد پکی هم شامل دي.

په دی حدیث کی رازی.

عن ابن عمر أن النبي صلى الله عليه و سلم قال اللهم بارك لنا في شامنا اللهم بارك لنا في يمننا قالوا وفي نجدنا قال اللهم بارك لنا في

[1]- مسند عبدالله ابن عمر :جلد ۱ صفحه ۴۰

شامنا اللهم بارك لنا في يمننا قالوا وفي نجدنا قال هنالك الزلازل والفتن منها أو قال بها يطلع قرن الشيطان
تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين : (١)
یا الله کي برکت واچوي زمونږ په يمن او شام کی نو صحابو ورته وی. وفي نجدنا نو وی نبي صلي الله عليه وسلم فرمائيل هنالك الزلازل والفتن منها أو قال بها يطلع قرن الشيطان نو مونږ وايو د حدیث په رنړا کي د نجد مصداق هغه کوم کوم ځائي شو؟عراق اومصر شو اوکه د محمد بن عبد الوهاب نجدی رحمه الله د هغه د عقیدی د وجی نه داخبره وی نو دهغه عقیده هغه عقیده وه کوم چه د شیخ الاسلام ابن تیمیه او د شیخ الاسلام ابن قیم وه او د امام احمد بن حنبل رحمهم الله وه نو چه په هغه عقیده باندی شام ته دعاء کوی نبي صلي الله عليه وسلم چه اللهم بارك لنا في شامنا نو دلته ولی دي ته خیری کوی؟ دوه ځایونه دی چه اسلام کله هغي ته ننوتي دي هغه د مسلمانانو د حمایت مرکزونه دی او په آخر کي به هم مرکزونه وی یو یمن دی او بل شام دی د یمن په باره کی د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث دی.
عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم الإيمان يمان والحكمة يمانية وأجدنفس الرحمن من قبل اليمن ألاإن الكفر والفسوق وقسوة القلب في الفدادين أصحاب المعز والوبر : (٢)
جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی دالله د

---

١- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٢صفحه ١١٨ مسند عبد الله بن عمر بن الخطاب رضي الله عنهما
٢- مسند الشاميين : جلد ٢ صفحه ١٤٩

مهربــانی آثارماتــه د یمــن د طرفــه راغلــی دی مدینــه منــوره استراتیجی حیثیت سره په یمن کي ده او په مدینه منوره کي چه کوم خلق آباد وو اوس او خزرج دا د یمن نه راغلی وو.

او نبي صلي الله علیه وسلم یو پیره وفرمائیل: الیُمنُ في الیَمن د یمن په خلقو کي برکت دي او چه کله د یمن خلق راغلي دي او هغوئ مصافحه کوله نو نبي صلي الله علیه وسلم وفرمائیل.

عن أنس بن مالك قال لما جاء أهل اليمن قال رسول الله صلى الله عليه وسلم قد جاءكم أهل اليمن وهم أول من جاء بالمصافحة : (١)

د یمن خلق تاسو ته راغله دا اول خلق دي چه مصافحه ئي راوړي ده یو بل سره مصافحی کوئ

او بیائي وفرمائیل.

عن أبي إسحاق عن البراء قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ما من مسلمين يلتقيان فيتصافحان إلا غفر لهما قبل أن يفترقا : (٢)

دوه مسلمانان چه کله یوځائی شو او د یوبل سره هغوئ مصافحه وکړه نود لاس پریخودو نه مخکي الله رب العزت دهغوئ ګناهونه معاف کوی.

شام هم دبرکت ځائي وو او یمن هم د برکت ځائي وو او ددی امت آخری خلق او آخردفتح ځائي به شام وی په شمول د یمن باندی نو معاویه ابن قرة وائي: نبي صلي الله علیه وسلم فرمائیلی دی

إذا فسد أهل الشام فلا خير فيكم ولا يزال طائفة من أمتي منصورين

---

١- سنن ابي داود : جلد ٤ صفحه ٣٥٤باب في المصافحة

٢- سنن ابي داود : جلد ٤ صفحه ٣٥٤باب في المصافحة

لا يضرهم من خذلهم حتى تقوم الساعة : قال ابن المديني هم أصحاب الحديث : رواه الترمذي وقال هذا حديث حسن صحيح : ([1])

چه کله د شام خلق برباد شو نو تاسو کي به خیر نه وی بیا ځکه د دین مرکز به هغه ګرځیدلي وی او زما په امت کي به یوه ډله خامخواه داسی وی چه د هغوی به الله امداد کوی دا دین الله ختموی نه.

- یو حدیث کي راځی نبي صلي الله علیه وسلم فرمائي:

ولا تزال طائفة من أمتي على الحق قال ابن عبسى ظاهرين ثم اتفقا لا يضرهم من خالفهم حتى يأتي أمر الله : ([2])

چه په دې امت کي به همیشه یوه ډله داسي وی چه هغوئي به په حق باندی وی څوک چه د هغوی خلاف کوی هغوی له به څه ضرر نه ورکوی.

دلته وائي لا يضرهم من خذلهم د خذلهم دوه معاني دی یو فعل د ابتداء په معنی راځی چه د هغوی د خذلان اراده چا وکړه نو په خپله به ذلیله کیږي خو هغوی ته به نقصان نه شی رسولي.

یا خذلهم معنی ترک نُصرتهم چه د هغوی نصرت دي پریخودو تر قیامته پوری به هغوی دغسی وی او قیامت چه راځی نو دا به په هغه خلقو باندی راځی.

مشهورمحدث د دنیا علي بن المدیني د بخاری په استاذانو کي دی هغه وائي قال ابن المديني هم أصحاب الحديث دغه کومه ډله چه

---

[1]- مشكواة المصابيح : جلد ۳ صفحه ۳۷۲

[2]- سنن ابی داود : جلد ٤ صفحه ۳٥٤ باب ذکر الفتن ودلائلها

منصورين دی دا محدثين دی.
خو ګورئ ياد وساتئ اصحاب الحديث معنی په حديث باندی پوهيدونكی خلق.
يحيی بن معين مقلد دي حنفی دي خو محدثين د هغه په باره كي وائي كأنه خُلِقَ للحديث هغه د محدثينو نه دي او داسی محدث دي ته به وائي چه دي الله پاک د حديثو دپاره پيدا كړي وو.
نن سبا په جرح او په تعديل كي د يحيی بن معين قول هغه يو اساسي او بنيادی حيثيت لری او د يحيی بن معين دوه كتابونه يو تاريخ د يحيی بن معين په روايت د دوری باندی او بل تاريخ د يحيی بن معين په روايت د عثمان بن سعيد دارمی باندی دا نن د هر محدث د كتب خانی زينت دي او د هغوئ قول هغه قول دي اذا قالت حزام فصدقوها فان القول ما قالت حزامی چه يحيی بن معين خبره وكړه هغه خبره خبره ده.
او حافظ ذهبي په سير اعلام النبلاء كي ليكلی دی چه په فروعو كي هغه حنفی وو.
نو علي بن المديني وائي دا محدثين دی په حديثو پوهه خلق يو خو هغه خلق خان ته اصحاب الحديث وائی چه هغه په حديث باندی د سره پوهيږي نه چرته وائي استنجاء چه به ئي وكړه نو په جماعت كي راغي په وترو ودريدو چا ورته وی ولي؟ وائي حديث كي راغی من استجمر فليوتر چه څوک استنجاء وكړی بيا دی وتر كوی يا هغه خلق دي چه د حديث د شرنګ نه نه دی واقف او دا نه چه ګنی مونږ اشاعتيان د دوی پسی پروپيګنډه كوو دا دوی

مشر نيکه چه دی نواب صديق حسن خان په خطه کي هغه لیکلی دی چه زمونږ په دی وطن کي بعضي خلق پیدا شوي دي چه د صرف نحو د ابتدائی قاعدو نه نه وی خبر او هغه بیا په لويو لويو محدثینو باندی جرح کوی او چه تپوس ترینه وکړی نو وائی قرآن کي دا کوم ځائي کي دی چه د امام ابو حنیفه تقلید وکړ نو دا تپوس ترینه دوی نه کوی چه ښه دا کوم ځائي کي دی چه د امام ابو حنیفه مخالفت وکړ قرآن کي دا شته؟ او دا چرته دی چه د نواب صديق حسن خان او د فلانی خبره که چرته ستاسو د طبیعت موافق وه منئ ئی او که نه وه نو ستاسو سره اسانه خبره ده چه جی مونږ د چا مقلدين نه يو خو دا خو په قرآن کي شته کنه چه بغير د تقليد نه ایمان ایمان نه دي.

قرآن عظیم الشان وائی چه تاسو چه سوال کوي نو اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ چه الله مونږ ته نيغه لار وخايه دا نیغه لار د چا ده؟ صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ لار د هغه کسانو چه تا پری انعام کړی دی. الَّذِينَ موصول دي أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ دا د هغي صله ده په دی باندی د دنیا اتفاق دي چه د موصول او د صلی مصداق اشخاص وی مفهوم نه وی الذي ضربَ زيدًا هوا ده که سړي دي ؟ الذي اكلَ خبزًا هغه سړي چه ډوډۍ ئی خوړلی ده نو دا شخص دي که هوا ده نو الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ دا اشخاص دی او د قرآن نه معلومه شوه چه تقلید د اشخاصو دا ضروری دی که تقليد د اشخاصو نه وو ایمان ایمان نه دي فَاسْأَلُوا أَهْلَ الذِّكْرِ إِنْ كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ اهل الذکر دا مفهوم دي که اشخاص دی وائی جي په تقلید شخصی

باندې دليل بغير د تقليد نه خو كار نه كيږي.
اصحاب الحديث هغه ځاته وئيلي كيږي چه هغه د حديثو په توجيه ګانو باندې پوهيږي دا معلومولي شي چه ددې حديث معنی څه ده؟يو سړي دي هغه ته دا پته نشته چه لا صلاة لمن لم يقرء بفاتحة الكتاب او بل حديث كي راځي قرء النبي صلی الله عليه وسلم النجم نو قرء النجم او قرء بفاتحة الكتاب دی دواړو كي فرق شته كه نشته؟ د دې وجي نه چه كوم پوهه خلق دي په دې سلفيانو كي يو كتاب ئي ليكلي دي (احكام الامامة و الائتمام) په هغې كي ئي ليكلي دي چه لاصلاة لمن لم يقرء بفاتحة الكتاب معنی داده چه يو سړي د فاتحة الكتاب په وينا باندې قادر نه وي نو په هغه پسې مونځ نه كيږي او دا زمونږ د فقه هم مسئله ده چه لا تجوزُ صلاة القارئ خلف الامی په امي پسې د قاري مونځ دا درست نه دي دغه معنی ئي ولي نه كوي او قرءَ بفاتحة الكتاب دا باء چه راغلي ده د قرءَ معنی ئي بدله كړې ده د قرءَ معنی ئې قدرت كړي ده چه څوک قادر نه وي او كه دا باء د الصاق دپاره وي نو چه د فاتحې سره بل سورة ونه وائي نو فاتحه خوتري د سره ثابته نه شوه كوم شي چه ته ثابتوی دا خو تی د سره ثابت نه شو او دی طرف ته صحيح روايت دي انماجعل الامام ليؤتم به فاذا قرء فانصتُوا مونږ وايو داسي روايت مونږ ته وښائي په حديثو كي چه انما جعل الامام ليؤتم به فاذا قرء فاقرءُوا دا روايت راته وخائي او مونږ درته خايو واذا قرأ فانصتوا دوی وائي جي كوم ځائي چه امام قراءت نه وائي مونږ وايو زه هغه ځائي راته وخايه چه امام قراءت

نه وائي؟ وي د مازيګر په مونځ كې وايه د مازيګرپه مانځه كې قراءت وائي خوښه ئي وائي د دې وجې نه د زيدبن ثابت روايت كوم چه مسلم راغستي دې يا مستخرج د ابو عوانه يا مستخرج د ابونعيم راغستي دي هغوئ وائي: زيدبن ثابت وائي لا قراءةَ في شيٍ من الصلاةِ خلفَ الامام په امام پسې چه هر يو مونځ كوى نو قراءت پكې نشته.

## دلائل په عدم د قراة خلف الامام

(١) عن عطاء بن يسار إنه أخبره أنه سأل زيد بن ثابت عن القراءة مع الإمام ؟ فقال لا قراءة مع الإمام في شيء وزعم أنه قرأ على رسول الله صلى الله عليه وسلم والنجم إذا هوى فلم يسجد:(١)

(٢) عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه وسلم انصرف من صلاة جهر فيها بالقراءة فقال هل قرأ معي أحد منكم آنفا ؟ فقال رجل نعم يا رسول الله قال إني أقول مالي أنازع القرآن ؟ قال فانتهى الناس عن القراءة مع رسول الله صلى الله عليه وسلم فيما جهر فيه رسول الله صلى الله عليه وسلم من الصلوات بالقراءة حين سمعوا ذلك من رسول الله صلى الله عليه وسلم قال وفي الباب عن ابن مسعود و عمران بن حصين و جابر بن عبدالله
قال أبو عيسى هذا حديث حسن :(٢)

(٣) وقول أبي هريرة صلى النبي صلى الله عليه وسلم بأصحابه صلاة نظن أنها الصبح يعني الفجر فقال هل قرأ منكم من أحد ؟ قال رجل أنا قال إني أقول مالي أنازع القرآن قال فسكتوا بعد فيما قرأ فيه الإمام رواه الإمام أحمد وأبو داود والترمذي والنسائي وابن ماجه وغيرهم وهو حديث صحيح

---

١- الصحيح المسلم تحقيق عبدالباقي (١٠٦١١/٠) باب سجود التلاوة

٢- سنن الترمذي (١١٨١٢) باب ماجاء في ترك القراءة خلف الإمام إذا جهر الإمام بالقراءة

واستدلوا بقوله صلى الله عليه وسلم من كان له إمام فقراءة الإمام له قراءة رواه الإمام أحمد وابن ماجه

وبقوله صلى الله عليه وسلم إنما جُعِل الإمام إنما الإمام ليؤتم به فلا تختلفوا عليه فإذا كبر فكبروا وإذا ركع فاركعوا وإذا قال سمع الله لمن حمده فقولوا اللهم ربنا لك الحمد وإذا سجد فاسجدوا متفق عليه وفي رواية لمسلم من حديث أبي موسى رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم وإذا قرأ فأنصتوا:(١)

(٤) حدثنا إسحق بن موسى الأنصاري حدثنا معن حدثنا مالك عن أبي نعيم وهب بن كيسان أنه سمع جابر بن عبدالله يقول من صلى ركعة لم يقرأ فيها بأم القرآن فلم يصل إلا أن يكون وراء الإمام

قال أبوعيسى هذاحديث حسن صحيح :(٢)

(٥) حدثنا علي بن محمد حدثنا عبيدالله بن موسى عن الحسن بن صالح عن جابر عن أبي الزبير عن جابر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من كان له إمام فإن قراءة الإمام له قراءة :(٣)

(٦) عن أيوب عن أبي الزبير عن جابر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من صلى خلف إمام فإن قراءة الإمام له قراءة لم يرفع هذا الحديث أحد ممن رواه عن بن علية إلا سهل بن العباس ورواه غيره موقوفا :(٤)

(٧) عن أيوب عن نافع عن بن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من كان له إمام فقراءة الإمام له قراءة :(٥)

---

١- شرح عمدة الاحكام (٣١٤١١)

٢- سنن الترمذي (١١٤١٢)

٣- سنن ابن ماجة محقق (٣٣١٢) كتاب اقامة الصلاة

٤- معجم الأوسط للطبراني (٤٣١٨)

٥- تاريخ بغداد (٣٣٧١١)

(٨) حدثنا عبيدالله بن عبدالرحمن الواقدي حدثنا أبي عن أبي يوسف عن أبي حنيفة عن موسى بن أبي عائشة عن عبدالله بن شداد عن جابر بن عبدالله قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من كان له إمام فقراءته له قراءة :([1])

(٩) عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إنما جعل الإمام ليؤتم به فلا تختلفوا عليه فإذا كبر فكبروا وإذا قرأ فأنصتوا وإذا قال غير المغضوب عليهم ولا الضالين فقولوا آمين وإذا ركع فاركعوا وإذا قال سمع الله لمن حمده فقول اللهم ربنا لك الحمد وإذا صلى جالسا فصلوا جلوسا:([2])

(١٠) عن أبي هريرة قال رسول الله صلى الله عليه وسلم صلاة جهر فيها بالقراءة فلما انصرف قال هل قرأ أحد منكم خلفي قال رجال نعم فقال إني أقول مالي أنازع القرآن :([3])

(١١) عن أيوب عن نافع عن بن عمر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من كان له إمام فقراءة الإمام له قراءة :([4])

(١٢) عن الحارث عن على قال قال رجل للنبى صلى الله عليه وسلم أقرأ خلف الإمام أو أنصت قال بل أنصت فإنه يكفيك :([5])

(١٣) حدثنا فهد قال ثنا أبو نعيم قال سمعت محمد بن عبدالرحمن بن أبي ليلى ومر على دار ابن الأصبهاني قال حدثني صاحب هذه الدار وكان قد

[1] - تاريخ بغداد (٣٤٠،١١٠)

[2] - تاريخ بغداد (٣٢٠/٥)

[3] - تاريخ بغداد (٨٥/٧)

[4] - تاريخ بغداد (٣٣٧/١)

[5] - سنن دارقطني (٣٨٢/٣) باب ذكر قوله صلى الله عليه وسلم من كان له إمام فقراءة الإمام له قراءة واختلاف الروايات

قرأ على أبي عبدالرحمن عن المختار بن عبدالله بن أبي ليلى قال قال علي رضي الله عنه ؛ من قرأ خلف الإمام فليس على الفطرة :([1])

(١٤) عن أبي قلابة عن أنس أن رسول الله صلى الله عليه وسلم صلى بأصحابه فلما قضى صلاته أقبل عليهم بوجهه فقال أتقرءون في صلاتكم والإمام يقرأ فسكتوا قالها ثلاثا فقال قائل أو قائلون إنا لنفعل قال فلا تفعلوا وليقرأ أحدكم بفاتحة الكتاب في نفسه لفظ حديث الفارسي :([2])

(١٥) حدثنا يونس قال ثنا ابن وهب قال أخبرني حيوة بن شريح عن بكر بن عمرو عن عبيدالله بن مقسم أنه سأل عبدالله بن عمر وزيد بن ثابت وجابر بن عبدالله فقالوا:لا تقرءوا خلف الإمام في شيء من الصلوات :([3])

(١٦) حدثنا محمد بن مخلد حدثنا الصاغاني حدثنا أبو النضر حدثنا شعبة عن ابن أبي ليلى أخبرني رجل أنه سمع أباه يحدث عن على قال يكفيك قراءة الإمام :([4])

(١٧) عن عمران بن حصين قال كان النبي صلى الله عليه وسلم يصلي بالناس ورجل يقرأ خلفه فلما فرغ قال من ذا الذي يخالجني سورتي ثم نهاهم عن القراءة خلف الإمام :([5])

(١٨) عن كثير بن مرة الحضرمي قال سمعت أبا الدرداء يقول سألت رسول الله صلى الله عليه وسلم أفي كل صلاة قراءةقال نعم فقال رجل من الأنصار وجبت هذه فالتفت إلى أبو الدرداء وكنت أقرب القوم منه

---

[1]- معاني الآثار للطحاوي (٢١٩/١) باب القراءة خلف الإمام

[2]- سنن دار قطني (٤٢٨\٣)باب ما يقال عند رفع الرأس من الركوع اتحاف المهرة (٧٥/٢)

[3]- شرح معاني الآثار (٢١٩/١) باب القراءة خلف الإمام

[4]- سنن دارقطني (٣٩٥\٣)

[5]- سنن دارقطني (١١٣\٢) معاني الآثار للطحاوي (٢٠٧/١)

فقال يا بن أخي ما أرى الإمام إذا أم القوم الا قد كفاهم : تعليق شعيب الأرنؤوط إسناده صحيح :([1])

(۱۹) عن عبدالله بن مسعود أنه قال أنصت للقراءة في الصلاة كما قال الله عزوجل وإذاقرئ القرآن فاستمعوا له وأنصتوا لعلكم ترحمون وسوف يكفيك ذلك الإمام:([2])

(۲۰) حدثنا علي أخبرنا شعبة عن انس ابن سيرين قال سألت ابن عمر رضي الله عنه القراءة خلف الإمام فقال تكفيك قراءة الإمام :([3])

(۲۱) عن يزيد بن عبدالله بن قسيط عن عطاء أنه سأل زيد بن ثابت عن القراءة مع الإمام قال لا قراءة مع الإمام في شيء وزعم أنه قرأ على رسول الله صلى الله عليه وسلم ! والنجم إذا هوى ! فلم يسجد:([4])

(۲۲) ولهذا روي في الحديث مثل الذي يتكلم والإمام يخطب كمثل الحمار يحمل أسفارا فهكذا إذا كان يقرأ والامام يقرأ عليه :([5])

نو اصحاب الحديث دغی ته وائي اصحاب الحديث هغی ته وائي چه هغه د حديث په رڼا کي د قران تشريح کولي شی او دا خلق چه دی په دنيا کي نن صبا نو دا داشاعة التوحيد والسنة علماء دی امام ترمذي وائي دا حديث حسن صحيح دي.

---

[1] - مسند امام احمد بن حنبل (٤٤٨/٦) ( بقية حديث أبي الدرداء رضي الله عنه)

[2] - المعجم لابن المقرئ (٢٠٩١١)

[3] - الجعديات (٣٣٧/١)

[4] - مسندابي عوانه (٤٤١٤)ترك السجود في النجم :اتحاف المهرة ( ٢٠٨/١١)

[5] - مجموع الفتاوى لابن تيمية (٢٧٩١٢٣) الفتاوى الكبرى لابن تيمية (٢٩٤١٢) مسألة: في القراءة خلف الإمام؟ اقامة الدليل على ابطال التحليل (٤٤٧١٢)

## د ابن عباس رضی الله عنهما روایت

وعن ابن عباس أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال إن الله تجاوز عن أمتي الخطأ والنسيان وماستكرهوا عليه رواه ابن ماجه والبيهقي : (۱)

حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمائي چه جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی: الله پاک زما امت ته خطا معاف کړي ده خو خطا بالکلیة نه ده معاف د خطا ګناه معاف ده د دی کفاره په دی کښ دیت په قتل خطا کي دا معاف نه دی.

نو تجاوز عن أمتي الخطأ معنی د خطا ګناه ترینه لری کړي ده او د خطا چه کومه معاشرتی سزا ده هغه نه ده معاف ددی وجي نه په قتل خطا کي دیت شته یا په خطا باندی چه روژه ماته شوه نو د هغي قضاء شته هغه جرم په نشته کومه کفاره چه ده إن الله تجاوز عن أمتي الخطأ او نبي صلى الله عليه وسلم فرمائيو خير الخطائين التوابون

والنسيان نسیان دا ضد د ذکر دي ذکر په ګنړو معانو راځي: یو د ذکر ضد راځي انصات چپ کیناستل یو د ذکر ضد راځي نسیان هغه ذکر چه په معنی ده یاداشت باندی دی نسیان د الله رب العزت معاف کړي دي.

وماستكرهوا عليه او هغه عقیده او عمل د هغي ګناه الله نه ده لری کړي کوم باندی چه دوی زور وکړي شي په طلاق د مُکره کي د امام صاحب رحمه الله او د احنافو مسلک چه کله مونږ خپل مطولاتو کتابونو ته نظر وکړو نو هغه دادي فقهاء وائي: وذا لا يقع

---

۱- مشكاة المصابيح : جلد ۳ صفحه ۳۷۲

الا من ذي سلطان طلاق د مکره دا د ذي سلطان نه واقع کیږي ذي سلطان چه حاکم وی او حاکم چه کله طلاق واقع کوی د فیصلی په صورت گي نو دا به هله واقع کوی چه د چا په لاس کي چه د نکاح عقده دی چه هغه دا وائي چه آو زه د دی ښځي حقوق نه شم اداء کولي که فرض کړه هغه وائي زه اداء کولي شم بیا بادشاه طلاق نه شی واقع کولي او د دی دپاره امام ولي الله دهلوی سر خودلي دي چه د دی سر دادي چه طلاق د مکره دا واقع نه دی د دی سر دادی که چری دا واقع شی نو نکاح خو د معاشری د اصلاح دپاره یوه ذریعه ده نو دا به د معاشری فساد جوړ شی کوم یو سړي دي د بل سړی ښځه به ئي خوخیږي او تویک به پری نیسی چه شابه طلاق غورځوه او هغه به د خپل مرگ د ویری نه طلاق غورځوی.

یو کال کراچۍ کي مونږ وو زمونږ یو دوه دري کسه ملگری وو یو پکی وفات شوي دي او هغه دوه کسان اوس هم ژوندی دی بحث شروع شو په دی باندی چه طلاق د مکره دا مطلقًا واقع دی او که نه ؟ ما ورته وي مطلقًا نه دی واقع په دی باندی بحث شو په دلائلو تری مسئله ما وگټله هغوئ ماته وي چه په دی کي د حضرت شیخ رائي څه ده ما ورته وی اسانه ده په هغي راسره فیصله کوئ؟ وي آو ما حضرت شیخ ته خط ولیکو د هغه د خط هغه جواب اوس هم ماسره پروت دي ماسره یو فائل دی په هغي کي د حضرت شیخ خطونه ما ایخی دی او په هغی کي هغه په تفصیل سره دا خبره لیکلي ده چه طلاق د مکره دا مطلقًا نه دي

واقـع لا يقع الا من ذي سلطان دا حـديث ابـن ماجـه او بيهقـي ذكـر کړي دي.

## دبهز بن حكيم عن أبيه عن جده روايت

وعن بهز بن حكيم عن أبيه عن جده أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول في قوله تعالى كنتم خير أمة أخرجت للناس قال أنتم تتمون سبعين أمة أنتم خيرها وأكرمها على الله تعالى رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي وقال الترمذي : هذا حديث حسن : ([1])

## بحث المبهمات

د دی حدیث په دی سند کي بهز بن حکيم عن ابيه عن جده دا يو صنيع ده دی ته د مبهماتو فن وائي په دي مبهماتو باندی علماء کتابونه ليکلی دی په دی کي د ټولو نه ړومبي کتاب هغه د محمد بن طاهر القيسراني کتاب دي ايضاح الاشکال نري غوټته کتاب دي او هغه اول فلان عن ابيه عن جده او د دی مصداقات هغه خودلي دی بيا جدات اجداد اخوان اخوات دي ته فن د مبهماتو وائي بيا د هغي نه تفصيلي کتاب ابن بشران په دی باندی ليکلي دي په دوه جلده کي دي او د هغي نوم دی الغوامض و المبهما هغه خبره لږ وسيع کړي ده لکه مثلا كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يخطب نبي صلي الله عليه وسلم خطبه ويله فجاء رجل دا رجل څوک دي؟ د دی هغه بيانونه دی کړی دی.

بيا حافظ عراقي په دی فن کي چه څه کتابونه دی ټول ني راجمع

[1]- مشكواة المصابيح : جلد ۳ صفحه ۳۷۲

کړې دی او په درې جلده کې هغه یو کتاب لیکلی دی د هغه د کتاب نوم دی المستفاد من مبهمات المتن و الاسناددا دریواړه کتابونه زما سره شته او په هغې کې هغه په دې باندی بحث کړی دی.

## تزكية النفس كول

څلورمه مرحله کې به د هغې عملی تطبیق کوی دی ته تزکیه وائی تزکیه معنی داده چه څه دی زده کړل چه هغه عملی طور دنیا ته اوښائی او تاسو به یو حدیث مخکې اوریدلی وی د باچا صاحب نه چه بعضې صحابو هغوئ چه کله یو سورت به ئې یاد کړونو ترهغې پورې د هغې نه تیر شوی نه دی تر څو چه ئې هغه عملاً په ځان منطبق کړی نه دی او هغه ئې دنیا ته خودلی نه دی دی ته تزکیه وائی اصحابو د رسول الله صلی الله علیه وسلم چه د نبی صلی الله علیه وسلم نه څه اوریدلی وو هغه ئې د قرآن تشریح اوریدلی وه ځکه الله پاک چه نبی صلی الله علیه وسلم رالیږلی وو نو هغه ته ئې ویلی وو لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ او قاعده داده چه بیان او مبَین دا دواړه د یو بل نه غیر غیر وی مبیَن قرآن دی او مبیِن او بیا حدیث د جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم دی.

د دی وجې نه علماء وائی چه حدیث دا وحی خفی ده او قرآن وحی جلی ده وحی جلی کې لفظ نه شی بدلولی وحی خفی کې دوه قسمه روایتونه دی یو هغه قسم روایتونه چه د هغې لفظ عبادت دی هغه هم نشی بدلولی هغې ته اذکار وائی او د الله په فضل او احسان باندی زمونږ د اشاعت چه څومره ملګری دی که امیان دی که مولیان دی هغوئ ته دا خبری معلومی دی چه اذکار

توقيفي دی توقيفي څه معنی چه لا يجوز تغيرها چه د هغي تغير جائز نه دی.

بل هغه قسم روايتونه چه د هغي لفظ تعبد نه دی معنی ئي تعبد ده عبادت به د هغي په مقصد باندی کوی نو په هغي کي نقل بالمعنی دا د هغه خلقو دپاره جائز دی کوم کسان چه هغوئ د معنی په اداگانو باندی پوهيږي نو که هغه تعبير وکړی په معنی سره نو خير دی تفسير قرطبي د فَبَدَّلَ الَّذِينَ ظَلَمُوا قَوْلًا غَيْرَ الَّذِي قِيلَ لَهُمْ ده لاندی په دی باندی څه تفسير کړي دي او امام ترمذی د هغه کوم کتاب العلل چه دی د ترمذي په آخر کي په هغي کي هغه ليکلي دی چه محدثين قاطبتًا دا وائي چه ما قلنا فيه قال رسول الله صلی الله عليه وسلم فانما هو معنًی دا مونږ روايت بالمعنی کوو نو عام روايتونه بالمعنی دی او په صحابو کي بعضي صحابه داسي وو چه هغوئ په هيڅ قسم روايت کي د روايت بالمعنی نه وو قائل او د نبي صلي الله عليه وسلم د الفاظو قائل وو او هغه خلق مقلين دی او د هغوئ روايتونه هم ډير کم دی.

## د غيرمقلدينو سوال

غيرمقلدين وائي د امام صاحب کتاب راته وخائي هغه کوم کتاب ليکلي مونږ وايو هيڅ کتاب ئي نه دی ليکلي خو چه کتاب ئي نه وی جو دی د غورخيدو قابل وی بنه د ابو بکر صاحب کتاب راته وخايه که تاسو وائي چه د امام صاحب روايتونه کم دی مونږ وايو د ابوبکر روايتونه راته وخائه څو

روایتونه دی د ابو هریره رضي الله عنه روایتونه ډیر دی که د ابو بکر ډیر دی د عبد الله بن عمرو رضي الله عنه روایتونه ډیر دی که د ابوبکر ډیر دی بیا د عمر صاحب روایتونه راته وخائي او د هغوئ کتابونه راته اوخائي دا ټولی خبری چه دی دا یعني بلکل د کم عقلو خلقو خبري دی.

## د بدعتیانو سوال

بعضی خلق وائي جي مونږ ته په قرآن کي دا اوخائي چه پیغمبر صلی الله علیه وسلم په قبر کي په حیات دنیوی سره نه دي ژوندي مونږ وایو دا بعینه داسی خبره ده لکه یو سړي تاته وائي چه ماته په قرآن کي دا وخایه چه مونځ د سحر څلور رکعته دی دوه پکي سنت دی او دوه پکي فرض دی او که قرآن کي ئي نه شي خودی نو زه ئي نه منم.

یا یو سړي تاته وائي چه ماته په قرآن کي دا وخایه چه په روژه کي به فلاني فلاني فلاني کار نه کوي بلکل لکه پرویزیان چه وائي دوی وائي چه مونږ ته دي په قرآن کي وخائې چه مونځ د سحر دومره دی د ماسپخین دومره دي د مازیګر دومره دي د ماښام دومره دي د ماسخوتن دومره دی نو خودلي شي تاسو د قرآن نه؟نو څه معنی دا مونځ به پریدو حلکه

د هر شي او د هر کار دپاره ځائي وی
څوک د غم په ځائي کي نه وائي سندري

د هر شی دپاره خپل خپل دلائل وی مونږ تاسو ته دا خایو چه پیغمبر به مړ کیږي وائي دا راته اوخائي چه پیغمبر ته الله وائي

چه ته مرئي نو چه پیغمبر مړ شو نو وحي ختمه نه شوه مونږ خو د دي قائل یو چه انبیاء ختمیږي او په محمد صلی الله علیه وسلم باندی انبیاء ختم شوی دی دوی خو په نبوت ختم کړي دي دا دوی یو تنظیم دي هغي ته دوی وائي تنظیم ختم نبوت د پیغمبر نبوت ختموی او خپل نبوت جاری ساتی مونږ وایو نه نبوت نه دي ختم انبیاء ختم دی د محمد عربي صلی الله علیه وسلم نه پس انبیاء نه شي راتلي که څوک راځی نو هغه به امتي وی لو کانَ موسیٰ حیًا لما وسعه الا اتباعي که عیسی علیه السلام راځي نو امتي به راځي انبیا ختم شوی دی.

## ذکر د یو او مراد ترینه جنس وی

قرآن عظیم الشان د دی باره کي چه کنتم خیر أمة أخرجت للناس تاسو بهترین د امتونو نه ئي کنتم خیر امة یعنی امة خیر دائي نه دی ویلی چه کنتم خیر الامم ځکه امت په دی مقام کي چه استعمال دي نو دا د دی امت صفت شوي په ډیر غوره والی سره. دا یو کیدي شي کله کله داسي وشی په احادیثو کي راشی ذکر د یو او مراد ترینه جنس وی.

ابن کثیر یو روایت ذکر کړي دي وائي نبي صلي الله علیه وسلم دعا کوله فرفعَ یده نوځهٔ معنی چه په یو لاس باندي ئي دعا کوله د دي ید معنی فرفع یدیه او د دی دلیل څه دی قرآن کي الله وائي یهودوائي یدُ الله مغلولة الله وائي غلت ایدیهم و لعنوا بما قالوا بل یداه مبسوطتانِ د هغي ید نه ئي تعبیر په څه سره وکړو؟ په یدانو سره نو معلومه دا شوه چه ید دا په معنی د یدین باندی دی اوس

داسي خلق پيدا شوي دي چه هغوئ وائي چه مصافحه دا په يو لاس سره ده.

زمونږ د شيخ يو پخواني ملګري وو شاګرد وو بيا په څه زمانه کي د شيخ په اشدو مخالفينو کي شو اوس ئي ځانله يو تنظيم جوړ کړی دي تنظيم نفاذ شريعت ورته وائي او د مولانوم دي صوفي محمد مولوی صاحب هغه اوس دی جيل کي ورته څه نوی وحي شوی ده مونږ هغه ورخ ورغلی وو چه څوک به ورغی نو يو لاس به ئي ورته نيغ کړو زه چه ورغلم ما داسي راګير کړو سمه معانقه مي ورسره وکړه بيا مي ورته وی مولوی صاحب قرآن کي چه الله پاک وائي يد الله فوق ايديهم نو دا پی الله يو لاس ايخی وی که دوانړه لاسونه ايخی دی او نبي صلي الله عليه وسلم چه وائي کلتا يديه يمين د الله پاک دوانړه لاسونه يمين دی نو دا يمين د يو لاس صفت دي که دا دوانړه دي او الله پاک چه د يهودو نه نقل کوی چه يد الله مغلولة او الله وائي غلت ايديهم و لعنوا بما قالوا بل يداه مبسوطتان نو دا بسط اليدين د يو يد صفت دي که د يدينو صفت دي نو داسي مي راګير کړو کڼ ملګری ناست وونو د هغه سره چه جواب ورک شو نو ماته وائي زه تا نشم پړ کولي او ته ما نشي پړ کولي ما وی خدائ شته چه زه دی پړ کومه خو ته خبري ته غوږ کيږده نو ويل ئي زه په دی کي بلکل بحث نه کوم نو د جيب نه ئي يو کاغذ راويستو او په ګس لاس ئي ماله راکړو ماته وائي دا اوګوره ما وی دا پريده په هغی کي څه مختلف خبري ليکلي وي نو خير امة معنی په ټولو امتونو کي بهتر.

کله کله لفظ یو ذکر شي مراد تري جنس وی لکه د غنم یوې دانی ته هم غنم وائي او خروار ته هم غنم.

## تشریح الحدیث

بهز بن حکیم روایت کوی د خپل نیکه نه چه هغه د نبي صلي الله علیه وسلم نه اوریدلی وو

وعن بهز بن حكيم عن أبيه عن جده أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول في قوله تعالى كنتم خير أمة أخرجت للناس قال أنتم تتمون سبعين أمة أنتم خيرها وأكرمها على الله تعالى رواه الترمذي وابن ماجه والدارمي وقال الترمذي : هذا حديث حسن : ([1])

في قوله تعالى معنـــى في تشريح قوله تعالى: كنتم خيرَ امةٍ اخرجت للناس تاسو یو بهترین امت ئي او د دنیا دپاره ستاسو انتخاب شوي دي معنی داده: چه د الله په علم کي په لوح محفوظ کي تاسو بهترین امت لیکلي شوی ئي او د خیر هغه وجوه چه دی په هغي باندی تاسو د نورو خلقو نه ممتاز ئي نووی فرمائیل: قال أنتم تتمون سبعين أمة تاسو به اویا ډلی پوره کوي دا دی معنی داده چه قاعده داده چه اعداد په لسو باندی ختمیږي او زمانه په اوو ۷ باندی ختمیږي اوو له چه په لسو کي ضرب ورکړي شي نو سبعين یعني غیر متناهي ډلی دا به په تاسو باندی الله ختموی أنتم خيرها وأكرمها على الله تعالى او تاسو په دی ټولو کي بهترئي او د الله په نزد باندی تاسو په ټولو کي زیات عزتمندئي خو ګوری: دا یاد وساتئ: دا خیریت دا صرف په نسبت باندی نه دی دا د نسبت

---

[1]- مشکواة المصابیح : جلد ٣ صفحه ٣٧٢

په مصداق باندې دی کي قرآن کي تاسو ته دا تير شوی دی.

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَالَّذِينَ هَادُوا وَالنَّصَارَىٰ وَالصَّابِئِينَ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَعَمِلَ صَالِحًا فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِنْدَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ : (۱)

په تش يهوديت نوم باندی په تش نصرانيت نوم باندی په تش صابئيت نوم باندی په تش مومن نوم باندی کار نه کېږي چا چه په حقيقي معانو کي د ايمان بالله او ايمان باليوم الآخر او ايمان بالانبياء ځان مصداق وګرځو نو دغه خلق غوره دی.

شيخ عبد القادر جيلاني رحمه الله يو پيره تقرير کوه خپلو ملګرو ته ئي وې.

قولک انا من امته لا ينفعک لا ينفعک توحيد اللسان مع شرک القلب

که ته وائي چه زه د پيغمبر امتي يم دا نسبت تاله فائده نه درکوی د قلب او د قالب دوانړو توحيد چه درپکي نه وو نو دا تاله فائده نه درکوی او هر هغه سړی چه په يو لاس کي قرآن او بل لاس کي سنت وانه خستو نو دا سړی هلاک دي تباه دي برباد دي نو ګنړی ډلی به په تاسو باندی پوره شی او په هغه ټولو کي تاسو غوره ئي او د الله په نزد باندی تاسو عزتمند ئي.

دا عزت دا به هله مونږ ته حاصليږي چه زمونږ نبي صلی الله عليه وسلم چه مونږ ته څه وئيلی دی چه هغه مونږ عملي دنيا ته وخايو د کومو خبرو نه چه ئي منع کړی يو چه مونږ عملا دنيا ته د هغي منع وخايو او تش په نوم باندی هيڅ نه کيږي دا حديث ترمذي

---

۱- سورة بقره (۶۲)

ابن ماجه او دارمي ذکر کړي دي.

دا دری حدیثه وو باچا صیب پاتی کړی وو او د خیل وس مطابق ما تاسو ته د حدیثو په تاریخ باندی یو نظر وغورځو نري غونته نظر د حدیثو په فنونو باندی او د حدیثو نه چه کومی خبری مستنبط کیږي تقریبًا جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسلام د احکامو او د اسلام د کتاب چه کومه تشریح کړی ده دغي ته حدیث وائي هغه نبي صلي الله علیه وسلم عملا کړی ده او که قولا کړی ده الله تبارک و تعالی دی مونږ او تاسو ټول په دی باندی پوهه کړی او الله تبارک و تعالی دی مونږ له د عمل کولو توفیق راکړی.

و آخرُ دعوانا ان الحمدُ لله رب العالمین.

## موضوع

## د ټنګ ټکور نقصانات

## بسم الله الرحمن الرحيم

## خطبه

الحمدلله رب العالمين والعاقبة للمتقين ولا عدوان إلا على الظالمين ونسأله أن يرينا الحق حقا فنتبعه والباطل باطلا فنجتنبه وقدكان الناس فيما مضى يستتر أحدهم بالمعصية إذا واقعها ثم يستغفر الله ويتوب إليه منها ثم كثر الجهل وقل العلم وتناقص الأمر حتى صار أحدهم يأتي المعصية جهارا ثم ازداد الأمر إدبارا حتى بلغنا أن طائفة من إخواننا المسلمين وفقنا الله وإياهم استزلهم الشيطان واستغوى عقولهم في حب الأغاني والله وسماع الطقطقة والنقير واعتقدته من الدين الذي يقربهم إلى الله وجاهرت به جماعة المسلمين وشاقت سبيل المؤمنين وخالفت الفقهاء والعلماء وحملة الدين وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا فرأيت أن أوضح الحق واكشف عن شبه أهل الباطل بالحجج التي تضمنها كتاب الله وسنة رسوله صلى الله عليه وسلم

### څوک د شیطان ښکار دي؟

دا کومه خطبه چه ما ستاسو مخکې اوویله دا د مشهور امام ده بدعاتوده د شمن امام ابوبکر طرطوشي رحمه الله ده هغه یو کتاب دي « في تحريم السماع » ده ټنګ ټکور ده اوریدوپه باره کې دا ده هغه خطبه ده په دي خطبه کې هغه وائي چه بعضې خلق نوم ده اسلام اخلي شیطان دهوکه کړي دي او ټنګ ټکور ، خوئي په خپلو

ديني امورو کې د هغه امر د پاره يو خائست ګرځولي دي .
د دې فرق واضح کول پکار دي او دا خبره خو دل پکار دي چه شيطان دا زمونږ دشمن دي ده شيطان کيد او د هغه صيد د هغه فريب او د هغه ښکار هغه کسان دي چه د هغوئې په علم کې څه برخه نشته عقل ئې نشته دين ئې نشته او ده شيطان ښکار دا ده جاهل او دباطل پرست سړي زړه دي نو شيطان هغه خلق ښکار کوي چه هغه بې عقله او بې دينه وي هغه زړونه ښکار کوي چه هغه د جهل او ده بطلان نه ډک دي نو دا ښکار کوي په ټنګ ټکور اوريدو باندې دا رنګې په سندرو باندې هغه ټنګ ټکور او هغه سندري چه هغه ده خلقو زړونه ده قرآن نه اړوي او خلق په فسق او په فجور باندې راجمع کوي اصل کې يو د الله قران دي اويو د شيطان قران دي نو د الله قران هغه خو تاسو پيژنئ ده « الم » نه شروع دي او په « والناس » باندې ختم دي او ده شيطان قرآن هغه دا ټنګ ټکور دي په دې ټنګ ټکور باندې دا يو غټ حجاب دي چه سړي د رحمان نه د الله رب العزت نه يو طرف ته کوي دا رنګې د لواطت او ده زنا د پاره دا ټنګ ټکور يو قسم دم دي .

## اشعار في ذم الغناء

شيطان هغه دا غواړي چه مسلمانان تباه و برباد کې يو شاعر هغه دې باره کې وائي :

برئنا إلى الله من معشر بهم مرض من سماع الغنا

د هغه خلقو نه زمونږ د الله د پاره بائيکاټ دي چه په چا باندې ټنګ ټکور د اوريدو مرض لګيدلي دي .

وكم قلت : يا قوم أنتم على شفا جرف ما به من بنا

ډير خله ورته ما اووي چه اي قومه تاسو په داسې کنده باندې ولاړ ئې چه هغه شګوګل دي په هغې باندې آبادي نشته خکته غورځيګئ.

شفا جرف تحته هوة　　　　إلى درك كم به من عنا

او دا داسې شګوګله ده چه د دې لاندي ده جهنم يو کوهي دي او ډير خلق سترې شويدي او دغه کوهي ته رسيدلي دي.

وتكرار ذا النصح منا لهم　　　　لنعذر فيهم إلى ربنا

دا نصيحت مونږ دوي ته بار بار کوو دې د پاره چه مونږ خپل رب ته خپله بهانه پيش کړو.

فلما استهانوا بتنبيهنا　　　　رجعنا إلى الله في أمرنا

کله چه زمونږ دا تنبيهات دا ويناګانې دوي ته خي ښکاره نه شوي نو مونږ الله ته رجوع اوکړه چه الله ته ئي غرق کړي.

فعشنا على سنة المصطفى　　　　وماتوا على تنتنا تنتنا

زمونږ ژوند دا ده پيغمبر په سنتو باندې تير شو او د دوي ژوند دا په تڼګ تکور باندې تير شو.

### دامام مالک رحمه الله وينا د ډمتوب په باره کې

ده امام مالک رحمه الله د هغه قول دي

وسئل مالك عما ترخص فيه أهل المدينة من الغناء فقال إنما يفعله عندنا الفساق : (۱)

ده هغه نه چا تپوس اوکو چه بعضې خلق هغوئې وائي تڼګ تکور دا جائز دي او ښادي دا په تڼګ تکور باندې خائسته ښکاري دي باره

---

۱- شرح القصيدة الـ　جلد ۲ صفحه ۵۲۳

کې ستا څه خيال دي؟ نوامام مالک رحمه الله اوفرمائيل . دا د فاسقانو او د فاجرانو کار دي.

## امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله وينا

د امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله مذهب دا دي قال وأما أبو حنيفة فإنه يكره الغناء ويجعله من الذنوب: (١)

چه ټنګ ټکور دا مکروه تحريمي دي او يو عظيم جرم دي.

وكذلك مذهب أهل الكوفة سفيان وحماد وابراهيم والشعبي وغيرهم لا اختلاف بينهم في ذلك ولا نعلم خلافا أيضا بين أهل البصرة في المنع منه : (٢)

ده سفيان رحمه الله د حماد رحمه الله او د ابراهيم نخعي رحمه الله او د شعبي رحمه الله دا ده هغوئې هم مذهب دي.او په دي کې اختلاف نشته.

قال الناظم رحمه الله تعالى مذهب أبي حنيفة في ذلك من أشد المذاهب وقوله فيه أغلظ الأقوال وقد صرح أصحابه بتحريم سماع الملاهي كلها كالمزمار والدف حتى والضرب بالقضيب وصرحوا بأنه معصية يوجب الفسق وترد به الشهادة وأبلغ من ذلك قالوا إن السماع فسق والتلذذ به كفر هذا لفظهم ورووا في ذلك حديثا لا يصح رفعه قالوا ويجب عليه أن يجتهد في أن لا يسمعه إذا مر به أو كان في جواره : (٣)

ده امام صاحب رحمه الله مذهب هغه په ټولو مذهبونو کې په دي کې سخت دي امام صاحب رحمه الله مونږ چه دچاپه مذهب باندې يواو ده هغه ملګري هغوئې ټول په دي باندې قائل دي چه رباب

---

١- شرح القصيدة النونية : جلد ٢ صفحه ٥٢٣

٢- شرح القصيدة النونية : جلد ٢ صفحه ٥٢٣

٣- شرح القصيدة النونية : جلد ٢ صفحه ٥٢٣

ستار ډمامې دا ټول حرام دي او دا معصيت دي او کوم سړي چه ډمامي وهي او هغې ته کيني او کوم سړي چه رباب وهي او هغې ته کيني او کوم سړي چه دوړيږئ وهي او هغې ته کيني نو دا سړي فاسق دي او دي مردود الشهادت دي په اسلام کې دده شهادت منظورنه دي او د دې نه غټه خبره هغوئې دا کړي ده چه إن السماع فسق والتلذذ به كفر ټنګ ټکور اوريدل دا فسق دي او په دې باندې خوند اغستل کفر دي.

## د ډمتوب اوريدو حکم

ده احنافو مذهب دا دي چه يو سړي په يوه لار باندې تيريګي او هلته ټنګ ټکور شروع وي نو په دې سړي باندې دا واجب دي چه دي به دا کوشش کوي چه دي دغه وانوري په غوګونو کې به ګوتي ګدي په هغه ځائي باندې به په منډه تيريګي دا په ده باندې واجب دي.

دارنګې امام شافعي رحمه الله ليکلي دي.

وأما الشافعي فقال في كتاب أدب القضاء إن الغناء لهو مكروه يشبه الباطل والمحال ومن استكثر منه فهو سفيه ترد شهادته وصرح أصحابه العارفون بمذهبه بتحريمه وأنكروا على من نسب اليه حله كالقاضي أبي الطيب الطبري والشيخ أبي اسحاق وابن الصباغ قال الشيخ ابو اسحاق في التنبيه ولا يصح يعني الاجارة على منفعة محرمة كالغناء والزمر وحمل الخمر ولم يذكر فيه خلافا وقال في المهذب ولا يجوز على المنافع المحرمة لأنه محرم فلا يجوز أخذ العوض عنه كالميته والدم فقد تضمن كلامه أمورا أحدها أن منفعة الغناء بمجرده منفعة محرمة الثاني أن

الاستئجار عليها باطل : (۱)

چه ټنګ ټکور اوريدل دا باطل اوفاسق شي دي او څوک چه ټنګ ټکور اوري نو دي بي وقوف دي د ده ګواهي نه ده منظوره .

## ټنګ ټکور باندي اجرت اغستل حرام دي

شيخ ابواسحاق اسفرائني کتاب دي « التنبيه » هغه لیکلي دي. چه په ټنګ ټکور باندي اجرت اغستل حرام دي او دا داسي دي لکه سړي چه شراب خرڅ کړي او پيسي پرې واخلي په دي باندي ډوډۍ خوراک حرام دي اودا داسي دي لکه يو سړي چه مرداره اوخوري . د حضرت ابوامامه رضي الله عنه نه يو روايت پيښ کوي نبي صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل.

عن أبي أمامة عن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال لا تبيعوا القينات ولا تشتروهن ولا تعلموهن ولا خير في تجارتهن وثمنهن حرام في مثل ذلك أنزلت عليه هذه الآية ومن الناس من يشتري لهو الحديث ليضل عن سبيل الله إلى آخر الآية : (۲)

ډمي ډمګي دا په پيسو نه راولي اخلي به ئي نه هغو ته به ده ډمتوب طريقي نه خائي او هغوئې چه کومي پيسي اخلي دا پسې حرامي دي.

## ډمتوب د شرابيا نو نخه ده

امام نووي رحمه الله د هغه يو کتاب دي « روضه » هغې کي هغه ليکلي دي.

---

۱- شرح القصيدة النونية : جلد ۲ صفحه ۵۲۳ : الاسباب الحقيقيه لحرق الحياء : جلد ۱ صفحه ۱۸۶

۲- سنن الترمذى : جلد ۳ صفحه ۵۷۹ باب ما جاء في كراهية بيع المغنيات

ومنها أن لا يكون هناك منكر كشرب الخمر والملاهي : (١)

هو أخف آلات اللهو حراما فكيف بما هو اشد منه كالعود والطنبور والبراع ولا ينبغي لمن شم رائحة العلم أن يتوقف في تحريم ذلك فأقل ما فيه أنه من شعار الفساق وشاربي الخمر : (٢)

چه ټنګ ټکور ربابونه وهل دوېړې او باجي وهل ده هغې سره سندري وئيل دا ده شرابيانو نخه ده.

دي امام شافعي رحمه الله وائي.

وقد تواتر عن الشافعي رحمه الله أنه قال خلفت ببغداد شيئا أحدثه الزنادقة يسمونه التغبير يصدون به الناس عن القرآن فإذا كان هذا قوله في التغبير وتعليله أنه يصد عن القرآن : (٣)

په بغداد کې ځه خلق پيداشوي وو زنديقان وواو هغوئې رباب په کړي وو او خلق به ئي پري ده قرآن نه اړول.

## امام احمد بن حنبل رحمه الله وينا

وأما مذهب الامام احمد فقال عبدالله ابنه سألت أبي عن الغناء فقال الغناء ينبت النفاق في القلب لا يعجبني ثم يذكر قول مالك إنما يفعله عندنا الفساق : (٤)

امام احمد بن حنبل رحمه الله د هغه ځوئي عبدالله وائي ما د خپل پلار نه تپوس اوکو چه ټنګ ټکور د؟ اوريدو ځومره ګناه ده؟ نو هغه راته اوفرمائيل چه ټنګ ټکور دا په زړه کې نفاق پيدا

---

١- روضة الطالبين وعمدة المفتين للنووي : جلد ٧ صفحه ٣٣٤

٢- شرح القصيدة النونية : جلد ٢ صفحه ٥٢٤

٣- شرح القصيدة النونية : جلد ٢ صفحه ٥٢٤

٤- شرح القصيدة النونية : جلد ٢ صفحه ٥٢٣ : الاسباب الحقيقيه لحرق الحياء : جلد ١ صفحه ١٨٩

او دا زما بالکل بدي شي او بيا ئي اوفرمائيل چه امام مالک رحمه الله وائي چه. إنما يفعله عندنا الفساق . دا د الله د دشمنانو طريقه ده.

## د پردو ښځو آوازونه اوریدل

وأما سماعه من المرأة الأجنبية أو الأمرد فمن أعظم المحرمات وأشدها فسادا للدين : (۱)

دارنګي د پردو ښځو آوازونه اوریدل یا ده داسې هلک سندري اوریدل چه دهغه ګیره نه وي راغلي دا په حراموکې دتولونه لوئي حرام دي او دین په دي باندې فاسدیږي. د ښځو آوازونه ئي چه واوریده نو دي باره کې د نبي صلي الله علیه وسلم حدیث دي.

وروى عبد الله بن المبارك عن مالك بن أنس عن محمد بن المنكدر عن انس بن مالك قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من جلس إلى قينة يسمع منها صب في أذنيه الآنك يوم القيامة : (۲)

چا چه دمګي ته غوږ کیخودو که هغه په کیسټ کې وه که په ټیپ کې وه که په حجره کې وه نو الله رب العزت به ده قیامت په ورځ د ده غوږ کې هغه سره کړي قلاعي اړوي.

## د دیوث باره کې د امام شافعي رحمه الله قول

امام شافعي رحمه الله وائي.

قال الشافعي رحمه الله: وصاحب الجارية إذا جمع الناس لسماعها فهو سفيه ترد شهادته وأغلظ القول فيه وقال هو دياثة فمن فعل ذلك كان ديوثا : (۳)

---

۱- الاسباب الحقیقیه لحرق الحیاء : جلد ۱ صفحه ۱۸۹

۲- احکام القران لابن العربي : جلد ٦ صفحه ۲۸۱ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ

۳- الاسباب الحقیقیه لحرق الحیاء : جلد ۱ صفحه ۱۹۰

چه کله د يو ډمکې او د هغي پلار وو يا ئي وررور وو يا هسي ده هغي يو مالک وو او خلق ئي راجمع کړل او هغه ورته ګډيده او سندري ئي وئيلي نو دا سړي بي وقوف دي د ده شهادت نه دي منظور او اوفرمائيل هو دياثة فمن فعل ذلك كان ديوثا دا دياثت دي او دا کار چه چا اوکو دا ديوث دي دياثت او ديوث لکه پښتو کې مونږه وائو چه داسړي دووس دي دا دووث ده عربي ټکې دي دا اصل کې ديوث دي د دي معني داده چه يو سړي خپله ښځه چلوئي او پيسې پړي اخلي نو کوم سړي چه ټنګ ټکور اوري او ټنګ ټکور ته کيني دا دووث دي او دا د امام شافعي رحمه الله قول دي.

وقدتواترعن الشافعي أنه قال خلفت ببغداد شيئا أحدثته الزنادقة يسمونه التغبير يصدون به الناس عن القرآن فإذاكان هذا قوله في التغبير وتعليله أنه يصد عن القرآن وهو شعر يزهد في الدنيا يغني به مغن فيضرب بعض الحاضرين بقضيب على نطع أو مخدة على توقيع غنائه فليت شعري ما يقول في سماع التغبيرعنده كتفلة في بحرقداشتمل على كل مفسدة وجمع كل محرم فالله بين دينه وبين كل متعلم مفتون وعابد جاهل : (۱)

دارنګي امام شافعي رحمه الله هغه به «تغبير ته حرام وی» تغبير دي ته وائي چه يو سړي سره لاس کې لخته ئي او په هغې باندې ډول غګې دارنګې ستار او رباب دا ټول حرام دي او د دي اوريدنکې فاسق دي.

## د ټنګ ټکور نومونه

قران کريم کې او په احاديثو کې د دې شيطاني آوريدلو او د دې ټنګ ټکور ګڼر نومونه دي قران دي ته لهوا وائي.

۱- الاسباب الحقيقيه لحرق الحياء : جلد ۱ صفحه ۱۸۹ : شرح القصيدة النونية : جلد ۲ صفحه ۵۲٤

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ بعضې خلق دي چه هغوئې لهو الحديث خوخې. لهوالحديث تنګ تکورته وائي اوالله وائي ددې عاقبت او انجام دا دي چه دا سړي ده الله د دين نه خطا شي.

(۱)اول نوم ئي دي لهوالحديث (۲) دويم نوم ئي دې لغوا(۳) دريم نوم ئي دي باطل (٤)څلورم نوم ئي دروغ (٥) پنځم نوم ئي مكاء الشيطان د شيطان شپيلې (٦) شپږم نوم دي التصديه (۷) اووم ئي نوم دي رقية الزنا د زنا دم (۸) اتم نوم ئي دي ده شيطان قرآن (۹) نهم نوم ئي دي منبت النفاق في ا لقلب په زړه كې دا نفاق راټوكې(۱۰) نوم ئي دي مرموض الشيطان دا د دې لس نومونه دي

## د لهوالحديث تشريح

اول نوم ده دي لهوا دي. د دي باره كي الله فرمائي.

وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَيَتَّخِذَهَا هُزُوًا أُولَئِكَ لَهُمْ عَذَابٌ مُهِينٌ * وَإِذَا تُتْلَى عَلَيْهِ آيَاتُنَا وَلَّى مُسْتَكْبِرًا كَأَنْ لَمْ يَسْمَعْهَا كَأَنَّ فِي أُذُنَيْهِ وَقْرًا فَبَشِّرْهُ بِعَذَابٍ أَلِيمٍ : (۱)

بعضې خلق دي چه هغوئې په پيسو باندې تنګ تکور راولي خو عاقبت ئي داشي چه دي د الله د دين بغير د دليل نه خطا شي اودي ده الله ددين نه توقي جوړي كې دغه كسان د دوي د پاره ذليله كونكې عذاب دي.

دده نخه دا ده چه كله ده ته زما ايتونه لوستلي كيږي نو دي په شا باندې تختي ته به وائي چه دا ئي نه دي اوريدلي ته به وائي چه دده په غوګونو كې دروندوالي دي نوده ته ده دردناک عذاب زيري ورکه.

---

۱- سورة لقمان(٦-۷)

هغه ورځي زمونږ په دي کلي کې ده يو بدبخته سړي ده بدبخته ځامنو وادونه وو او دغه بدبخته که خدائي ئي ده دي نه نور هم زيات بدبخته کې هغه ټنګ ټکور راوستي وو او ده جماعت ديوال ورته خلق ناست وو.

د دي نه مخکې زمونږ ده قرآن درس وو نو يو به خط راليکو چه دا شپه ده او مونګ سترې شوي يو او دا قرآن بس کئ خو يو بي ايمانه داسې نه وو چه هغه ته ئي ويلي وي چه دا ټنګ ټکور تا شروع کړي دي او تا ورته لاوډ سپيکر ايخودي دي دا دي ولي ايخودي دي.

بيا لکه ده سپو سحر راغله او هغه مرداري روټۍ ته کيناستل په هغې باندې ئي بسم الله اووئيله او هغه ئي اوخوړله دا خلق ده الله رب العزت ده عذاب مستحق دي.؟

ګڼر مفسرين وائي چه مراد د لهو الحديث نه ټنګ ټکور دي.

عن ابن عباس قال نزلت هذه الآية في الغناء وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَن سَبِيلِ اللهِ قال: هو الغناء.

قال الواحدي وغيره أكثر المفسرين على أن المراد بلهو الحديث الغناء قاله ابن عباس في رواية سعيد بن جبير ومقسم عنه وقاله عبد الله بن مسعود في رواية أبي الصهباء عنه وهو قول مجاهد وعكرم : ([1])

بعضي کسان دي چه ټنګ ټکور په بيعه راولي په پيسو ئي اخلي دا قول د حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنهما او ده سعيد بن جبير رضي الله عنه او د عبدالله بن مسعود رضي الله او د مجاهد رحمه الله او د عکرمه رضي الله عنه قول دي.

---

[1]- مجموع فتاوى ابن باز: جلد ۳ صفحه ٤٠١ الأدلة من الكتاب والسنة تحرم الأغاني

ثوير بن ابي فاخته دخپل پلار نه روايت كوي دا د ابن عباس شاګرد دي.

وروى ثوير بن أبي فاختة عن أبيه عن ابن عباس في قوله تعالى وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ قال : هو الرجل يشتري الجارية تغنيه ليلا ونهارا: (١)

هغه وائي ابن عباس رضي الله به د دي ايات ترجمه كوله وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ : (٢) بعضي خلق دي چه هغوئې په پيسو باندې تنګ تکور اخلي نو ابن عباس ررضي الله عنه وائي :

هو الرجل يشتري الجارية تغنيه ليلا ونهارا : (٣)

د دي ګنړ صورتونه ئي اوخودل يو دا هغه سړي ته هم وائي چه دي ځان له وينځه واخلي او سحر او ماخام هغه ده ته سندري وائي يا ډمې راولي يا ډمان راولي او هغه سندري وائي او تنګ تکور غګوي.

دارنګې ابي نجيح رحمه الله د مجاهد رحمه الله نه روايت كوي.

قال ابن أبي نجيح عن مجاهدهو اشتراء المغني والمغنية بالمال الكثير والاستماع إليه وإلى مثله من الباطل وهذا قول مكحول وهذا اختيار أبي إسحاق أيضا: (٤)

چه لهوالحديث څه ته وائي چه الله وائي بعضي خلق لهوالحديث په پيسو باندې اخلي نو اوفرمائيل ئي چه يو سړي ډير مال ورکې

---

١- مجموع فتاوى ابن باز :جلد ٣ صفحه ٤٠٤ الأدلة من الكتاب والسنة تحرم الأغاني

٢- سورة لقمان (٦)

٣- مجموع فتاوى ابن باز :جلد ٣ صفحه ٤٠٤ الأدلة من الكتاب والسنة تحرم الأغاني

٤- مجموع فتاوى ابن باز :جلد ٣ صفحه ٤٠٤ الأدلة من الكتاب والسنة تحرم الأغاني

او ډمان او ډماني راولي او دهغوئې آوازونه اوري.
په يوه شپه باندې ده نه ۵۰ هزار روپۍ دا ډمانو ورې دا په ځه
خوشحالي کې که دغه بي ايمانه ته چا اووي چه تا دا مال په څه
طريقه باندې گټلي وو. ته څوک وي ولي دي دومره پيسې دا ده
شيطان په لاره کې اولگولي نو ده د سره هيڅ جواب نشته.
نو الله رب العزت داسې خلقو په باره کې فرمائي:
وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ لِيُضِلَّ عَنْ سَبِيلِ اللَّهِ
بعضې خلق دي چه هغه ډمان او ډمانې دا په پيسو باندې راولي او
ده هغې عاقبت داشي چه دي ده الله ده دين نه خطا شي.

## د ډمتوب باره کې وعيد

واحدي رحمه الله په خپل تفسير کې ليکلي دي.
قال الواحدي وهذه الآية على هذا التفسير تدل على تحريم الغناء: (1)
چه دا ايات د دې تفسير مطابق په حرمت د غنا ټنگ ټکور په
حراموالي باندې دا دلالت کوي.
امام شافعي رحمه الله وائي چه چا په حجره کې ټنگ ټکور اوکو
نو دا سړي مردود الشهادت دي.
د ښځو آوازونه ئي چه واوريده نو دې باره کې د نبي صلي الله
عليه وسلم حديث دي.
عن أنس بن مالك قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من جلس
إلى قينة يسمع منها صب في أذنيه الآنك يوم القيامة: (2)

---

1- مجموع فتاوی ابن باز: جلد ۲۱ صفحه ۱۲۲ شبهة يجب أن تكشف
2- احكام القران لابن العربي: جلد ٦ صفحه ۲۸۱ وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ

چاچه ډمګۍ ته غوږ کیخودو که هغه په کیسټ کې وه که په ټیپ کې وه که په حجره کې وه نو الله رب العزت به ده قیامت په ورځ د ده غوږ کې هغه سره کړي قلاثي اروي.

امام احمد بن حنبل په خپل مسند کې حمیدي په خپل مسند کې امام ترمذي په خپل جامع کې د حضرت ابوامامه رضي الله عنه نه یو روایت پیش کوي.

عن أبي أمامة عن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال لا تبيعوا القينات ولا تشتروهن ولا تعلموهن ولا خير في تجارتهن وثمنهن حرام في مثل ذلك أنزلت عليه هذه الآية ومن الناس من يشتري لهو الحديث ليضل عن سبيل الله إلى آخر الآية : (۱)

نبي صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل ډمي ډمګي دابه په پیسو نه راولي او نه به ئي پیسواخلي به ئي نه به هغوئي ته ده ډمتوب طریقي خائي او هغوئې چه کومي پیسې اخلي دا پسې حرامي دي.

قال أبو الصهباء سألت ابن مسعود عن قوله تعالى وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَالْحَدِيثِ فقال والله الذي لاإله غيره هو الغناءيرددها ثلاث مرات : (۲)

ابو الصهباء وائي ما د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه نه تپوس اوکو وَمِنَ النَّاسِ مَن يَشْتَرِي لَهْوَ الْحَدِيثِ چه بعضې خلق دي چه هغوئې لهو الحدیث په پیسو باندې اخلي د دي آیت معني څه ده ؟ نو ابن مسعود رضي الله عنه اوفرمائیل. والله الذي لا إله غيره هو الغناء والله الذي لا إله غيره هو الغناء والله الذي لا إله غيره هو الغناء

۱- سنن الترمذي : جلد ۳ صفحه ۵۷۹ باب ما جاء في كراهية بيع المغنيات

۲- مجموع فتاوى ابن باز : جلد ۲۱ صفحه ۱۲۳ شبهة يجب أن تكشف

درې ځله ئي اووي زما دې په هغه الله باندې قسم وي چه د هغه نه بغير بل مددګار نشته چه د دې نه مراد ټنګ ټکور دي.

## د لا يشهدون الزور وضاحت

دويم نوم لغو او زور قران کې الله فرمائيلی دی چه ده مؤمن صفت دا دي.

وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ مؤمن هغه دي چه ده ټنګ ټکور مجلس له نه ځي نو چه څوک لاړو ده الله ده کتاب مطابق ده هغه ايمان خطا دي بې ايمانه سړي هغه دي چه هغه ټنک ټکور له ځي او مؤمن سړي هغه دي چه دي ټنګ ټکور له نه ځي.

محمدابن حنفيه دحضرت علي رضي الله عنه ځوئي وائي.وعن ابن الحنفية اللهو والغناء چه ده زور نه مراد دلته ټنګ ټکور دي.

ليث بن سعد رحمه الله ده مجاهد رحمه الله نه روايت کوي چه د زور نه مراد ټنګ ټکور دي.

لغو دا په عربی ژبه کې هر هغه شي ته وئيلي شي چه هغه غوږزولي ګيګي معني داده چه دمؤمن نخه دا ده چه لايحضرون مجالس الباطل ده باطل مجلس ته به دي نه ځي.

زجاج رحمه لله يومشهور عالم تير شوي دي هغه وائي. لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ معني دا ده لا يجالسون اهل المعاصي ولايمالئون عليها بالدخول فيه : (١)

چه ده ګناه کونکي سړي سره به دي نه کيني نه به د هغوئې سره نرمي کې چه د هغوئې سنګي له لاړ شي.

---

١- اغاثة اللهفان من مصائد الشيطان : جلد١ صفحه ٢٤٢

## د حضرت عبدالله بن مسعور رضي الله عنه واقعه

حديث کې رازي.

عن إبراهيم بن ميسرة قال مر ابن مسعود بلهو مسرعا فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم إن أصبح ابن مسعود لكريما : (۱)

چه حضرت عبدالله بن مسعور رضي الله عنه يوه پيره په لاره تيريدو نو ټنګ ټکور وهلي کيدو نو هغه تري مخ واړو او په غوګونو کې ئي ګوتي کيخودي نو نبي صلي الله عليه وسلم ته چا اووي نو نبي صلي الله عليه وسلم اوفرمائيل يقيننا ابن مسعود دا ډيرعزتمند سړي دي. الله فرمائي. لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ دا نه وائي چه لَا يَشْهَدُونَ بالزُّورَځکه يشهدون دا په معني د حضور باندې ذي معني په ده ګواهي نه دي دا نه وائي چه دي به ده د دروغو ګواهي نه کې لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ معني دا ده چه دي به ده دروغو مجلس ته نه حاضريګي.

## د ټنګ ټکور نه خوند اغستل کفر دي

الله ده مسلمان صفت په دي باندې اوکو چه ده ټنګ ټکور مجلس وي نو دي به ورته نه حاضريګي او چه دي بيا په هغې باندې خوند واخلي او د هغوئي سره دي چغه هم اوباسي نو ده امام صاحب رحمه الله مذهب دادي چه دا سړي کافر شو.دلته يو سړي مصرع وکړي او دي ورته وائي آوکنه او چغه ورسره اوباسي نو دا سړي کافر شو.

---

۱- تفسير طبري : جلد ۱۷ صفحه ۵۲۶

## وضاحت د باطل او د باطل اقسام

درنم نوم د دي باطل دي قرآن کې الله فرمائي :

جَاءَ الْحَقُّ وَزَهَقَ الْبَاطِلُ : (۱)حق راغي باطل لاړشه.

باطل ده قسمه ځيزونه دي يو هغه چه وجود ئي نه وي هغې ته باطل وائي لکه د الله د شريک د هغه وجود نشته د الله شريک دا باطل دي كل اله سوي الله باطل.

يو ديته وائي چه وجود ئي وي خو هيڅ فائده پکې نه وي كفر فسق عصيان جادو غناء تنګ ټکور اوريدل دا هغه باطل دي چه وجود ئي شته او فائده پکې نشته.

عن كثير بن زيد أنه سمع عبيد الله بن عبد الله بن عمر يقول للقاسم بن محمد كيف ترى في الغناء فقال القاسم هو باطل قال قد عرفت أنه باطل فكيف ترى فيه قال القاسم أرأيت الباطل أين هو قال في النار قال فهو ذاك : (۲)

وأخرج ابن أبي الدنيا والبيهقي عن الشعبي عن القاسم بن محمد رضي الله عنه أنه سئل عن الغناء فقال أنهاك عنه وأكرهه لك قال السائل احرام هو قال انظر يا ابن أخي اذا ميز الله الحق من الباطل في أيهما يجعل الغناء : (۳)

قاسم بن محمد دا دمديني په فقهاء کې فقيه وو دده شاګرد عبيد الله دده نه تپوس کوي ده تنګ ټکور په باره کې ستاسوڅه خيال دي؟نو قاسم ورته وائي دا باطل دي شاګرد ورته وائي ما ته دا پته ده چه دا

---

۱- سورة الاسراء (۸۱)

۲- التمهيد لما في الموطاء من المعاني والاسانيد : جلد ۲۲ صفحه ۱۹۹

۳- معرفة السنن والاثار للبيهقي : جلد صفحه ٤۳۵ باب شهادة أهل الغناء

باطل دي ستا رائي پکي څه ده نو قاسم ورته وائي ايا تاته پته شته چه باطل به کوم ځائي ته ځي؟نو هغه ورته وي جهنم ته به ځي نو قاسم بن محمد د مديني امام فقيه په هغه اوو ۷ فقهاء کې دي.هغه وائي دا سړي به جنهم ته ځي چه ټنګ ټکور اوري.

## د عبدالله بن عباس رضي الله عنهما رائي

قال رجل لابن عباس رضي الله عنهما ما تقول في الغناء أحلال هو أم حرام؟ فقال لا أقول حراما إلا ما في كتاب الله. فقال أفحلال هو فقال ولا أقول ذلك. ثم قال له أرأيت الحق والباطل إذا جاء يوم القيامة فأين يكون الغناء؟ فقال الرجل يكون مع الباطل فقال له ابن عباس اذهب فقد افتيت نفسك : [1]

يوسړي د ټنګ ټکورباره کې يو پيره ده عبدالله بن عباس رضي الله عنهما نه تپوس اوکوته څه وائي چه حلال دي اوکه حرام؟ نو هغه ورته يوعجيبه جواب ورکړو هغه ورته وي چه څه خوحرام هغه څه ته وائم چه دالله په کتاب کې وي نودا سړي تري تپوس کوي آياحلال دي؟ هغه ورته وي داخبره څه نه کوم بيا ورته وائي ته حق او باطل پيژني چه کله ده قيامت په ورځ باندې حق او باطل راوستلي شي نو ټنګ ټکور به چا سره وي نوهغه ورته وي ده باطل سره نوابن عباس رضي الله عنهما ورته اووي تا خپل ځان له په خپله فتوي ورکړه.

ده مسلمان نخه مومعلومه کړه ده مسلمان نخه دا ده چه وَالَّذِينَ لَا يَشْهَدُونَ الزُّورَ هغه چا ته وائي چه ټنګ ټکور مجلس له به نه ځي.

---

[1]- اغاثة اللهفان من مصائد الشيطان : جلد ۱ صفحه ۲۴۳

## د کافر نخه څه ده؟

اوس د کافر نخه اوګوره چه کافر چا ته وائي سورة الانفال آيات نمبر ۳۳ کي الله فرمائي.

وَمَاكَانَ صَلَاتُهُمْ عِندَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً فَذُوقُوا الْعَذَابَ بِمَا كُنتُمْ تَكْفُرُونَ : (۱)

کافر د هغوئي مونځ چه بيت الله ته به راتلل د هغې مثال وو ده مکاء او تصديه چا تپوس اوکو مکاء څه ته وائي ؟ مکاء شفيلو ته وائي او تصديه څه ته وائي ؟ تصديه لاس پړقولو ته وائي مکاء الصفير صفير په صاد سره شپيلي ته وائي او مکاء اواز ته وئيلي کيږي او تصديه تصفيق ته وئيلي کيږي چه خلق لاسونه پړقي.

ابن عباس صاحب رضي الله عنه وائي.

عن ابن عباس قال:كانت قريش يطوفون بالبيت وهم عراة يصفرون ويصفقون فأنزل الله عز وجل قل من حرم زينة الله[الأعراف آية ۳۲] فأمروا بالثياب : (۲)

ده قريشو کافرودا طريقه وه چه دبيت الله نه به چاپيره بربنړ ګرځيده شپيلي به ئي وهل اولاسونه به ئي پړقول المكاء والتصديه دا مونځ نه دي خوالله رب العزت وائي چه دوي ده مونځ په خاي باندي شپيلي او لاسونه پړقول.

## دمتوب د زنا لاري کولاوني

دارنګي ددي يو نوم دي ده (زنا دم) فضيل ابن عياض وائي.

---

۱- سورة الانفال (۳۳)

۲- اغاثة اللهفان من مصائد الشيطان : جلد۱ صفحه ۲٤٤

وقال فضيل بن عياض الغناءرقية الزنا :(۱) تهنګ تکور اوريدل دا د زنا دم دي. د يزيدبن وليد يو روايت ذکر کئ:

قال يزيد بن الوليد الناقص يا بني أمية أياكم والغناء فانه ينقص الحياء ويزيد في الشهوة ويهدم المروءة وانه لينوب عن الخمر ويفعل ما يفعل السكرفان كنتم لابدفاعلين فجنبوه النساء فان الغناء داعية الزنا: (۲)

يزيدبن وليدخلقوته تقريرکوو او خلقوته ئي وي اي بني امييود تهنګ تکورنه ځان اوساتئ داحياکموي او شهوت سواکوي او زوروللي او مروت ختموي .امام حطيا رحمه الله به وي.

فقال جنبوني ندي مجلسكم ولا تسمعوني أغاني شبيبتكم فإن الغناء رقية الزنى : (۳)

کوم سړي چه سندري وائي دي ذخپل مجلس نه لري کئ او د بوډاګانو سندرو هم ما ته مه اوروي خکه تهنګ تکور اوريدل دا ده زنا دم دي او لکه څنګه چه په دم باندې اثرختميګي نو په غناء تهنګ تکور باندې ده ايمان اثر ختميګي.

## دامام حطيا رحمه الله عجيبه واقعه

حدثني محمد بن الفضل الأزدي قال نزل الحطة رجل من العرب ومعه ابنته مليكة فلما جنه الليل سمع غناء فقال لصاحب المنزل: كف هذا عني قال له وما تكره من ذلك فقال: إن الغناء زائدة من زائدة الفجور ولا أحب أن تسمعه هذه يعني ابنته فإن كففته وإلا خرجت عنك : (٤)

---

۱- تلبيس ابليس : جلد ۱ صفحه ۲۱۰

۲- اغاثة اللهفان من مصائد الشيطان : جلد ۱ صفحه ۲٤٤

۳- اغاثة اللهفان من مصائد الشيطان : جلد ۱ صفحه ۲٤٦

٤- اغاثة اللهفان من مصائد الشيطان : جلد ۱ صفحه ۲٤٦

حطیایو سړي دي ده هغه دیو عربي سره شپه راغله اودده لورملیکه هغه د ده سره وه چه کله شپه شوه نو دي حطیا ټنګ ټکور واوریدو.
ده کور مالک ته ئي اووي دا ټنګ ټکور بند که نو هغه ورته وي په ټا ولي بد لګي نو هغه ورته اوفرمائیل دا ټنګ ټکور ده زنا جاسوس دي او ځه نه خوخوم چه زما دا لور دي ده زنا جاسوس واوري.
په دي خبره باندې ځان لګ پوهه کړي په کوم کور کې چه ټنګ ټکور غګیګي نو ټنګ ټکور مطلب دا دي چه د کور جینکي او ښځې دا به زنا ته مائیله کیږي.
بیائي هغه سړي ته وي که منع کوي نوخه ده او که نه ئي منع کوی د دې کور نه ځم.

## د سلیمان بن عبدالملک رحمه الله واقعه

حطیا هغه ته یو قیصه کوي.
عن خالد بن عبد الرحمن قال كنا في عسكر سليمان بن عبد الملك فسمع غناء من الليل فأرسل إليهم بكرة فجيء بهم فقال إن الفرس لتصهل فيسوق له الرمكة وإن الفحل ليخطر فتضبع له الناقة وإن التيس فتستحرم به العنز وإن الرجل ليتغنى فتشتاق إليه المرأة ثم قال اخصوهم فقال: عمر بن عبد العزيز هذا مثلة ولا يحل فخلى سبيلهم : (۱)
چه مونږ ده سلیمان بن عبدالملک په لښکرکې وو نو هغه ده شپې ټنګ ټکور واوریده هغه سړي ئې رااوغوختل او ورته ئي وي اس چه هینړیګي نو آسپه ورته تنړیګي اوخ چه کله برړیګي نواوښه ورته تنړیګي اوچیلي هغه چه کله بړبړشروع کې نو بیزي ورله رازي او کله

۱- اغاثة اللهفان من مصائد الشيطان: جلد ۱ صفحه ۲٤٦-

چه سړي سندري وائي نو د ښځو زنا ته شوق پيدا کيږي اوکوم کسان چه هغوئې تنګ ټکور کول نو سليمان بن عبدالملک حکم اوکو چه دا خصيان کړئ نو عمر بن عبدالعزيز ورته وي خصيان کوه ئي مه دا مثله ده او دا په اسلام کې روا نه ده نو هغه وي ټهيک ده ده وطن نه ئي اوباسئ نو ده وطن نه ئي أوباسل.

**واقعه د شيخ مرحوم شهيد**

يوسړي دي اوس مړ دي نوم ئي نه اخلم يو پيره ورسره څه په ګاډي کې کيناستم نو ټنګ ټکورئي چالو کونو ما ورته وي صاحبه دا شي بند کړه نو خبري ئي شروع کړي ما ورته وي دا ګاډي لګ اودروه څه تري په لاره کې کوز شوم دا ولي څکه ده الله دشمني ئي کوله.

**د حضرت عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وينا**

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي.

عن ابن مسعود قال الغناء ينبت النفاق في القلب كما ينبت الماء الزرع والذكر ينبت الإيمان في القلب كما ينبت الماء الزرع: (۱)

ټنګ ټکور په زړه کې نفاق داسې پيدا کوي لکه اوبه چه زمکي له ورکي او په هغې کې تيغونه زرغونيګي کله چه يو سړي ذکر کوي د الله نو دا په زړه کې ايمان رزعونئ لکه څنګه چه فصل له اوبه ورکوي او فصل زرغونئ.

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه دا روايت حماد ذکر کوي د ابراهيم نخعي نه هغه وائي عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي

الغناء ينبت النفاق في القلب كما ينبت الماء البقل.

---

۱- السنن الكبرى للبيهقي : جلد ۱۰ صفحه ۲۲۳ باب الرجل يغني فيتخذ الغناء صناعة يؤتي

لکه څنګه چه اوبه يو پټي له ورکي او په هغې کې فصل راخيژي او شينکي پکي راخيژي دارنګي تنګ تکور په زړه کې نفاق پيدا کوي چاترينه تپوس اوکو چه دا په زړه کې نفاق ولي پيداکوي نور ګناهونه ولي نه پيداکوي ؟ددي جواب دا دي صحابه رضي الله عنهم اجمعين هغوئې ده زړونو په احوالو باندې داعمالو په احوالوباندې صحابه ډيرخه پوهه وو صحابه د مرض او دعلاج دوانړه نه خبر وو.

## د قران او د تنګ تکور په منځ کي تضاد دي

صحابه داده زړونو طبيبان وو هغوئې ته دا پته وه چه کله يوسړي تنګ تکور واوري نو دا زړه مست کړي او چه کله يي مست کې نو په دي زړه کې ده قران فهم ختم شي د قران تدبرختم شي په قرآن باندې عمل ختم شي او دا قاعده ده چه قرآن او تنګ تکور دا په يو زړه کې نه جمع کيږي.

تاسونه يوتپوس کوم چه يوسړي دي ده هغه په زړه کې تنګ تکور راغلل او دي ته ناست دي د ده په زړه کې قران شته او چه قران نه وي نوايمان شته اوچه ايمان نه ئي نوده ده جنت ځائي دي که جهنم ئي ځائي دي ؟جهنم ئي ځائي دي ځکه دقران او د تنګ تکورپه مينځ کې تصاددي قرآن خوخلق منع کوي چه د حواهش تابعداري به نه کوي ده نفس دشهوت نه به ځان ساتي دګمراهي اسباب هغه به نه استعمالوئي د شيطان په قدم باندې به قدم نه ګدي.

تنګ تکورهغه تاته وائي چه دخواهش تابعداري به کې پاکدامني به په ځان کې نه راولي ده پردو ښځو اود پردو سړو هغه آوازونه چه هغه خلق

ګناه ته اماده کوي هغه به اوري دنفس دشهواتو تابعداري به کې د ګمراهي په اسبابو پسې به ګرځي.د دې دوانړو په مینځ کې تضاد دي او کوم دوه څیزونه چه د هغي منځ کې یوبل سره تضاد وي نو هغه په یو ځائي کي نه جمع ګیګي لکه څنګه چه اوراو اوبه په یو ځائي کې نه جمع کیږي داسې چرته شوي ده چه اور دې هم بلیګي او اوبه دي هم پکي وي داسې نه شي کیدي نو دارنګي نفاق اوایمان دا په یو زړه کې نه جمع کیږي قران او تنګ ټکور دا په یو زړه کې نه شي جمع کیدي.

## د الله او د شیطان ( لعین ) مکالمه

قتاده تابعي دي هغه وائي کله چه شیطان ده جنت نه راکوز شو نو د الله نه ئي تپوس اوکو.

قال قتادة لما أهبط إبليس قال يا رب لعنتني فما عملي قال السحر قال فما قرآني قال الشعر قال فما كتابي قال الوشم قال فما طعامي قال كل ميتة وما لم يذكر اسم الله عليه قال فما شرابي قال كل مسكر قال فأين مسكني قال الأسواق قال فما صوتي قال المزامير قال فما مصايدي قال النساء : (۱)

څه خوتالعنتي کړمه خوڅه کار به کومه؟الله ورته اووي جادوبه کوي جادو دچا عمل دي؟د شیطان کوډي منتري د چا عمل دي؟ دا د شیطان عمل دي.

شیطان ترینه تپوس اوکو زما قرآن به څه ئي ؟ د خلقو قرآن خو چه د بسم الله نه شروع او په والناس ختم دي دادخلقو قرآن دي نو زما قرآن به څه وي ؟ نو الله ورته اووي ستاقرآن به شعر او تنګ ټکور ئي.

---

(۱)- اغاثة اللهفان من مصائد الشيطان : جلد ۱ صفحه ۲۵۱

شیطان ترینه تپوس اوکولیکم به څه ؟نو الله ورته اووي خالونه به ښځو له اچوي ښځو له به څه کې ؟په دي ځائي باندې شین خال په دي ځائي باندې خال داپاخه پاخه خالونه په رنجو باندې دي سره غسل نه اووزي یو نا کاره عمل دي.

شیطان ترینه تپوس اوکوخورم به څه؟نوالله ورته وي هرمردار شی به ستا خوراک ئي.

شیطان تري تپوس اوکوسکم به څه ؟ نو الله پاک ورته وي هر هغه شي چه سړي په نشه کې راولي هغه به څکي.

شیطان ترینه تپوس اوکو اوسیګم به په کوم ځائي کي ؟ نو الله ورته وي. په بازارونو کې.

شیطان ورته وي زما آواز به څه وي ؟ څنګه آواز به کوم نو الله ورته وي. تنګ تکور

شیطان ترینه تپوس اوکوښکار به د چا کومه نو الله ورته وي ښځې به ښکار کوي.

## دابن ابي الدنیا وینا

ابن ابي الدنیا یوعالم تیرشوي دي دهغه یو کتاب دي مکائد الشیطان وحیله په هغې کې هغه یوروایت کوي د حضرت ابو امامه رضي الله عنه نه.

عن أبي أمامة عن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال إن إبليس لما أنزل إلى الأرض قال يارب أنزلتني إلى الأرض وجعلتني رجيما فاجعل لي بيتا قال الحمام قال فاجعل لي مجلسا قال الأسواق ومجامع الطرقات قال فاجعل لي طعاما قال : كل ما لم يذكر اسم الله عليه قال فاجعل لي شرابا قال كل

مسکر قال فاجعل لي مؤذنا قال المزمار قال فاجعل لي قرآنا قال الشعر قال فاجعل لي کتابا قال الوشم قال فاجعل لي حديثا قال الکذب قال فاجعل لي رسلا قال الکهنة قال فاجعل لي مصائد قال النساء: (۱)

ابلیس چه کله دنیا ته راکوز کړي شو نو شیطان الله ته اووي چه یا الله زه خو تا دي دنیا ته راکوز کړمه څه دي رجیم کړمه ماله کور راکه نو الله ورته وي حمام ستا کور دي حمام یو خو مونږ د لامبلوځائي ته حمام وایو یوحمام داعام پخواني خلق ئي پیژني پخوابه خلق تلل وي به ئي حمام له ځوهغه حمام چه په هغې کې نر او ښځې لغړیوځائي لامبي.

شیطان الله ته وي زما د ناستي ځائي به څه وي؟ نو الله ورته اووي ستا د ناستي ځائي به بازارونه او چوکونه وی ده شیطان سپاهیان چه نه ګوري یا به په چوکونو کې ناست وي یابه په بازارونو کې ناست وي.

شیطان الله ته وي ډوډی به مې څه وي ؟ نو الله ورته اووي هر هغه شئ چه د الله نوم پري نه وي یاد شوي.

شیطان الله ته وي څکل به مې څه وي ؟ نو الله ورته اووي.هر مسکر،هر نشه آور شي.

شیطان الله ته وي الله زما مؤذن به څوک وي؟ زما د پاره به اعلان څوک کوي؟ نو الله ورته وي رباب او ستار.

شیطان الله ته وي قرآن به مې څه وي ؟ نو الله ورته وي.شعر شیطان وي لیکم به څه الله ورته وي خالونه به وهي.

---

۱- المعجم الکبیر للطبرانی : جلد ۷ صفحه ۲۳۱

شیطان الله ته وي خبري به مي څه وي.نو الله ورته وي دروغ به وائي نو شیطان وي زما پیغمبران اواستازي په څوک وي ؟ نو الله ورته وي جادوګران او کاهنان. شیطان الله ته وي زما ښکار په څه وي ؟ نو الله پاک ورته وي ښځې.

نو دا تنګ ټکور اوریدل دا یو ناکاره مرض دي.

## دعبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه واقعه

عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه وائي.

عن عبد الرحمن بن عوف رضي الله عنه قال أخذ رسول الله صلى الله عليه وسلم بيدي فانطلق بي إلى النخل فإذا ابنه إبراهيم عليه السلام يجود بنفسه قال فأخذه فوضعه في حجره فذرفت عيناه ثم قال يا بني ما أملك لك من الله شيئا ثم بكى فقلت يا رسول الله أتبكي أولم تنه عن البكاء ؟ قال إنما نهيت عن النوح عن صوتين أحمقين فاجرين صوت عند نغمة لهو ولعب مزامير الشيطان : (۱)

عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه وائي.چه نبي صلي الله علیه وسلم زما لاس ونیوو او زما سره زما کهجورو باغ ته لاړ شو او د نبي صلي الله علیه وسلم ځوئي ابراهیم د هغه ساه وتله په غیږ کې ئي کینو د سترګو نه ئي اوخکي لاړي عبدالرحمن بن عوف رضي الله عنه نبي صلي الله علیه وسلم ته وائي.یارسول الله ته ژاړي او خلق منع کوي انو نبي صلي الله علیه وسلم ورته وي زه ئي ده ژړا نه نه منع کوم خه خلق منع کوم ده دوو آوازونونه یو هغه آواز چه تنګ ټکور وهلي کیږي دارنګه دوېږي وهلي کیږي ستار وهلي کیږي دغه آواز دا څه

---

۱- مسندالبزار :جلد ۳ صفحه ۲۱٤

منع کوم یو چه ده مصیبت په وخت کې آواز ئي مخ ده ځان نه راکاګي ګریوان شلئ چغې اوباسي نو دا هم منع کوم او د سترګونه اوخکي تله دا خو رحمت دي.

## د مسلمانۍ دعوه

عزتمندو ورونړو: دا مسئله ډیر تفصیل ته مختاج ده خو ځه تاسو ته یوعرض کوم الحمدلله زه هم دادعوي کوم چه ځه مسلمان یم لا اله الاالله محمدرسول الله کلمه مې وئیلي ده اوتاسو هم دا دعوي کوي.کنه.کوئ ؟ دایمان او داسلام دعوي کوي کنه؟او تاسو هم وائي لااله الا الله محمدالرسول الله چه کله یو شي ده الله په کتاب باندې حرام دي یو شي پیغمبر حرام کړي دي هغه ئي ده زنا دم جوړ کړي دي هغه ئي د شیطان آواز جوړ کړي دي او دائي وئیلي دي چه قرآن او ټنګ ټکور دا دوانړه په یو زړه کې نه جمع کیږي نو تاسو دوي نه بائیکاټ نه شي کولي.

## دباطل نه بائیکاټ

ځما دا هم طریقه ده چه په دي کلي کې د لوئي نه لوئي سړي وي او په واده کې خلاف سنت کاراوکړي الله ګواه دي که ورته مبارک شه وایم اوزما حصه رزق ځوک نه شي کټ کولي زما رزق دالله سره دي الله ګواه دي چه ډوډۍ له ئي نه ځم.

اي د الله بندیګانوتاسو دومره هم نه شئ کولي چه د یو سړي سره دومره قدري بائیکاټ اوکړۍ چه ډوډۍ له ئي مه ځئ خدائي شته که تا یوه ورځ د بل په کور کې ډوډۍ اوخوړه نو ته پري مالداره کیږي نه د الله سره لوظ اوکئ که مالدر دي که غریب دي خپل دي او که پردي

دي خو چه د الله د کتاب او د پیغمبر د سنتو خلاف کوي مونږ به څه چل کوو د هغه سره ؟ بائیکاټ خو دا مونږ په خولې باندې وايو د زړه نه وایو او دخدائي سره وعده کوو.
تاسو مونځ کوي کنه کوي د ماسخوتن مونځ چه کوي کنه په وترو کې تاسو د نخلع ونترك من يفجرك وائي کنه ؟ددې معني داده ونخلع مونږه بائیکاټ کوو نترك او مونږه پریدو من هغه سړي يفجرك چه ستا خلاف کوي نو ده خدائي مسلمانانو په مانځه کې وائي د خدائي په مخ کې یو څه اوبهر کوي بل څه دا ایمان دي که دا نفاق دي دا خو منافق دي دا سړي چه په خلې باندې وائي او دنیا ئي شاته غورځولي ده لاس ئي بره کړي او بیا ئي په نامه لاس ایخي دي و نخلع و نترك من يفجرك الله چه څوک ستا خلاف کوي نو څه ئي پریګدمه او زما ورسره بائیکاټ دي او چه هغه د الله خلاف اوکي نو دي لاړ شي وائي مبارک شه او ډوډۍ ته کیني خړ په خړو په خړ په خړوپه او دغه مرداري وریژي اوخوري واه سړيه تا لره شرم پکاردي لګ دخدائي نه وریګي د خدائي نه ویریږي د خدائي نه ویریږي.

## د بائیکاټ دوه طریقي

د بائیکاټ د پاره دوه طریقي دي یو طریقه دا ده چه د هغه ځائي ته نه ورځي.دویم دا چه کوم سړي په خپل واده کي ټنګ ټکورراوستو نو دي ټنګ ټکور واله له مبارکي ورکول او ډوډۍ له تلل داده بي ایمانه سړي کاردي مه خائي ورله او چه یوه پیره ده کلي خلقو یو سړي ته دیګونه پریخودل نور هیس مه کوئ صرف دیګونه ورته پریدي او هغه دیګونه سپو ته واچوي قسم دي که په کلي دا کار بل چا اوکو.

## د الله سره پیشي

صبا له ستاسو د خدائي په مخکي پیشي ده او دا عمرختمیدونکي دي ډیر خلق وو په دي کلي کې مونږ لیدلي وو ښکلي ښکلي خلق وو نن په مخ ده زمکه د هغوئې نوم هم نشته د هغوئې پچي ئي نوم هم نه یادوي دهغوئې نوسي ئي نه یادوي دهغوئې کړوسي ئي هم نه یادوي صبا له به ته هم دغسي ئي ستا نوم به نه وي خو ستا به درب العلمین په مخکې پیشي وي.

په الله قسم چه مسلمان نه ئي نو پختون نه شي جوړیدي پختون هغه دي چه ایمان پکې وي نو چه ستا ایمان نشته او ستا دوموه ایمان نشته چه په خله د نخلع و نترک من یفجرک او عمل د هغي خلاف کې نو ته منافق ئي که ته پختون ئي لګ د الله نه ویریږي اتق الله اتق الله اتق الله د الله ویریږي صبا مو د الله مخکې پیشي ده مونږ خو درته خبرې پاکي پاکې کوو ده الله خبره ستاسو غوګونو ته درسو دا ومنئ الله به در له خیر درکي.

## د مسلمان قتل

اي روره ! کله کله څه دا قرآن درس کوم مختلف قسم ده دروغو خبري څوک به یو څه وائي آو څوک به بل څه وائې زما عقیده ده چه د مسلمان قتل ګناه دي دا په دي بازارونو کې چه کومی دهماکې کیږي او مسلمانان په زرګونو باندې وجلي کیږي څه په دغه خلقو باندې لعنت وائم او تاسو هم پري هم لعنت وائي.

ده مسلمان قتل دا په دریو وجوه باندې روا دي خو هغه ما او تا له نه دي روادا بادشاه له روا دي یو چه هغه مسلمان ووا و مرتد شو بادشاه

به ئي وژني يو چه هغه قاتل وو قتل ئي اوکو بادشاه به ئي وژني يو چه هغه شادي شده وو زنا ئي اوکړه بادشاه به ئي وژني.

زمادا عقيده ده چه مسلمان چه کله کلمه اوويله اومسلمان وو ده مسلمان په مرګ کې چاله مشوره ورکول دا هم ګناه ده.

زما يو پير صاحب وو سيد عنايت الله شاه بخاري الله دي ئي قبر ده نور نه ډک کړي ما ده هغه سره بيعت کړي وو بيعت ئي زما سره په دې کړي وو چه د يو مسلمان په قتل کې به اشارةً کنايةً صراحةً او مشورةً په هيڅ يو طريقه باندې به نه شريک کيږې او چه څوک د مسلمان په قتل کې په دې طريقو باندې په يو طريقه کې شريک شو دا سړي جهنمي دي ابدي جهنمي دي.

وآخر دعوانا ان الحمدلله رب العالمين

الکاتب.ضياء الله شاه عارف توحيدي

۲:۱۵:۳۷ ۲۰۱۵/۲/۲۷

## بسم الله الرحمن الرحيم

## مقام ابراهيم عليه السلام

الحمد لله الذي ارسل رسوله بالهدى ودين الحق ليظهره على الدين كله و كفى بالله شهيدا واشهد ان لا اله الا الله وحده لاشريك له اقرارا به وتوحيدا واشهد ان سيدنا ومولانا محمدا عبده ورسوله صلي الله تعالي عليه وعلي اله و اصحابه وسلما تسليما مزيدا .

وبعد :

فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم

وَلَقَدْ آتَيْنَا ابراهيم عليه السلام رُشْدَهُ مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا بِهِ عَالِمِينَ *إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا هَٰذِهِ التَّمَاثِيلُ الَّتِي أَنْتُمْ لَهَا عَاكِفُونَ* قَالُوا وَجَدْنَا آبَاءَنَا لَهَا عَابِدِينَ * قَالَ لَقَدْ كُنْتُمْ أَنْتُمْ وَآبَاؤُكُمْ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ* قَالُوا أَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ أَمْ أَنْتَ مِنَ اللَّاعِبِينَ * قَالَ بَلْ رَبُّكُمْ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الَّذِي فَطَرَهُنَّ وَأَنَا عَلَىٰ ذَٰلِكُمْ مِنَ الشَّاهِدِينَ : (1)

آيتونه د سورة انبياء ولوستي شو.

ترجمه ئي دا ده چه يقينا مونږ ابراهيم عليه السلام ته ده هغه د دين ده اشاعت اصلاح پخوا ورکړي وه ده موسي عليه السلام نه مخکې او مونږ په هغه باندې پوهه وو چه دي د دي اصلاح لاتق دي.

کله چه هغه خپل پلار او قوم ته او وي چه دا څه درګاهونه دي چه تاسو د هغې منجوران ئي.

نوهغوئي ورته اووي چه مونږ خپل پلار نيکه ددې عبادت کونکې موندلي دي.

ابراهيم عليه السلام اوفرمائيل يقينا تاسواوستاسو پلاران په ډيره

---

1- سورة الانبياء (٥١- ٥٦)

لوئیه گمراهي کې ئي.

هغوئې ورته اوووي چه دا ته مونږ ته رشتیا وائي او کنه زمونږ سره لوبې او ټوقې کې.

نوابراهیم علیه السلام اوفرمائیل بلکه ستاسو رب د اسمانونو او د زمکو دي هغه الله چه اسمان او زمکه ئي پیدا کړي دي او څه هم دغه بیان کوم.

## په لوئي اختر کي ده ابراهیم علیه السلام بیان

ده ابراهیم علیه السلام واقعه په هر لوئي اختر کې چه سړي نه غواړي نو اضطراري طور باندې یو خطیب یو مقرر یو مولا یو امام هغه دي ته محتاج دي چه د هغه ذکر اوکې او د هغې وجه داده چه جناب رسول الله صلي الله علیه وسلم ده ابراهیم علیه السلام په دي افعالو باندې ده مشرکینو ډیر لوئي لوئي رسمونه هغه ئي ختم کړي وو.

## د وړوکې اختر او لوئي اختر حیثیت

مدینې منورې ته چه کله جناب محمد صلي الله علیه وسلم تشریف اوړو نو حدیث کې رازي چه هغه حلقو یو دوه ورځې وي او په هغې کې به هغوئې لوبې کولې او خوشحالي به ئي کولې نو نبي صلي الله علیه وسلم هغوئې ته اوفرمائیل چه الله پاک ستاسو له د دې دوه ورځو په بدله کې دوه ورځې نورې درکړي دي اوستاسو دا خوشحالي ستاسو په هغې کې کوي.

هغه دوانړه ورځې ده خوشحالي چه دي نو د لوئي لوئي عبادتونو دي ده هغې نه ده فراغت په سلسله کې دي چه په هغې کې یو وړوکې اختر دي چه ده روژې غوندي عظیم الشان میاشت چه

حدیث کې ده هغې باره کې رازي چه په چا ده رمضان میاشت
راغله او ده ته الله بخنه اونکړه او دي ده الله د بخني مستحق نه شو
نو خدائي دي دي غرق کې.
نو ده هغې عبادت نه بس مونږ عیدالفطر کوو ده عیدالفطر معني
دا ده چه مونږ ده الله رب العزت ده طرف نه چه په مونږ باندې کوم
لوئي عبادت فرض شوي وو هغه مونږ په خیر او خوشحالي سره ادا
کو او مونږ په هغې باندې خوشحالي کو.
ده عیدالاضحي خوشحالي دا دې وجي نه ده چه ده عیدالاضحي نه
مخکې ورځ باندې په نهم د ذي الحجي ده ټولې دنیا مسلمانان دا یو
میدان ته لاړ شي او هغه میدان ته عرفات وائي.
او د هغې تلو د مناسبت ده وجې نه هم دغې ورځې ته یوم عرفه وائي
نو په یوم عرفه کې ده مسلمانانو یو عظیمه اجتماع اوشي.

**د الله رب العزت په خپلو بندیانو باندي فخر کول**

په دي اجتماع کې ده دنیا ټول خلق شریک ئي خو دا اجتماع صرف یو
تن پکې بیان کوي او هغه بیان د الله ذ توحید او ده پیغمبر صلي الله
علیه وسلم د سنتو او دا کوم خاص منصب او خاص عبادت چه په دغه
وخت کیږي ده هغې احکام بیانئ او د هغې نه پس ټوله دنیا د الله ته
متوجه ئي او د الله نه دعا غواړي او په دغه ورځ باندې الله رب العزت
ملائکو ته د فخر په طریقه باندې وائي.
عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم ان الله عز و جل
ليباهي الملائكة بأهل عرفات يقول انظروا إلى عبادي شعثا غبرا

تعليق شعيب الأرنؤوط : صحيح وهذا إسناد حسن : (۱)
زما دي بنديانو ته اوګوري چه ببر سري راغلي دي او ولاړ دي او زمانه دعا غواړي دايو لوئيه خوشحالي ده ده عالم اسلام نوهغه دعالم اسلام په خوشحالي کې وريسي ورځ باندي مسلمانان په دنياکې خوشحالي کوي او د دغه خوشحالۍ سره سره ده ابراهيم عليه السلام سنت هغه هم ادا کوي چه هغې ته قرباني وائي دا مونځ دا هم ده هغې خوشحالي يوه نخه ده.

## تکليف او خوشحالي کي الله ته متوجه کيدل

قاعده دا ده چه کله په سړي تکليف راشي يا خوشحالي راشي نوهغه په تکليف اوخوشحالي کې هغه چاته رجوع کوي چه دهغه تکليف او خوشحالي بغيردهغه نه نيمګړي وي او يا بغير ده هغه نه سرته نه رسي.

انبياء عليهم السلام ده هغوئې طريقه داوه الله فرمائي :

إِنَّهُمْ كَانُوا يُسَارِعُونَ فِي الْخَيْرَاتِ وَيَدْعُونَنَا رَغَبًا وَرَهَبًا وَكَانُوا لَنَا خَاشِعِينَ :(۲)

انبياء عليهم السلام هغوئې به ده نيکي کارونو ته په منډه تلل او په غم. ښادي کې به ئي ما ته اواز کوو.

د اخترو دا مونځونه دا هم ده هغه خوشحالي يو حصه ده او ده نبي صلي الله عليه وسلم طريقه دا وه چه کله به په هغه تکليف راغي نو هم به مانځه له راتلو.حديث کې رازي.

عن محمد بن عبد الله الدؤلي قال قال عبد العزيز أخو حذيفة كان رسول

---

۱- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۲ صفحه ۳۰۵ ( مسند أبي هريرة رضي الله عنه )

۲- سورة الانبياء (۹۰)

الله صلى الله عليه وسلم إذا حزبه أمر صلى رواه محمد بن إسحاق السراج عن إسحاق بن موسى الفزاري عن الحسن بن زياد الهمذاني عن ابن جريج عن عكرمة عن محمد بن عبد الله بن أبي قدامة عن عبد العزيز ابن أخي حذيفة أن النبي صلى الله عليه وسلم كان إذا حزبه أمر بادر بالصلاة : (۱)

کله چه به په نبي صلي الله علیه وسلم تکلیف راغي نو جماعت ته به ئي رامنډه کړه او مونځ به ئي اوکو او دا هم ده نبي صلي الله علیه وسلم طریقه ده چه کله به ورته د خوشحالي خبر میلاو شو نو هغه به مونځ کوو.

یو حدیث کې رازي ده حضرت ابوبکره رضي الله عنه روایت دي.

حدثنا عبد الله حدثني أبي ثنا أحمد بن عبد الملك الحراني ثنا أبو بكرة بكار بن عبد العزيز بن أبي بكرة قال سمعت أبي يحدث عن أبي بكرة إنه شهد النبي صلى الله عليه و سلم أتاه بشير يبشره بظفر جند له على عدوهم ورأسه في حجر عائشة رضي الله عنها فقام فخر ساجدا ثم أنشأ يسائل البشير فأخبره فيما أخبره إنه ولي أمرهم امرأة فقال النبي صلى الله عليه و سلم الآن هلكت الرجال إذا أطاعت النساء هلكت الرجال إذا أطاعت النساء ثلاثا : (۲)

چه جناب رسول الله صلي الله علیه وسلم په خپل کور کې وویو استازي راغي او نبي صلي الله علیه وسلم ته ئي زیري ورکو چه ستا یو لښکر کامیاب شو نو نبي صلي الله علیه وسلم فورا پاسیدو او مونځ ئي اوکو.

۱- معرفة الصحابه : جلد ۱۳ صفحه ۲۹۸ من اسمه عبيد الله

۲- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ٥ صفحه ٤٥ حديث أبي بكرة نفيع بن الحارث رضي الله عنه

## دا د نیا الله د چا پاره اباده کړي ده؟

عزتمندو : زمونږ په دې وطن کې په مونږ باندې ډیر تکلیفونه دي او د الله رب العزت نعمتونه هم راباندې ډیر دي.

مونږ نن د دي اختر په مانځه کې ده یوڅو څیزونو تذکره تاسو په مخکې کوو په هغې کې ده ټولونه اوله تذکره خو د دې ده چه دا دنیا چه الله اباده کړي ده نودادنیا ئي زمونږ د پاره اباده کړي ده اوالله رب العزت فرمائي: هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيعاً : (۱)

الله وائي څه هغه ذات یم چه ده زمکي دا ټولي منافعي داسي ستاسو د پاره پیدا کړي دي خو تاسو مې څه له پیدا کړي ئې ؟

الله فرمائي. وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالإِنسَ إِلاَّ لِيَعْبُدُونِ : (۲)

پیریان او بندیان دا ما صرف او صرف د خپل عبادت د پاره پیدا کړي دي.

مونږ له پکار دادي چه په نن ورځ باندې چه دا د ه مسلمانانو ده اجتماع ورځ ده او دا ده مسلمانانو ده خوشحالي ورځ ده په طبق ده حدیث صحیح باندې مونږله پکار دا دي چه مونږ داسې اعمال داسې افعال او داسې عقائد اولرو چه په هغې باندې مونږه ده اخرت ده خوشحالي مستحق ګیګو.

### د ټولونه اول عقیده ده

عزتمندو :د ټولونه اول مونږ له دا عقیده پکار ده چه الله رب العزت دا زمونږخالق دي دا زمونږمالک دي دا زمونږ رازق دي ده مونږ

---

۱- سورة بقره : (۲۹)

۲- سورة ذاريات : (۵۶)

له عزت راکړي دي ذلت ورکوي دي بچي ورکوي دي بچي اخلي دي په حلقو باندې نعمتونه کوي او دي نعمتونه لري کوي او هغه داسې ذات دي چه کله هغه یو رحمت پرانیزي.

مَا يَفْتَحِ اللَّهُ لِلنَّاسِ مِنْ رَحْمَةٍ فَلَامُمْسِكَ لَهَاوَمَا يُمْسِكْ فَلَا مُرْسِلَ لَهُ مِن بَعْدِهِ وَهُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ : (۱)

کله چه هغه یو رحمت کولاوکې نودهغې څوک بندونکې نشته او کله چه الله رب العزت یونعمت په چا باندې بند کې نوپه دې کائنات کې څوک نشته چه هغه راپرانیزي.

الله رب العزت داسې ذات دي چه:

لِلَّهِ مُلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ يَهَبُ لِمَنْ يَشَاءُ إِنَاثًا وَيَهَبُ لِمَن يَشَاءُ الذُّكُورَ * أَوْ يُزَوِّجُهُمْ ذُكْرَانًا وَإِنَاثًا وَيَجْعَلُ مَن يَشَاءُ عَقِيمًا إِنَّهُ عَلِيمٌ قَدِيرٌ : (۲)

چا له لونړه ورکوي او چاله زامن او چا له لونړه او زامن برغ ورکوي ,و څوک چه ئي خوخ شي نو هغه شنډ پاتي کې.

دا ټول کارونه چه الله کوي نو الله رب العزت وائي څما نه څوک تپوس نه شي کولي. لَا يُسْأَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْأَلُونَ : (۳)

څه چه څه کوم زما نه څوک تپوس نه شي کولي اوتاسو چه څه کوي نوستاسو نه به څه تپوس کوم.

مونږ له پکار دا دي چه مونږ خپله عقیده هغه د الله رب العزت د کتاب موافق اوساتو.

---

۱- سورة فاطر (۲)

۲- سورة شوری (۴۹-۵۰)

۳- سورة الانبیاء: (۲۳)

مونږ خپله عقیده هغه عقیده اوساتو ده کومې عقیدې تعلیم چه مونږ ته زمونږ آقا محمد عربي صلي الله علیه وسلم قولا او عملا راکړي دي.

## د نبي صلي الله علیه وسلم دعوت ده صفا په غر باندې

عزتمندو: د نبي صلي الله علیه وسلم اول دعوت کوم چه ده صفا په غرباندې کړي وو هغه دا وو چه اي خلقو یو عقیده ده خما سره ئې اومنې او دا عقیده چه تاسو اومنله تاسو به ده عربو او ده عجمو مالکان شې او ټول عجم به ستاسو تابع شي خلقو تپوس وکو اي محمد صلي الله علیه وسلم دا کومه خبره ده نو نبي صلي الله علیه وسلم اوفرمائیل.

فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم : ياعم كلمة واحدة تعطونها تملكون بها العرب وتدين لكم بها العجم فقال أبوجهل نعم وأبيك وعشر كلمات. قال تقولون لاإله إلا الله وتخلعون ماتعبدون من دونه :(۱)

هغه دا ده چه تاسو دا عقیده اوساتي چه د الله رب العزت نه علاوه په دې کائنات کې څوک عزت ورکونکې ذلت ورکونکې بادشاهي ورکونکې بادشاهي اغستونکې اولاد ورکونکې اولاد اغستونکې په دې کائنات کې هرقسم تصرف کونکې بیماري راوستونکې او بیماري جوړونکې بل څوک نشته.

## د ابراهیم علیه السلام دعوت

ابراهیم علیه السلام هغه هم په یوه موقعه باندې چه کله د الله رب العزت صفت کوو نو هغه په دغه انداز باندې ئې د الله صفت کړي دي.

(۱) السيرة النبوية لابن كثير: ۲ / ۱۲٤

سورة الشعراء کې الله رب العزت چه کله د ابراهیم علیه السلام حال
ذکرکوي نو هلته الله رب العزت فرمائي چه ابراهیم علیه السلام هغه
خلقو ته یو آواز اوکو او هغه اواز ئي څه اوکو؟ هغه آواز ئي دا اوکو.

قَالَ أَفَرَأَيْتُم مَّا كُنتُمْ تَعْبُدُونَ*أَنتُمْ وَآبَاؤُكُمُ الأَقْدَمُونَ*فَإِنَّهُمْ عَدُوٌّ لِّي إِلاَّ رَبَّ الْعَالَمِينَ *الَّذِي خَلَقَنِي فَهُوَ يَهْدِينِ*وَالَّذِي هُوَ يُطْعِمُنِي وَيَسْقِينِ * وَإِذَا مَرِضْتُ فَهُوَ يَشْفِينِ * وَالَّذِي يُمِيتُنِي ثُمَّ يُحْيِينِ *وَالَّذِي أَطْمَعُ أَن يَغْفِرَ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ : (۱)

ابراهیم علیه السلام اوفرمائیل آیا تاسوخبر ئي ده هغه چا ده حقیقت
نه چه تاسو ده هغوئې بندګي کوي هغوئې ته سرخکته کوي د هغوئې
نذر ورکوي دهغوئې منخته ورکوي.

تاسواو ستاسو هغه پخواني مشران د دا ټول زما دشمنان دي سوا ده
رب العلمين نه رب العلمين څوک دي؟

رب العلمين هغه دي چه څه ئي پیدا کړي یم او ما ته د جوند ټولې
لاري خودلی دی.

رب العلمين هغه دي چه ما له خوراک راکې او ما له اوبه راکې.
او کله چه څه ناجوړه شم ما له شفاء هغه راکې.
رب العلمين هغه دي چه ما به مړ کې او بیا به مي جوندي کوي.
زما رب هغه دي که چري زما نه څه خکته پورته شوي وي نو قیامت
کې زما طمع ده چه هغه به ئي راله او بخي.

---

۱- سورة شعراء: (۷۵-۸۲)

## د ابراهيم عليه السلام دعوت خپل پلار ته

نو کله کله ابراهيم عليه السلام خپل پلار ته وائي

إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنكَ شَيْئًا* يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا* يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَٰنِ عَصِيًّا: ([1])

اي بابا د هغه چا بندګي ولي کې چه هغه نه اوري او نه هغه ليدل کتل کولي شي او نه تا د يو مصيبت نه بچ کولي شي.

اي بابا ما ته د الله د طرف نه داسې پوهه راغلي ده چه هغه پوهه ستا نه ده نصيب شوي زما پسې رازه چه نيغه لاره درته او خايم.

اي زما پلاره ده شيطان په قدم باندې قدم مه ګده دا ده هغه عبادت دي يقيناً شيطان د مهربان بادشاه نافرمان دي.

## د وفات په وخت کې د نبي صلي الله عليه وسلم دري خبرې

نبي صلي الله عليه وسلم اوله خبره هغه دغه کړې وه او چه کله وفات کيدو نو ده وفات په وخت کې دري خبرې توحيد په باره کې اوکړې اوله خبره ئې دا اوکړه.

عن عروة عن عائشة رضي الله عنها عن النبي صلى الله عليه وسلم قال في مرضه الذي مات فيه لعن الله اليهود والنصارى اتخذوا قبور أنبيائهم مسجدا قالت ولولا ذلك لأبرزوا قبره غير أني أخشى أن يتخذ مسجدا : ([2])

---

[1]- سورة مريم: (٤٢-٤٤)

[2]- صحيح البخاري حسب ترقيم فتح الباري : جلد ٢ صفحه ١١١ باب ما يكره من اتخاذ المساجد على القبور

چه الله دي په يهود اونصاري باندې لعنت اوکې هغوئې ده خپلو انبياء ده خپلو نيکانوده قبرونونه جماعتونه جوړ کړي ووهلته به ئي سوالونه کول.

دوئمه خبره ئي دا اوکړه.

حدثني محمد بن عبيد بن ميمون حدثنا عيسى بن يونس عن عمر بن سعيد قال أخبرني ابن أبي مليكة أن أبا عمرو ذكوان مولى عائشة أخبره أن عائشة رضي الله عنها كانت تقول إن رسول الله صلى الله عليه وسلم كان بين يديه ركوة أو علبة فيها ماء يشك عمرفجعل يدخل يديه في الماء فيمسح بهما وجهه ويقول لا إله إلا الله إن للموت سكرات ثم نصب يده فجعل يقول في الرفيق الأعلى حتى قبض ومالت يده : (۱)

ده الله رب العزت نه علاوه بل حاجت پوره کونکې نشته بل نفع او نقصان ورکونکې نشته که وي په دې ټول کائنات کې بهتر څه يم او په ما باندې د مرګ سلګې رالي په چا چه د مرګ سلګي رازي هغه متصرف نه وي.

دريمه خبره هم نبي صلي الله عليه وسلم اوکړه د وصيت په طريقه باندې.

أخبرني أبو الزبير أنه سمع جابر بن عبد الله يقول أخبرنا عمر بن الخطاب أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال أخرجوا اليهود والنصارى من جزيرة العرب لا يبقى فيها إلا مسلم : (۲)

ده مسلمانانو دملک نه يهود لري کې ده مسلمانانو ده ملک نه نصاري لري کې ده مسلمانانو د ملک نه د يهودو او ده نصاري ثقافت لري کې.

۱- صحيح البخاري حسب ترقيم فتح الباري : جلد ۸ صفحه ۱۳۲ باب سکرات الموت

۲- معرفة السنن والاثار :جلد ۱۳ صفحه ۳۸۶

## د جناب رسول الله صلي الله علیه وسلم ده ابراهیم علیه السلام په اتباع کې خپل قوم ته وصیت

عزتمندو: جناب رسول الله صلي الله علیه وسلم ده ابراهیم علیه السلام په اتباع کې خپل قوم ته دا وصیت کړي دي چه یهودا و نصاري ده خپل وطن نه لري کې اود هغه هغه صحیح جانشینان الله دي د هغوئې په روحونو باندې رحمتونه اولیګي حضرت عمر رضي الله عنه ده خیبر نه کوم خائي ته چه ده مسلمانانو حکومت رسیدلي وو یهود او نصاري ئي تري لري کړل.

## زمونږ د ذلت اسباب

نن مونږه ذلیله یو مونږه رسوا یو زمونږ د رسوائي اصل سبب دا دي چي مونږ د رب کائنات رضا پریخودي ده د مکې والا او د مکې د خدائي د هغه رب هذا البیت د هغه رضا مونږ پریخودي ده او مونږ د امریکې ده رضا پسې روان یو او زمونږ د پاره یقینا ډیر لوئي ده بدبختیا سبب دي زمونږ دا ملک چه نن غیراباد دي زمونږ په دي ملک چه خکته او بره نن ده وینو سیلابونه روان دي د دي صرف یو وجه ده هغه وجه دا ده چه مونږ د رب مکه د رب کعبه ده هغه رضا مونږ پریخودي ده او ده امریکې ده رضا پسې روان یو زما په خدائي قسم دي ده اختر ورځ ده او ځما مخي ته د الله کتاب پروت دي تر څو پورې چه مونږ د محمد عربي صلي الله علیه وسلم په قدم قدم نه دي ایخي اوده امریکې او ده یهودو اود نصاري د اسرائیل او د جرمني او د برطاني بغض زمونږ په زړونو کې نه وي راغلي مونږ نه شو کامیابیدلي.

## زمونږ د کامیابۍ لار

زمونږ ده کامیابۍ یوه لار ده او هغه لار څه ده هغه دا ده چه د الله د دین د دشمنانو سره مونږ دشمني اوساتو بغض ورسره اوساتو.

عزتمندو دا خبره څه نه کوم دا زما رب کوي. الله فرمائي.

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ : (۱)

اي ده ایمان خاوندانو ده یهود او د نصاري سره دوستي ونکئ.

نن زمونږ حکمران دامریکې رضادپاره زمونږ رونړه وژني ده امریکې ده رضا د پاره په مونږ باندې بمباري کې هغه وزخ په هندوستان کې یوه مسئله اوشوه. او هغه دهغوئې خپله ذاتي مسئله وه د هغوئې ملک کې خپل خلق پیدا شوي وواو زمونږ دا دله حکومت او بیغیرته حکومت اولګیدو پرون ئي په ازاد کشمیر کې په یو مدرسه باندې حمله اوکړه اودنیاته ئي دا اوخودله چه دا دهشتګر دي پاکستان کې ده.

پکاردوي له دا وو چه دوي انکار کړي وي چه دا د هندوانو خپله مسئله ده اودا هندوانو په خپل کور کې دغه کار کړي وي په بمبئ کې چه کوم کسان مړه شوي دي اوهغوئې ذلیله شوي دي نو دغه مړه شوي خلق اودغه ذلیله خلق دا د هندوستان باشنده ګان وو ده پاکستان نه وو مخکې چه کله ده خالصتان تحریک چلیدونو دامونږ چلودا پاکستان چلوخو خمونږ حکومت دله دي بیغیرته دي پکاردا ده چه مونږ دي خپل حکومت ته ده هرچا په خولې

(۱)- سورة المائده (۵۱)

باندې داخبره اورسو چه مونږ مسلمانان یوځمونږ ایمان دادې چه امریکه به زمونږ مینتېري نه کې اسرائیل به زمونږ منیتېري نه کې برطانیه به زمونږمینتېري نه کې جرمني به زمونږمنیتېري نه کې زمونږ منیتېري کې ځنوقران به کې.

زمونږمشري که کې ځ نو قران به ئي کې قران چې مونږ ته څه وائي نو مونږه به هغه منو

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ مِنْكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ : (۱)

اې ده ایمان خاوندانو د یهود او نصاري نه دوستان مه جوړوي.

## د ملک نقصان

عزتمندو : سوچ وکې ځ زمونږ په دې ملک کې دوه قسمه خلق مري یو فوجیان مري یو عام خلق چه هغه ځان ته مجاهدین وائي مري دا دوانړه چه مري نو دا څوک مري؟ دا زمارور مري او ستا رور مري زما پلاراو ستا پلار زما تره او ستا تره په فوج کې که مري نوهم زمونږ خلق مري او که هلته مري نو هم زمونږ خلق مري دا لوبه جوړ کړې چا ده؟ ولې دحکومت سره بله لاره نشته چه هغه ده قومونو په مینځ کې د فوج اومجاهدینو په منځ کې تفاهم اوکې اودهغې تفاهم په وجه باندې فضا همواره کې ده ده سره صرف یوه لار ده چه بره او خکته خلق ډبوه اوبیا هرحکومت چه زمونږ رازي نوهغه بې غیرته وي.

نن زمونږ په دې صوبه باندې د هغه خلقوحکومت دې چه هغوئې ځان ته پښتانه وائي او دا اواز به ئي کوو چه مونږ ده پختون حق گټو زمونږ

---

۱- سورة المائده (۵۱)

د دې ملک سره ټول خلق زياتې کوي مولا ورسره د قران په نوم زياتي اوکه پښتون ورسره ده پښتون په نوم باندې زياتي اوکه د دې پښتون نه تپوس اوکه دا تختيدلي اودا منډې ترړې وهلي خلق د دوي نه تپوس اوکه چه نن بره په سوات کې چه مړه کيږې دا پښتانه دي که پنجابيان دي نن چه وزيرستان که مړه کيږي داپښتانه دي که پنجابيان دي نن چه زمونږ په دې وطن کې دا خلق مري پرون چه پيښور کې ذهماکه شوې وه او خلق پکې مړه دي دا څوک مړه دي؟ ولي حکومت د دې مخ نيوې نه شي کولي مسئله دا ده چه کوم خلق قران واخلي په لاس کې هغه وطن کې امن ئي.

حضرت عمر رضي الله د هغه په څومره لکونو مربع ميل باندې د هغه حکومت وو او خلافت ووچرته ده بدامني څه شئ پکې وو؟ ځکه د مسلمان حکومت وو کنه.

## د محمد بن قاسم رحمه الله ديبل (کراچی) ته راتګ او د ايما نداری واقعه

ده بنوعباس او بنوامیه حکومتونه په دنيا باندې تير شوي دي چرته پکې بدامني نه وه او غيرت د هغوئې دومره وو چه ده ديبل په بندرګاه باندې کله هغه جهاز لوټ کيدو يوي ښځې مديني طرف ته مخ کو او آواز ئي اوکو يا حجاج يا حجاج زمونږ په اسلام کې ده ټولو نه لوئي ظالم سړي وو او چه کله د هغه جهاز يو تختيدلي سړي هغه هلته اورسيدو مديني ته او حجاج ته ئي اووې چه يو ښځه وه او هغي ستا طرف ته مخ کړي وو او آواز ئي کړي وو يا حجاج نو حجاج دې طرف ته مخ کو او وې ئې لبيک درغلم.

ده محمدبن قاسم رحمه الله په سر کردګۍ کې ئي فوج راولیګو هغه فوج څه چل کړي وو قربان شم د مسلمانانو ده تاریخ نه هغه وطن خو ئي فتح کواوملتان په هغه زمانه کې ده سنده دارالخلافه وه راجه داهر مولیان راجمع کړل او ورته ئي وي چه په دي وخت کې څه کوو نو مها برهمن لوئي مولا ده هندوانو هغه ورته وي چه په دي وخت کې کتاب لیکې چه ده بادشاه ښځه به ډیري ملغلري واخلي او په فلاني ځنګل کې یو قبر دي او په هغې باندې به ئي اوشندي ډیري ملغلري ده بادشاه ښځې راواغستي اود لوئي مولاسره روانه شوه چه کله ځنګل ته شوه نو مولا ښځې ته لاس کو ښځې ورته وي دا څه کې؟ هغه ورته وي راجه داهرماهر تلي دي ده مسلمانانو مخکې نه شي ټنګیدي ته اوس زما ښځه ئي او دا زمونږ پیسې دي په دغه شپه باندې ده جرنیل صاحب محمد بن قاسم سقفي ده پهري نمبر وو هغه چه راغي او وئي کتل نو دوه کسان دي ده ترجمان په ذریعه باندې تپوس اوکو نو هغه ښځه ورته وائي څه ده داهر ښځه یم او دا زمونږ ده دین لوئي مولادي او دي زما سره بد فعلي کول غواړي او دا ټوله قصه ئي ورته اوکړه محمد بن قاسم ورته تاو شو او ورته ئي وي که زمونږ په دین کې ده بل دین مولیانو قتل جائز وي نو قسم په خدائي چه ته ما ټوټي ټوټي کړي وی او بیا ئي هغه ګرفتار کړو او ښځه چه وه ده هغې سره یو سړي ورسره کو دا ورسوه خپل ځائي ته.

نن صبا دا خلق څه کې؟مسلمان ونیسي او د هغه بچي د هغه په مخکې زوروي او هغه مسلمان هم زوروي هغه خبري کوي درته اوکړي قسم په خدائي روتيے به مو نه تیریګي.

هغه ښځه چه لګه لاړه ده هغه سړي نه تپوس کې دا سړي څوک وو ؟ (د ۱۷ کالو ځوان وو) ورته ئي وي دا خو زموږ د فوج سپه سالار وو نو ورته وي خه د بادشاه ښځه یم خه خو ستا سره نه ځم څه به د هغه سپه سالار سره ځم.

محمدبن قاسم رحمه الله مخکې شوترجمان وربسې شوښځه روستوراروانه وه اووي ماته ښي اوګس کوه کله چه ئي د خار چار دیوالئ؛ ته دروازي له اورسوله له دي تري راروستو شو هغه ورته وي نه را روستو کیږي به نه ما به زما کټ ته رسي هغه ورته وي خه نوچه اوي رسوله دننه قلعه ته نو هغه ښځې څوکیدار ته وي دا میلمانه به رازي هغه څوکیدار پیژنده چه دا ده بادشاه ښځه ده دا میلمانه به رازي چه بیا ورته څه اونه وائي نومحمدبن قاسم رحمه الله ته هغه ښځې وي دا زما کمره ده او دي کمره کې داهر پروت دي اودا قلعه د فتح کیدو نه ده خو دي ته یو خفیه لار راغلي ده اوهغه لار ئي ورته اوخودله او ما ته دا پته ده چه ستاسو دا ایمان دي نو الله به دا وطن تاسو له درکئ؛ هغه وطن سنده هغه محمدبن قاسم رحمه الله فتح کو او تاسوته پته شته چه په هغه ملتان کې یوبت وودا ملتان ښار دا د هغه بت په نوم باندې جوړ دي د هغه بت نوم ملتان وواوده هندوستان خلق به ۲۰۰ فرسخه پیاده ده هغه حج له تلل او هغه علاقي هغوئې فتح کړي دا ئي ولي فتح کړي؟ داځکه چه په هغوئې کې ایمان وونن موږ خپل کورنه شو سمولي دا ولي ؟ اصل وجه دا ده چه ایمان نشته زموږ ایمان ده څه دي.

## د طالبي واقعه او د مداري بيان

څه طالب اوومه په سوات مينګوره کې کتابونه راسره وو راروان اووم يو مداري ناست وواويوغټه غوټه ورسره وه په ښکلوښکلو رومالونوکې څلقوته ئي وي دي کې مي ايمان تړلې دي ايمان درته خايم بيا به ئي دوائي خرڅه کړه يوه تکړه دوه تکړې به ئي تري لرې کړي په آخر کې يوښکلي رومال وو دي کې ايمان پروت دي خايم ئي درته نو چه کله ئي په خلقو دواياني خرڅې کړي رومال ئي کولاو کو نو سره روټۍ پکې وه وي داستاسو ايمان دي زمونږ ايمان په نورو خلقو باندې بدګماني کول.

## په زړه کې د الله يره اوساتئ او ايمان زړه ته کوز کئ

عزتمندو: مسلمانان جوړ شئ او کره مسلمانان شئ او په زړه کې يو الله رب العزت يره اوساتئ او د الله رب العزت نه علاوه د بل چا يره په زړه کې مه راولئ د الله يره او د بنده يره دا په يو زړه کې نه جمع کيږي الله ګواه دي چه داسې په هزارها امريکې که ستاسو مخې له راغلي نو دا به فيل ئي خو که ته مسلمان ئي دا څه نه وام دا زما الله وائي.

وَلَا تَهِنُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ: (۱)

اي خلقو که په تاسو کې کره ايمان وو نو تاسو به په دنيا کې اوچت يئ.

تاسو نه تپوس کوم اي د کهوئی اولسه هسي خدائي دروغ وائي که رشتيا وائي؟ نو الله پاک چه وائي وَأَنْتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ که په

---

۱- سورة ال عمران (۱۲۹)

تاسو کې ايمان وو نو تاسو به په ټوله دينا زورور ئي دا نن چه مونږ خلق تکي ټهيک ده ځه هم وام په ما کې ايمان شته او تاسوهم دا وائيي چه په مونږ کې ايمان شته خو حقيقت دا چه ايمان نشته چه ايمان وي نو ولي به مونږ ذليله وو زما خدائي خو دروغ نه وائي.

زماخدائي خو وائي چه چا باور اوکو ايمان پکې وو کلک وو.

وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ : (۱)

وائي ده زمکي حکومت به هغه له ورکوم نن مونږ په خپل کور کې پردي کنډريان يو کور زمونږه دي او حکم به مونږ باندې د بل چليګي مونږ پردي کنډران يو داولي مونږ پردي کنډريان يو؟ دا ځکه چه زمونږ زړه ته ايمان نه دي کوز شوي اول د ه ابراهيم عليه السلام سنت دا دي چه ايمان زړه ته کوز که.

## قربانۍ او خوشحالي

دا قربانۍ نن مونګه کو مونږ نن خومره خوشحاله يو دا دي ما هم ښکلي جامي اغوستي دي او تاسو هم ښکلي جامي اغوستي دي ما هم پټکې په سر کړي دي پکار خو دا وه چه ما دا پټکې نن نه وي په سر کړي ځکه پټکي دعزت نخه ده او مونږ ذليله خلق يو ده دنيا ده اختر په خوشحالي کې خلقو پاکې پاکې جامي اغوستي دي خو تاسو چرته دا سوچ هم کړي دي چه زمونږ د دين رونړه علماء شهيدان کيږي تاسو چرته دا سوچ کړي

---

۱- سورة نور (۵۵)

دي چه هغه لراو بر يو افغان آواز چه به مونږ کوو هغه زمونږ ښتانه رونړه هغه حلالولي کيږي مونږ تاسودا سوچ کړي دي مولاهم پکار دا دي چه دعزت جامه نه اغوندي اوپختون له هم پکار دي چه خپله پختو به زمکه باندې را اوغورځوئي ولي؟ خکه څمونګه سره نن کيږي څه؟ هغه ده جئے سنده چغه چه به چا وهله لاړ شه اوګوره نن په کراچۍ کې څه کيږي پنجاب کې څه کيږي اوهغه ستا مشران بره چه په هغه اسمبلۍ کې ناست دي اوهغه رنګ ريلۍ چه مناوئ ده هغوئي څه حال دي.نن د هغه مولانه تپوس اوکه نن د هغه پختون تپوس اوکه چه پرون ستا څه حال وو او نن ستا څه حال دي.

عزتمندوايمان بالکل نشته اوکه ايمان وي نوزمونږ الله فرمائي. وَأَنتُمُ الْأَعْلَوْنَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ : (۱) تاسوبه اوچت ئي کوپه تاسو کې ايمان وو الله دي زمونږ ايمان نصيب کې.

نن مونګ قربانئ کوو غوخي به خورو او غوخي به ورتو خو زمونږ سره دا سوچ نشته چه هغه زمونږ رونړه چه هغه په وينو کې سره دی زمونږ هغه رونړه چه دهغوئي کورونو کې غمونه دي اوزمونږ هغه رونړه چه د هغوئي بچي ده هغوئي په مخکې حلال شوي دي.

## د حضرت عمر رضي الله عنه واقعات

حضرت عمررضي الله عنه يوه پيره ده هغه ده تنخواه نه لګي لګي پيسي بچت کيدي کور والانې بچ کولي په هغي حلوا پخه کړه نو هغه وي دا ده څه ده ؟ وي دا زمونږ ده تنخواه نه لګي لګي پيسې

۱- سورة ال عمران (۱۳۹)

مابچت کولي هغه دي خه خه لکه زمونږ په تنخواه کې بچت هم رازي نو هغه حلوه ئي بهر اوويسته په مسلمانانو ئي اوخوړه او د خپلې تنخواه نه ئي ده هغې هومره پيسې منع کړي.

ځه پرون څوک اووم او نن څوک يم دا تپوس خو لک پکار دي کنه ولي زما په مالي حثيت کې دومره اوچتوالي راغلي.

حضرت عمر رضي الله عنه په ټول قوم باندې قحط وو ده حضرت عمر رضي الله عنه رنګ تور شوي وو د هغه د رنګ د توريدو وجه دا وه چه هغه بغير ده زيتون ده تيلو نه هيڅ شي نه خوړو.

يو پيره چا ورله څه شي کيخودو هغه ورته وي دا ټول مسلمان دا شئ خوړي شي نو هغه ورته نه دا صرف بادشاهان خوري وي دا څه نه خورم.

چه کله زخمي شو نو ځوئي ته وائي عبدالله بن عمر رضي الله عنهما ته( اي اب کنت لکم ؟ )ځه ستا څنګه پلار اوومه هغه وي زما داسې پلار وي چه ما درباندې فخر کوو هغه وي خه ده هغه ابوت واسطه تا لږه درکوم چه مابه دي زمکه سملوه ده کټ نه مې کوز که هغه وي دادا او بابا هغه ورته وي نا که زما ځوئي ئي ما خکته که نو چه خکته ئي کو نو دا خپله ګيره ئي نيولي وه او په دي زمکه باندې ئي دا مخ راخکو وي الله که ته ما اونه بخي نو زما د بخښلو بل ځائي نشته او خپل مخ ئي په زمکه پوري راخکو او خلقو ته به وي که عمر لا له ولا عليه چي نه الله دله څه ورکې اونه دده نه څه واخلي چه دغسي ئي خلاص کې نو په دې باندې عمر خوشحاله دي

## امریکه او د اسلام خلاف او د مسلمانانو ملکونه ورانول

دي نتیجي ته اودي نوبت ته مونږ څنګه اورسیدو داسوچ په مونږ کې نشته اومونږ ده دنیاده ټولونه زیات بي سوچه خلق یو امریکه دپینټګان دپاره ټوله دنیا تباه کوي زما اسلام آباد ئي تباه کو زما باجوړئي تباه کوزما وزیرستان ئي تباه کوزمونږ سوات ئي تباه کودا دیو پینټګان دپاره.او مونږ د دنیا بي وقوف ترین خلق یو مونږ خپل بچي راغستي دي یوطرف ته مونږ فوجیان حلالوی هغه د دنیا بي وقوف ترین خلق دي او دا نور هم بي وقوف ترین خلق دي چه د خپل قوم او ملک پسي انختي دي الله دي زمونږ زړونه پاک کې.

عزتمندو : خدائي شته دا زړه مو داسي جوش وهي ډیري خبري دي کولي نه شوخو الله دي زمونږ دي خولي له قوت ورکې الله دي اول زمونږ په زړه کې ده ایمان قوت راولي.

## دوفات په وخت کي د جناب رسول الله صلي الله علیه وسلم وصیت کول

عزتمندو : جناب رسول الله صلي الله علیه وسلم چه کله وفات کیدوده وفات په وخت کې ئي وصیت کړي وویهود اونصاري لري کې ده هغوئې ثقافت لري کی. نن زمونږ ځوانان ناست دي ټول په یهودي اونصراني ثقافت کې پراته دي.

زمونږ علماء وائي چه سر تور سره مونځ به څکه نه کې چه دا ده یهودوطریقه ده چه هغوئې سر تور سر ګرځي زمونږ ځوانان ګرځي سر تور سر.

زمونږ ځوانان ګیري خروي.

كما روى ابن إسحاق عن يزيد بن أبي حبيب ما ملخصه أن رسول الله صلى الله عليه وسلم بعث إلى كسرى يدعوه إلى الإسلام فكتب كسرى إلى باذام وهو نائبه على اليمن أن ابعث إلى هذا الرجل بالحجاز رجلين من عندك جلدين فليأتياني به فبعث باذام قهرمانه وبعث معه رجلا من الفرس فدخلا على رسول الله صلى الله عليه وسلم وقد حلقا لحاهما وأعفيا شواربهما فكره النظر إليهما وقال: ويلكما من أمركما بهذا؟قال أمرنا ربنا يعنيان كسرى فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم لكن ربي أمرني بإعفاء لحيتي وقص شاربي :(۱)

زمونږ پیغمبرله یودوه کسان راغلي ووګیري خریلي وي هغه تري تپوس کې خدائي موتباه که دادرته چاویلي دي چه ګیري خرائي هغوئې ورته وي دا زمونږ خدائي قصري مونږ ته ویلي دي نبي صلي الله علیه په غصه کې وائي.زما رب خو ما ته وئیلي دي چه ګیره اوګده که او بریت قینچي که.

زما نبي محمد عربي صلي الله علیه وسلم چه یهودوکوم کار کړي دي د هغي ئي خلاف کړي دي اومونږچه یهودي کوم کارکې نو مونږ ئي په خپل کور کې عملي کوو.

یهود چه به خپل جماعت ته تلل نو څپلې به ئي ویستلي.

عن يعلى بن شداد عن أبيه أو غيره من أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم شك هلال قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم صلوا في نعالكم ولا تشبهوا باليهود : (۲)

---

۱- كتاب الايضاح : جلد۱ صفحه ۷۳

۲- المعجم الكبير للطبراني : جلد ٦ صفحه ٤٤٧

نبي صلي الله عليه وسلم وي ديهودو خنزيرانو خلاف اوکئ جماعت ته ځپلو په خپو ځئ حالانکه جماعت ځپلو په خپو تلل دا بي ادبي وه خو نبي صلي الله عليه وسلم ددي حکم ولي اوکو چه ديهود مخالفت راشي نبي صلي الله عليه وسلم د يهود مخالفت کړي دي.

نن ستا په کورکې تي وي دي ستا په کورکې کمپيوټردي په هغې باندې داسي+ نخي رازي دا نخه ده چا ده؟ دا نخه ده صليب ده ده عيسايانو ستا په کور کې صليب دي ستا په ټوپۍ کې صليب دي.

تاسو ته پته نشته اسرائيل يهود دي هغوئې داکوشش کړي دي چه ټوپۍ جوړې کړي دي په هغې کې ئي شپږ پريزي ستوري جوړ کړي دي شپږپريزو ستوري ده هغوئې شعار دي خوستاسره ده خپل شعار اهميت بالکل نشته.

کعبہ کس منہ سے جاوگے غالب — شرم تم کو مگر نہیں آتی

ته په کومه خوله ځان ته مسلمان وائي تا له حيا نه درزي او دا خبري خمونږ نه دي دا ده پيغمبر محمد عربي خبري دي دازمونږ ده اسلافو خبري دي.

**د محمد عربي صلي الله عليه وسلم د جا نثارا نو واقعات**

پکارداده چه تاته د بابوجي قصي يادي دي نو چه تاته ده محمد عربي صلي الله عليه وسلم ده جانثارانو قصي هم يادي وي کنه چه تا ته دا ياد وو چه عبدالله بن حذافه السهمي څه کار کړي دي؟چه تاته دا هم ياد وي چه نعيمان هغه څه کار کړي دي؟ چه تاته دا هم ياد وي چه خالد چه کله يو سړي مړکو او ډډه ئي ورته لکي او لاس ئي پرې ايخي وو دا ده غيرت دا منظر دا زما ده اسلافو وو او که نه وو.

تا له دا پکار دي چه تاته دا یاد وي چه ده محمد عربي صلي الله علیه وسلم یو جانثار په سره کپړه باندې سر ترلي وو او داسې په ناز او په ادا باندې روان وو نبي صلي الله علیه وسلم ورله خپله توره ورکړي وه وي د دي حق به ادا کوې او چه چرته مشرک راتلو سر ئي ترینه وهو او چه ښځه ورله مخي ته راغله ده ابوسفیان ښځه هنده چه د حمزه رضي الله عنه ویني سګي ئي خوړلي وو نو چه هغه راغله نو چه توره ئي پسي راویستله نو بیا ئي د بته کړه.

نو یو صحابي ترینه تپوس اوکو وي دي توري باندې دي دا ښځه ولي او نه وهله دا خو ډیره خرابه ښځه وه ؟ نو هغه ورته وي څه ده نبي صلي الله علیه وسلم د توري بي عزتي نه کوم ښځي پري نه وجنمه چه تا ته خو دا قصي یادي وي کنه.

خرتاته څه یاد وي ستا په کورکې ستا پجو ته ده بابوجي قصي یادي دي او پلار ئي هم ورته ناست ئي او خوئي ئي هم ورته ناست ئي او تول تبر ورته ناست ئي اوستادمحمدعربي صلي الله علیه وسلم دجانثارانو قیصي نه دي یادي پکارداوه چه ستاحیاة الصحابه راغستي وي اولګ لګ دي لوستي او په کورکې دي ماخام خپل بچي ته ده حیاةالصحابه نه یو قصه کولي چه ستا په بچوکې غیرت راتلي خو الله دي زمونږ په حال رحم اوکې او الله ګواه دي یو شاعر شعر ویلي دي او ډیر عجیبه ئي وئیلي دي هغه وائي:

مرا در دیست اندر دل اگر گوئم زبان سوزد

وگرپنهان کنم ترسم که مغز و استخوان سوزد

وي په زړه کې مي یودردي که وامه ئي ژبه مې سوزي اوکه نه ئي

وائم نو هډوکي او نلي مي سوزي ډير دردونه دي ډير دردونه دي
عطاءالله شاه بخاري الله دي په هغه رحمتونه اوکړي هغه به کله کله
ده خپل تقرير نه ورستو يو شعر وي وي.
يک منو خيل ارزو دل به چه مدعا دهم
تن همه داغ داغ شد فمبه کجا کجانهم
وي څه يو يم او ارزو ګاني ډيري دي زړه چا چاله ورکم او وي تن
مي ټول داغ داغ دي په کوم کوم ځائي باندې به څه مالوچ ګدم.

**د جناب محمد عربي صلي الله عليه وسلم او د صحابو رضي الله عنهم غريبي او واقعات**

الله ګواه دي مونږ له ده خپل ايمان ريسرچ پکاردي مونږ له په دي باندې سوچ پکاردي چه زمونږ جناب محمد عربي صلي الله عليه وسلم په ټول عمرکې هغه قميص نه وواغوستي تاسو به ويني ده پيغمبر تاريخ وي د دي ځائي نه دي ځائي پوري ده هغه ده ويختو يو تار وو دا ولي خکاريدو زما دا خکاري؟
ستاسو دا خکاري؟ قميص ئي نه ووځکه يو پيره تري صحابو تپوس اوکو.

عن أبي هريرة قال رجل يارسول الله أيصلي أحدنافي ثوب قال أو لكلكم ثوبان : تعليق شعيب الأرنؤوط. إسناده صحيح على شرط الشيخين : ([1])
چه نبي صلي الله عليه وسلم ده سړي چې دوه څادري ئي نو څنګه به ئي په سرکړي ؟هغوئې له ده دوه څادرو په سرولو چل نه ورتلو يو څادر

[1]- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۲ صفحه ۲۳۸ ( مسند أبي هريرة رضي الله عنه )

به ئي لنګ کړي وومري ته بي اچولي وو او نبي صلي الله عليه وسلم هغه تعجبا وائي ده هر چا دوه څادري شته ؟ داده تعجب خبره وه.
نن ته کوردومره اوخوري چه ده ملا پسي ولاړ ئي نودومره ډرقيګي لکه سنډه چه ډرقيګي.
صحابه رضي الله عنهم اجعين هغوئي چه به کله بار يعني قضا حاجت له لاړل او ده چا ګندګي به ئي پسته اوليده نو وي به ئي دا ډير دنيا پرست سړي دي حضرت سعد رضي الله عنه وائي.
حدثنا عبد الله حدثني أبي ثنا محمد بن جعفر ثنا شعبة عن إسماعيل قال سمعت قيس بن أبي حازم قال قال سعد رضي الله عنه لقد رأيتني مع رسول الله صلى الله عليه و سلم سابع سبعة وما لنا طعام الا ورق الحبلة حتى ان أحدنا ليضع كما تضع الشاة ما يخالطه شيء ثم أصبحت بنو أسد يعزروني على الإسلام لقد خسرت إذا وضل سعي .
تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين : (1)
مونږ چه به بار ته کيناستو نو زمونږ به داسي پچي کيدي لکه ده اوخانو او ده بيزو چه کيګي الله دي زمونږ په حال رحم اوکړي.

---

1- مسند امام احمد بن حنبل : جلد ۱ صفحه ۱۷۴ مسند سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه

## د اختر ورځ او د رسمونو رواجونو نه ځان ساتل

ده دي اختر په ورځ باندې ده خصوصیت سره قبرونو له تلل دا څه کار نه دي هسي هم روزانه قبرونو ته ځائي خو چونکه زمونږ په دي علاقه کې ایمان او اسلام خو شته دي نه چه خلق اولګې او ده خلقوپه منځ کې ده مصالحت خبري اوکې دشمني دي او ده دي دشمنوده وجي نه فضا په دي ورځ باندې غیر سازګار ئي هر يو سړي دي قبرونو له رازي او ستاسو مشاهده ده چه ډير ځله داسې شوي دي چه په یویل پسې تو پکې راغستي شوي دي خدائي خير کړي دي نو بدعت چه دي هغه د خیر شي نه ئي ده اختر په ورځ په خصوصیت سره قبرونوته راتلل دا ناروا دي په قبرونوباندې په دي ورځ باندې یا په عامو ورځو باندې اور یعني اګربتي لګول دا نا جائز دي.

ده زړونو نه بغض او حسد لري کول پکار دي ظاهري لاسونه صرف ده اختر په ورځ باندې ورکول او سینې میلاوول داده شیعه ګانو طریقه ده.

## قربانۍ کې اخلاص پکار دي

زمونږ ټولو فقهاو لیکلي دي قربانۍ چه اوکې نو اول خو په قرباني کې اخلاص او د اخلاص سره د قربانۍ غوخه چه ده هغي کې ستا چه کوم ګاونډیان دي غریبانان یاستا رشته داران دي هغوئې پکې څه کافي برخه اوکه چه هغوئې ته دا احساس اونه شي چه مونږه قرباني نه ده کړي ده قرباني څرمن دا په جماعت په مدرسو باندې نه کیږي البته طالبانوله اوغریبانانوخلقوله ئي ورکولي شي اوخه

خودا ده چه تاسوخپلي قرباني راجمع کې او نن ده باجوړ هغه مهاجرين چه هغه يوخائي کې ده سوات هغه مهاجرين چه هغه بل خائي کې دي په دي کلي کې يوتنظيم جوړ کئ او د قرباني څرمني هغوئې له راجمع کی او بيا هغه غونډي کی. اوستاسوده کلي مشران دي لاړ شي اوهغه دي چاته حواله کې چه دا ده باجوړ ده مهاجرينودپاره ياده سوات ده مهاجرينو د دپاره يا د وزيرستان ده مهاجرينو د پاره يا د هغوئې د پاره دا خه طريقه ده چه سړي په دي طريقه باندې کار اوکې خو زمونږ په علاقو کي چه څوک ده نيکئ کار اخلي نو اول ئې خپل غرض هغه مخکې نيولي ئي.

نبي صلي الله عليه وسلم وائي چه يو سړي ممبرى غواړى نو ممبر ئي مه جوړوي خکه چه يو سړي وائي چه ما ممبر که نو هغه خپل ذاتي اغراض او مقاصد دا ده خلقو ده اغراضو او مقاصدونه مخکې نيولي ئي الا ماشاءالله کم خلق به ئي چه هغو به خه وي. الله دي مونږ ده صحيح عمل کولو توفيق راکې.

## د تيکس نه ځان ساتل

يوبله خبره عامه ستاسو په توسط باندې ده کلي دي مشرانو ته او ده کميتي دي مشرانو ته رسوم هغه دا ده چه يو صحابيه وو رضي الله عنها «دي ته لک غوږ کيدي دي خبري ته» هغي نه زنا اوشوه.

حدثني عبد الله بن بريدة عن أبيه قال كنت جالسا عند النبي صلى الله عليه وسلم فجاءته امرأة من غامد فقالت يا نبي الله إني قد زنيت وأنا أريد أن تطهرني فقال لها النبي صلى الله عليه و سلم أرجعي فلما أن كان من الغد أتته أيضا فاعترفت عنده بالزنا فقالت يا رسول الله إني قد زنيت وأنا

أريد أن تطهرني فقال لها النبي صلى الله عليه و سلم ارجعي فلما أن كان من الغد أتته أيضا فاعترفت عنده بالزنا فقالت يا نبي الله طهرني فلعلك أن تردني كما رددت ماعز بن مالك فوالله إني لحبلى فقال لها النبي صلى الله عليه و سلم ارجعي حتى تلدي فلما ولدت جاءت بالصبي تحمله فقالت يا نبي الله هذا قد ولدت قال فاذهبي فأرضعيه حتى تفطميه فلما فطمته جاءت بالصبي في يده كسرة خبز قالت يا نبي الله هذا قد فطمته فأمر النبي صلى الله عليه و سلم بالصبي فدفعه إلى رجل من المسلمين وأمر بها فحفر لها حفرة فجعلت فيها إلى صدرها ثم أمر الناس أن يرجموها فأقبل خالد بن الوليد بحجر فرمى رأسها فنضح الدم على وجنة خالد فسبها فسمع النبي صلى الله عليه و سلم سبه إياها فقال مهلا يا خالد بن الوليد لا تسبها فوالذي نفسي بيده لقد تابت توبة لو تأبها صاحب مكس لغفر له فأمر بها فصلى عليها ودفنت

تعلبق شعيب الأرنؤوط : حديث صحيح : (١)

نبي صلي الله عليه وسلم ته وي.يا رسول الله ځما نه زنا شوي ده ما پاکه که نبي صلي الله عليه وسلم ترينه مخ واړوو هغه دي بل طرف ته راغله وي زما نه زنا شويده اوما پاکه که نبي صلي الله عليه وسلم ترينه بيا مخ واړونو بيا راغله نبي صلي الله عليه وسلم ته نو هغه ئي سنګساره کړه ده هغې نه پس څه کسان په دغه لاره باندې تلل نو هغه يو وي دي خان اوشرمو نو نبي صلي الله عليه وسلم ورته وي چپ شه دي خو داسي توبه ويستلي ده که دا ټيکس اغوستنکي اوباسلي وي نو هغه به هم خدائي معاف کړي وونومعلومه شوه چه ټيکس اغيستل دا ده زنا نه زيات ګناه ده.

---

١- مسند امام احمد بن حنبل: جلده صفحه ٣٤٨ ( حديث بريدة الأسلمي رضي الله عنه )

نبي صلي الله عليه وسلم حديث دي.

عن يزيد بن أبي حبيب عن أبي الخير قال : عرض مسلمة بن مخلد وكان أميرا على مصر على رويفع بن ثابت ان يوليه العشور فقال اني سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول ان صاحب المكس في النار: (۱)

چه څوک ټیکس اخلي هغه جهنمي دي. کمیټي مشرانو له پکاردا دي چه کوم خلق زمونږ ددي ځائي نه شګه مګه وړي نو ده قوم ده جائیداد په حیثیت دي دهغوئې نه څلوئیښت روپې. دیرش روپې. د هغه شګي قیمت اخلي دادرسته خبره ده لکه د بهر نه چه کوم خلق رازي هغه هرڅه چه راوړي ټیکس اغستل داګناه ده نوستاسو په واسطه باندې دوي ته داخبره رسوم چه تاسو زمونږ رونړه ئي او زمونږ د پاره خپل ځان جهنم ته مه غورځوئي زمونږ د قوم د پاره خپل ځان جهنم ته مه غورځوئي.

## لاټري حرام دي

دويمه خبره دا کومه چه زمونږ په دي کلي کې په دي ورځو باندې لاټرياني کيګي په دي بازارونوکې نوده کميټي کسانو نه په خصوصيت سره اوعامومشرانو ته په طريق العموم دا خبره غوږ ته رسومه چه دا لاټري ماټري دا دي بندي کې دا خه کار نه دي هغه ورځي يو دوه ګاډي دلته راغلي وو او لاټري پري لګيدلي وه لاټري لوبه جواري ده په ۱۰۰ روپې. کې يوسړي ته ګاړي ميلاوشو هلک لاړ شوهغه ته ئي وي مبارک شه ماله چه مخي له راغلي ما وي ډير درباندې خفه يم ځان له ده جنهم سورلي پخپله اغستي ده په سورلي باندې به سورئي او جهنم

---

۱- مسند امام احمد بن حنبل : جلد۴ صفحه ۱۰۹ ( حديث رويفع بن ثابت الأنصاري رضي الله عنه )

ته به ځي خدائي شته که مي ورته مبارکي وئيلي ئي بيا بله ورځ چه راغلم نو هغه سړي بيابل موټرسائيکل راوستي ووپه هغه بازار اودريدم اوچغي مي ووهلي اي خلقو دي خلقو تاسو بي غيرته اودله ګان موندلي ئي چه جواري له رازي او دلته ئي کوي هغه سړي چه د حالت نه پوهه شو نو موټر سائيکل ته ئي خپه واړوله او تلي دي بيانه دي راغلي دا څيزونه ناروا دي خدائي د پاره دي باندې لګ سوچ اوکې.

ده کميټي مشرانو ته علي الخصوص او نورو خلقو ته علي العموم چه په دي بازار کې چرس خرڅيګي تاسو ئي هم وينې او زه ئي هم وينم ټوله دنيا ئي ويني موږ تاسو شاته ولاړ يو که مرګ پکې رازي خدائي شته ورته تيار يو خودا کلي صفا کئ دا ستاسو کارونه دي دا کارونه اوکې موږ به ستاسو ملګري يو.

الله دي ستاسو نصرت اوکې الله دي تاسو له توفيق درکې چه خپل کلي يو مثالي کلي کئ ده امن کلي کئ او زموږ په لاس کې نور څه نشته دعاګاني دي موږ دعاګاني ډيري کوو خو ان شاء الله که د عمل وخت راغي نو ستاسونه به ورستو نه يو خو شرط دا دي چه د خدائي او ده پيغمبر خلاف پکې نه وي.

## دا ختر مونځ او د هغې طريقه

ان شاء الله اوس مونځ کو او مونځ د هغې طريقه دا ده چه نيت تاسو کوي نو دلته راغلي ئي ده اختر ده مانځه په نيت باندې نو بس په زړه کې به دا راولي چه ده اختر مونځ کوم او په خولې باندې الله اکبر ووائي بيا ثنا اووائي :

سبحانك اللهم وبحمدك تبارك اسمك وتعالى جدك ولا إله غيرك

نو کله چه دا اووائي تاسو نو بیا به امام دري خله تکبیرات وائي په دي دري تکبیراتو کې به تاسو لاس اوچتوي او بیا به خکته کوي په دریم تکبیر باندې به لاس په نامه کیدئ امام به قراءت اووائي دوئم رکعت کې به هم دغسې چل کیږي خو بیا چه کله مونځ اوشي په دوئم رکعت کې به اول کې نه بلکه په اخر کې چه کله رکوع له امام ځي نو دري خله به دي لاس پورته کوې او تاسو به هم کوئي او په څلورم ځل به تاسو رکوع له لاړ شي کله چي مونځ اوشي نو د مانځه نه پس به یوه مختصره خطبه وئیلي کیږي او هغه خطبي ته خه دا ده چه تاسو کینئ که څوک نه کیني او ده چا ضرورت ئي نو هغه تلي شي.

**تمت بالخیر والعافیه**

طالبعلم

ضیاء الله شاه عاف توحیدي

ابن الشیخ عارف طاهري رحمه الله

الشهید

متعلم مدرسه جواهر القران

لاشاعة التوحید والسنة

مرغز صوابی

## بسم الله الرحمن الرحيم

## موضوع

## د جماعة المسلمين علمي محاسبه ((۱))

الحمد لله رب العلمين والصلواة والسلام على سيد الاولين والآخرين

نبينا محمد وعلى آله واصحابه اجمعين

وعلى ازواجه الطاهرات امهات المؤمنين

وعلى امته المتقين الى يوم الدين

وبعد

فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم.

وَجَاهِدُوا فِي اللَّهِ حَقَّ جِهَادِهِ هُوَ اجْتَبَاكُمْ وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ مِلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ وَفِي هَذَا لِيَكُونَ الرَّسُولُ شَهِيدًا عَلَيْكُمْ وَتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ فَأَقِيمُوا الصَّلَاةَ وَآتُوا الزَّكَاةَ وَاعْتَصِمُوا بِاللَّهِ هُوَ مَوْلَاكُمْ فَنِعْمَ الْمَوْلَى وَنِعْمَ النَّصِيرُ:[1]

### دايت ترجمه

سورة حج او ده هغی آخری آیت ماستاسو مخکي اولوستو دا آیات ترجمه داده الله فرمائی:

جهاد اوکی، کوشش اوکی، ده الله په دین کي څنګه چه د کوشش او جهاد حق دي.دی الله تاسو غوره کړی ئی.او الله رب العزت په تاسو باندی په دین کي تنګسیا نه ده راوستی.تاسو ده خپل نیکه ابراهیم علیه السلام طریقه تینګه کړئ دی. ابراهیم علیه السلام ستاسو نوم ایخودي دي مسلمانان په تیرو کتابونو کي هم وو او په دی کتاب

[1]- سورة حج : (۷۸)

کي هم دی دپاره چه پیغمبرتاسو ته حق بیان کی او تاسو خلقو ته حق بیانونکی شی، نو مونځ کوی، او زکوة ورکوی، اوده الله په دین منګولی اولګوی. الله ستاسو مدد ګار دي. نوالله رب العزت ډیر خه مدد ګاراو ډیر خه مولیٰ ډیر خه دوست او ډیر خه امداد کونکي دي.

په دی آیت کي الله رب العزت اول مونګ ته دا خائی چه ده الله په دین کي پوره کوشش اوکړئ. پوره کوشش دادي چه سړي ده الله رب العزت دین زده کی او خلقو ته ئی اورسئ.

ده دین ابتداء چه ده کوم ځائي نه شوی ده خپل هر عمل دا ته منسوب کی اوکه خپل ځان له یوسړي څه نوم ګدی نو پکار داده چه کوم خلق ده اول قرن طریقی ته دعوت ورکی چه ځان ته هغه نوم کیږدی.

بیاالله فرمائی: الله تاسو غوره کړی ئی او په دین کي ئی په تاسو تنګسیا نه ده راوستی. نه ئی پخوا راوستی اونه ئی اوس راوستی او په تاسو باندی ده ابراهیم علیه السلام طریقه لازمه ده. هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ دغه ابراهیم علیه السلام ستاسو نوم ایخودي دي مسلمانان.

مُسْلِمْ داد اسم فاعل صیغه ده ده اسلام نه او اسلام معنی غاړه کیخودل دي او په حدیث مبارك کي راځی.

عن عبدالله بن عمرو أن رجلا سأل رسول الله صلی الله علیه وسلم أي الإسلام خير قال تطعم الطعام وتقرأ السلام على من عرفت ومن لم تعرف: ([1])

نبی صلی الله علیه وسلم نه چا تپوس اوکو. کوم اسلام غوره دي ؟ یعنی کوم مسلم. هغه غوره دي. نبی علیه السلام اوفرمائیل خه

---

[1] - صحیح البخاري حسب ترقيم فتح الباري: جلد١ صفحة ١٤ باب إفشاء السلام من الإسلام

اسلام اوخه مسلم دادي چه خلقو له ډوډۍ ورکوئ اوکه یوسړي پیجنی اوکه نه ئي پیجنی خوچه مسلمان ئی نو په هغه باندی سلام اچوی.

ده اسلام دپاره بیا جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم څه لاری اوخودلی.

بخاری کي حدیث راځی:

، عن عبد الله بن عمرو أن رجلا سأل رسول الله صلى الله عليه و سلم أي المسلمين عن يزيد بن أبي حبيب عن أبي الخير عن عبد الله بن عمرو أن رجلا سأل رسول الله صلى الله عليه و سلم أي المسلمين خير يا رسول الله قال من سلم الناس من لسانه ويده : ([1])

ده نبی علیه السلام نه تپوس اوشو په مسلمانانو کي کوم یو مسلمان دي چه هغه غوره دي؟نو نبی علیه السلام اوفرمائیل خه مسلمان هغه دي چه ده هغی ده ژبی نه او ده هغه ده لاس نه نورو مسلمانانو ته امن ئی.

## د جماعت المسلمين حقیقت

دا آیت ډیر تشریح او تفصیل ته محتاج دي خو نن په دی بیان کي ځما وړاندی یوه فرقه ده چه هغه فرقه ځان ته مسلمین وائی او کله هغوئ ځان ته جماعت المسلمین وائی او دا ده دوی یو مشردي مسعود نوم ئی دي نو ده هغه مشر په اعتبار باندی دی ته مسعودی ډله وئیلي کیږی. فرقه مسعودیه ده دی فرقی عقائد څه دی؟ دا په حقیقت کي هغه خوارج دی کوم چه ده حضرت علی

[1]- المعجم الاوسط : جلد۳ صفحه ۲۸۷ ( من اسمه بكر )

رضی الله عنه اوده خضرت معاویه رضی الله عنه ده دوانړو ده جنګ باعث وو. او په دوانړو ډلو کي چه کوم کسان مړه شوی وو. نو ده هغه ډلو مشرانوده هغویٔ د قاتلانو په باره کي ده جهنم پیشن ګوئی کړی وه.

عن عاصم عن زر بن حبيش قال استأذن بن جرموز على علي رضي الله عنه وأنا عنده فقال علي رضي الله عنه بشر قاتل بن صفية بالنار ثم قال علي رضي الله عنه سمعت رسول الله صلى الله عليه و سلم يقول ان لكل نبي حواري وحواري الزبير قال قال أبي سمعت سفيان يقول الحواري الناصر. تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده حسن : (1)

مشهورصحابی حواری نبی صلی الله علیه وسلم حضرت زبیر بن عوام ده نبی علیه السلام ده څکه ترور ځوي ده حضرت معاویه رضی الله عنه په فوج کي ده صفین په جنګ کي جنګیدو او په هغه جنګ کي هغه شهید شو چه کله شهید نو ده حضرت معاویه رضی الله عنه مقابل حضرت علی رضی الله عنه مخکي چه کله ده زبیرصاحب ده قتل خبره اوشوه نوعلی رضی الله عنه وی.چه ما ده نبی صلی الله علیه وسلم نه اوریدلی دی بشر قاتل بن صفية بالنار ځما ده ترور ځوئي ده صفی ځوئي هغه چه چا مړکو نو ده ده قتل کونکی ته خبر ورکه چه دي جهنمی دي.

دا ده خوارجو فرقه ده هغه زمانی نه پیدا شوی ده ده دغه خوارجو خیال دا وو چه یو طرف ته او بل طرف ته صحابه ټول کافر دی.

استغفر الله معاذ الله اوصرف ځان ته ئی مسلمانان وی.دی ناپوهه

---

1- مسند امام احمد بن حنبل : جلد۱ صفحه ۸۹ (مسند علي بن أبي طالب رضي الله عنه)

خلقو د پوهه کولو دپاره صحابه کوششونه کړی.
حضرت علی رضی الله عنه مشهور صحابی حضرت عبد الله ابن عباس د دوی ده پوهی دپاره لیګلي وو. خو دوی کله پوهیدی.
اوس یوځوکلونه کیږی دا فرقه په دی پاکستان کي پیدا شوی دي په نوره دنیا کي نشته.اودوی ځان ته جماعة المسلمین وائی.
او بله ډله پکي ده هغوئ ځان ته صرف المسلمين وائی.

## د دوی په دی نوم پوری ده تنګیدو شبهی

د دوی په دی نوم پوری ده تنګیدو څه شبهی دی یوه شبهه ئي داده چه ام عطیه هغه وائی.

عن محمد عن أم عطية قالت أمرنا أن نخرج الحيض يوم العيدين وذوات الخدور فيشهدن جماعة المسلمين ودعوتهم ويعتزل الحيض عن مصلاهن قالت امرأة يا رسول الله إحدانا ليس لها جلباب قال لتلبسها صاحبتها من جلبابها: ([1])

مونږ به ده جناب رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کي چه مونږ به د مسلمانانوجماعت او ده هغوئ دُعا ګانو ته حاضریدو.
نوده دغه حدیث په اساس باندی دوی ځان ته وائی مونګه جماعة المسلمین یو او دا سوچ نه کی چه ام عطیه وی.مونګه حائضی او نفاسی ښځی یعنی هغه ښځه چه د هغی مرض راغلي ئی یا هغه ښځه چه ده هغی ځلویښتی ئی مونګه به مونځ نه کو خو د اختر په ورځ باندی به مونږه ده مسلمانانو په جماعت کي شاملیدو ده مسلمانانو ډلی له به تلو.

[1] - صحيح البخاري حسب ترقيم فتح الباري: جلد١ صفحه ٩٩ باب وجوب الصلاة في الثياب

ده دوی نه که څوك تپوس اوکی چه تاسو دا حدیث په استدلال کي نیسئ نو تاسو حائضی ئی کو نفاسی ئی. ستاسو حیض راغلي کو نفاس راغلي دي. بل دا آیت هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ. وائی ابراهیم علیه السلام ستاسو نوم مسلمین ایخودي دي.

**الله رب العزت ده پیغمبر ده صحابو څه نوم اغستي دي؟**

اصحاب د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه هغوئ ته اول خطاب دي ده قرآن او چه کله اول خطاب هغوئ ته دي نو ګورو چه الله رب العزت ده پیغمبرده صحابو څه نوم اغستي دي؟ مسلم ئی ورته وئیلي دي. او مسلمین ئی ورته وئیلی دی. که څه بل نوم ئی ورته اغستي دي دی دپاره ده سورة الانفال ۷۴ نمبر آیت کي چه سړي سوچ اوکي او نظر اوکی نو هلته الله فرمائی:

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَهَاجَرُوا وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللَّهِ وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَرِزْقٌ كَرِيمٌ : (۱)

ترجمه: هغه کسان چه هغوئ باور کړي ایمان ئی راوړي دي ایمان ئی قبول کړي دي. دا یوه ډله خائی او هجرت ئی کړي دي او جهاد ئی کړي ده الله په لار کی جهاد فی سبیل الله نه مراد ده الله په لار کي خپل سرونه قلمول او د بل سرقلمول دی ته څه وائی؟ جهاد فی سبیل الله.

الله فرمائی هغه کسان چه باور ئی کړي او هجرت ئی کړي جهاد ئی کړي ده الله دا یوه فرقه دویمه وَالَّذِينَ آوَوْا وَنَصَرُوا هغه کسان آوَوْا ده ایوا نه دي چه هغوئ خائي ورکړي دي. اوامداد ئی کړي

---

۱- سورة الانفال (۷۴)

دي أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا: (١)

اول ئی دلته دوه فرقي او ډلی ثابتی کړی یو فرقه بازی هغه ده عمل نوم دي یوفرقه بازی تفرق هغه ده دی نوم دي چه سړي نوی نوی جماعتونه جوړکی یقینا اسلام ده دویم قسم ده تفرق خلاف دي.وَ اعْتَصِمُوْا بِحَبْلِ اللهِ جَمِيْعًا وَّ لَا تَفَرَّقُوْا خو کوم چه په ظاهر کي خلقو ته فرقی خکاری او په حقیقت کي هغه فرقی نه ئی هغه ده یوعمل نوم ئی نوپه اسلام کي دا پخوا هم ممدوح وو نن هم ممدوح دي او صبا به هم ئی خلق صفت کوی.

من جمله د هغی نه یو عمل ده ایمان او ده هجرت وو او ده جهاد فی سبیل الله وو.نو چا چه په الله باندی ایمان راوړي هجرت ئی کړي جهاد ئی کړي دایوجماعت دي.وَالَّذِيْنَ اٰوَوْا وَّ نَصَرُوْٓا : (٢)هغه کسان چه هغوئ مهاجرینوله ځائي ورکړي دي ګوره عملونه جداجدا دی یو کور پریخودي نو بل ورله ځائي ورکړي او یو ده جهاد په اراده راوتي نو هغه بل ئی نصرت کړي دي.

دوه ډلی دی ده یوی ډلی یو عمل دي او ده بلی ډلی بل عمل دي. نو قرآن دی دوانړو ته وائی أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا دا نه وائی چه أُولَٰئِكَ هُمُ الْمُسْلِمُوْنَ حَقًّا نو کوم نوم چه هغه په قرن اول کي ده تاکید په طریقه باندی الله رب العزت ده اول قرن ده پیغمبر صلی الله علیه وسلم تابعدارو له استعمالوی نو هغه نوم زیات لائق نه دي چه سړي ئی ځان ته اووائی. نو تاسو ځان ته مسلمین ولی

---

١- سورة الانفال (٧٤)

٢- سورة الانفال (٧٤)

وائی؟ پکار داوه چه الله دلته وئیلي وی چه أُولَئِكَ هُمُ الْمُسْلِمُوْنَ حَقًّا دا نه وائی الله وائی أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا دا کره مؤمنان دی لَهُمْ مَّغْفِرَةٌ او ده دغه مؤمنينو دپاره ضمير راجع دي مؤمنينو ته ده دوی دپاره مغفرت دي. او ده دوی دپاره اجر کريم دي.

## نصرت څه ته وائي؟

نصرت دا نه دي چه ده کوره ئی ډوډئی راغستی ده او په جماعت کي ئی ده هغوئ سره خوړلی ده. یا راغلي په جماعت کي د هغه سره ناست دي دا نصرت دا قطعاً ده قرآن تحريف دي. نصرت هغوئ څنګ کړي وو؟ هغوئ ده جهاد د پاره چه تلل نو دوی هم ورسره توری اغستی وی او په میدان ده جنګ کي ورسره جنګيدل هغه ده بدر په ورځ باندی چه نبی صلی الله علیه وسلم وی څه جنګ له زم څنګه چل به ئی؟ مهاجر صحابه پاسیدل یا رسول الله صلی الله علیه وسلم ته چه چرته خی مونګ درسره نو هغه به ورته وی کینئ نو سعد رضی الله عنه پاسيدو وی یارسول الله صلی الله علیه وسلم لکه ته چه مونګ ته وائی قسم په خدائي چه ته چرته خی نو مونګ به هلته څو که ته برك غماد ته خی نومونګه برك غماد ته څو دغه نصرت وو دا نصرت نه دي چه ده بهر نه خلق راغلی دي او جماعت کي ناست دي راځئ چه مونګه ئی نصرت له لاړ شو. دا خو د قرآن تحريف دي.

## د جهاد فی سبیل الله نه څه مراد دي؟

بعضی خلق ده قرآن ده آیتونو تحریف کوی.او په داسی اتفاقی سطح باندی ئی تحریف شروع کړي دي. مُولیان ئی په مرکز کي ولاړئی وَجَاهَدُوا فِي سَبِيلِ اللهِ وی په دی لاړ کي اووتل د دی لاړ نه مراد ده جهاد لاره ده. لغدوة في سبيل الله أو روحة خير من الدنيا وما فيها ده الله په لاړ کي یعنی په جهاد کي یو صباچه اووتی دا ده ټولی دُنیا او ده ما فیها نه دنیا کي چه څه دی ده هغی نه غوره ده.

دارنګی دی جهاد کي یو مازیګر چه اووتی دا په دنیا کي چه څه دی نو ده دی ټولو نه غوره ده.

دوی زر زر شی دا راواخلی نو په تبلیغ باندی ئی حمل کی.ده تبلیغ یوخپل مقام دي خو دا تحریفونه کول دا د الله د دشمنانو یو دسیسه ده چه هغوی ده جهاد آیتونه هغه راخلی او په خوګو پستو لارو باندی ئی لګی؛

هغه لاړ چه په هغی کي یو صحابی عبدالله بن حذافة رضی الله عنه قید دي.بادشاه ورته وائی انکحك ابنتی واقاسمك ملکی خپله لور درله درکوم خپله بادشاهی درسره نیموم خو ته لګ خما په طریقه شه هغه ورته وائی نه نو وی خه چه په طریقه کیږي می نه دا تندي می خکل که هغه وی نه وی اور ته دی اچوم وی واچو می؛

په دغه لاړ کي وتل دا نه چه ده کور نه اووتی او دی خائي کي خلقوته دعوت ورکئ چه هر څه چه کی الله کوی ده الله نه ده کیدو او ده مخلوق نه ده نه کیدو یقین او چه کله ده بریلی جماعت ته لاړی نو بیا

دی په مشرك پسې نیت تړلي دي دا ولې؟ جې دا خلق رااړو نوستا خو تراوسه وی چه د الله نه د کیدو او ده مخلوق نه ده نه کیدو یقین پیدا کوو نو ستا په دی مخلوق باندی ده کیدو یقین څنګه راغي او ته ده هغوئ سره ده هغوئ په هغه رسم او رواج کي شرکت کوي ده هغوئ عبادت خوعبادت نه دي. وَمَا كَانَ صَلَاتُهُمْ عِنْدَ الْبَيْتِ إِلَّا مُكَاءً وَتَصْدِيَةً ده هغوئ عبادت هیس عبادت نه دي. حقیقت ئی نشته مشرکان دی که ده قادیانانو ځائي ته وراغي نو دي ده هغه سره مونځ کوی داولی؟دا مونګه ده مصلحت دپاره کوو.ده پیغمبر صحابه دا مصلحت چرته کړي وو.ده فی سبیل الله نه مراد جهاد دي.

## د جماعة المسلمین والو نه تپوس

اوس ده دی خلقو نه تپوس اوکه دا پرون چه پیدا شوی دا خوارج دا ځان ته چه مسلمین وائی وایه تاسو چه دیوالونه ګنده کړی دی.چه په جماعة المسلمین کي شامل شئ. اول خو کو تاسو قرآن منئ او تاسو وائی چه قرآن کي نوم دي نو هلته ده جماعة المسلمین نه دي بلکه ده مسلمین نوم دي.هُوَ سَمَّاكُمُ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِيْنَ نه دي هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِيْنَ او بیا الله رب العزت کومو خلقو ته مسلمین وئیلي دی نو هغوئ ته ئی مؤمنین هم وئیلي دی أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا نو معلومه دا شوه چه اسلام او ایمان د هغه خلقو یو شي وو. نن چه یو سړي ځان ته جماعة المسلمین وائی او جماعت المؤمنین نه وائی خو ددی مطلب دادي چه دا دویمی ډلی خلق دي او دغه دویمه ډله د الله رب العزت ځائی چه دا څوك دی.

سورة حجرات کي آیت نمبر ۱۴ کي الله فرمائی.

قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِنْ قُولُوا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ وَإِنْ تُطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَا يَلِتْكُمْ مِنْ أَعْمَالِكُمْ شَيْئًا إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ : (۱)

ده بانډی خلق وائی مونږ ایمان راوړي دي مونګ مؤمنان يو ت ورته اووایه تاسو مؤمنان نه ئی.او وائی چه مونګ اسلام قبول کړي دي تراوسه پوری ایمان ستاسو په زړونو کي نه دي داخل شوي.یودغه مسلمین دی چه ایمان ورسره نه ئی ټول عمرخان ته مسلمین وائی خو ده ایمان سره ئی څه واسطه نشته ایمان پکي نشته.

الله فرمائی.سورة حجرات آیت نمبر ۱۴ سپاره ۲۲ الله فرمائی.

قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِنْ قُولُوا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ وَإِنْ تُطِيعُوا اللَّهَ وَرَسُولَهُ لَا يَلِتْكُمْ مِنْ أَعْمَالِكُمْ شَيْئًا إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ : (۲)

ده بانډی خلق وائی څمونږ په دی علاقه کي هم دغه ټول ده بانډو خلق دي.ده دری خلق او برة ګوجر ده بانډو خلق دغه ګوجردا د بانډو خلق دا ده دری خلق دا ده شاه کوټ خلق اعراب بانډچیانو ته وائی ده غرونو خلق.دوی وائی مونګ باور کړي دي نه تاسو کي لا ایمان نشته خوداسی اووائی چه مونږ اسلام قبول کړي الذی اسلم فهومسلم کوم سړي چه اسلام قبول کی هغه ته څه وائی؟ مسلم.او د مسلم جمع ده مسلمین.دادغسی مسلمین دی هغه د ایمان نه خلاص خلق او په

۱- سورة حجرات (١٤)

۲- سورة حجرات (١٤)

دیوال باندی ئی چغه لیکلی ده وائی نوی نوی نومونه ځان ته وئیل ده مسلمین نه بغیر دا کفر دي نفاق دي. او مختلف قسم نومونه دیته اخلی.

## د قران نه تپوس کوو چه صحابه کي څو ډلی دی؟

رازی لګ د قرآن نه تپوس کوو چه صحابه کي څو ډلی دی؟ او الله رب العزت دهغوئ نوم داپه څه انداز باندی ذکرکوی الله فرمائی: سورة توبه آیت نمبر ۱۱۷ سپاره ۱۱.

لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِن بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِّنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ : (۱)

الله قسم کوی ځمادی قسم وی ما مهربانی کړي ده په پیغمبر باندی وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ دانه وائی چه والمسلمین.الله توبه قبوله کړه مهربانی ئی کړي ده په نبی باندی او په مسلمینو باندی.داسی نه وائی.الله فرمائی لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ الله مهربانی کړي ده په نبی باندی په مهاجرینو باندی او په انصارو باندی روره هجرت او نصرت دا ده عمل نوم دي.چا کور پرېخودي ده دین دپاره ده ایمان دپاره ده اسلام دپاره.

ده اسلام دوه اطلاقه دی یواسلام هغه ده باطنی تابعداری، ظاهری نوم دي یو اسلام هغه دي چه ظاهر کي ئی تابعداری ئی او باطن کي نه ئی دیته هم مسلم وائی.

سورة الحجرات کي چه کوم آیت تیر شو هلته الله فرمائی.

---

۱- سورة توبه (۱۱۷)

قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِنْ قُولُوا أَسْلَمْنَا وَلَمَّا يَدْخُلِ الْإِيمَانُ فِي قُلُوبِكُمْ : (۱)

ده باندې خلق وائی مونږ باور کړي الله وائی ورته اووایه ایمان په تاسو کي کوم ځائي دي. وائی چه مونګه مسلمین یو دا ناپوهه نه پوهیګی.او ځان ته وائی مونګه مسلمین یویعنی ده ایمان سره څمونګه بالکل واسطه نشته.

## تپوس ترینه وکه چه فرقه بندی تاسو څه ته وائی؟

لیکی فرقه بندی کفر دي شرك دي لعنت دي عذاب دي دا چه ځائي په ځائي تاسو په دی لاره ځائي نو هر ځائي ئی دا لیکلی دي .ورته وایه فرقه بندی تاسو څه ته وائی؟ که فرقه بندی حنفیت ،شافعیت ،مالکیت،حنبلیت ته وائی نو دا څیزونه دا ده عمل نوم دي.

حنفی هغه عامل ته وئیلي کیږی چه ده امام ابو حنیفه رحمه الله ده ارشاداتومطابقت دهغه ده استنباط اواستحراج مطابق په دین باندی عمل کوی.

حنبلی هغه چا ته وائی چه امام احمد ابن محمد ابن حنبل ده د هغه د ارشاداتواوده فقهی استنباطاتو مطابق په دین باندی عمل کوی.

شافعی هغه چا ته وائی چه هغه امام شافعی ده اجتهاد او ده فقهی استنباط په رڼړا کي په دین باندی عمل کوی.

مالکی هغه چا ته وائی چه هغه د امام دارالهجرة امام مالك ابن انس ده اجتهاد په رڼړا کي هغه په دین عمل کوی.

---

۱- سورة حجرات (۱۴)

لکه انصار وائی هغه چا ته وی چه هغوئ ده مهاجرینو امداد کړي وو او ده جناب محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په دعوت باندی ئی لبیك وئیلي وو.

مهاجر هغه چاته وائی چه هغوئ کور کلي اولس هر څه ئی پریخودی وو او ده محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم تابعدار شوی وو.

نو که چری دغه فرقی ئی نو داهم فرقه شوه. مهاجرین او انصار. ما په اول کي یو ټکي اوکو چه بعضی څیزونه ده عمل نوم ئی او په هغی باندی صفتونه الله رب العزت کوی.

**د مهاجر او انصاری جهګړه او د نبی صلی الله علیه وسلم بیان**

الله فرمائی لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنصَارِ الله ده نبی په مهاجرینو او انصارو باندی مهربانی کړي ده.

عمرو بن دينار قال سمعت جابر بن عبد الله رضي الله عنهما يقول كنا في غزاة فكسع رجل من المهاجرين رجلا من الأنصار فقال الأنصاري يا للأنصار وقال المهاجري يا للمهاجرين فسمعها الله رسوله صلى الله عليه وسلم قال ما هذا فقالوا كسع رجل من المهاجرين رجلا من الأنصار فقال الأنصاري يا للأنصار وقال المهاجري يا للمهاجرين فقال النبي صلى الله عليه وسلم دعوها فإنها منتنة: ([1])

دغه ده نصرت او ده هجرت ټکي دي په یو جنګ کي یو انصاری ورغلي دي خپله اوخه په یو ډنډ کي اوبه کوی ده پاسه پری یو مهاجر

[1]- صحيح البخاري حسب ترقيم فتح الباري: جلد٦ صفحه ١٩٢ باب قوله هم الذين يقولون لا تنفقوا على من عند رسول الله

راغلي هغه هم خپله اوخه اوبه کوله یو وی زه به خپله اوخه مخکی اوبه کومه اوبل وی زه انصاری چغه کړه انصارو راورسیګی مهاجر چغه کړه مهاجرو راورسیګی دي کي نبی راورسیدو نبی صلی الله علیه وسلم ورته وی دا چغه پریدی دا فرقه واریت پریګدی دا بدبویه دي.

تهیك ده چه دا انصاریت او مهاجریت دا کله د فرقی نوم شو او دین ئی توټی توټی کوو نو یقینا دا شي ده لعنت سبب دي خو کو یو سري په یو رنړا کي په یو دین باندی عمل کوی هغی ته فرقه نه وئیلي کیږي.نوتاسو څنګه اول یو شی له خپل نوم کیدی او بیا په هغی باندی حکم ثابت کی.

## فرقه واریت په اسلام کي نشته

مونږ وایو چه فرقه واریت په اسلام کي نشته. اسلام ده تفرق ده تهذب ده فرقه بازی ده ډله بازی خلاف دي نو دا ستاسودا فرقه بندی نه ده؟ چه نور خلق یو طرف ته او تاسو بل طرف ته.ده پیغمبر صحابه مؤمنین اوتاسومسلمین اوس تاسوآیت واوریدوالله څه فرمائی أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا دا کره مؤمنان دی.او ته وائی نه مونګه مسلمین یو او وائی جماعۃ المسلمین سے چمٹنے میں مومن کا دل خیانت نہیں کرتا . نود الله رب العزت هغوئ ته ولی نه وائی چه اولئك هم المسلمون حقا یا هم المسلمین نو دا ولی نه وائی الله.

الله ولی وائی چه أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا کره ایمان والا دی. او چه څوك وائی نه مونګه کي ایمان شته او ایمان پکي نه ئی الله ورته وائی لَمْ تُؤْمِنُوا تا کي ایمان چرته دي.وَ لكِن قُولُوٓا اَسۡلَمۡنَاتاسو

وائی چه اوس مونږه رو رو غاړه کیخودی ده. ده باندې خلق یو ده ایمان پته راته نه وه اوس رو رو ظاهری تابعداری کوو او چه کله باطنی تابعداری پکې راشی نو بیا به تری مؤمن جوړ شی.
الله رب العزت فرمائی:
يَمُنُّونَ عَلَيْكَ أَنْ أَسْلَمُوا قُلْ لَا تَمُنُّوا عَلَيَّ إِسْلَامَكُمْ بَلِ اللَّهُ يَمُنُّ عَلَيْكُمْ أَنْ هَدَاكُمْ لِلْإِيمَانِ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ : (۱)
فرمائی څه خلق به پیدا شیٔ چه هغه به ځان ته مسلمین مسلمین وائی په تا باندی دا زبادی چه مونږه مسلمین ورته اووایه په مونږه باندی خپل اسلام اسلام مه زبادئ الله په تاسو باندی احسان کی چه تاسو ته ئی ایمان خودلي دي. نو چه ایمان پکي ده سره نه ئی او صرف مسلم ئي نو دا خو ده هیس نه شو. یو اسلام هغه مترادف ده ایمان دي.
سورة الذاريات کي الله رب العزت چه کله ده یو ډلی ذکر کوی الله فرمائی. فَأَخْرَجْنَا مَنْ كَانَ فِيهَا مِنَ الْمُؤْمِنِينَ
راویسته ما ددی کلی نه هغه څوك چه مؤمنان وو.
او کنه صرف ظاهری تابعداری ده او دننه نه وه. نو دا مؤمن نه دي. او ځان ته دی مسلم وائی.

---

۱- سورة حجرات (۱۷)

## د قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ تشریح

کوم آیت باندی چه دا خلق استدلال کوی هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ ددی آیت نه دوه کرخی پس چه کله دا سورة ختم شی او وریسی بل سورة شروع کیږی نو په هغی کي الله پاك فرمائی:

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ * الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ عَنِ اللَّغْوِ مُعْرِضُونَ *وَالَّذِينَ هُمْ لِلزَّكَاةِ فَاعِلُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ لِفُرُوجِهِمْ حَافِظُونَ * إِلَّا عَلَى أَزْوَاجِهِمْ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُمْ فَإِنَّهُمْ غَيْرُ مَلُومِينَ * فَمَنِ ابْتَغَى وَرَاءَ ذَلِكَ فَأُولَئِكَ هُمُ الْعَادُونَ *وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ * وَالَّذِينَ هُمْ عَلَى صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ :[١]

مؤمنین کامیاب دی. هغه کسان چه هغوئ په خپل مانځه کي الله ته عاجزی کوی. هغه کسان چه هغوئ ده شرك ده محفلونو نه ځان ساتی. هغه کسان چه هغوئ ده خپل زړه صفائی کوی. هغه کسان چه هغوئ ده خپل شرمگاه حفاظت کوی. هغه کسان چه ده امانت اوعهد خیال ساتی. هغه کسان چه ده مونځ محافظت کوی.

ده دوی نه تپوس اوکه تاسو صرف مسلمین ئی که مؤمنین هم ئی. قرآن عظیم الشان کي چه الله رب العزت چه کله ده دین ده زده کړی خبره کوی فرمائی:

وَمَاكَانَ الْمُؤْمِنُونَ لِيَنفِرُوا كَافَّةً مؤمنان دی ټول نه اوزی مسلمین ئی نه دی یاد کړی.

الله فرمائی: لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ

---

[١]- سورة مومنون (١-٩)

مهاجر او انصار دا دوه ډلی دی کنه په صحابو کي ؟ او اوس هم چه کله ه صحابو تاريخ راواخلی نو کوم صحابی چه هغه نصرت کړي هغه سره ليکی الانصاری.

## د جماعت المسلمين شبهی

ده دی خلقو څه مختلفی شبهی دی یوه شبهه ئی دغه ده کله کله به تاته وائی چه څمونږ نوم خو په قرآن کي راغلي دي نو هلکه چه قرآن کي کوم نوم راشی نو هغه به ځان له ګڼدی. نو شيطان په قرآن کي نشته؟ فرعون په قرآن کي نشته؟ قارون په قرآن کي نشته؟ هامان پکي نشته؟

اوس ده دوی نه تپوس اوکه دوی وائی څمونږ نوم په قرآن کي راغلي دي نو قرآن کي خوچه راغلي دي نو الله فرمائی ده صحابه باره کي أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا نوتاسو مؤمنين ځان ته ولی نه وائی؟ مؤمنون ځان ته ولی نه وائي. جماعة المؤمنون ده دوی عوامل ټول زاړه دی. خکته بره ټول عوامل ئی زاړه دی.

## د تبليغی جماعت ظاهری نقصان

ددوی یوه شبهه داده دا تاسوچه مونځ کوی نو دا خپل مونځ مونږ ته په حديث کي اوخائی.

څمونګ په دی عامومسلمانانوکي يومصيبت دي. دابسترو والا رونړه دوی چه چرته ځی نو دوی ټول عمر دا کوشش کوی وائی چه مونګه به صرف فضائل بيانرو مسائل نه بيانوو. هغوئ دا خلق داسی جری کړي دي چه دوی خو فضائل بيانئ مسائل خو دوی له ورځی نه او هغوئ ده خپلی فرقی ده مشرمسعود احمد ده هغه

ده وينا مطابق دا خرافات ئې زده کړي دي نو چه لاړ شي هغه به درته خپل ګټ شروع کي. او دا غريب هسې دا خوله چنګه چنګه کوي. تپوس تري اوکي نو وائي مونږ ته مشران وائي چه تاسو به فضائل بيانوئ او دا دومره کم عقل خلق دي چه فضيلت ددې مثال ده کالي دي. کالي خلق چاته اچې فضيلت به مسئلې ته اچوي نو چه مسائل ته نه بيانوي اومسائل نه زده کوي اوتپوس کوي اومازيګر به څه خرافات وائي وائي داموږګه تعليم کوو.

تعليم خوالله پاك کړي دي الرَّحْمَنُ *عَلَّمَ الْقُرْآنَ الله مهربان خدائي هغه ده قرآن تعليم کړي دي نو ده قرآن تعليم دي نه کوي. چرته څه کتاب ئې راغستي دي اوقيصې ميصې پکي کوي ديته تعليم وائي.

تيره زمانه کي ما بازارکي فضاهموارولة ما وي چه ده احاديثو درس پکي شروع کو. نو دوي وي دا څمونږه ده تعليم سره منافي دي. نو ده حديثو درس ئې په تعليم پاتي کو.

## دالله په لارکې وتل او د دين کارکول

تيره جمعه باندې مادا خبره کړي وه ماده ترمذي درس کوو طالبان راته ناست وو يوجماعت راغلي وو کله چه مونږه درس ختم کو نو ده درس ده ختميدو نه پس يو صاحب راغي ځما سره ئې ګره بره اوکړه ماته وائي يره مولوي صاحب په خوله کي دي ډيراثر دي اوډيرې خوږې خوږې خبرې دي اوکړي خو کاش چه ده الله په لاره کي وتي وي نو ما ورته وي ظالمه د الله لار خو داده کنه ده پيغمبر حديث بيانول داده الله لار نه ده؟ دي خلقو څمونږ فضا ګډه وډه کړه.

## د تبلیغي جماعت دفاع کول

مُوري باندې ته ئي څه بوتلم هلته مي تقرير اوکو او هلته دا نور خلق وو عثمانيان او دوی ئی دی پوزی له راوستی وو نو ما هغوئ ته چيلنج ورکو او خلاص مي کړل ترينه.

څه زمانه پس ده هغوئ يو مُلا دي هغه راروان وو هغه مولائی ځما سره په طالبئ کي پاتی شوي وو څه نی هم خه پيژندم او ما هم خه پيژندو هغه تبليغيان ځما پسی راغلل ماته وائی چه مولوی صاحب هغه سړي رازی ما وی لاړ شې. ليکلي تری راوړی چه څه مناظره کوم چه څه ورسره مناظره اوکم وی چه ليکلی خو هغه نه راکئ نو ما وی چه ليکلی نه درکئ نو لاړ شی او په څوکی کي پری رپورټ اوکی. څوکی والاته اووائی چه دا سړي ځمونږ کلي خرابوی. ځمونږه غم خادی ئی دوه ځايه کړه.دي ځمونږ سره کينوه چه ځمونږ سره بيان (خبری) اوکی. وی دا هم نه شو. نو ما وی لاړ شې او مشينان پسی راواخلی وی دغه هم نه شو کولي نو ما ورته وی څه چل اوکم درله ماته خو ئی مسئلی ته کينوی چه څه ورسره خبره اوکم نو چه سخته پری راشی مونږه ورله ورخو دی خلقو دامسئله ورانه کړي ده.

## څه درته خپل مونځ خائم

ده مونځ طريقه ورله نه ورځی او چه خبره اوکی نو وائی مونږه ده مانځه محنت کوو.تا ده مانځه څه محنت اوکو.رازئ خه ورته خپل مونځ خائم چه ځمونږ مونځ څنګه دي. او دا په کوم کتاب کي دي په سنن ابی داؤد کي ده ام المؤمنين عائشه رضی الله عنها ده هغی روايت دي فرمائی.

عن أبي الجوزاء عن عائشة قالت كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا استفتح الصلاة قال سبحانك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالى جدك ولا إله غيرك قال أبو داود وهذا الحديث ليس بالمشهور عن عبد السلام بن حرب لم يروه إلا طلق بن غنام وقد روى قصة الصلاة عن بديل جماعة لم يذكروا فيه شيئا من هذا : (۱)

کله چه به نبی صلی الله علیه وسلم په مانځه کي داخلیدو اراده اوکړه نو تکبیر به ئې اوی او بیا به ئې وی دا حدیث ابو داؤد ذکر کړیدي او دا حدیث ترمذی ذکر کړیدي.

عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه په صحابه کرامو کي حضرت عمر رضی الله عنه په صحابه کرامو کي دارنګی ګڼړ صحابه تابعین او په هغی کي یو امام ابو حنیفه ده هغوئ دا مختار دي چه اول به څه وائی سبحانك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالى جدك ولا إله غيرك.

ددی نه علاوه نوری هم دُعا ګانی شته یو سړي دي هغه د نبی صلی الله علیه وسلم نه تپوس کی ده الله پیغمبره ته چه کله تکبیر اوائی او قرات شروع کی نو ددی په مینځ کي ته چپ ولاړ ئی او که ته څه وائی. لکه حدیث کی رازی.

عن أبي هريرة قال كان رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا كبر في الصلاة سكت بين التكبير والقراءة فقلت له بأبي أنت وأمي أرأيت سكوتك بين التكبير والقراءة أخبرني ما تقول قال اللهم باعد بيني وبين خطاياي كما باعدت بين المشرق والمغرب اللهم أنقني من خطاياي كالثوب الأبيض من الدنس اللهم اغسلني بالثلج والماء والبرد: (۲)

---

۱- سنن ابی داود : جلد ۱ صفحه ۲۸۱ باب من رأى الاستفتاح بسبحانك اللَّهُمَّ وبحمدك .

۲- سنن ابی داود : جلد ۱ صفحه ۲۸۳ باب السكتة عند الافتتاح

نو نبی صلی الله علیه وسلم اوفرمائیل الله ځما او ځما ده ګناهونو
په مینځ کي دومره فاصله راولی لکه څنګه چه مشرق او مغرب د
یو بل نه لری دی دغسی ځما ګناهونه ځمانه لری کی الله د ګناهونو
نه می داسی پاك کی لکه چه سپینه جامه چه ده خری نه پاکه ئی الله
ځما ګناهونه په اوبو باندی واوره باندی او ګلئ باندی اووینځی
یعنی واوره او ګلی دا چه کله په بدن اولګی نو ډیر زمانه پوری ده
هغی اثر پاتی ئی. چه ځما د نیکو اثر هغه په ما باندی پاتی کی.
دارنګی صحیح حدیث کي راځی بخاری کي دا حدیث دي نبی
صلی الله علیه وسلم فرمائی چه ده مونځ افتتاح به په څه کئ.
نبی صلی الله علیه وسلم فرمائی
تحریمها التکبیر مونځ په حرمت کي چه داخلیګی نو الله اکبر سره
به داخلیګی. ده الله اکبر نه مخکي څه وئیل نشته نیت دا ده زړه
اراده ده. وینا نه ده. وتحلیلها التسلیم او چه د مانځه نه اوزی نو په
السلام علیکم ورحمة الله.

### د صحابی مونځ کول او د نبی صلی الله علیه وسلم رد عمل

یو صحابی راغي دا متفق علیه روایت دي. متفق علیه مطلب دا
چه بخاری او مسلم دواړو ذکر کړي دي.
عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رجلا دخل المسجد ورسول الله صلى الله
عليه وسلم جالس في ناحية المسجد فصلى ثم جاء فسلم عليه فقال له
رسول الله صلى الله عليه وسلم وعليك السلام ارجع فصل فإنك لم تصل
فرجع فصلى ثم جاء فسلم فقال وعليك السلام فارجع فصل فإنك لم
تصل فقال في الثانية أو في التي بعدها علمني يا رسول الله فقال إذا قمت

إلى الصلاة فأسبغ الوضوء ثم استقبل القبلة فكبر ثم اقرأ بما تيسر معك من القرآن ثم اركع حتى تطمئن راكعا ثم ارفع حتى تستوي قائما ثم اسجد حتى تطمئن ساجدا ثم ارفع حتى تطمئن جالسا ثم اسجد حتى تطمئن ساجدا ثم ارفع حتى تطمئن جالسا ثم افعل ذلك في صلاتك كلها وقال أبو أسامة في الأخير حتى تستوي قائما. (۱)

یو سړي جماعت ته راغي نبی علیه السلام ده جماعت په یو طرف کي ناست وو.نو دی سړی هلته مونځ اوکو بیا راغي نبی علیه السلام له نو نبی علیه السلام باندی ئی سلام واچو. خبری پکي دوه ثابتی شوی یو دا چه سړي راغي مخکي ئی مونځ اوکو جماعت ته چه دننه شی نو د الله حق به د بندیانو په حق باندی مقدم کوی.

یو لوئی ولی تیر شوي دي په هندوستان کي خواجه بزرگ ده هغه مریدان راتلل جماعت ته ده هغه سره به ئی بړه ګړه کوله یو مرید ئی راغي هغه مخکي دوه رکعته تحیة المسجد اوکړل بیا راغي ده پیرصاحب سره ئی بړه ګړه اوکړه نو پیرصاحب ورته وائی

خوب کردی حق خدا ربر حق بندیگان مقدم ساحت

ښه کار دی اوکی د الله حق دی مقدم او ده بندیانو حق دی ورستو کي.

او دا سړي چه راغي سلام ئی اوکو. څه چل ئی اوکو؟ سلام ئی اوکونبی علیه السلام په کوم ځائي کي ناست دي؟ نبی علیه السلام جماعت کي ناست وو.دا سړي جماعت ته راغي نبی علیه

۱- صحیح البخاری حسب ترقیم فتح الباري : جلد۸ صفحه ۶۹ باب من رد فقال علیك السلام.

السلام د جماعت په يو ګوټ کي ناست وو او دا سړي چه راغي
نو مونځ ئي اوکو بيا راغي په نبی علیه السلام باندی ئی سلام
واچو. نبی علیه السلام ورته وی وعلیکم السلام. لاړ شه دا مونځ
دی بیا اوکه فإنك لم تصل معنی ستا مونځ نه دي شوي دا مطلب
نه چه ستا مونځ نه دي کړي.ستا مونځ نه دي کړي دا خو دراغ وو
استغفر الله معاذ الله. هغه خو مونځ اوکو نبی علیه السلام ورته
وی واپس لاړ شه اومونځ دوباره اوکه.ستا دا مونځ نه دي شوي.
هغه لاړو بیا ئی مونځ اوکوبیاراغي او وی ئی السلام علیکم نبی
علیه السلام ورته وی وعلیك السلام په تا باندی دی سلامتیا
شی. لاړ شه دا مونځ بیا اوکه هغه سړي چه په دریم ځل باندي
راغي یا په څلورم ځل باندی نو نبی علیه السلام ته ئی اووی
یارسول الله ماته مونځ اوخایه ما له مونځ نه رازی.
نبی علیه السلام ورته وی کله چه ته مانځه ته اودریګی نو خه
اودس اوکه بیا قبلی ته مخ که الله اکبر اووایه او ده أم المؤمنين
هغه روایت مو واوریدو. وائی چه نبی علیه السلام به الله اکبر
اووی بیا به ئی څه وی؟
سبحانك اللهم وبحمدك وتبارك اسمك وتعالی جدك ولا إله غيرك.
بیا چه تاته کوم قرآن یادئی نو هغه اولوله. فاتحه او د هغی سره
نور قرآن دا ورته نبی صلی الله علیه وسلم خکه اووی. چه فاتحه
لوستل دا هغوئ ته معلوم وو چه د دوو کسانو دپاره فاتحه
لوستل پخپله په ژبه باندی وئیل دا ضروری دی. یو د امام دپاره
یو ده منفرد دپاره چه ځان له مونځ کوی او چه کوم سړي په امام

پسی ولاړ ئی نو نبی علیه السلام فرمائی.
عن جابر عن أبي الزبير عن جابر قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم من كان له إمام فإن قراءة الإمام له قراءة:(۱)
ده چا چه امام ئی نود امام قرات دا د هغه قرات دي. او دا ده قران نه ثابت ده. چه کله کله یو عمل یو تن کوی او بل پری صرف آمین اووائی نو هغه عمل د هغه هم ئی.لکه موسیٰ علیه السلام هغه دُعا کوله هارون علیه السلام پری آمین وی.الله ورته فرمائی قَدْ أُجِيْبَتْ دَّعْوَتُكُمَا ستاسو ده دوانړو دعا می قبوله کړه.
بیا رکوع له لاړ شه.او په اطمینان سره رکوع اوکه. او س په دی رکوع کي به وائی څه نو وروستو احادیثو کي راځی نبی علیه السلام دی په رکوع کي عام طور باندی
سبحان ربی العظیم کله چه راغي فسبح باسم رب العظیم نو نبی علیه السلام وی اجعلوها فی صلاتکم او چه کله راغي سبح اسم رب الاعلیٰ نو نبی علیه السلام وی اجعلو ها فی سجودکم نو په رکوع کي به وائی سبحان ربی العظیم دری ځله پنځه ځله او ووه ځله څومره چه ئی وائی. او په سجدو کي به څه وائی؟ سبحان ربی الاعلی او چه کله آخری سورة إِذَا جَآءَ نَصْرُ اللهِ وَ الْفَتْحُ دا راغي نو نبی علیه السلام پخپله باندی هغه په مانځه کي به وی سبحانك اللهم ربنا وبحمدك اللهم اغفرلی مونږ ته ئی نه وو وئیلي چه اووائی. نوکه څوك وائی نو خه ده نو د نبی علیه السلام په هغه

۱- سنن ابن ماجة محقق (۳۲۱۲) کتاب اقامة الصلاة

قول باندی اجعلوها فی صلاتکم او اجعلوها فی سجودکم دا عمل ده
ټولو نه بهتر دي. سبحانك اللهم ربنا وبحمدك اللهم اغفرلي رکوع
کوه داسی رکوع چه په اطمینان سره په رکوع کي ناست ئی. دا نه
چه ده نولی پشان سر خکته پورته کی او بیا به پورته شی سمع الله
لمن حمده ربنا لك الحمد دا هغه ته ده هغه غلطی خائی. نور مونږ
هغه ته یاد دي.

نبی علیه السلام فرمائی.

عن أبي صالح عن أبي هريرة قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إنما جعل الإمام ليؤتم به فلا تختلفوا عليه فإذا كبر فكبروا وإذا قرأ فأنصتوا وإذا قال غير المغضوب عليهم ولا الضالين فقولوا آمين وإذا ركع فاركعوا وإذا قال سمع الله لمن حمده فقول اللهم ربنا لك الحمد وإذا صلى جالسا فصلوا جلوسا:(١)

امام دی دپاره دي چه اقتداء ئی اوشی هغه تکبیر وائی نو ته
تکبیر اووایه.واذا قال ولا الضالین فقولوآمین. چه امام والاالضالین
اووائی نو ته به څه اووائی دا نه چه اذا قلتم ولا الضالین فقولو
آمین داسی نه اذا قال ولا الضالین چه امام ولا الضالین اووائی نو
ته به څه اووائی دا ده بخاری روایت دي. ثم ارفع بیا به سر پورته
کی حتی تطمئن جالس سجده به اوکی او بیا به پاسی سر به پورته
کی کینی به او بیا به سجده اوکی حتی تطمئن ساجداً. بیا په سر
پورته کی حتی تطمئن جالساً چه ته په اطمینان باندی اودریکی او
یا په اطمینان باندی کینی او یو روایت کي دا راغی چه ثم ارفع

---

١- تاریخ بغداد (۳۲۰/۵)

حتی تستوی قائماً او بیا نبی علیه السلام ورته اووی اجعل ذلك فی صلاتك كلها. دا په ټولو مونځونو کي دا کوه.

## یو سړي چه نه پوهیږی نو د هغه شفاء تپوس کي ده

ځما رونړو دا یو خبره یاد اوساتئ نبی علیه السلام فرمائی شفاء العی السوال یو سړي چه نه پوهیږی نو د هغه شفاء په څه کي ده؟ په تپوس کي ده.

اوس ځمونږ دا صاحبان دوی چه دری ورځو له لاړ شی او چه بیا ځلویښت ورځی اولګوی نو چه راشی نووائي چه کوم مولا چه کال نه نی لګولي دا ده سړی څوئي نه دي.

حالانکه سړی توب په دوی کي نشته. ما په تیره جمعه باندی دا خبره کړی وه چه علماء ده دیوبند مولانا الیاس مولانا محمد یوسف مولانا ذکریا هغوئ چه د تبلیغ بنیاد ایخي وو ددی دپاره چه ده امیانو ده علماء سره ربط پیدا شی نو دوی ده مولیانو او ده امیانو هغه جوړ ختمی توړ پیدا کوی. روزانه روان ئی وائی په فلانی ځائي کي جوړ دي. تا چه دا توړونه پیدا کړی دا به څوك ختمی چه ته بل ځائي کي جوړ کي. د ناپوهه سړی ده هغه علاج څه دي؟ده عالم نه تپوس کول.

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العلمین

بسم الله الرحمن الرحيم

موضوع

## د جماعة المسلمين علمي محاسبه ((۲))

الحمدلله رب العلمين والصلوة والسلام علي سيد الاولين والاخرين نبينا محمد وعلي آله و اصحابه آجمعين .

وبعد :

فأعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ * الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ : (۱)

## تمهيد

عزتمندومسلمانانو مخکې يو جمعه کې ما ستاسو مخکې ده يو فرقې بيان کړي چه هغې ته عام خلق فرقه مسعوديه وائي او هغوئې ځان ته جماعة المسلمين وائي دغه فرقه مسعوديه دا په حقيقت کې ده غيرمقلدينو چه هغوئې ځان ته اهلحديث وائي دهغوئې يوه فرقه وه اوبيا ده ددي مشر مسعود احمد دهغه او ده کراچۍ ده اهلحديث په دي باندې ورانه شوه چه ده کراچۍ اهلحديثو وي او خاص کر چه کوم غرباء اهلحديث ځان ته وائي په دي غيرمقلدينو کې ډيري ډلي دي جماعة اهلحديث دي غرباء اهلحديث دي داسې ډير قسمونه دي نو غرباء کې ده دوي مشر وو عبدالرحمن هغه وي څه به امير يم مسعود وي څه به امير يم نو ده دي امارت په چکر کې هغه ځان له يو خپل جماعت جوړ کود هغي نوم ئي کيخودو جماعة

---

۱- سورة مومنون (۱-۲)

المسلمين بيا هغوئې دوه ډلي شوي يوه ډله ځان ته صرف مسلمين وائي يوه ډله ځان ته جماعة المسلمين وائي او تاسو چه اوس هريو ښار ته ځي او خاص کر په دي سوات کې چه په دي طرف باندې ځائي نو په دي ګټو به تاسو ليدلي ئي چه په جماعت المسلمين کي شامل شئ دا مسعودي فرقه ده اوده دي فرقي داخيال دي چه صرف مونږه مسلمانان يواو زمونږ نه علاوه که ده حنفيت نوم دي که د شافعيت نوم دي که ده حنبلي مذهب دي که اهلحديث اوده دي نه مخکې هرڅومره خلق چه يوډلي ته منسوب دي لکه انصار مهاجروغيره چه ده مسلمين نه علاوه ځان ته بل نوم وائي نو دا کافر دي دا د دې خلقو عقيده ده.په هغه جمعه ما پری ځه تفصيلي بحث کړي وو او ما عرض دا کړي وو چه کوم آيت چه دوي پيش کوي هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِنْ قَبْلُ وَفِي هَذَا چه ابراهيم عليه السلام ستاسونوم مسلمين ايخي وو نو ده دي مسلم نه مراد مؤمن دي ځکه چه ده دي پسې بل سورت چه شروع کيږي سورة المؤمنون په هغې کې الله فرمائي

قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ * الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ : (۱)

مؤمنون کامياب دي دا ئي نه دي وئيلي چه قَدْ أَفْلَحَ الْمُسْلِمِين بيا ده صحابه باره کې قرآن عظيم الشان ده مسلم ټکي نه دي وئيلي ده هغو باره کې وئيلي دي أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا دا صحابه کامل ايمان والا خلق دي جنتيان چه جنت ته ځي يا څوک ده جنتيانو عمل کي نو هغوئې چه ده الله نه دعا کوي نو وائي الله مونږه اوبخي. إِنَّا نَطْمَعُ أَنْ

۱- سورة مومنون (۱-۲)

يَغْفِرَ لَنَا رَبُّنَا خَطَايَانَا أَنْ كُنَّا أَوَّلَ الْمُؤْمِنِينَ چه څه به اول ده مؤمنانو نه يم نو قرآن مونږ ته ده ايمان دعوت راکي أَنْ كُنَّا أَوَّلَ الْمُؤْمِنِينَ.

**ايمان او اسلام دوانړه ئي ذکر کړي دي**

دارنګي قرآن عظيم الشان کې ځائي په ځائي کله چه الله پاک ده جناب محمد رسول صلي الله عليه وسلم ده هغه ده طرف نه بيان کی، نو الله رب العزت وائي پيغمبر صلي الله عليه وسلم ته حکم شوي دي وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ او وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُسْلِمِينَ ايمان او اسلام دوانړه ئي ذکر کړي دي نو اسلام دا چه کله د باطني انقياد سره واخلي نو دي ته مسلم وائي او چه د باطني انقياد سره ئي وانخلي نو بيا مسلم نه دي.

بيا لغوي مسلم دي ايمان اواسلام دا دوانړه يوشي دي کله چه ده سړي ظاهري اوباطني انقياد ده الله او ده الله ده پيغمبر ئي باقي پاتي شوه په دي کې يونوم نو دا هيس ضرر نه ورکي.

**اصحاب ده رسول الله صلي الله عليه وسلم کره ايمان والا وو**

اصحاب ده رسول الله صلي الله عليه وسلم هغه خالص کره ايمان والاخلق وو اوالله رب العزت مونږ ته وائي. فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا : (۱)

دانه وائي چه فان اسلموا بمثل ما اسلمتم به فقد اهتدوا که دي خلقو ايمان قبول کولکه څنګه چه اصحاب د رسول الله صلي الله عليه وسلم ايمان قبول کړي وو نو دوي به لاز اومومي که چري ده اسلام تکي او ده

---

۱- سورة بقره (۱۳۷)

مسلمين تکي داده نجات د پاره کافي وي نو الله رب العزت به وئيلي وي فان اسلموا بمثل ما اسلمتم به فقد اهتدوا فان اسلموا به ئي وئيلي وي فَإِنْ آمَنُوا به ئي نه وي نو قرآن وائي فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا نو اصل شي ايمان دي او ده مسلم نوم ځان ته وئيل او نور خلق په دي باندي ده مسلمانۍ نه ويستل او په هغې باندې دا دليل پيش کول هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِن قَبْلُ وَفِي هَذَا دا بغير ده زنديقيت نه هيس شي نه دي.

## دا ايمان دعوت منافقانو ته

قرآن کي چه الله پاک منافقانو ته دعوت ورکي نو دا ورته نه وائي چه واذا قيل لهم اسلموا كما اسلم الناس.الله فرمائي. وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ. کله چه دوي ته اووئيلي شي ايمان راوړي مؤمنان شي، لکه څنګه چه صحابه مؤمنان دي نو کوم خلق چه هغوئې ځان ته ده جماعة المسلمين ليبل لګی، دا په حقيقت کې ده الله او ده الله ده رسول مخالف خلق دي او دا ده خارجيانو يوه ډله ده چه دوي ده ځان نه بغير ټولي دنيا ته کافر وائي.

## فرقه او عمل څه ته وائي ؟

دوي دا نه پيژني چه فرقه څه ته وائي. او ده عمل يو نوم دا څه ته وائي ؟ حنفيت. شافعيت. مالکيت. حنبليت دا څلور مذهبونه دا فرقي نه دي د دي مقصد يو دي او د استدلال طريقې ئي جدا جدا دي مقصد يو دي مقصد ده ټولو دي اتباع ده سنتو د رسول الله صلي الله عليه وسلم کول او لار د ټولو يوه ده ده جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم ده احاديثو ده ذخيري نه او ده الله رب العزت ده کتاب نه ده مسائلو استنباط او

استدلال کول مقصد د دوي يو دي او طريقه کار هغه جدا جدا دي هغه دا دي چه يو ته دليل په يو طريقه باندې ښائسته ښکاره شوي او دا فرقي نه دي. ده اسلام روح دا ده فرقو خلاف دي او دوي چه د ټولو مسلمانانو نه بغيرده ټولو مؤمنانو نه بغير ځان له بل يو تنظيم جوړ کو. مسعود احمد هغه ئي ده هغې امير کو او ده هغه سره ئي بيعت اوکو نو د دوي په نظرکې ده دنيا ټول مسلمانان هغه واجب القتل دي چا چه ده مسعود احمد سره بيعت نه دي کړي اوس ئي هغه مسعود احمد چرته لري شوي دي خدائي لري کړي دي ده هغه په ځائي نور کسان دي.

## قرآن عظيم الشان ده ايمان صفت

قرآن عظيم الشان کې الله پاک ده ايمان صفت کوي. قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ کومو احاديثو کې چه رازي لکه حديث دد ام عطيه کې.

عن أم عطية قالت أمرنا أن نخرج الحيض يوم العيدين وذوات الخدور فيشهدن جماعة المسلمين ودعوتهم ويعتزل الحيض عن مصلاهن قالت امرأة يا رسول الله إحدانا ليس لها جلباب قال لتلبسها صاحبتها من جلبابها: (1)

ام عطيه وائي مونږه حائضي ښځې او پرده داري ښځې مونږ ته به حکم کيدو چه. چه مونږ دي دعوت ده مسلمانانو ته حاضر شو نو په دي کې شک نشته چه د دوي مسلمانانو نه مراد هغه صحابه وو چه الله ورته مؤمنان وائي أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا هغه ايمان والاخلق کني نفس اسلام بغيرده ايمان نه داده نيمي پيسې هم نه دي.

قرآن عظيم الشان کې په سورة حجرات کې الله رب العزت فرمائي.

---

1- صحيح البخاري حسب ترقيم فتح الباري: جلد1 صفحه ۹۹ باب وجوب الصلاة في الثياب

قَالَتِ الْأَعْرَابُ آمَنَّا قُلْ لَمْ تُؤْمِنُوا وَلَكِنْ قُولُوا أَسْلَمْنَا : (۱)
دا بانډچیان خلق کوم بانډچیان خلق هغه بانډچیان الْأَعْرَابُ أَشَدُّ كُفْرًا وَنِفَاقًا هغه په کفر او په نفاق کې چه ده ټولو نه سخت دي نن صبا هر ځائي کې دغه خلق ده هغوئې تابع دي که لاړي دي دري ته نو هغه ګوجر خلق چه هغه غریبانان ده خپل دین نه نه دي خبر دغه دوه دري ټکي ئي زده کړي دي او دا ورته پته نشته چه الله رب العزت مدار ده فلاح ایمان ګرځولي دي اسلام ئي نه دي ګرځولي قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ ئي وئیلي دي او قَدْ أَفْلَحَ الْمُسْلِمُونَ ئي نه دي وئیلي دا دي غریبانانو ته پته نشته چه الله رب العزت د صحابو صفت کوي نو الله پاک فرمائي سورة الانفال کې. أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا کره مؤمنان دي دا دي غریبانانو ته پته نشته دوي دهوکه شوي دي او ډیر دهوکه شوي دي چه الله رب العزت کله عامو بندیانو ته دعوت ورکي نو الله وائي وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا كَمَا آمَنَ النَّاسُ دا نه وائي چه واذا قیل لهم اسلموا کما اسلم الناس ایمان قبول کې اسلام نه یادوي او فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا.

## دوی وائي زمونږ نوم په قرآن کې دي

دا خلق د دوي عجیبه عجیبه شبهي دي د دوي یوه شبهه دا ده چه زمونږ نوم دا په قرآن کې دي نو مونږ وایو چه په قرآن کې نوم راشي نو هغه ده کیخودو دي په قرآن کې دغه مسلمین نوم دا یو بل سړي هم خان ته وئیلي وو او څه ئي تاسو ته خایم نو که په مسلمین باندې

---

۱- سورة حجرات (۱٤)

سړي مسلمانيګي بيا خو لوئي مسلم هغه دي هغه کوم سړي چه هغه اول دا آواز کړي وو چه څه ده مسلمينو نه يم غوړ ورته کيږدي الله فرمائي:

وَجَاوَزْنَا بِبَنِي إِسْرَائِيلَ الْبَحْرَ فَأَتْبَعَهُمْ فِرْعَوْنُ وَجُنُودُهُ بَغْيًا وَعَدْوًا حَتَّى إِذَا أَدْرَكَهُ الْغَرَقُ قَالَ آمَنتُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ : (۱)

او تير کړل ما بني اسرائيل په سمندر باندې نو اولګيد دوي پسې فرعون او د هغه لښکر ده وجي ده بغاوت او سرکشۍ نه. تردې پورې چه ډوبيدو راګير کو قَالَ نو فرعون اووي اوس ده فرعون دي ويناته ګورئ فرعون کافر وو که مسلمان وو؟ خو هغه هم وائي څه ده مسلمينو په جماعت کې يم فرعون څه وائي وائي څه د مسلمينو په جماعت کې يم وائي. آمَنتُ أَنَّهُ لَا إِلَٰهَ إِلَّا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ.ما باور کړي دي چه نشته بل اله بغير د هغه اله نه چه باور کړي دي په هغه باندې بني اسرائيلو وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ فرعون وائي څه دمسلمينو نه يم دا مسلمين چه دي ده دوي لوئي مشر څوک دي؟ فرعون.الله وائي ته مسلمينو کې نه ئي. آلْآنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنتَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ .

يو مسلم ئي مسلم دي ته وائي چه هغه ده الله دين ته غاړه کيدي ايمان والائي اوته مفسد ئي نو دامسلمين نه دي د دوي مشر فرعون هغه هم ځان ته وئيلي وو أَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ الله ورته وي نه وَكُنتَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ ته ده فساديانو نه ئي ده دي مفسدينو شبه دا ده.

---

۱- سورة يونس (۹۰)

## د جماعت المسلمين د موليانو نه تپوسونه کول

يو پيره دلته کلي ته څه کسان ئي راغلي وو موليان وو ما ترينه تپوس اوکوماوي تاسو چه ځان نه جماعة المسلمين وائي نوده جماعة المسلمين يو دري معني دي.

اوله معني ده جماعةالمسلمين دا ده چه دا جماعة دي يو ډله ده په مسلمانانو کې.

دويم معني ده جماعةالمسلمين داده چه دا يوه ډله وه ده مسلمانانو نه.

درئمه معني جماعة المسلمين يو ډله ده ده مسلمانانو د پاره.

ده جماعة المسلمين ځلورمه معي نشته

که تاسووائي چه ده جماعةالمسلمين معني جماعة في المسلمين په مسلمانانو کې يوه ډله نو معلومه دا شوه چه تاسو لګه ډله ئي او نور مسلمانان ډير دي.

که تاسو وائي نه جماعة من المسلمين ده مسلمانانو نه مونږ ځان له يوه ډله يو نو بيا د خپل ايمان خير اوغواړه.

که تاسو وائي چه جماعة للمسلمين مونږ ده مسلمانانو د پاره جماعة يو نو چه ده مسلمانانو د پاره جماعة ئي ستاسو ده ايمان خو پته اونه لګيده چه تاسو مسلمانان ئي او کنه ئي چه کله ما تري دا تپوس اوکړو غريبانانو له بيا چل نه ورتلو.

بيا ئي دا حديث اوخودو ده بخاري

عن محمد عن أم عطية قالت أمرنا أن نخرج الحيض يوم العيدين وذوات الخدور فيشهدن جماعة المسلمين ودعوتهم ويعتزل الحيض عن

مصلاهن قالت امرأة يا رسول الله إحدانا ليس لها جلباب قال لتلبسها صاحبتها من جلبابها: ([1])

نو ما ورته وي نبي صلي الله عليه وسلم هغوئې پرده دارو ښځو ته حائضو ښځوته وئيلي وو چه فيشهدن جماعة المسلمين نو تاسو حائضي ئي څه؟ تاسو پرده دراي ښځې ئي څه دا ما هغوئې هسي رانيول بيا تيره جمعه باندي چه ما کوم بيان کړي وو ما تاسوته عرض کړي وو چه نبي صلي الله عليه وسلم نه چا تپوس اوکو.

عن عبد الله بن عمرو أن رجلا سأل رسول الله صلى الله عليه و سلم أي المسلمين عن يزيد بن أبي حبيب عن أبي الخير عن عبد الله بن عمرو أن رجلا سأل رسول الله صلى الله عليه و سلم أي المسلمين خير يا رسول الله قال من سلم الناس من لسانه ويده : ([2])

مسلمينو کې کوم مسلمين غوره دي. نو نبي صلي الله عليه وسلم ورته وي هغه مسلمان غوره دي چه د هغه د لاس نه او د ژبي نه مسلمانانو ته آمن ئي نو تاسو ژبه خو داسي تيره ژبه ده ئي ګوجرو او ژبه ده ګوجرو تبرکي ده هر بوټي له ئي راچوی، هر سړي ته پري کافر وائي نو دا خبره خو ډيره بده ده.

## د جماعت المسلمين شبهات

(۱) اول شبهه ئي دا وه چه زمونږ نوم په قرآن کې دي نو په قرآن کې فرعون هم ځان ته مسلمين وئيلي وو أَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ خو صحابو ته الله وائي أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا دا خبري ده يادولو دي چه سړي ئي

---

[1]- صحيح البخاري حسب ترقيم فتح الباري : جلد۱ صفحه ۹۹ باب وجوب الصلاة في الثياب

[2]- المعجم الاوسط : جلد۲ صفحه ۲۸۷ ( من اسمه بكر )

يادي کړي.

سورة الانفال کي الله وائي أُولَئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُونَ حَقًّا صحابه کره مسلمانان دي.

سورة المؤمنون کي وائي. قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ قسم مي دي چه مؤمنين کامياب دي.

او فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا : (١)

که دي خلقو ايمان قبول کو لکه تاسو چه ايمان قبول کړي دي.

په دي ټولو ځائيونو کي اسلام اسلام نشته او اسلام په معني ده ايمان ئي نو صحيح ده خو بيا خان ته مؤمينين هم وائي د ه خپل جماعة نوم جماعة المسلمين ولي گدی.

(٢) دويمه شبهه ئي داده. چه زمونږ مونځ دا په حديثو کي شته او ستاسو دا پکي نشته يو صحابي خلاد بن رافع د هغه حديث کي رازي.

عن أبي هريرة رضي الله عنه أن رجلا دخل المسجد ورسول الله صلى الله عليه وسلم جالس في ناحية المسجد فصلى ثم جاء فسلم عليه فقال له رسول الله صلى الله عليه وسلم وعليك السلام ارجع فصل فإنك لم تصل فرجع فصلى ثم جاء فسلم فقال وعليك السلام فارجع فصل فإنك لم تصل فقال في الثانية أو في التي بعدها علمني يا رسول الله فقال إذا قمت إلى الصلاة فأسبغ الوضوء ثم استقبل القبلة فكبر ثم اقرأ بما تيسر معك من القرآن ثم اركع حتى تطمئن راكعا ثم ارفع حتى تستوي قائما ثم اسجد حتى تطمئن ساجدا ثم ارفع حتى تطمئن جالسا ثم اسجد حتى تطمئن

---

١- سورة بقره (١٢٧)

ساجدا ثم ارفع حتى تطمئن جالسا ثم افعل ذلك في صلاتك كلها وقال أبو أسامة في الأخير حتى تستوي قائما. (')

چه یو سړي جماعت ته راغي دا سړي څوک وو؟ ده ده نوم دي خلاد بن رافع دا صحابي دي نبي صلي الله عليه وسلم د جماعت په يو ګوټ کې ناست وو نو هغه مونځ اوکو ده مانځه نه پس راغي او سلام ئي واچو په نبي صلي الله عليه وسلم باندې.

زمونږ په دي کلي کې څه شيخ کوړک پيداشوي دي هغوئې وائي چه جماعت ته لاړ شي نو سلام به نه کې هلکه په غټه ګيره باندې سړي مسلمانيګي نه اونه پري مولا کيږي ده مولاتې دپاره څه ډير کوششونه پکار دي ډير محنتونه پکار وي دا نه چه

هر که زلف برف روخت دل بری داند

چا چه سنږي په خان باندې راخوري کړي نو دا معشوقه شوه.

دا صحيح حديث دي بخاري اومسلم دوانړه ذکر کړي دي او وائي چه نبي صلي الله عليه وسلم ده جماعت په يو طرف کې ناست وو او صحابي چه راغي نو هغه مونځ اوکو او ده مانځه نه پس ئي په نبي صلي الله عليه وسلم باندې سلام واچو نبي صلي الله عليه ورته څه اووي؟ وعليک السلام.

چه بخاري او مسلم يو حديث ذکر کړي ذي او دي خان له لګيا دي ده يادونه بچي پارۍ اسلام. دين. علم دا په غټه ګيره نه دي که په ګيرو باندې علم وي نوده سکانو غټي ګيري وي هغه به ډيرلوئې عالمان وو علم په دي دي چه په ذي پسې ده کوره اوخي زده ئي کې او

'- صحيح البخاري حسب ترقيم فتح الباري : جلد۸ صفحه ٦٩ باب من رد فقال عليك السلام.

صیبه په کتاب باندې هم سړي نه مولا کیږي چه ته وائي دا کتاب مي کتلي دي.

**واقعه:** یو فوجي وو په جیل کې قید وو راغي زما رشته دار وو خه لاړم تپوس مې ترینه اوکو په جیل کې څنګه حال وو هغه وي یره مولوي صاحب څه چه هلته ناست اووم نو ما خان له یو «ترندي شریف» پیدا کړي وو ده کتاب نوم ترمذي وو نو ترمذي داسي لیکلي هغه وي کې دا ترنډي دي نو ترمذي ته ترندي وائي.

کتاب چه کله ګوري نو په کتاب باندې سړي داسې نه پوهیګیي بي استاذه علم نه زده کیږي بي پلاره بچي کیږي ؟ که کیږي نو هغه چرته معجزه ئي کني بې پلاره بچي نشته دارنګه بي استاذه علم هم نشته.

دا سړي راغي جماعت ته هلته ئي مونځ اوکو بیا راغي سلام ئي واچو نبي صلي الله علیه وسلم ورته وي وعلیک السلام او بیا ئي ورته وي واپس شه دا مونځ دې بیا اوکه ستا مونځ نه دي شوي بیا راغي او ووي ئي السلام علیکم نبي صلي الله علیه وسلم ته دا پته وه چه سلام ناجائز دي او هغه ئي سلام واغستو او ورته ئي نه وي چه بچي په جماعت کې خلق سلام نه اچوي.

په عامو کتابونو کې رازي چه نبي صلي الله علیه وسلم به د جمعي په ورځ کله ممبر ته را اوختونو د کور د طرف نه به راغي چه ممبر باندې به کیناستو نو وي به ئي السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته نبي صلي الله علیه وسلم خپله سلام اچولي په هغه باندې سلامونه شوي دی او جوابونه ئي کړي دی.او خلقو خان له یوه مسئله جوړه کړي چه په جماعت کې سلام اچول نه دي پکار.

دا سړي بيا لاړو مونځ ئي اوکو بيا راغي وي السلام عليکم نبي صلي الله عليه وسلم ورته وي وعليک السلام لاړشه مونځ دي نه دي شوي دريم ځل ئي اوليګو هغه راغي بيا ئي سلام اوکو نبي صلي الله عليه وسلم ورته وي وعليکم السلام واپس شه ستا مونځ نه دي شوي نو هغه ورته وائي ده الله پيغمبره ما له خو بل مونځ نه رازي خو ته ئي راته اوخايه چه څنګه مونځ اوکم؟ لګ سوچ اوکي چه نبي صلي الله عليه وسلم سړي ته مونځ خايي نو سنت به پکې ورته پريدي واجبات به پکې ورته پريدي نبي صلي الله عليه وسلم هغه ته وي ده اول نه ئي ورته خبره شروع کړه کله چه ته ده مانځه اراده اوکي نو کامل اودس اوکه ده کامل اودس معني دا چه ده دري ځلو نه زيات به نه رينځي او اوبه په دي دري ځائيونو کې خپلو ټولو اندامونو ته به اورسی چه په اندامونو کې څه درنه اوچ پاتي نه شي.

## ده جنت د پاره په اسباب

ده جنت د پاره په اسبابو کې يو سبب دي په سخته يخنۍ کې سړي ښه ښکلي اودس اوکي.

عن أبي هريرة أن رسول الله صلى الله عليه و سلم قال ألا أخبركم بما يمحو الله به الخطايا ويرفع به الدرجات إسباغ الوضوء على المكاره قال إسحاق في المكاره وكثرة الخطا إلى المساجد وانتظار الصلاة بعد الصلاة فذلكم الرباط فذلكم الرباط فذلكم الرباط

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط مسلم : ([1])

چه اودس اوکي نو بيا به قبلي ته مخ کې بيا په څه چل اوکي قبلي ته،

[1]- مسند امام احمد بن حنبل: جلد۲ صفحه ۳۰۳ ( مسند أبي هريرة رضي الله عنه )

به مخ کړي دا مونځ څوک خايي دا نبي صلي الله عليه وسلم خائي او خپل صحابي ته ئي خائي ده هغه صحابي نوم دي خلاد بن رافع بيا قبلي ته مخ که چه قبلي ته مخ کې نو الله اکبر به اووائي دائي ورته نه وي چه قبلې ته مخ کې نو دا به وائي چه نيت مې کړي نيت مې اوکو نيت مې کړي نيت مې اوکو نيت مې کړي نيت مې اوکو.

## د طالب کاکا قصه

زمونږ په دي کلي کې طالب کاکا دي خدائي دي اوبخي هغه دي سوات ته چرته تلي وو په يو کلي کې په هغه کلي کې څه بيا امام شومه نو هغه خلقو راته دا قيصه اوکړه او طالب کاکا نه مونږ هغه قيصه اوريدلې وه خدائي دي ئي اوبخي نو هغه خلقوما ته وي مولوي صاحب ستاسوده کلي يو سړي راغلي وو او زمونږ په دي کلي کې يوخان وو په نيت به ئي ډير وخت اغستو نو طالب کاکا چه وو هغه چه به چا خبري کولي نو هغه به مونځ نه شو وئيلي نو دا خان ولاړ دي وي نيت مي کړي نيت مې اوکو طالب کاکاورته داسې ګوري نو چه يوساعت اوشو رکعات اوشو کنه طالب کاکا ورته وي خدائې دي غرق که نه دي اوکواو نه به ئي اوکي خوخما نه دي خطاکو اوڅپلې ئي رواغيستي او د جماعت نه اووتو.

چه راشي نو نيت مې اوکو نيت مې کړي ته حاجت نشته ته د کوره چه راوتي ئي جماعت ته نو د جنګ په خيال نه ئي راغلي ستا نيت ده څه دي نن چه تاسو راغلي ئي تاسو د څه مونځ له راغلي ئي دا نيت پوره دي کنه.

## د نيت الفاظ ونيل ضروري نه دي

که چري دا الفاظ وئيل ضروري وي نو نبي صلي الله عليه وسلم به ورته وي چه قبلي ته مخ کړ نو بيا به داسي وائي چه نيت مې اوکو ده زړه ده اخلاصه څلور رکعته فرض کفائي مونځ ادا کوم ده نن ماسپخين په دي حاضر وخت خاص خدائي تالره مخ مې ده کعبي شريفي په لور کو الله اکبر.
نه نه نبي صلي الله عليه وسلم ورته وائي چه قبلي ته مخ کړ نو څنګه به وائي؟ الله اکبر په زړه کې به دا راولي نيت به اوکې په مانځه کې ده ماسپخين کوم يا دمازيګر مونځ کومه خودي الفاظو ته ضرورت نشته ډير خلق دي په دي الفاظو کې تري دوه دوه رکعته لاړشي.

## مونځ څه ته وائي؟

نبي صلي الله عليه وسلم ده مونځ تعريف کوي مونځ څه ته وائي
عن علي رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : مفتاح الصلاة الوضوء وتحريمها التكبير وتحليلها التسليم : تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده حسن : ([1])
چه ده مونځ په حرمت کې داخليګي نو الله اکبر چه اووائي داخل شوي او چه السلام عليکم ورحمة الله دي اوي نو ده مانځه نه اووتي.
ده دي وجي نه زمونږ فقهاء وائي که يو سړي ده امام پسې راغي او ده ده نه يو رکعت يا دوه رکعته تلي وو امام صاحب په مانځه کې خطا شو او سجده سهوه ئي کوله هغه سلام ګرځئ نو دي به ورسره سلام نه ګرځئ که او ئي ګرځو نو دده مونځ مات شو ځکه د ده سلام دا ده

[1]- مسند امام احمد بن حنبل: جلدا صفحه ۱۲۹ ( مسند علي بن أبي طالب رضي الله عنه )

مانځه په منځ کې راغي بيا ئي ورته وي.
بيا چه تا ته قرآن کې څه اسان ئي ده فاتحي سره هغه اولوله چه دغه اولولي بيا رکوع له لاړشه رکوع له چه تلو نو هغه ته دا پته وه چه رکوع له سرې ځي نو الله اکبر به وائي خو لاس پورته کول يکې نشته چه ته رکوع له ځي نو لاس به پورته کوي او دومره پوري رکوع له لاړشه چه ته په رکوع کې په اطمينان ولاړئي دا نه چه لکه د نولي پشان سربنکته که او بيا نيغ شه بعضي خلق په دي جماعت کې مونځونه کوي داسې مونځ کې چه څه ورته ګورم څه سبحان الله لامانه وي پوره کړي چه دي پورته شوي ئي.

## يوسړي مونځ کوي اوهغه مونځ په هغه باندې لعنت وائي

دا يادساتئ ډيرځله يوسړي مونځ کوي اوهغه مونځ په هغه باندې لعنت وائي لکه حديث کې رازي:.

عن عبادة بن الصامت رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم إذا صلى الرجل فأحسن الوضوء وأتم ركوعها وسجودها أحسبه قال والقراءة فيها قالت حفظك الله كما حفظتني وإذا أساء ركوعها ولم يتم ركوعها ولا سجودها قالت ضيعك الله كما ضيعتني : (۱)

مونځ په هغه باندې لعنت وائي او ورته وائي خدائي دي دغسي تباه و برباد که لکه چه څه دي تباه و برباد کړم خدائي دي داسې ورک کړه لکه چه څه دي خراب کړم.
بيا به سر پورته کې چه بيا به ته نيغ اودريګي دا نه چه سر به اوچت کې جو زر به بنکته ځي نيغ به اودريګي چه ستا اندامونه ځائي له

۱- مسند البزار: جلد۱ صفحه ٤١٥ مسند عبادة بن الصامت رضي الله عنه

ورشي او بيا به سجده اوکي او په سجده کې به په اطمينان شي.بيا به سر راپورته کې او بيا به کيني په اطمينان باندې بيا به سجده اوکي چه ته په سجده کې مطمئن شي بيا په سر پورته کې.دا بيا په ټول مونځ کې کوه.

نه پکې ده رفع اليدين ذکر شته او نه پکې ده دې ذکر شته چه خپې به ارتي کې؛ نه ئي ورته دا وئيلي چه ده امام پسې ولاړ ئي نو فاتحه به پسې وائي دا ټولي خبرې ده دوې په مونځ کې نشته او زمونږ په دې کې شته.

## دويم حديث په دې باب کې

عن أبي الجوزاء عن عائشة قالت كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يستفتح الصلاة بالتكبير والقراءة ب (الحمد لله رب العالمين). وكان إذا ركع لم يشخص رأسه ولم يصوبه ولكن بين ذلك.وكان إذا رفع رأسه من الركوع لم يسجد حتى يستوى قائما وكان إذا رفع رأسه من السجدة لم يسجد حتى يستوى جالسا وكان يقول فى كل ركعتين التحية وكان يفرش رجله اليسرى وينصب رجله اليمنى وكان ينهى عن عقبة الشيطان وينهى أن يفترش الرجل ذراعيه افتراش السبع وكان يختم الصلاة بالتسليم. :([1])

حضرت عائشه صديقه رضي الله عنها وائي.نبي صلي الله عليه وسلم چه به د مونځ شروع کوله نو په الله اکبر به ئي کوله.

---

[1]- صحيح مسلم: جلد ۲ صفحه ۵۱ باب ما يجمع صفة الصلاة وما يفتتح به ويختم به الخ

## نیت د زړه ارادي ته وائي

دا نه چه په دي به ئي شروع کوله چه اوبه دريدو به چه نيت مې کړي ده زړه ده اخلاصه څلور رکعته فرض کفايي ته چه د کوره راغلي ئي نو دغه ستا نيت دي نور د الفاظو وئيلو ته ضرورت نشته او استاذانو چه مونږ ته خودلي دي هغوئې له پکار وو چه مونږ ته ئي خودلي وي ځکه ما ته دا نه معلوميده چه ده ماسپخين مونځ دا څو رکعته دي ؟ ترڅو چه هغه ماته وئيلي نه وو چه څلورر کعته دي ماته دانه معلوميده چه ده مازيګر مابنام او ماسخوتن څو څو رکعته دي ؟ تر څو چه هغه خودلي نه وو او چه کله ما ته معلوم شو نو بيا ددي وينا ته حاجت او ضرورت نشته ما يو پيره په عيدګاه کې ده دي د پاره يو مثال خولي وو.

يو سړي دي هغه ډرائيوري زده کوي او ډرائيوري چه زده کئي نو ګاړي ته کيناستو استاذ ورته وائي چه ګاړي سټارټ کې نو ګاړي به په نيوټل کې کي نو چه کله بيا ته ئي رواني نو په کلچ باندې به خپه کيدي اول ګير به ورله ورکي نو روان به ئي کي نو چه لګ روان کې نو بيا به ورله دويم ګير ورکي اوس چه دي کله دي ګاړي سټارټ کوي نو استاذ ورته وائي نيوټل ئي که نو دي وائي جې نيوټل دي بيا چه رواني نووائي هلکه اول ګير ولګوه نو دي وائي جي اومي لګو نو صباله چه دي ګاړي زده کې نو دي به بيا هم داسي وائي چه نيوټل دي او اول ګير مې اولګو کله چه کيني ګاړي ته جو بسم الله به اووائي ځي به.

دارنګي مور او پلار چه مونږ ته خودلي دي استاذانو چه مونږ ته خودلي دي نو هغوئې دي د پاره مونږ ته خودلي دي چه مونګه ئي زده کو چه ده ماسپخين مونځ دومره دي په زړه کې به دا راولم.

ډوډۍ چه سړي خوري نو ده ډوډۍ نیت به کې که نه به کې نو چرته مونځ دا وایو چه ده شکور په غاړه کینو نیت مي کړي زړه ده اخلاصه اوددې شکورنه به نوړۍ ماتومه او په دي پخ کړي کې به ئي غوږه کومه او بیا به ئي خورم.

## مونځ شروع به په الله اکبر باندي کوي

حضرت عائشه صدیقه رضي الله عنها وائي.

عن أبي الجوزاء عن عائشة قالت كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يستفتح الصلاة بالتكبير والقراءة ب (الحمد لله رب العالمين) وكان إذا ركع لم يشخص رأسه ولم يصوبه ولكن بين ذلك وكان إذا رفع رأسه من الركوع لم يسجد حتى يستوى قائما وكان إذا رفع رأسه من السجدة لم يسجد حتى يستوى جالسا وكان يقول فى كل ركعتين التحية وكان يفرش رجله اليسرى وينصب رجله اليمنى وكان ينهى عن عقبة الشيطان وينهى أن يفترش الرجل ذراعيه افتراش السبع وكان يختم الصلاة بالتسليم. :([1])

نو ده نبي صلي الله علیه وسلم عامه طریقه دا وه چه ده مونځ شروع بي ئي کوله په الله اکبر باندي.او قراءت چه به ئي په زوره وي نو الحمدلله رب العلمین به ئي وي یعني مخکې چه به ئي کله نیت او تړو او الله اکبر به ئي اووي نو

ده الله اکبر نه پس به ئي وي سبحانك اللهم الخ.

عن عائشة قالت كان رسول الله صلى الله عليه و سلم إذا استفتح الصلاة قال سبحانك اللهم و بحمدك و تبارك اسمك و تعالى جدك و لا إله غيرك : هذا حديث صحيح الإسناد و لم يخرجاه : ([2])

[1]- صحيح مسلم : جلد ۲ صفحه ۵۴ باب ما يجمع صفة الصلاة وما يفتتح به ويختم به الخ

[2]- المستدرك علي الصحيحين : جلد ۱ صفحه ۳۶۰ باب التأمين

ما تاسو ته په څو احاديثو کې دا خودلي وو چه جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم چه به کله مونځ کو نو ده تکبير نه پس جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم ډيري دعاګاني وئيلي دي يوه دعا پکې دا وه چه سبحانک اللهم وبحمدک وتبارک اسمک و تعالي جدک و لا اله غيرک دا دعا دا به جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم وئيله او ده دي نه علاوه نوري دعاګاني هغه هم د جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم وئيلي دي کوم صحابي چه ده سبحانك اللهم و بحمدك و تبارك اسمك و تعالى جدك ولا إله غيرك دا حديث ابو الجوزاء ده عائشي صديقي رضي الله عنها نه روايت کوي.ابو داود ذکر کړي دي ترمذي ذکر کړي دي ابن ماجه ذکر کړي دي ته حديث ده ابو الرجال عن عمره وائي او دا مشهور روايت دي او دا حديث ابو سعيد خدري رضي الله عنه هم ذکر کړي دي او دا حديث شپږو کتابونو سره ده امام احمد رحمه الله نه ذکر کړي دي خو په شپږو کتابونو کې بخاري او مسلم نشته.

بيا به ئي وي اعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم دا به ئي پټ اووي بيا چه به ئي کله قراءت شروع کو نو بسم الرحمن الرحيم به ئي پټ وي او الحمد لله به ئي په زوره وي او دا ده ابوبکر او ده عمر رضي الله عنهما طريقه هم وه چه کله به ئي شروع کوله په زوره باندې نو څه به ئي ؟ الحمد لله رب العلمين بسم الله به ئي په زوره نه وئيله دوي له پکار دا دي چه بسم الله په زوره نه وائي خکه دا طريقه د پيغمبر او ده هغه د صحابه ده طريقي خلاف ده.

وكان إذا ركع لم يشخص رأسه ولم يصوبه ولكن بين ذلك

نبي صلي الله عليه وسلم چه به کله رکوع کوله نو داسې رکوع به ئي

نه کوله چه سر به ئي داسې وتلي وو او داسې به هم نه وه چه په رکوع به ولاړ وو او سر به ئي داسې خکته کړي وو.

سر او ملا دا به په يو انداز باندې وو د دي په دي منځ منځ کې به وه او چه کله به نبي صلي الله عليه وسلم سره ده رکوع نه پورته کو نو تر هغې پورې به سجدي له نه تلو تر سو چه به په ولاړه باندې برابر نه وو دا مونځ چه دا خلق ئي کې داخدائي شته الله رب العزت داسې مونځونه نه قبلوئي چه ده پيغمبر په طريقه باندې نه وي او کله چه به ئي سر ده سجدي نه پورته کو نو تر هغي پوري به دويمي سجدي له نه تلو تر څو چه به په ناسته باندې برابر نه وو او جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم چه دوه رکعته به ئي اوکړل نو دا ده هغه طريقه وه چه دوه رکعته پس به ئي التحيات وي و کان يقول في کل رکعتين هر کله چه به ئي دوه رکعته اوکړل نو هغه به څه وي ؟ التحيات لله والصلواة دا ده نبي صلي الله عليه وسلم عامه طريقه وه.

وتر څو رکعته دي ؟ دري

نو چه دوه رکعته اوشو نو ده دي حديث نه معلومه شوه چه دوه رکعته پس به نبي څه چل کو ؟ التحيات به ئي وي دوي به وائي په وترو کې قاعده شته او کنه نشته ؟

ده وترو ده قاعدي د پاره کوم روايت دي ده پيغمبر صلي الله عليه وسلم عامه دا طريقه وه ده پيغمبر صلي الله عليه وسلم د هغه عامه دا طريقه وه هغه به په دي طريقه باندې دا کار کوو.

## دوي وائي د ښځو او د سړو په مونځ کې فرق نشته

وکان يفرش رجله اليسرى وينصب رجله اليمنى وكان ينهى عن عقبة الشيطان وينهى أن يفترش الرجل ذراعيه افتراش السبع وكان يختم الصلاة بالتسليم: (۱)

نبي صلي الله عليه وسلم به ده ښځو پشان مونځ نه کو چه دا دوانړه پښې به ئي راويستي او په کوناټو به کيناستو دي ته تورک وائي دا ده ښځو د پاره حکم دي د چا د پاره؟ ده ښځو د پاره دوي وائي چه ده ښځو او ده سړو په مونځ کې فرق نشته مونږ وايو چه مونځ کې فرق نشه نو يوه ورځ دي مور راوله او دي خلقو له پري امامتي او که کنه چه ده ښځو او سړو فرق نشته نو سړي اماتي کولي شي او کنه؟ ښځه کولي شي؟ بانګ به څوک وائي ښځه چرته بانګ ويلي شي؟ نو کو ده ښځي او سړو د مانځه فرق نه وي نو بيا خو ستا د پاره کار خه دي او اقامة به څوک کوي؟ نبي صلي الله عليه وسلم زنانوو ته وئيلي وو چه په اول صف کې به نه اودريګی ده نارينوسره په وروستي صف کې به اودريګی نو فرق راغي که رانغي نو په هغه زمانه کې ده نارينو به يو ځادر وو نو نبي صلي الله عليه وسلم عام حکم کړي وو زنانوو ته چه تاسو به تر هغې پوري ده سجدي نه سر نه پورته کوي تر څو پوري چه سړي ناست نه ئي ځکه ده سړو عورتونه به ښکاريدل نو دا فرق دي او کنه؟ دا فرقونه ګڼر فرقونه دي په احاديثو کې او دوي وائي ده ښځي او ده سړي په مانځه کې فرق نشته دا دوانړه يو شئ دي مونږ وايو چه فرقه نشته نو بيا دي مور له چرته امامتي اونيسه چه هغه هم درله امامتي کوي فرق خامخواه شته امامتي به سړي

---

۱- صحيح مسلم: جلد ۲ صفحه ٥٤ باب ما يجمع صفة الصلاة وما يفتتح به و يختم الخ

کوي ښځه امامتي نه شي کولي اذان به سړي کې ښځه اذان نه شي کوي اقامت به څوک کوي ؟ او ښځه دا چه د سړي سره په صف کې يو ځائي اودريده نو ده ښځي مونځ مات شو که ه سړو د پاره ئي نيت ترلي وو او که عام نيت ئي ترلي وو نو ده سړي مونځ مات شو په محاذات د ښځې باندې مونځ ماتيږي دا فرقونه دي.

نبي صلي الله عليه وسلم به څه چل کوو؟

وکان يفرش رجله اليسرى وينصب رجله اليمنى وكان ينهى عن عقبة الشيطان وينهى أن يفترش الرجل ذراعيه افتراش السبع وكان يختم الصلاة بالتسليم :([1])

ګسه خپه به ئي خوره کړه په هغې به کيناستواو خي خپه به ئي نيغه اودروله او ده خپو دا ګوتي په ئي قبلې طرف ته راوستي.

دا زمونږ په حديث کې شته او که نشته نبي صلي الله عليه وسلم به د شيطان ده ناستي نه منع کوله ده شيطان ناسته دا ده چه سړي داسې کيني او کوناتې په دي زمکه داسې کيدي او خپي ئي نيغي کړي او په مانځه کې داسي ناست ئي په دي ځائي باندې لاس ايخي ئي سپي هم داسې کيني نو دغسې په نه کيني.او نبي منع کړي ده چه سړي به ده سپي په شان چه دا خپلي سنګلي داسې اوغوځوئي سپې چه ملاست ئي نو هغه څه چل کړي ئي چه خپې ئي تولي په دي زمکه باندې لګولي ئي ده سپي پشان به لاسونه نه لګي.د دي نه نبي صلي الله عليه وسلم منع کړي ده او نبي صلي الله عليه وسلم به مونځ ختمونو مونځ ختمول دا ده هغه په سلام باندې وو.السلام عليکم ورحمة الله.

[1]- صحيح مسلم: جلد ۲ صفحه ۵۴ باب ما يجمع صفة الصلاة وما يفتتح به ويختم به الخ

## د ابوحميد ساعدي رضی الله عنه روايت

امام مسلم رحمه الله دا روايت ذکر کړي دي په کتاب الصلاة کې د ه عائشي صديقې رضي الله عنها او د دي باره کې نو روايتونه هم دي. او درانګي نور صحابه هغوئې روايت کې او ابوحميد ساعدي وائي.

عن محمد بن عمرو بن عطاء أنه كان جالسا مع نفر من أصحاب النبي صلى الله عليه وسلم فذكرنا صلاة النبي صلى الله عليه وسلم فقال أبو حميد الساعدي أنا كنت أحفظكم لصلاة رسول الله صلى الله عليه وسلم رأيته إذا كبر جعل يديه حذاء منكبيه وإذا ركع أمكن يديه من ركبتيه ثم هصر ظهره فإذا رفع رأسه استوى حتى يعود كل فقار مكانه فإذا سجد وضع يديه غير مفترش ولا قابضهما واستقبل بأطراف أصابع رجليه القبلة فإذا جلس في الركعتين جلس على رجله اليسرى ونصب اليمنى وإذا جلس في الركعة الآخرة قدم رجله اليسرى ونصب الأخرى وقعد على مقعدته : ([1])

ما ته ده رسول الله صلي الله عليه وسلم مونځ خه ياد دي او ځه تاسو کې زيات يادونکي اومه کله چه به ئي تکبير وي نو دا خپل لاسونه به ئي ده اوګو او ده غوګونو برابر کړل. سنت طريقه دا ده چه د ګوتو مخونه به دي کوم طرف ته ئي قبلي طرف ته او دغسې به الله اکبر اووائي ده غوګونو سره ميلاوول ضروري نه دي کوم کسان که چرته ډير احتياط باندې عمل کې وائي مونږه ميلاوو دې د پاره چه په هغه حديث باندې عمل راشي نو دا احتياط ئي بي احتياطي ده.

او نبي صلي الله عليه وسلم به چه کله رکوع له به تلو نو دا خپل لاسونه

---

[1]- صحيح البخاري حسب ترقيم فتح الباري : جلد١ صفحه ٢١٠ باب سنة الجلوس في التشهد

به ئي په دي زنگونانو باندې کيخودو او ډېر زور به ئي پرې راوستو او ملا به ئي خوره کړه نو کله چه به ئي سر پورته کوو نو نيغ به شو تر دې چه هر اندام هغه خپل ځائي ته اورسي. نو چه کله به ئي سجده کوله نو لاسونه به ئي نه بندول او نه به ئي خورول بس لاسونه به ئي کيخوده دا ليچه دا به اوچتې وي ډډې سره به نه لګيدې دا پتونان دا به دې د خيټې سره نه وو لګيدلي په دغه طريقه باندې به مونځ کو او ده خپو ګوتې به ئي ټولې قبلې ظرف ته مخامخ کړې او کله چه به په دوه رکعتو کې کيناستو نو ګسه خپه دا به ئي خوره کړه او ښي خپه باندې به کيناستو او دا ده نبي صلي الله عليه وسلم آخري دور وو نو په آخري دور کې نبي صلي الله عليه وسلم بوډا شوي وو او ده بوډا والي په وخت کې بيا به هغه تورک کو .لکه عام ده نبي صلي الله عليه وسلم تورک نه وو او دا حديث د ابوحميد الساعدي ده مسلم نه علاوه ټولو بخاري ابوداود ترمذي ابن ماجه نسائي د دې ټولو ذکر کړي دي دا داسې روايتونه دي چه په دې کې د مانځه طريقه جناب رسول الله صلي الله عليه وسلم دا مونږه ته خودلي ده نو پکار دا ده چه په دې باندې عمل اوکې او که دوي وائي چه دا مونځ دا تاسو چه ئي کوي دا نشته نو مونږ وايو رازي کينئ. چه مونږ درته يو يو کلمه تکي درود دعا چه دا درته مونږ او ځائيو.

**د عبدالله بن مسعود رضی الله عنه روایت**

بخاري کې رازي.

حدثني عبد الله بن سخبرة أبو معمر قال : سمعت ابن مسعود يقول علمني رسول الله صلى الله عليه وسلم وكفي بين كفيه التشهد كما

يعلمني السورة من القرآن التحيات لله والصلوات والطيبات السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدا عبده ورسوله وهو بين ظهرانينا فلما قبض قلنا السلام يعني على النبي صلى الله عليه وسلم : (۱)

عن كعب بن عجرة رضي الله عنه قيل يا رسول الله أما السلام عليك فقد عرفناه فكيف الصلاة قال قولوا اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت على آل إبراهيم إنك حميد مجيد اللهم بارك على محمد وعلى آل محمد كما باركت على آل إبراهيم إنك حميد مجيد : (۲)

صحابه راغلي وو اي ده الله پيغمبره مونږه دا زده کړي دي چه درودبه درباندې څنګه وايو نو دسلام طريقه هم راته او خايه نو صحابي وائي نبي صلي الله عليه سولم زما د لاس په دوانړه لاسو کې اوينو زما دوانړه لاسونه په دوانړو لاسو کې اوينول لکه سړي چي بره ګره کې او ما ته ئي وي چه داسې به وائې. التحيات لله والصلوات والطيبات السلام عليك أيها النبي ورحمة الله وبركاته السلام علينا وعلى عباد الله الصالحين أشهد أن لا إله إلا الله وأشهد أن محمدا عبده ورسوله

درود ئي مونږ ته دا خودلي وو.

اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت على آل إبراهيم إنك حميد مجيد اللهم بارك على محمد وعلى آل محمد كما باركت على آل إبراهيم إنك حميد مجيد.

۱- صحيح البخاري حسب ترقيم فتح الباري : جلد۸ صفحه ۷۳ باب الأخذ باليدين
۲- صحيح البخاري حسب ترقيم فتح الباري : جلد۸ صفحه ۷۳ باب الأخذ باليدين

او په يو روايت کې راځي.

كما صليت على آل إبراهيم إنك حميد مجيد.

عن كعب بن عجرة رضي الله عنه قيل يا رسول الله أما السلام عليك فقد عرفناه فكيف الصلاة قال قولوا اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت على آل إبراهيم إنك حميد مجيد اللهم بارك على محمد وعلى آل محمد كما باركت على آل إبراهيم إنك حميد مجيد : (۱)

دوانړه صحيح دی کوم يو چه دي اووي خو دي يو کې زيادت دي نو دا زيادت ډير غوره دي او دا ده بخاري روايت دي.

باقي دعا ده نو زمونږ فقهاء وائي چه دده کومه دعا خوخه کې نو هغه دي اووائي خو عربي کې دي اووائي خو ده دنيا سوال دي پکې نه کې او ده اخرت سوال دي پکې کوي.

خو نبي صلي الله عليه وسلم وائي.

عن أنس قال كان النبي صلى الله عليه وسلم يقول اللهم ربنا آتنا في الدنيا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار : (۲)

چه په دعاګانو کې جامع دعا دا ده چه.

اللهم ربنا آتنا في الدنيا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار.

او آخرت کې ده نيکي بدله الله دنيا کې خيرراکي او آخرت کې خير راکي نو چه ده دنيا او آخرت خير سړي ته ميلاو شي نو بل څه شي پکې پاتي شو نودا دعا علماء وائي چه غوره ده.

---

۱- صحيح البخاري حسب ترقيم فتح الباري : جلد٦ صفحه ١٥١ باب قوله {إن الله وملائكته يصلون عل النبي يا أيها الذين آمنوا صلوا عليه وسلموا تسليما}

۲- صحيح البخاري حسب ترقيم فتح الباري : جلد٦ صفحه ٣١ باب {ومنهم من يقول ربنا آتنا في الدنيا حسنة وفي الآخرة حسنة وقنا عذاب النار}

درانګه دا هم وئیلي شي چه رَبِّ اجْعَلْنِي مُقِيمَ الصَّلَاةِ وَمِنْ ذُرِّيَّتِي رَبَّنَا وَتَقَبَّلْ دُعَاءِ رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ.

## د وترو دعا

پاتې شوه ده وترو دعا.

عن ابن هبيرة عن عبد الله بن زرير الغافقي قال قال لي عبد الملك بن مروان لقد علمت ما حملك على حب أبي تراب إلا أنك أعرابي جاف فقلت والله لقد جمعت القرآن من قبل أن يجتمع أبواك ولقد علمني منه علي بن أبي طالب سورتين علمهما إياه رسول الله ما علمتهما أنت ولا أبوك اللهم إنا نستعينك ونستغفرك ونثني عليك ولا نكفرك ونخلع ونترك من يفجرك اللهم إياك نعبدولك نصلي ونسجدوإليك نسعى ونحفدنرجو رحمتك ونخشى عذابك إن عذابك بالكفار ملحق :[1]

ده وترو دعا ابوداودکې او درانګې امام سيوطي رحمه الله په اتقان کې ليکلي دي چه دا وترو کې چه مونږ کومه دعا وايو. اللهم إنا نستعينك ونستغفرك الخ دامخکې قرآن ووداَ قرآن منسوخ التلاوة دي منسوخ شوي دي او اوس هم ده هغې حکم باقي پاتې دي.

لکه څنګه چه بوډا سړي او بوډۍ ښځه يعني شادي شده سړي او ښځه هغوئې چه زنا اوکي دهغوئې د پاره رجم دي داقرآن کې نشته دا مخکې په قرآن کې وواو هغه پورته شوي دي يعني د هغې تلاوت پورته شوي دي.

وأخرج عبد الرزاق في المصنف والطيالسي وسعيد ابن منصور وعبد الله بن أحمد في زوائد المسند وابن منيع والنسائي وابن المنذر وابن الانباري في

[1]- الاتقان في علوم القران: جلد ۱ صفحه ۲٦٤ النوع التاسع عشر في عدد سوره وآياته وكلماته

المصاحف والدار قطني في الافراد والحاكم وصححه وابن مردويه والضياء في المختارة عن زر قال قال لي أبي بن كعب كيف تقرأ سورة الاحزاب أو كم تعدها قلت ثلاثا وسبعين آية فقال أبي قد رأيتها وانها لتعادل سورة البقرة واكثر من سورة البقرة ولقد قرأنا فيهاالشيخ والشيخة اذا زنيا فارجموهما ألبتة نكالا من الله والله عزيز حكيم فرفع منها ما رفع : (۱)

لشيخ والشيخة اذا زنيا فارجموهما ألبتة نكالا من اللهاو دا په دي قرآن كې نشته خو حكم ئي پاتي دي نو درانګي ابو داود او ګنړو كتابونو دا ليكلي دي ابوداود په مراسيل كې دا خبره ليكلې ده

عن خالد بن أبي عمران قال بينا رسول الله صلى الله عليه وسلم يدعو على مضر إذ جاءه جبريل فاومأ إليه أن اسكت فسكت فقال يا محمد إن الله لم يبعثك سبابا ولا لعانا وانما بعثك رحمة ولم يبعثك عذابا ليس لك من الأمر شيء أو يتوب عليهم أو يعذبهم فإنهم ظالمون قال ثم علمه هذا القنوت اللهم إنا نستعينك ونستغفرك ونؤمن بك ونخضع لك ونخلع ونترك من يكفرك اللهم إياك نعبد ولك نصلي ونسجد وإليك نسعى ونحفد نرجو رحمتك ونخاف عذابك الجد إن عذابك بالكفار ملحق : (۲)

بعضي روايتونو كې دا الفاظ ادل بدل د يوځائي نه بل ځائي ذكر كړي دي خو دغه الفاظ دي .د دې نه علاوه نور نشته.

دا دعا هم شته په احاديثو كې شته چه :

عن عائشة رضي الله عنهما قالت أخبرني الحسن بن علي رضي الله عنهما قال علمني صلى الله عليه وسلم دعاء القنوت في الوتر اللهم

---

۱- الدرالمنثور : جلد ۱۱ صفحه ۷۰۹

۲- مراسيل لابي داود : جلد ۱ صفحه ۱۰۹

اهدنا فيمن هديت وعافنا فيمن عافيت وتولنا فيمن توليت وبارك لنا فيما أعطيت وقنا شر ما قضيت إنك تقضي ولا يقضى عليك وإنه لا يذل من واليت تباركت وتعاليت : [1]

دا دعا که فرض که سړي وائي دا هم ټهیک ده خو اصل کې دغه دعا ده او دا بهتره په دي ده چه دا پښوا قرآن وو نو کوم مونځ دي زمونږ او کومه دعا ده چه هغه قرآن او سنت کې نشته.

الله دي دي خلقو ته هدایت اوکې او الله دي دا خلق پوهه کې او د دې خلقو نه ځان ساتي، په نوم باندې ئي دهوکه نه شي، ګوري دپاسه ئي لیبل د مسلمینو لګولي دي اودي خارجیان او د دوي ټول عالم ته کافر وائي ده صحابه نه واخله تر اوسه پورې چه څومره خلق دي ټولو ته کافر وائي الله دي د دوي د فريب او جال نه مسلمانان اوساتي.

واخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمين

---

[1]- الدعاء للطبراني : جلد ١ صفحه ٣٤، باب القول في قنوت الوتر

## دباغ ډيرې بيان

الحمد لله الذي ارسل رسوله بالهدي ودين الحق ليظهره علي الدين كله وكفي بالله شهيدا واشهد ان لا اله الا الله وحده لا شريک له اقرارا به وتوحيدا و اشهد ان سيدنا ومولانا محمدا عبده ورسوله صلي الله تعالي عليه وعلي اله و اصحابه و ازواجه وسلم تسليما مزيدا.

وبعد فاعوذ بالله من الشيطن الرجيم بسم الله الرحمن الرحيم

قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنْ كُنْتُمْ فِي شَكٍّ مِنْ دِينِي فَلَا أَعْبُدُ الَّذِينَ تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ وَلَكِنْ أَعْبُدُ اللَّهَ الَّذِي يَتَوَفَّاكُمْ وَأُمِرْتُ أَنْ أَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ * وَأَنْ أَقِمْ وَجْهَكَ لِلدِّينِ حَنِيفًا وَلَا تَكُونَنَّ مِنَ الْمُشْرِكِينَ * وَلَا تَدْعُ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعُكَ وَلَا يَضُرُّكَ فَإِنْ فَعَلْتَ فَإِنَّكَ إِذًا مِنَ الظَّالِمِينَ *وَإِنْ يَمْسَسْكَ اللَّهُ بِضُرٍّ فَلَا كَاشِفَ لَهُ إِلَّا هُوَ وَإِنْ يُرِدْكَ بِخَيْرٍ فَلَا رَادَّ لِفَضْلِهِ يُصِيبُ بِهِ مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَهُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ :([1])

**ترجمه:** اي پيغمبره اووايه دي خلقو ته چي اي خلقو که چري ئي تاسو په شک کې زماددين اوزما ده طريقې نه زما د قانون نه نو زما دين دا دي زه عبادت نه کوم ده هغه کسانو چه تاسو ئي بلې بغير د الله نه ليکن زه عبادت کوم ده هغه الله چه تاسو به وژني او ما ته حکم شوي دي او زه مامور يم په دې خبره چه خه به يم ده ايمان والو نه.

او ماته حکم شوي دي چه ځان ده دين تابعدار کړه او په توحيد کلک شه اوهچري نه ده مشرکانو ملګري کيږه مه.

اومه بله بغيرده الله نه هغه صفاتو والا چه هغه تالره فائده نه شي درکولي اونه نقصان درکولي شي کهچرته تا ده داسې صفاتو والارامدد

[1] - سورة يونس (۱۰۴-۱۰۷)

کو نو یقینا ته به ده دي رابللو په وخت کې ظالمانو نه ئي.
او ولي ئي مه رابله؟ ځکه که الله تا ته يو معمولي تکليف دراورسي نو په دي کائنات کي هيس څوک ده هغې لري کونکي نشته بغير ده الله نه او که الله تا ته یو لوئي خير دراورسوئ نو نشته په دې کائنات کي ده هغه ده فضل واپس کونکي الله رسوي خير او شرچا ته ئي چه رضاشي ده خپل بندیګانو نه او الله بخونکي دي رحم والا.
د سورت یونس آخري يوسو اياتونه ما ستاسو مخکې اولوستل ترجمه هم ستاسو مخکې اوکړي شوه دعا کوي چه الله زما ده خولې نه صحيح صحيح او حق حق الفاظ اوباسي او الله دي اول زما په زړه کې او بيا ستاسو په زړه کې کينې او الله مونږ له ده عمل کولو توفيق پرې راکړي.

## د نبي صلي الله عليه وسلم دعوت د ټولي د نيا دپاره وو

عزتمندو :ده دې آيت په اول سر کې الله پاک نبي صلي الله عليه وسلم ته وائي. قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ اي ټولو خلقو دا نه وائي چه دا اعلان اوکړه چه اي مکې والو اي قریشو اي عربو دا اعلان نه کوي اعلان کوي يَا أَيُّهَا النَّاسُ اي ده ټولې دنیا انسانانو هغه مخلوقه چه هغوئي ته انسانان ويلې کيږي او انسانانو په طبعيت باندې پيريانو ته حکم شوي دي او قاعده دا ده چه بادشاه ته حکم اوشې نو بادشاه نوکران ده هغه تابع وي په دې زمکه باندې مخکې پیریان آباد وو خو الله رب العزت ده خپل احکامو ده اجراء د پاره پیریان منتخب نه کړه الله رب العزت ملائک راجمع کړه او ورته ئي اوفرمائیل.
وَإِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَائِكَةِ إِنِّي جَاعِلٌ فِي الْأَرْضِ خَلِيفَةً قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ

يُفْسِدُ فِيهَا وَيَسْفِكُ الدِّمَاءَ وَنَحْنُ نُسَبِّحُ بِحَمْدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَ قَالَ إِنِّي أَعْلَمُ مَا لَا تَعْلَمُونَ : (۱)

زه په دې زمکه کې ده خپلو احکامو يو اجراء کوونکي پيدا کوم د خليفه خلق مختلف معني کوي څوک وائي نائب څوک څه يو قسم څه بل قسم معني کوي.

د نائب معني خو ډيره غلطه ده او ده هغې ده غلطيا سبب دا دي چه سړي نائب ده دوو وجو نه نيسي.

اول ده دې وجې نه چه په هغه سړي کې ذاتي نقصان وي لکه يو بادشاه دي هغه ده مملکت اطرافو ته په خپله نشي رسيدي دا ده هغه ذاتي نقصان دي نو د دي ذاتي نقصان ده وجې نه هغه ځان له نائب ونيسي وزيران ګورنران او الله رب العزت ده ذاتي نقصان نه پاک دي ده هغه نائب ته حاجت نشته دي.

دوئم ده دې وجې نه چه کله کله امام په مصلي باندې ولاړ وي پوزه ئي ماته شي يا په بله طريقه اودس مات شي نو په دغه وخت کې دي ځان له نائب نيسي دا نقصان عارضي دي.

الله رب العزت چه څنګه ده ذاتي نقصان نه پاک دي نو دغه شان د عارضي نقصان نه هم پاک دي.

ده خليفه معني مشهور عالم ده دنيا حافظ الدنيا حافظ ابن حجر په خپل کتاب ده بخاري په شرح کې ده ابن التين په حواله باندې ذکر کړي ده خليفه معني مامور دي. ما مامور کړي دي په دي چه زما په وطن کې په ده الله ده احکامو اجراء کوي.

---

۱- سورة بقره (۳۰)

الله ملائکوته اوونیل چه زه یو خلیفه پیدا کوم نو چه د خلیفه ټکي هغوئي واوریدو نو هغوئي اوونیل چه اجراء ده احکامو اجراء ده حدودو دا خوپه ظالمانو باندې رازي. ده قتل سزا به هغه چا ته میلاویږي چه قتل ئي کړي وی او د غلا سزا به هغه چا ته میلاویږي چه غلا ئي کړي وي ده زنا سزا به هغه چا ته میلاویږي چه زنائي کړي وي نو چه خلیفه داالفاظ چه هغوئي واوریدو نو هغوئي الله ته اوئیل. قَالُوا أَتَجْعَلُ فِيهَا مَنْ يُفْسِدُ فِيهَا. اجراء ده احکامو خو ده فساد ده دفع ده پاره کیږي نو ته داسې خلق پیدا کې؛ چه هغه به فساد کوي نو غرض مې دي کې دا وو چه پیریان مخکې په دي زمکه باندې آباد وو.

الله رب العزت فرمائي. وَالْجَانَّ خَلَقْنَاهُ مِنْ قَبْلُ مِنْ نَارِ السَّمُومِ : ([1])

پیریان ما ده بندیګانو نه مخکې ما ده هغه ګرم اور نه پیدا کړي وو خو کله چه الله آدم علي نبینا وعلیه الصلاة والسلام پیدا کړو نو آدم علیه السلام یو خلیفه پیدا کړو ده الله ده احکامو جاري کونکي ئي پیدا کړو پیریان ده هغه تابع شو ده دي وجه ده الله ده احکامو اجراء کونکي انبیاء علیهم السلام وو په پیریانو کې نبي نه دي راغلي پیریان دائما هغه ده بندیګانو تابع دي لکه څنګه چه نوکر ده بادشاه تابع وي نو پیریان هم ټول عمر ده بندیګانو تابع دي کله چه پیغمبر راغلي دي بندیګانو ته نو هغه ده پیریانو پیغمبر هم دي.

---

[1]- سورة حجر (۲۷)

## بطن نخله کې د پيريانو قرآن اوريدل

ده دي وجې نه هغه پيريان د نصيبين چه کله نبي صلي الله عليه وسلم ده طائف نه راتلو او قرآن ئي لوستو او هغه پيريان هغوئي ګرځيده چه په دي دينا کې څه انقلاب راغلي دي چه مونږ بره نشو ختلي نو الله فرمائي.

وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنْصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَى قَوْمِهِمْ مُنْذِرِينَ * قَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنْزِلَ مِنْ بَعْدِ مُوسَى مُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ وَإِلَى طَرِيقٍ مُسْتَقِيمٍ : (۱)

کله چه ما تاته ستا طرف ته ده پيريانو يو جماعت دروارو. ده صَرَفْنَا معني داده چه هغوئي تله خو چرته بل طرف ته خو الله رب العزت ده هغوئي مخ بدل کړو او هغوئي لاړه او نبي صلي الله عليه وسلم ده طائف نه راغلي وو او په بطن نخله کې جناب رسول صلي الله عليه وسلم مونځ کوو قرآن ئي وي هغوئې چه راغلل نو قرآن ته ئي غوږ کيخودو کله چه هغوئې هلته حاضر شو نو وي هلکه چپ شئ پيريان وو ده نصيبين پيريان او چه راغلل قرآن لوستي کيدو نو وئيل هلکه چپ شي.

ده قرآن فيصله هم دا ده وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنْصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ : (۲)چه قرآن لوستلي کيږي نو غوږ ورته کيدئ او خاموش به ولاړ ئي ده امام سره به معارضه نه کوي خاموش به ولاړ ئي.

۱- سورة احقاف (۲۹-۳۰)

۲- سورة اعراف : (۲۰٤)

پیریان چه کله نبي صلي الله علیه وسلم ته او هغه قرآن ته حاضر شووي هلکه غوږ کیدئ غوږ ئي کیخود قرآن ئي واوریدو.نو کله چه قرآن پوره شو نو واپس لاړ خپل قوم ته او خپل قوم ئي ویرو.

مونږ یو کتاب واوریدو چه ده موسي علیه السلام نه بعد نازل شوي دي معلوم دا شو چه دا پیریان په تیرو انبیاء کې ده موسي علیه السلام تابعدار وو.

غرض مې دا وو چه حکم بندیگانو ته دي پیریان په دغه حکم باندې مامور دي خو مامور دي تبعا.تبعا څه معني ؟ ده دنیا په دې مخ باندې ده الله ده احکامو اجراء دا ده انسانانو فریضه ده اوالله رب العزت انسانان دي لره پیداکړي دي چه په مخ ده زمکې باندې ده الله ده احکامو اجراء اوکړي او پیریان په دي کې ده هغوئې تابع دي. الله خطاب کوي قُلْ يَا أَيُّهَا النَّاسُ زما پیغمبره اووایه اي خلقو.

**د مشهور محدث سفیان بن عیینه رحمه الله وینا**

زه کله کله ملګرو ته دا خبره کوم ده امام بخاري ده امام مسلم ده استاذانو استاذسفیان بن عیینه مشهور محدث ده دنیا هغه وائي چه جناب رسول الله صلي الله علیه وسلم دا ده انسانیت مرکز دي او هر قول او هر عمل او هر عقیده ده معاشري هر حکم چه هغه تر څو پورې په محمد رسول الله باندې پیش شوي نه وي او ده هغه ده عمل او عقیدي په شان ته نه وي نو دا عمل برباد عمل دي دا عقیده بربادده.

خایسته عقیده هغه ده کوم چه ده جناب رسول الله صلي الله علیه وسلم عقیده وه خائسته عمل هغه دي کوم چه ده نبي صلي الله علیه

وسلم عمل وو بهترین عقیده هغه ده کوم چه جناب رسول الله صلي الله علیه وسلم عقیده وه.

## امام ولي الله دهلوي رحمه الله وينا

امام ولي الله دهلوي رحمه الله فرمائي:

انسان یو نوعه ده او د هري نوع یو کلي موجود دي او یو عالم هغه یادوي هغه عالم ته هغه حضیرت القدس وائي او ده دغي نوعې ده دي کلي سره چه د دي نوع ده افرادو څومره تعلق وو. نو دومره ده هغي نوعې اثرات په دغه فرد کې ډیر رازي.او ده نوع انساني کلي هغه محمد رسول الله صلي الله علیه وسلم دي نو ده کومو خلقو چه جناب محمد رسول الله علیه وسلم سره تعلقات زیات وو هغه خلق کامل انسانان دي او چه څومره تعلق کم وو نو دومره انسانیت کم دي او چه تعلق بالکل نه وو نو دغه سړي که شکل ئي شکل ده انسان دي خو حقیقت کې انسان نه دي.

الله فرمائي، وَلَقَدْ ذَرَأْنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرًا مِنَ الْجِنِّ وَالْإِنْسِ لَهُمْ قُلُوبٌ لَا يَفْقَهُونَ بِهَا وَلَهُمْ أَعْيُنٌ لَا يُبْصِرُونَ بِهَا وَلَهُمْ آذَانٌ لَا يَسْمَعُونَ بِهَا أُولَٰئِكَ كَالْأَنْعَامِ بَلْ هُمْ أَضَلُّ أُولَٰئِكَ هُمُ الْغَافِلُونَ : (۱)

زما دي قسم وي «ل» چه په قد او قد په ماضي راشي نو معني د قسم ورکوي زما دي قسم وي چه ما ډیر پیریان او ډیر بندیګان جهنم لره پیدا کړي لږ نه وَقَلِيلٌ مِنْ عِبَادِيَ الشَّكُورُ زما لږ بندیګان هغه تابعدار دي او ډیر بندیګان ما جهنم لره پیدا کړي نښه ئي څه ده؟ ده هغوئي عقل او سوچ شته خو هغوئې پرې قرآن ته سوچ نه کوي هغوئي پري

۱- سورة اعراف: (۱۷۹)

دي ته سوچ نه کوي چه مونږ څه لره پیدا شوي یو دي ته سوچ نه کوي چه زمونږ کمال په څه کې دي. د هغوئي غوږونه شته خو هغوئې پرې دا نه اوري چه مونږ به کمال ته په څه رسو.او ده هغوئي سترګې شته خو هغوئي په دي سترګې باندي لیدل نه کوي هغه شي پرې نهویني هغه صفات پرې نه ویني هغه اعمال پرې نه ویني چه په کومو اعمالو باندې سړي کمال ته رسي.الله فرمائي.دغه کسان څناور دي بلکه ده څناورو نه بدتر دي.

## دا نسانیت معیار څه دي؟

رونړو انسانیت دا په سړي کې کله رازي؟ انسانیت په نوم باندې نه دي په نسب باندې نه دي په مال باندي نه دي په شکل او شباهت باندې نه دي انسانیت ده محمد رسول صلي الله علیه وسلم په تعلق باندې دي.
که په نسب باندې انسانیت وي نو ابراهیم خلیل الرحمن چه د هغه نه پس ټول انبیاء هغه ده هغه په اولاد کې راغلي دي هغه پیغمبر چه هغه محوري او مرکزي حیثیت لرو الله ورته وائي.
إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا زه تا ده ټول عالم ده پاره مقتداء جوړوم هغه مرکزي او محوري حشیت چه ئي لرو ابراهیم علیه السلام ده هغه پلار دي خو مسئله ئي نه ده منلي توحیدئي زړه کې نشته نو هغه کافر دي او ابراهیم علیه السلام ته چه پته اولګیده.
فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ نو کله چه ورته پته اولګیده چه دا ده خدائي دشمن دي نو بائیکاټ ئي ترینه اوکړو ده ابراهیم علیه السلام خوئني والي هغه پلار لره څه فائده ورکړه ؟ نه . ولې؟ څکه په نسبت هیس کار نه کیږي.

کنعان ده نوح علیه السلام ځوئي دي نوح علیه السلام جلیل القدر پیغمبر دي ده بنیادمو دویم نیکه «آدم ثاني» دي او دومره لوئي پیغمبر چه نبي صلي الله علیه وسلم ته الله فرمائي.

إِنَّا أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ كَمَا أَوْحَيْنَا إِلَىٰ نُوحٍ پیغمبره ما تاته داسې وحي کړي ده لکه ده نوح علیه السلام ته چه ما وحی کړي وه په شان او ستا وحې اوده نوح علیه السلام وحې یو شان ته ده نو لوئي جلیل القدر پیغمبرخو ځوئي کافر دي ده نوح پلاروالي هغه ځوئي لره څه فائده ورکړه ؟ د الپورئ حافظ صاحب وائي.

نوح نبي خپل ځوئي کنعان بچ ده طوفان نه کو
ولیان به کله بدعمله فرزندان اوساتي

## د ابوطالب اشعار

ابوطالب ده جناب رسول الله صلي الله علیه وسلم ترۀ اوځنګه ترۀ داسې ترۀ وو چه ده مکې خلق راغي ابوطالب ته وائي دا وراره دې بند که دې ټول عمر زمونږ ده خدائیانو بد وائي زمونږ به خدائیانو پسې لګیا دي په دي کې نبي صلي الله علیه وسلم راغي ترۀ ورته وائي وراره دا ده مکې مشران راغلي دي او دوي ما ته دا خبره کوي.

نبي صلي الله علیه وسلم ورته وائي زما دې په خدائي قسم وي که ده مکې خلق زما په یو لاس باندې نمر کیدي او بل لاس باندې سپوږمۍ دا خپل دین نه پریګدم او راروان شو ترۀ ته ئي پته اولګیده چه وراره مې خفه شو نو ترۀ ورته اوئیل وردیږه بچیه

والله لن يصلوا إليك بجمعهم حتى أوسد في التراب دفينا

زمادي په خدائي قسم وي که دا ټول مکې والا راجمع شي ترڅو چه څه

په خاوروکې خخ شوي نه يم اوزما سرته د خاوريالخت جوړشوي نه وي زما دي قسم وي دا ټول مکې والاتا ته ګوتې نه شي دروړلې.

فاصدع بأمرك ما عليك غضاضة وابشر بذاك وقر منك عيونا

خان غوځ غوځ که په دي خپل دين باندې څوک تاته پورته نه شي کتې.

ولقد علمت بان دين محمد من خير أديان البرية دينا

زمادې په خدائي قسم وي ماته پته ده چه ستادين په ټولو دينونو کې غوره دين دي.

لولا الملامة أو حذار مسبة لوجدتني سمحا بذاك مبينا

که دخلقوده کنځلونه نه يريدي اوده ملامتيانه نو تابه زه ليدلي ووم چه مابه اول ستادادين منلي وو خو دين دې نه منم اوتاته څوک پورته هم نه شي کتې.

خو چه کله مړ شو نو نبي صلي الله عليه وسلم فرمائي.

عن أبي سعيد الخدري رضي الله عنه أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم وذكر عنده عمه أبو طالب فقال لعله تنفعه شفاعتي يوم القيامة فيجعل في ضحضاح من النار يبلغ كعبيه يغلي منه أم دماغه. (١)

هغه ده اورپه کندي کې ولاړدي اوده ګيتو پورې په اور کې پټ دي مازغه ئي ده هغې وجې نه خوټکيږي ده نبي صلي الله عليه وسلم تره والي هغه ده اور نه بچ کړو ؟ نه

---

١- صحيح البخاري حسب ترقيم فتح الباري: جلد٨ صفحه ١٤٤ باب صفة الجنة والنار.

## نبي صلي الله عليه وسلم متصرف نه دي

نبي صلي الله عليه وسلم يو پيره تقرير كوو.

عن أبي هريرة قال لما نزلت هذه الاية {وأنذر عشيرتك الأقربين دعا رسول الله صلى الله عليه و سلم قريشا فعم وخص فقال يا معشر قريش أنقذوا أنفسكم من النار يا معشر بني كعب بن لؤي أنقذوا أنفسكم من النار يا معشر بني عبد مناف أنقذوا أنفسكم من النار يا معشر بني هاشم أنقذوا أنفسكم من النار يا بني عبد المطلب أنقذوا أنفسكم من النار يا فاطمة بنت محمد أنقذي نفسك من النار فإني والله ما أملك لكم من الله شيئا الا أن لكم رحما سأبلها ببلالها

تعليق شعيب الأرنؤوط : إسناده صحيح على شرط الشيخين: (1)

هغه تقرير كې عمومي او خصوصي خبري اوكړي اعلان: ئي اوكړه اي ده مكې خلقو ځان ده اور نه بچ كړي زه ګورئ تاسو ده الله ده عذاب نه نشم بچ كولي بيا ئي وئيل اي قريشو اي زما ده خاندان خلقو ځان ده اور نه بچ كړئ زه ګورئ تاسو ده الله ده عذاب نه نه شم بچ كولي. بيائي وئيل اي بنو هاشم ځان ده اور نه بچ كړئ ګورئ زه مو ده اور نه نشم بچ كولي بيا وئيل اي زما ده نيكه اولاده ځان ده اور نه بچ كړئ زه ګورئ تاسو ده الله ده عذاب نه نشم بچ كولي بيا ئي اوفرمائيل اي فاطمي ده محمد صلي الله عليه وسلم نورې ځان ده اور نه بچ كره زه ګورئ تا ده الله ده عذاب نه شم بچ كولي نسب فائده نه وركوي.

داهم فائده نه وركوي چه يو سړي ډير دليل باز وي اوډير كړتو وي او ډيري خبرې كوي نو په دي باندې هم نشي خلاصدي.

1- مسند امام احمد بن حنبل : جلد۲ صفحه ۳٦٠ ( مسند أبي هريرة رضي الله عنه )

مولانا روم رحمه الله وائي.

گر به استدلال کارین دین بودی

فخر رازی راز درای دین بد

که په استدلال اودلیلونو کیدي نو امام فخر الدین رازي به امام وو ابوحنیفه رحمه الله به امام نه وو امام مالک او امام شافعي به امام وو امام بخاري به امام نه وو.

یادساته په کړتو هم کار نه کیږي په نسب هم کار نه کیږي. په د باندې هم کار نه کیږي.

الله رب العزت فرمائي. که چیرته دا ټول خلق کافر کیدي نه نو

وَلَوْلَا أَنْ يَكُونَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً لَجَعَلْنَا لِمَنْ يَكْفُرُ بِالرَّحْمَنِ لِبُيُوتِهِمْ سُقُفًا مِنْ فِضَّةٍ وَمَعَارِجَ عَلَيْهَا يَظْهَرُونَ* وَلِبُيُوتِهِمْ أَبْوَابًا وَسُرُرًا عَلَيْهَا يَتَّكِئُونَ *وَزُخْرُفًا وَإِنْ كُلُّ ذَلِكَ لَمَّا مَتَاعُ الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَالْآخِرَةُ عِنْدَ رَبِّكَ لِلْمُتَّقِينَ : (١)

که دا ټول خلق نه کافر کیدي نو څوک چه د خدائي نه منکر دي ما به ده هغوئي ده کورونو چتونه ده سپینو کړي به وو ده هغوئې کټونه به مي ده سپینوزرو کړي ووده هغوئي هغه اندرپائي او پوړۍ چه بره پرې کوټوته خیجي هغه به مې ورله ده سپینو زورکړي ووسپین زر څه کې وَزُخْرُفًا سره زربه مې ورلره ور کړي ووخودا ټول ددی دنیا سکه ده په مال باندې سړي عزتمند کیږي نه مال به کار نه رازي نسب په کار نه رازي اولاد په کار نه رازي.

سورة کهف کې الله رب العزت ده هغې دووسړو قصه کوي هغه

١- سورة زخرف (٣٢-٣٥)

يو بل ته وائي.

وَكَانَ لَهُ ثَمَرٌ فَقَالَ لِصَاحِبِهِ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَنَا أَكْثَرُ مِنكَ مَالًا وَأَعَزُّ نَفَرًا : (۱)

زه ستانه په مال کې ډير يمه زما ځوانان ستا نه ډير دي خو چه کله ده الله عذاب راغي نو نه ئي مال وواو نه ئي ځوانان وودا ځيزونه په کار نه رازي.

شکل شباهت پکار نه رازي يوسړي دي غټ پتکې ترلي دي ښه ښکلې سپينه سپينه اوږده اوږده ګيره ده منګزکړي ئي ده تيل ئي لګولې دي سترګې تورې کړي دي ښه ښکلې شکل ئي جوړ کړي دي په دې شکل باندې سړي نه خلاصيږي.

مولانا روم رحمه الله يو ځائي کې وائي.

گر به صورت ادمی انسان بودی

احمد و ابوجهل هم یکسان بودی

که په شکل باندې سړي سړي کيدي نومحمدرسول الله صلي الله عليه وسلم اوابوجهل به دوانړه يوشان وويوهم دمکې بل هم ده مکې اوسيدونکي يوقريشي بل هم قريشي يوهم ده سر ويخته پوره دد بل هم ده سرويخته پوره ده يوهم خکلي ګيره ده بل هم ګيره ليکن يوپاره کې يعنی ده محمد رسول الله باره کي الله فرمائي، أُولَٰئِكَ هُمْ خَيْرُ الْبَرِيَّةِ په ټول مخلوق کې ده ټولو نه بهتر او ده ابوجهل اود هغه د ملګرو باره کې الله فرمائي. أُولَٰئِكَ هُمْ شَرُّ الْبَرِيَّةِ دا د خدائي په مخلوق کې ده ټولو نه ذليله بريه ويلې کيږي براء نه دي اوعلماء ده لغت وائي البرية هي خلق الله بريه د الله مخلوق

---

۱- سورة کهف (۳٤)

ته وائي.ده الله په مخلوق کې سپي دي خنزير دي الله وائي.دا خلق ده سپي اود خنزير نه لاټدي دي په ګيره ئي مه شه په سر ئي مه شه په دي مه شه چه قريشي دي په دي مه شه چه حج ئي کړي دي.

گر به صورت ادمی انسان بودی
احمد و ابوجهل هم یکسان بودی

که په شکل سړي سړي کيدي نو محمد صلي الله عليه وسلم او ابو جهل به يو شان وي خو دوانړه يو شان نه وو.

يو عالم دي هغه يو پيره سوچ کئ هغه خپل شاګرد ته وائي.

ابني ان من الرجال بهيمة
في صورة الرجل سميع المبصري

وائي اي بچيه ګورئ بعض خلق شکل ئي ده بنديګانو وي خو هغه وي ګورئ څناور وي غويان وي خره او غويان ده هغوئي نه ښه وي.

## د فرعون خپل قوم ته تقرير کول

ده دنيا يو متمرد انسان ټول خلق ئي راجمع کړي دي او ده خلقو نه اقرار اخلي ورته وائي.

وَنَادَى فِرْعَوْنُ فِي قَوْمِهِ قَالَ يَا قَوْمِ أَلَيْسَ لِي مُلْكُ مِصْرَ وَهَذِهِ الْأَنْهَارُ تَجْرِي مِن تَحْتِي أَفَلَا تُبْصِرُونَ * أَمْ أَنَا خَيْرٌ مِنْ هَذَا الَّذِي هُوَ مَهِينٌ وَلَا يَكَادُ يُبِينُ: (۱)

اي زما قومه دا ده مصر حکومت ده چا دي؟دا زما نه دي دا ولي زما په جائيداد کې بهيګي زه ده دغه بي کوره نه غوره يم چه خپل کور ئي هم نشته دي موسي عليه السلام ئي يادوو فرعون دا تقرير کوو بل چاته خبري هم نشي کولي مونږه ئي ليدلي يو.ده فرعون مال او

۱- سورة زخرف (۵۱-۵۲)

حکومت هغه بچ نه کړو.

انسانیت په څه کي دي ؟ په مال کې نه دي په نسب کې نه دي په قوم پرستي اوپه قومیت باندې نه دي په څه دي ؟ده محمد صلي الله علیه وسلم سره په تعلق باندې دي ده چا چه څومره تعلق وواودا یاد وساتئ چې ک په دې زمانه کې یوپیغمبرهم راغي په هغه زړو پیغمبرانو کې نوترسو پورې چه ده نبي صلي الله علیه وسلم سره تعلق نه وي نو د هغې پیغمبر پیغمبري هم نه شي پاتې کیدي.

## د حضرت عمر رضي الله عنه واقعه

یوه ورځ حضرت عمر رضي الله عنه ده تورات پاڼې راغستي وي پاڼې ئي لوستي.

